# د ماشوم اروا پوهنه

لیکوال
ډاکټر عبدالرؤف

ژباړونکی
رحمت شاه فراز

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پېژندنه**
**د کتاب نوم:** د ماشوم اروا‌پوهنه
**لیکوال:** ډاکتر عبدالرؤف
**ژباړونکی:** رحمت شاه فراز

**ایمیل**: rsfaraz4@gmail.com
**فېسبوک**: RS Faraz
**واټساپ اړیکه**: **0092 311 42 25 611**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ليکوال پېژندنه

ډاکټر عبدالرؤف د نړۍ په کچه نوميالی اروا پوه دی او د نړۍ په غوره پوهنتونونو کې يې زده کړې کړې. نوموړی لومړنی هغه پاکستانی دی چې له لندن پوهنتون څخه يې د افتخاري دوکتورا وياړ خپل کړ.

ډاکټر صيب د ماشومانو د لارښوونې و هدايت او ښوونې و روزنې په ډګر کې پراخه تجربه لري. د ښوونيز بيورو د ستر مدير، د اډيشنل ايجوکېشن د سکرتر، د ثانوي زده کړو د بورډ د مشر، د ګورنمنټ کالج آف ايجوکېشن د مدير، د نصابي څېړنو د ادارې د مشر، د ګورنمټ کالج آف ساينس د مدير، د پنجاب يونيورسټي د ښوونې او څېړنې د ادارې د مدير، د پنجاب د نصابي کتابونو د بورډ د مشر، د پنجاب د ښوونيز نظام د ستر مدير، د کتابتونونو د نظم د مدير، د پنجاب ډايرکټر، د پنجاب د عامه خدمتونو د کميسيون د غړي، د ملي ورځپاڼې د اداري پلاوي د غړي او د پاکستان ټايمز ورځپاڼې د ليکوال په توګه د نوموړي تخليقي خدمتونه بې ساري دي.

ښاغلي ليکوال په آسيا، اروپا، امريکا او اسټراليا کې د ماشومانو د ښوونې و روزنې نظامونه کتلي او څېړلي دي. دغه راز، د ماشومانو د اروا پوهنې د مختلفو اړخونو په هکله د نړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې د نوموړي مقالې له تاوده هرکلي سره مخ شوې. په بريتانيه کې يې د ملګرو ملتونو د ټولنيز مدافع او په امريکا کې د آسيايي ښوونيز ماهر په توګه ګرانبيه خدمتونه ترسره کړي دي. د ماشومانو د ښوونې او لارښوونې پر موضوع نوموړی د لومړي کتار په ليکوالانو کې راځي. د ليکوال بيا بيا ځلې چاپېدونکي ګڼ شمېر ګټور کتابونه د ماشومانو، ښوونکو، والدينو او عامو لوستونکو لپاره د مستقل او مستندو لارښودليکونو مقام خپل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لیکلړ


| | |
|---|---|
| د لیکوال پېژندنه | 3 |
| سریزه | 6 |
| ډالۍ | 6 |
| د ماشومانو د ارواپوهنې کیسه | 7 |
| د ماشومانو د مطالعې اندونه او میتودونه | 14 |
| د ماشومانو ژوند | 22 |
| د ماشومانو لوبې او ساتېري | 24 |
| د ماشومانو عادتونه | 43 |
| د ماشومانو تېروتنې او پلمې | 50 |
| د ماشومانو دروغ | 57 |
| د ماشومانو وېرې | 65 |
| د ماشومانو خوبونه | 72 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د ماشومانو جرمونه | 79 |
| تښتېدونکي او بې سره ماشومان | 94 |
| په ماشومانو کې د غلا او پټولو عادت | 100 |
| په ماشومانو کې د قمار وهلو عادت | 106 |
| تنبل ماشومان | 114 |
| د ماشومانو ښوونه او روزنه | 122 |
| د ماشومانو تعليم | 124 |
| د ماشومانو د احساساتو روزنه | 134 |
| د ماشومانو جنسي تعليم | 138 |
| د ماشومانو ټولنيز تعليم | 147 |
| د زيار او زحمت تربيه | 156 |
| د ماشومانو اخلاقي تعليم | 162 |
| د ماشومانو ديني تعليم | 171 |

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سريزه

د ((ماشوم ارواپوهنه)) نوی چاپ له سمونو او زياتونو سره ستاسو په لاس کې دی. ليکوال د هغو ټولو پاکستاني او بهرنيو اروپوهانو، ټولنيزو فعالانو، ښوونکو او والدينو منندوی دی چې له دې کتاب سره يې ژوره مينه ښودلې.

## ډالۍ

د انسانيت د هغه ستر محبوب په نوم چې د ماشومانو د ښوونې، روزنې، لارښوونې او هدايت اغېزناکې او رغنيزې لارې يې ورانديز کړې...

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ماشومانو د اروا پوهنې کیسه

د نولسمې پېړۍ په وروستۍ برخه کې ماشومان، د اروا پوهانو د منظمې څېړنې او مطالعې موضوع وګرځېدل. تر دې دمخه هم، د ماشوم په نړۍ باندې له پوهېدا سره څه نا څه لېوالتیا هرومرو ښودل کېده. خو د رنسانس او بشرپالنې په څېر د بېلا بېلو غورځنګونو له امله انساني تجسس په پرلپسې ډول دې موضوع ته مخ ور ګرځولی وو.

په اوولسمه پېړۍ کې کومینېس د ماشومانو لپاره یو انځوریز کتاب خپور کړ. د روسو او پیسټالوزي د ښوونیزو غورځنګونو تر اغېز لاندې هم د ماشومانو د ذهني نړۍ په اړه د پوهاوي په لور تمایل زور ونیوه. په دې اساس، د ماشوم د شخصیت او استعداد مناسبې ودې ته د زده کړو د اصلي هدف او موخې ځای ور په برخه شو. په دې عصر کې ټاکلېمېن د ماشومانو د ودې شخصیتي مشاهدې په ښه بشپړ او څرګند ډول د خپلو لیکنو موضوع وګرځولې. د تجربیت او د انساني نسل د ارتقاء د غورځنګ له کبله هم د ماشوم اروا پوهنه له ډېر زیات ارزښت څخه برخمنه شو. د ډاروین مشهور اثر ((د یوه تي خور ماشوم د شخصیت طرحه)) هم د همدې پېر لاسته راوړنه ده. له دې کتاب وروسته ځینو نورو لیکوالو هم د اروا پوهنې په برخه کې ورته کتابونه وکښل. خو د هغوی کتابونه تر ډېره په شخصي مشاهدو بنا وو.

### د پوهنیزو څېړنو پیل

د ښوونیزې اروا پوهنې په برخه کې د جرمني نوموتي اروا پوه، پرېر د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې یو کتاب ((د ماشوم ذهن)) په نوم ولیکه. دا کتاب په دې برخه کې یوه مهمه څېړنه ده. پرېر د زېږېدو پر مهال د ماشوم اضطراري حرکتونو او د ودې و ارتقا په پړاوونو کې د بېلا بېلو حرکتونو پراخه مشاهده وکړه. پر دې سربېره، په دې کتاب کې لیکوال د ماشومانو د تقلید عادت ته هم ژوره کتنه کړې. نوموړي ولیدل چې کله به ده د غوسې پر مهال پوزه کش نیولې وه، نو ماشوم به هم د ده په لیدو ورته حرکتونه پیل کړل. له دې عادي تجربې څخه پرېر د ماشوم څېړنې، تجربوي تګلاره پیل کړه.

په ۱۸۸۲ز کې د هسپانیې په هېواد کې د ښوونې په برخه کې د یوې ملي اداري بنسټ کېښودل شو. دلته د ماشومانو د اروا پوهنې په ډګر کې خورا ګټور کارونه وشول. د نولسمې پېړۍ په پای کې، هال د ښوونې د فن په برخه کې داسې یوه ښوونیز اداره پرانیسته چې د ماشوم اروایي حالتونه یې یوازې له ښوونیزو مسایلو سره د پېژندګلوي لپاره نه، بلکې د یوه بېل او مستقل مضمون په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مطالعه کړل. د نوموړي د پوښتنيز روش په مرسته د ماشومانو په تخيل، فکر او جذباتو باندې پوهېدا خورا اسانه شوه. په همدې ورځو کې د ښوونيزو کارپوهانو په يوه غونډه کې هال د ماشوم اروا پوهنې او له ساينسي اړخه د ماشومانو د څېړنې او مطالعې ارزښت په ډېر ښه ډول واضح کړ.

**د ماشومانو د ځيرکتيا مطالعه**

څه موده وروسته، شاوخوا په هر هېواد کې د ماشومانو د اروا پوهنې مطالعه په ذوق او مينه پيل شوه. په ۱۸۹۵ز کې سيلي په بريتانيه کې خپل نوميالی کتاب ((د ماشومتوب مطالعه)) خپور کړ. له دې وروسته د فرانسې په بېلا بېلو ښارونو کې په ځانګړي ډول په پاريس کې د ماشومانو د څېړنې او پلټنې په موخه ټولنې رامنځته شوې. بين پخپله د خپلو ماشومانو د فکر کولو د پروسې په اړه پرلپسې کتنې وکړې او د دې مشاهدو له را ټولولو وروسته يې يو ځای خپرې کړې. د شلمې پېړۍ په پيل کې نوموړي د ماشومانو د ځيرکتيا د ارزونې لپاره څو ازمايښتي لارې ايجاد کړې. په خپل هېواد کې د کند ذهنه ماشومانو له زياتېدونکي شمېر څخه په اغېزمن کېدو، نوموړي خپل کار ته توجه لا زياته کړه.

په جرمني کې هم دا لړۍ له ښوونځيو را پيل شوه. په ښوونځيو کې پر بېلا بېلو ښوونيزو موضوعاتو تجربې وشوې او پايلې يې د منظمو مشاهداتو په بڼه خپرې شوې. نيومين د ((ماشومانو ذهني ازمايښتونه)) په نوم کتاب وليکه چې د هغو خلکو لپاره د لارې مشال وګرځېد چې وروسته يې د ماشومانو پر ذهني نړۍ تحقيق او څېړنه وکړه.

**د اروا پوهنيزې څېړنې غورځنګ**

په همدې ډول، د ماشومانو د اروا پوهنيزې مطالعې خوځښت په ډېر لنډ وخت کې تر سکانډينيويا، بلجيم او هالينډ پورې ورسېد. په ایټاليا کې د طبي او بيالوژيکو مشاهدو له لارې ياد غورځنګ ته پرېمانه ګټه ورسېده. په سويزر لېنډ کې هم د ماشومانو د اروا پوهنې تود هرکلی وشو. په امريکا کې د ماشومانو د زده کړې د پروسې له څېړلو سره ښه زياته لېوالتيا وښودل شوه. د دې ترڅنګ، هلته د ماشومانو د ليک و لوست او د هجاوو د زده کولو د وړتياوو د ارزونې په برخه کې هم د ګټورو څېړنو لړۍ پيل شوې. امريکايي اروا پوهانو پر تمرين او ستړيا د پام وړ کار وکړ. دوی د مطالعې لپاره د غوره چاپېريال او د ماشومانو ترمنځ د انفرادي ذهني اختلاف د مطالعې، مشاهدې او تجربو ګټورې لړۍ پيل کړې، چې د ماشومانو د اروايي حالت په پوهېدو کې خورا مرستندوی ثابتې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د نولسمې پېړۍ په پای کې بین د ((ښوونه د علم په توګه)) په نوم یو کتاب ولیکه. د شلمې پېړۍ په پیل کې کلاپاریډي هم د ((د ښوونې تجربوي علم)) په موضوع یو کتاب ولیکه، چې د ماشوم د ذهني ژوند په هکله له شته لاسته راوړنو څخه پراخه ګټه پکې اخیستل شوې وه. که دا کتاب د بین له کتاب سره پرتله شي، نو دې پایلې ته رسېږو چې د اروا‌پوهنیز شعور له خپراوي سره سره، تر دې مهاله د ماشومانو د ښوونې تصور هم ډېر زیات پرمختګ کړی وو. د تارن ډایک ((ښوونیزه اروا‌پوهنه)) د دې خبرې ښکاره ثبوت دی چې پر نوو اروا‌پوهنیزو اصولو د ښوونیزو نظریاتو د اساس ایښودلو ساینسي پېر پیل شوی وو.

## د سټرن او پیاژې څېړنې

د پرېر او هال د اروا‌پوهنیزو څېړنو د اغېز له کبله د ماشومانو د ودې په برخه کې د څېړنو او مطالعو بې شمېره فردي لړۍ هم پیل شوې. شن د نولسمې پېړۍ په پای کې د نوي پیدا شوي ماشوم د ودې لومړنی ریکارډ وړاندې کړ. په دې ریکارډ کې د سترګې او لاس د خپلمنځي اړیکو مشاهدې د ساینسي څېړنو په توګه له ستر ارزښت څخه برخمنې دي. په دې پسې سمدلاسه، مور یو کتاب ولیکه چې د یوه ماشوم د ژبې زده کولو اوږده پروسه پکې په ښه خوندور ډول څېړل شوې وه.

د شلمې پېړۍ په پیل کې، سټرن د ماشومانو پر ژبنۍ وده لا زیاته رڼا واچوله او د ژوند په مختلفو پړاوونو کې یې د ماشومانو د کلماتو د زېرمې د زیاتېدو په هکله ګرانبیه څېړنې وړاندې کړې. ((د ماشومانو ژبه د هغوی د تخیل هینداره ده.)) د سټرن پیل کړې دا په زړه پورې موضوع پیاژې لا ډېره روښانه کړه. په ۱۹۲۳ز کې پیاژې ((د ماشومانو ژبه او تخیل)) په نوم کتاب ولیکه. په یاد کتاب کې د ماشومانو د فکر، د استدلال د روش او د دوی د خیال پلو په اړه په زړه پورې او علمي څېړنې شوې. دا څېړنې د ماشومانو د ذوق، لېوالتیاوو او بوختیاوو د لا زیاتې پېژندنې په برخه کې لویه مرسته کوي او د هغوی د ذهني پړاوونو په تعین کې خورا ګټور پرېوځي.

### د ماشومانو د ګډوډیو مطالعه

د نولسمې پېړۍ په وروستیو کلونو کې د ماشومتوب د ګډوډیو منظمه مطالعه هم پیل شوه. د همدې پېړۍ په پای کې پرویمر په فلاډلفیا (امریکا) کې د اروایي کلینیک د بنسټ ډېره کېښوده. په دې روغتون کې د داسې ماشومانو ساینسي مطالعه پیل شوه، چې له ذهني پلوه به نورمال نه وو او یا به د ناسمې کورنۍ، نیمګړي هوښ، بېکاره ښوونځیو او یا ناوړه چاپېریال ښکار شوي وو. په یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library


روغتون کې به داسې ماشومان هم مطالعه کېدل چې په یو نه یو سبب به په ((سختۍ)) او یا به بیخي د درک کېدو وړ نه برېښېدل. په دې اروا پوهنیزه اداره کې به د ماشومانو د اصلاح او درملنې پر مهال طبي او اروايي دواړو اړخونو ته پوره پاملرنه کېده.

له دې وروسته، دې ته ورته لسګونه نور درملتونونو هم جوړ شوو. د روغتونونو زیاتوالي او د بېلا بېلو اروا پوهنیزو څېړنو د عامېدو پایله دا شوه چې د ماشومانو د ذهني ناروغۍ علتونه یوازې تر بدني عناصرو، نیمګړو خوړو او یا داسې نورو فکتورونو پورې د محدودولو پخوانۍ تصور له منځه لاړ. د ماشومانو د ذهني ژوند په ویجاړولو کې د ښوونځیو، چاپېریال او د لوبو د ډګر ذهني اړودوړ او د بدني نیمګړتیاوو په برخه کې د ټولنیزو او ذهني پایلو ارزښت ورځ په ورځ ښه ترا پسې روښانه شو. د ماشوم د ستونزو او له ټولنې سره د ماشوم د تصادم په اساسي علتونو د پوهېدو لپاره بېلا بېلې ساینسي تګلارې را خپلې کړای شوې. نن ورځ د دا ډول نوو اروايي روغتونونو په شمېر کې ورځ تر بلې زیاتوالی روان دی. په امریکا کې خو دا روغتونونه د ښوونځیو، د ماشومانو د محکمو او د ټولنیزو ګټو د ادارو اړینه برخه ګرځېدلي دي. په بریتانیه او ډېرو نورو لویدیځو هېوادونو کې هم دې ته ورته لوی شمېر اداري پرانیستل شوې دي.

په روان عصر کې د ماشومانو د ودې او ارتقا په برخه کې د خاصو مسایلو او ګډوډیو په ځانګړي ډول د مطالعې او څېړلو دود ورځ په ورځ پسې عامېږي. ((شوخ ماشوم)) د اوسنیو اروا پوهنیزو حلقو د مطالعې محور ګرځېدلی دی. همدا رنګه، د ماشومانو مینه، وېره، جذبات، خوبونه، د هغوی د خوښې اتلان او د هغوی د لوبو د ملګرو ژوره مطالعه ترسره کېږي. په دې باندې د پوهېدو لپاره چې د خپل لاس له جوړ کړو رسمونو او انځورونو څخه ماشومان څه معنا اخلي او په منظم ډول د خپل فکر د بیانولو په شعور کې تر بالغ معیاره پورې له رسېدو وړاندې دوی له کومو بېلا بېلو پړاوونو څخه تېرېدو ته اړتیا لري؛ اوسمهال د ماشومانو د رسامۍ بې شمېره اروا پوهنیزې څېړنې خپرېږي چې د ماشومانو فکر او شخصیت لا زیات ور باندې روښانه کېږي.

### د چاپېریال ارزښت

تر اوږدې مودې پورې د ماشومانو اروايي څېړنه تر ډېره د مشاهدو له لارې ترسره کېده. د ماشوم څېړنې تجربوي پېر په غوځ ډول په ۱۹۱۷ز کال کې د واټسن او د هغه د ملګرو له لوري پیل شو. واټسن د ماشوم روزنې په مرکزونو او روغتونونو کې بې شمېره ماشومان په ژوره توګه تر څېړنې لاندې ونیول. د څېړنې په اوږدو کې نوموړي د ماشوم د ستونزو دوه اړخونه تل په پام کې نیولي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


لومړی: د يو څه له زده کولو وړاندې، د ماشومانو د ټولو لومړنيو حرکتونو مشاهده.

دوه: د زده کړې د پروسې بشپړه تجربوي مطالعه.

د نوي زېږېدلي ماشوم د فطري او ذهني نظام له څېړلو وروسته واټسن دې پايلې ته ورسېد چې په ماشوم کې وېره، غوسه او مينه درې ښکاره جذبات دي. په پيل کې تنکی ماشوم په لوړ غږ او د سرپرست په له لاسه ورکولو وېره احساسوي. که د ماشوم په لوبو کې لاسوهنه وشي، غوسه کېږي. په ملا ټپ ورکول يا تخنول په ماشوم کې جنسي غريزه را پاروي. واټسن وويل چې د ماشومانو دا درې احساسات له زېږېدو سمدستي وروسته را منځته کېږي. د راتلونکي بالغ ژوند له ډول، ډول ننګونو ډکه ودانۍ په همدې درې اساسي احساساتو بنا وي. واټسن له بې شمېره تجربو وروسته دا ثابته کړه چې د ماشومانو ډېری وېرې يوازې د ټينګار او شخصي تجربو له امله ورته پيدا کېږي. په اروا پوهنيز ازمايښتځای کې په يوه تنکي ماشوم ((پيټر)) د پرلپسې تجربو له لارې نوموړي دا خبره په ثبوت ورسوله چې ډېری وېرې له روزنې او چاپېريال څخه رامنځته کېدی او له منځه وړل کېدی شي. د ماشومانو د روزنې په لړۍ کې واټسن له همدې امله د چاپېريال پر ارزښت ډېر زيات ټينګار کړی دی.

**د ماشومانو د تجربوي څېړنو هرکلی**

نن ورځ، د ماشوم د تجربوي څېړنو او مطالعو تود هرکلی کېږي. د ماشومانو حرکتونه او جذبات په ژور ډول مطالعه کېږي. د ماشوم په بېلا بېلو طبيعي کړنو او د هغوی د را ښکاره کېدو په بېلا بېلو وختونو، عادتونو او د هغوی په رامنځته کېدو او ورانېدو پرېمانه رڼا اچول شوې ده. په ماشومانو پورې د مخصوصو مسايلو د مطالعې لپاره بېلا بېلې اروا پوهنيزې ادارې او لابراتوارونه رامنځته شوي او دا خبره منل شوې ده چې يوازې د ماشومانو د ودې و ارتقا او د ساينسي ميتودونو له لارې د هغوی د زده کړې د پروسې څېړل، د هغوی د بالغ شخصيت په باره کې دقيق پوهاوی او د هغوی مناسبه سرپرستي امکان مومي.

د ماشومانو د ورځينو ستونزو او ذهني ګډوډيو مطالعه ورځ په ورځ د پراختيا او تنوع په لور روانه ده. دا حقيقت تر پخوا ډېر څرګند شوی چې د ماشومتوب ځينې منفي پېښې او د شخصيت تباه کوونکو تجربو تريخوالی په بلوغت کې د عمومي اضطراب، په ګډ ژوند او اقتصادي برخو کې د شخړو او ذهني ناروغيو په بڼه سر را پورته کولی شي. کومې بوختياوې په کوم عمر کې د ماشومانو ډېرې خوښېږي؟ د ماشومانو بېلا بېلې بوختياوې پخپلو کې څه اړيکه لري؟ د روغ شخصيت د ودې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لپاره د ماشومانو ساتنه او اروايي رهبري څنگه ترسره کېدی شي؟ د نن ورځې ارواپوهان د انساني ژوند د همدې مهمو مسايلو لپاره د وړ حل لارو په لټون بوخت دي. په ۱۹۲۸ز کې بولر په ډاگه کړه چې د شخصيت د جوړېدو په لړ کې د همداسې مسايلو ناپايه لړۍ په اروايي لابراتوار کې د تجربوي اصولو له مخې په منظم ډول څېړل او مطالعه کېدی شي. په همدې ډول آغلې تامس ثابته کړه چې د ماشومانو د ټولنيز رول د غوړېدا، سمه تجربوي مطالعه هم بې له شکه شونې ده.


د دې لاسته راوړنو او څېړنو ټوليزه پايله دا شوې چې په اوسني عصر کې د ماشوم ارواپوهنې د منظم، تجربې وړ او باوري علم مقام خپل کړی.

**موږ او زموږ ماشومان**

نن ورځ ټولې نړۍ د ماشومانو د سم پوهاوي او مناسبې روزنې لپاره نوې ارواپوهنې ته مخ اړولی، خو په پاکستان کې د ارواپوهانو ډېره سخته کاختي ده. زموږ د عامه ټولنيزې کنگلتيا او ځوړتيا يو لوی لامل هم همدا دی. دلته په ځينو ښوونځيو کې خو ارواپوهنه څه نا څه ښوول کېږي، خو د ماشومانو د پوهنيزې مطالعې ځانگړې ارواپوهنيزې ادارې ډېرې لږ دي. په ټول هېواد کې د ماشومانو د اروايي روغتونونو او د رهبرۍ د مستندو ادارو ټول شمېر له لسو څخه په هېڅ ډول هم زيات نه دی. د ماشومانو پر پالنه، ښوونه، روزنه، وده او لارښونه هم د باور وړ کتابونو او کتابگوټو کاختي ده.

د خوښۍ ځای دی چې اوس د ماشومانو د لارښوونې او پالنې اړخونو ته زيات ارزښت ورکول کېږي. د مدرسې، ليسې او پوهنتون په بېلا بېلو پوړونو کې د زده کوونکو اروايي لارښوونې ته لومړيتوب ورکول کېږي. د دې لړۍ مختلفو اصلاحاتو ته که په سمه توگه عملي جامه ور واغوستل شي، نو حالات تر ډېره حده اصلاح کېدی شي. که مور او پلار، ښوونکي او ټولنيز فعالان په گډه کار وکړي، نو زموږ ماشومان د علم، ادب او تمدن څخه په سم ډول استفاده کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دوهم څپرکی



### د ماشومانو د مطالعې اندونه او میتودونه

شلمه پېړۍ د «ماشومانو پېړۍ» ده. په دې عصر کې انسان د ماشومانو د فطرت، ذهني او بدني ودې او سمې لارښوونې اړوند مسایلو خورا ډېر کار وکړ. له ماشومانو سره زموږ لېوالتیا ورځ تر بلې زیاتوالی مومي او نن ورځ په دې برخه کې په ډېر جدیت لګیا یو. بېلا بېل علوم په تېره بیا ارواپوهنه راته د ماشوم په مطالعه کولو کې خورا ګټورې لارښوونې کوي. د دې موخې لپاره ځای، ځای تخصصي ادارې او کلینکونه پرانیستل شوي، چې هلته د ماشومانو د ژوند پر بېلا بېلو برخو پراخه څېړنې او تجربې کېږي.

نن ورځ موږ د ماشومانو په علمي مطالعه کې ډېر زیات پرمختګ کړی، خو زموږ پلرونو او نیکونو د ماشومانو د فطرت په باره کې څه نظریات درلودل؟ د ماشومتوب د ژوند پر بېلا بېلو اړخونو باندې د پوهېدو لپاره هغوی له کومو ځانګړو او دلچسپو میتودونو څخه ګټه اخیستله؟ په تېر مهال کې زموږ فکري بهیر په دې برخه کې د حقیقت په لټه له کومو ازغنو دښتو څخه تېر شوی؟ د دې ټولو پوښتنو د ځواب لپاره د هغو میتودونو او نظریاتو تحلیل ډېر زیات اړین دی، چې تر نن ورځې پورې په ماشومانو د پوهېدو او د هغوی د ودې او پرمختګ په باره کې وړاندې شوي دي.

**په ماشوم کې د «آدم ع ګناه» شته**

د آدم ع د ګناه نظریه ډېره زړه ده. دا چې حضرت آدم ع د خدای له امر نه په سرغړونه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګناه ترسره کړې وه، له همدې امله د دې نظريې له مخې هر انسان ته د «آدم ګناه» په ارث رسېږي او د ماشومانو په ټولو ارمانونو، لېوالتياوو او خوځښتونو کې د دې جدي او فطري «ګناه» څرک موجود دی. له ياد اند سره سم، د ماشومانو لوبې د هغوی د «ګناهګارۍ» تمايل منعکسوي. په همدې سبب د هغه د «ګناهګار زړه» د اصلاح لپاره کلک «تأديبي» نظم او ډسپلين ته سخته اړتيا وي او د دې لپاره چې ماشوم يو متمدن ښاري شي، له ماشومتوب څخه لا بايد تر کلک نظم او ډسپلين لاندې وساتل شي او سختې بدني سزاوې ورکول شي.

د دې جاهلانه مفکورې مخالفت لومړی روسو وکړ. نوموړي ووېل چې هر ماشوم فطرتاً نېک دنيا ته راځي او وروستني ناوړه ټولنيز اثرات په ماشوم کې د «ابليسي» شخصيت تمايل پيدا کوي. ماشوم ته يوازې د دې لپاره سزا ورکول چې د بدۍ رجحان پکې موجود دی، يو ډېر ناسم کار دی. له سوچ او فکر پرته وهل ډبول ماشوم لا زيات له لارې باسي. بدي زموږ په خټه کې نه اغږل کېږي، بلکې زموږ د تجربو نتيجه وي. خو نن ورځ داسې خلک هم شته چې د «آدم د ګناه» دغه پوچه نظريه سمه ګڼي او دغه ډول نا اهله ښوونکي او والدين د نظم او ډسلپين په نوم ماشومانو ته په وړو، وړو تېروتنو په سزا ورکولو عادي شوي وي.

دې ته ورته يوه بله غير علمي مفکوره دا ده چې په ماشومانو کې د ښه او بد تصور د زوکړې له ورځې موجود وي او همدا فطري او ميراثي افکار د ماشوم د چلند محرک ګرځي. د دې اند له مخې تعليم او ماحول د ماشوم د اصلاح لپاره اصلاً بې‌بوسه دي. انګرېز مفکر جان لاک دغه دقيانوسي اند رد کړ او په ډاګه يې کړه چې د زوکړې پر مهال د ماشوم ذهن د سپينې پاڼې په څېر صفا وي او ارث نه، بلکې د ماشوم خپله تجربه د ښه او بد تصور پرې انځوروي. د روسو په څېر، جان لاک هم د ماشومانو د ودې او ارتقا لپاره د چاپېريال او تجربې اهميت ته ډېر زيات زور ورکړ. نوموړي والدين او ښوونکي د ماشومانو د ودې لپاره د غوره چاپېريال چمتو کولو ته وهڅول او د «تأديبي اهدافو» لپاره يې د ړټنو او سزاګانو له استعمال سره کلک مخالفت څرګند کړ.

**ماشوم مازې «کوچنی بالغ» دی**

«ماشوم د بالغ انسان کوچنی غوندې انځور دی». دا اند هم په نولسمه پېړۍ کې زموږ پر تخيل ډېر زيات مسلط وو. د دې اند له مخې د ماشوم د فکر طرز، د هغه لېوالتياوې او حرکات ټول د بالغ وګړو په څېر وي او توپير يې يوازې دومره وي چې د لويانو په پرتله د ماشومانو د حرکتونو او فعاليتونو معيار يو څه راټيټ وي او دا چې ماشوم به يوه ورځ يو بالغ ښاري وي، د همدې لپاره پکار ده چې له ماشومتوب څخه لا د هغه تربيه په داسې جدي ډول ترسره شي چې کله لوی شي نو د يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالغ د مسؤلیتونو بوج په ښه ډول وزغملی شي. له لومړۍ ورځې لا باید په مهمو کارونو کې د برخې اخیستو تربیه ورکول شي او په عبثو کارونو او لوبو کې یې باید عمر ضایع نه شي.

روسو له دې نظریې سره هم مخالفت وښوده. نوموړي وویل چې ماشوم یوازې کوچنی بالغ نه دی، بلکې یو وسیع، منفرد او په زړه پورې شخصیت هم لري. ماشوم یوازې د یوه بالغ انسان کوچنی قالب نه دی، بلکې تر ډېره بریده یو بېل او خپلواک فرد هم دی. د ده د خوښې فعالیتونه او انفرادي ارمانونه له بالغو وګړو څخه ډېر زیات مختلف دي او تنکی شخصیت یې د جذباتو او ارمانونو اصلاً یوه جلا نړۍ وي. د تعلیم هدف باید یوازې دا نه وي چې ماشوم د بالغ ژوند لپاره چمتو کړي، بلکې د ماشوم د اوسنیو تقاضاوو له مخې د هغه د شخصیت بېلا بېل پړاوونه هم باید مناسبه وده وکړي.

ځینې ناپوه مور او پلار د «د ادب او تربیې» په ټس کې له کوچنیوالي څخه لا په ډېر شدت او جدیت د ماشوم شا ونیسي. بل لوري ته، د هغو ښوونکو کمی هم نشته چې د عمر په لومړیو کې لا پر دې زور ورکوي چې ماشوم د ریاضي ستونزمن اصول، د ګرامر وچ قوانین او د ژوند پېچلې غوټې په یادو زده کړي. زموږ د جوماتونو زیاتره دقیانوسي ملایان غواړي چې د ماشومانو تنکی ذهن د عمر په لومړیو پړاوونو کې لا د تقوا او سپېڅلتیا په ټولو اصولو بشپړه برلاستیا ولري. دغه ډول والدین، ښوونکي او ملایان د همدې وروستۍ مفکورې پلویان بریښي چې د ماشومتوب ارمانونه دې په پام کې نه نیول کېږي او له لومړۍ ورځې لا باید ماشوم د یوه مسؤلیت منونکي بالغ ژوند لپاره په جدي ډول اماده کړای شي.

### د ودې پړاوونه

د ډاروین د «د انواعو پیل» د نظریې په تاثر کې ستېنلې هال دې پایلې ته ورسېد چې د بدني ودې په څېر د ماشوم ذهني او ټولنیزه وده هم بېلا بېل پړاوونه لري او ماشوم په منظمه توګه د ارتقا له بېلا بېلو پوړونو څخه تېرېږي، چې دغه پوړونه د بشري پښت د ارتقا د بېلا بېلو پړاوونو استازیتوب کوي.

د مثال په ډول که د ماشوم خوښېږي چې د خپل ژوند په کوم پړاو کې ونو ته پورته شي، نو د نوموړي دغه ماشومانه کړنه د بشري نسل هغه دور تداعي کوي چې انسان به په ونو کې ژوند کاوه. په همدې ډول، له تفریح او سیاحت سره د ماشوم مینه یا له کور او ښوونځي څخه د تېښتې لېوالتیا زموږ لرغونی کوچیانی ژوند منعکسوي. دغه راز، په ماشومانو کې له لویو، لویو پاڼو څخه د جامو

(c) ketabton.com: The Digital Library


جوړولو او اغوستلو شوق او پټ پټانی او دې ته ورته نورې لوبې د بشري نسل د ابتدايي ښکاري ژوند ترجماني کوي.

په توره او توپک د جګړو ماشومانه لوبې به شايد زموږ د هغه معاصر ژوند انځورګري کوي، چې په هغه کې له دا ډول فعاليتونو سره علاقه تقريباً يو «موډ» ګرځېدلی دی. ياده نظريه د «تمدني بياپېښېدنې» په نوم يادېږي. دغه اند راته وايي چې د ماشومانو وده خاص پړاوونه لري، چې د انساني تکامل د پېړيو، پېړيو عمل په وړه پيمانه د ماشوم د شخصيت په بېلا بېلو پړاوونو کې په لنډ ډول را ښکاره کېږي.

دغه نظريه هم غير علمي برېښي، ځکه د ماشومانو د ودې په برخه کې پراخه اختلافات ليدل شوي دي. په دې سربېره، ماشومان د خپل شخصيت د ودې په پړاوونو کې ارومرو له ټاکلو او منظمو پوړونو څخه په يوه ټاکلي ترتيب نه تېرېږي، بلکې د هغوی په وده کې غير عادي تنوع او لوړې او ژورې هم را ښکاره کېږي.

**د ماشومانو د ژوند مطالعه**

د ماشومانو د مطالعې يوه تګلاره دا هم ده چې د هغوی د ژوند بېلا بېل پړاوونه پرلپسې مطالعه شي او بيا د جمع شويو موادو په اساس د ماشومانو د فطرت په اړه کلي اصول وضع شي. په دې برخه کې، د اروا پوهانو په پرتله ډاکټران مخکې شوي دي، چې لومړی د جرمني ډاکټر ټايډمن د ماشومانو پر ابتدايي ذهني ودې اوږده مقاله وليکله، ورپسې الکات د خپلې مشرې لور اينا د بدني، ذهني او اخلاقي ارتقا د ټولو اړخونو مشاهدات د کتاب په بڼه را ټول کړل. د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې ټين «د تي خور ماشوم پر وده» خورا علمي مقاله وليکله. په راتلونکي کال ډارون خپل ۳۷ کلن مشاهدات «د يوه تي خور ماشوم د ژوند انځور» تر عنوان لاندې خپاره کړل.

د دې لومړيو سرلارو او د ماشومانو د خوځښت د مخکښ ستېنلې هال د پرلپسې هڅو په برکت د ماشومانو د ساينسي مطالعې ذوق وده ومونده. په علمي مشاهدو سربېره، بې شمېره والدينو هم د خپلو ماشومانو د ذهني او بدني ودې ريکارډونه خوندي کړل او د ماشومانو د ژوند بې شمېره با ارزښته څېړنيز اثار هم خپاره شول. خو دا چې ګڼو ناپېژانده کسانو هم د مطالعې دغه ميتود کارولی وو، نو د ماشوم څېړنې دا لاره هم بدنامه شوه. يو شمېر بې تجربې مشاهده کوونکو د تنکي ماشوم په چلند کې د بالغو افکارو انځور ليده، چې په دې ډول يې اصلي حقايق د ځاني تاويلاتو قرباني کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ژوند د مطالعې په تګلاره کې لوی عیب همدا دی، چې د مشاهده کوونکي شخصي تعصب پکې ډېره زیاته لاسوهنه کولی شي. موږ هسې هم دا ضعف لرو چې د خپلو ماشومانو د مطالعې په وخت کې د هغه ښو اړخونو ته ډېر پام کوو او عیبونه یې ډېر په پام کې نه نیسو. په دې سربېره، په دغه ډول یوازې د یوه ماشوم د غیرعلمي مطالعې له مخې د ټولو ماشومانو د ودې په باره کې عمومي اصول وضع کول هم ناسم کار دی.

## د سوال او ځواب لاره

د ماشومانو د ژوند د عامو پېښو، هغو شیانو چې دوی ورسره علاقه لري او د دوی د خوښې وړ فعالیتونو په تړاو که له ماشوم څخه مخامخ پوښتنې وشي او ځوابونه یې په ترتیب سره را ټول کړای شي، نو د ماشوم د ځوابونو د تحلیل له لارې هم د هغه د شخصیت او لومړیتوبونو په باره کې معلومات ترلاسه کولی شو. مثلاً له ماشومانو وپوښتل شي چې ... تر اوسه پورې دې کوم حیوانات لیدلي؟ آیا مرغان دې خوښېږي؟ کومې مېوه لرونکې ونې پېژنې؟ ترکاري چېرته را زرغونېږي؟ د کوم حیوان شیدې څښې؟ کوچ څرنګه جوړېږي؟ کوم حیوانات هګۍ اچوي؟ ښه ماشومان کوم کارونه کوي؟ ښه ماشوم کوم کارونه نه کوي؟ که دې کومه کیسه زده وي، موږ ته یې وکړه؟ او داسې نور.

ښکاره ده چې د ماشوم له ځوابونو نه د هغه په باره کې په عمومي معلوماتو سربېره د هغه د شخصیت او رجحاناتو په هکله هم په ډېر څه پوهېدلی شو. د مخامخ سوال او ځواب دغه لاره د ماشومانو په مطالعه کې ډېره ګټوره ثابته شوې. خو یو څو اساسي نیمګړتیاوې هم لري. زیاتره کوچني ماشومان له پوښتنو نه سم مفهوم نه شي اخیستلی او لوی ماشومان بیا په ځوابونو کې له فریب او دروغو کار اخلي. خو که څېړونکی د ماشومانو په فطرت ښه پوه وي، نو کولی شي د دې څېړنیز میتود د یادو نیمګړتیاوو ښه چاره وکړي.

## د تداعي لاره

بله، تر یو څه بریده مختلفه تګلاره دا ده چې د ماشومتوب د بېلا بېلو اړخونو په تړاو ټولیز پوښتنلیک بالغو وګړو ته ورکول کېږي او ترې غوښتل کېږي چې د خپل ماشومتوب ورځې ور یادې کړي او بیا دې پوښتنو ته ځوابونه ورکړي. مثلا ورته ویل کېږي چې لږ فکر وکړئ او ووایئ چې په ماشومتوب کې مو له کومو شیانو، کومو خلکو او کومو بوختیاوو سره علاقه وه، او له چا نه مو سخته کرکه وه؟ د ماشومتوب کومه مثبته پېښه یا دردوونکې کیسه راته بیان کړئ؟

په دې لاره کې باید دا ټکی په پام کې ونیسئ چې پوښتنلیک یوازې د یوه ذوق او یو ډول بالغو

(c) ketabton.com: The Digital Library


وګړو ته مه استوئ – بلکې د ټولنې د هرې درجې او هر عمر له لويانو نه ځوابونه وغواړئ، تر څو کله چې له دې ځوابونو نه د ماشومتوب په تړاو کوم معلومات را وباسئ، نو نتايج مو له هر ډول تنګ نظرۍ څخه خالي وي. خو زموږ د حافظې جفا او د رنګين بياني تمايل د تداعي د لارې تر ټولو لويه خامي ده. څومره چې زموږ عمر زياتيږي، زموږ بالغ جذبات او د مبالغې رنګينۍ د ماشومتوب د معصومو پېښو شاوخوا د غولوونکو پردو په څېر را چاپېر شي او د وخت په تېرېدو سره له اصلي پېښو نه يو څه له موږ نه هېر شي او يو څه پکې موږ له ځانه زياتونې کړې وي. په تېره، د ماشومتوب ځينې منفي پېښې خو په خپل لاس هڅه کوو چې له ياده يې وباسو.

**د احساساتو د څرګندونې لاره**

د ماشومانو د مطالعې دغه لاره له نورو ميتودونو څخه يو څه بېله ده. په دې ميتود کې د پوښتنو له نوملړ چمتو کولو وروسته د ځوابونو لپاره د تش ځای د پرېښودو پر ځای يو څو احتمالي ځوابونه هم ورسره ليکل کيږي. بيا اړوند کسانو ته ويل کيږي چې سم ځواب په نښه کړي، مثلاً:

١- په ماشومتوب کې کومې لوبې ډېر خوند درکاوه؟

a. پټ پټاني
b. د شګو کلاوې جوړول
c. د باډيوې الوځول
d. د يو بل نيول

په ماشومتوب کې مو له چاسره ډېره جوړه وه؟

a. له مور سره
b. له پلار سره
c. له ښوونکي سره
d. د جومات له امام سره

د دغو ځوابونو له څېړنې او ارزونې وروسته د ماشومتوب په باره کې پراخه ګټور معلومات لاسته راوړلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د درملنې لاره

په نولسمه پېړۍ کې د ماشومانو د مطالعې لپاره د درملنې میتود پیل شو. په دغه میتود کې د ماشوم د ژوند تقریباً هر اړخ څېړل کېږي او هڅه کېږي چې دا معلومه شي چې د ماشوم د اوسني ښه یا بد شخصیت بنسټ د ماشومتوب پر کومو پېښو او تجربو ولاړ دی. په دې اساس، د ماشوم د ژوند او کورنیو حالاتو، بدني، ذهني او جذباتي ودې او تکامل بشپړه تاریخچه، د ښوونځي مهال او اولنیو ملګرو په تړاو پراخه مواد را ټولېږي او د ماشوم د ژوند بشپړه خاکه چمتو کېږي. د ماشوم په تړاو د اروا پوه شخصي مشاهده، د مور او پلار، ښوونکو او همزولو نظریات د دې معلوماتو په ترلاسي کې خورا ګټور پرېوځي، نو ځکه په دغه میتود کې د یادو کسانو همکاري لازمي ده.

ځینې وختونه د ماشومانو د ورانېدو سبب ناقص یا بېکاره ښوونځی وي، دغه راز د مور او پلار د ناروا چلند او ناوړه ناستې پاستې له امله هم ماشومان بې لارې کېږي. په دې اساس، د ماشوم د بد چلند د ټولو لاملونو له څېړلو وروسته د مناسبې درملنې سپارښتنه ورته کېږي. د ماشومانو د مطالعې دغه میتود ډېره زیاته خواري غواړي او لویه پانګه پرې مصرفېږي، نو ځکه دغه میتود ډېر کم استفاده کېږي.

## د ماشومتوب د بېلا بېلو پړاوونو مطالعه

د مطالعې د آسانتیا په خاطر د ماشومانو وده او تکامل په درې پړاوونو وېشل کېدی شي:

۱) **لومړنۍ ورځې:** له زوکړې څخه یو څه له مخه او تر څو اونیو وروسته پورې.

۲) **تر ښوونځي دمخه دوره:** له تي خورۍ څخه تقریباً تر پنځه کلنۍ پورې.

۳) **د ښوونځي دوره:** ښوونځي کې له نوملیکنې څخه تر بلوغت پورې.

په پورتنیو مختلفو پړاوونو کې د ماشوم ارمانونه، وېرې، علاقې او راز، راز ذهني او بدني بدلونونه خوا په خوا مطالعه کېږي، چې د ماشوم د طبیعت په باره کې بشپړه پېژندګلوي په لاس راکوي. له لومړۍ ورځې نه پړاو په پړاو د ماشوم د ودې دغه میتود هم خورا ګټور ثابت شوی دی.

## تجربوي لاره

د مطالعې تجربوي لاره بهترین میتود دی، په دې میتود کې د ماشوم د ژوند پر یوه اړخ په اروا پوهنیز لابرتوار کې تجربې او مشاهدې سرته رسېږي. مثلاً د دې لپاره چې وګوري آیا وېره په


(c) ketabton.com: The Digital Library


ماشوم کې په طبيعي ډول وجود لري او که له چاپېرېال او تجربې نه ورته پيدا کېږي، د امريکا وتلي اروا پوه ډاکټر واټسن پر ماشومانو بې شمېره تجربې وکړې. يوه ماشوم له مخه هېڅکله مار نه وو ليدلی. خو کله چې په اروا پوهنيز لابراتوار کې يو بې ضرره مار مخې ته ورته کېښودل شو، نو د وېرې او وارخطايي پر ځای ماشوم له هغه سره لوبې او مستۍ پيل کړې. څو ورځې وروسته چې ماشوم له مار سره ښه بلد شو، نو په لابراتوار کې د وېروونکي غږ آله ځای پر ځای شوه. ماشوم به چې څرنګه مار ته لاس ور نږدې کړ، آله به په زوره وکړنګېده. مار ته له لاس وړلو سره سمدستي د وېروونکي غږ د اورېدو له کبله په څو ورځو کې ماشوم هم له مار څخه وېرېدل پيل کړل.

له دې ته ورته نورو تجربو دا پايله ترلاسه شوه چې د ماشومانو وېره تر ډېره د هغوی د شخصي تجربو له امله رامنځته کېږي. د دې لپاره چې علمي څېړنه د اروا پوه له شخصي خوښې يا ناخوښې خوندي وساتل شي، په يوه وخت کې په لوی شمېر ماشومانو په مختلفو لابراتوارونو کې تجربې ترسره کېږي او بيا دا ټولې مشاهدې له يو بل سره پرتله کېږي او په دې ډول د ماشومانو د ژوند او فطرت په تړاو ګټور نتايج ترې چمتو کېږي. داسې لابراتوارونه مناسب ماحول او تخصصي وسايلو ته اړتيا لري. په غربي هېوادونو کې دا ډول بې شمېره لابراتوارونه جوړ شوي دي.

**له تنګ نظرۍ او تعصب نه ځان ساتنه**

د ماشومانو د مطالعې په برخه کې د اروا پوه تنګ نظري او تعصب ډېر زيات تاوان لري. په دې ځای کې بايد يوازې رښتينولي او جامعيت په پام کې ونيول شي. يوازې يوه لاره په بشپړ ډول صحيح منل او په پټو سترګو د هغې عملي کول د مطالعې د غيرعلمي کېدو احتمال رامنځته کوي. له همدې امله د يوه ميتود تر انتخابولو مخکې د هغه په مناسبوالي سربېره د ماشوم انفرادي طبيعت هم بايد په پام کې ونيول شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




## دوهمه برخه



## د ماشومانو ژوند


- ☆ د ماشومانو لوبې او ساتېري
- ☆ د ماشومانو عادتونه
- ☆ د ماشومانو تېروتنې او بانې و پلمې
- ☆ د ماشومانو دروغ
- ☆ د ماشومانو وېره
- ☆ د ماشومانو خوبونه
- ☆ د ماشومانو سرغړونې
- ☆ وران او بې لارې ماشومان
- ☆ د ماشومانو غلا او پټول
- ☆ د ماشومانو قمار وهل
- ☆ ځپل شوي ماشومان

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دریم څپرکی



## د ماشومانو لوبې او ساتېري

ځينې والدين او ښوونکي تر ننه پورې په دې نظر دي چې لوبې او تفريح د ماشومانو يوه بې ګټې کړنه ده او ګواکې له دې امله په هغوی کې له زحمت نه کرکه او د ژوند له نورو مسؤليتونو څخه د تېښتې عادت پيدا کېږي. دوی په دې اند دي چې که چېرته ماشوم خپل ابتدايي ژوند په لوبو کې تېر کړي، نو په ځوانۍ کې به هم خپل ټول ژوند په لوبو کې تېر کړي. پخوا وختونو کې زموږ په کورنيو او ښوونځيو کې پر دې ډول نظرياتو ډېر په کلکه عمل کېده او په همدې اساس، زموږ پلرونو او نيکونو لوبې او تفريح له ښوونځيو او کورونو نه بهر ساتلي وو.

زموږ نېکمرغي دا ده چې دا نظريه تر ډېره وخته پاتې نه شوه او نن ورځ پر دې حقيقت پوه شوي يو چې د ماشوم د شخصيت د مناسبې ودې لپاره لوبې او ساتېري يو ډېر اړين فعاليت دی او له ډېر غور و فکر، مشاهدو، تجربو او علمي څېړنو وروسته په دې نکتې پوه شوي يو چې د ماشومتوب لوبې يوه ماشوم ته د ملګرتيا، مبارزې او خواخوږۍ بهترينه روزنه ورکوي او د يوه روغ وګړي په جوړېدو کې ورسره ډېره مرسته کوي.

### د لوبو او ساتېريو نظرونه

د ماشومانو د لوبو او ساتېريو په باره کې ګڼ نظرونه وړاندې شوي چې يو څو دلچسپه نظرونه يې په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱) د اضافي ځواک اخراج

۲) د راتلونکي بالغ ژوند تمرين

۳) د تکاملي پړاوونو احياء

۴) د جبلتونو پوخوالی

۵) لوبې اړينه تفريح ده

٦) لوبه ژوند ده

## د اضافي ځواک اخراج

يو نظر دا دی چې په لوبو کې ماشوم له خپل «اضافي ځواک» نه استفاده کوي او د بدن همدا اضافي توانايي ماشوم لوبو ته هڅوي، خو هغه کمزوري او ناروغ ماشومان چې انرژي يې ډېره کمه وي، ولې لوبې کوي؟ ماشومان په لوبو کې له ستړيا او ستومانۍ مات مات وي، خو بيا هم ولې له لوبو څخه لاس نه اخلي؟ دوی ولې له ګڼو هغو لوبو سره علاقه ښيي چې ډېر کم ځواک پکې استعمالېږي؟ دغه نظريه دې ډول پوښتنو ته ډاډمن ځوابونه نه شي ويلی او همدا د دې نظر اساسي نيمګړتيا ده.

## د راتلونکي بالغ ژوند تمرين

«لوبې، ماشوم د راتلونکي بالغ ژوند لپاره چمتو کوي». د دغې نظريې له مخې لوبې يوازې تفريح نه ده، بلکې يو جدي فعاليت دی. له نانځکې سره لوبېدونکې کوچنۍ ماشومه په لاشعوري ډول د ماشومانو د ساتنې او پالنې تمرين کوي. له خاورې نه د کورونو جوړولو په لوبه کې ماشومان د ودانيزو فنونو تمرين ترسره کوي. د غله او عسکر په لوبه کې ماشومان په ځوانۍ کې د محفوظ او متمدن ټولنيز ژوند تمرين کوي، او داسې نور. دغه اند هم له نيمګړتياوو خالي نه دی. دا سمه ده چې ماشوم په لوبو، لوبو کې د بالغ ژوند په باره کې هم ډېره څه زده کوي، خو اړينه نه ده چې هره لوبه دې يوازې د راتلونکي بامسؤله ژوند لپاره يو چمتوالی اوسي؛ بلکې ډېر کله د ماشومانو لوبې يوازې د يوې تفريح او خوند په بنا ترسره کېږي.

## د تکاملي پړاوونو احياء

د خپل اوسني تمدن هسکو ته تر رسېدو له مخه بشري نسل د پستۍ له راز راز پوړونو څخه تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوی. د «تمدني بیاپېښېدنې» د نظرېې له مخې، ماشومان د لوبو په جریان کې د بشري نسل له لوري وهل شوي تکاملي پړاوونه تکراروي. کم عمره ماشومان د خاورو لوبتوکي او کورونه جوړوي، ګواکې په دې ډول ماشومان په خپله لوبه کې د بشري نسل هغه دور احیاء کوي، چې په غارونو کې به یې ژوند کاوه. همداسې د عمر په زیاتېدو، په لوبو کې د پېچلتیا زیاتوالی په دې معنا دی چې ماشوم د دې نسل پاتې تکاملي پېرونه تکراروي.

دا اند هم ناسم ثابت شوی او نن ورځ مور دې نتیجې ته رسېدلي یو چې اکتسابي صفتونه په ارث نه انتقالېږي او په بېلا بېلو لوبو کې ماشومان ارومرو د عمر په ځانګړو پوړونو کې او یا په یوه خاص تکاملي ترتیب برخه نه اخلي، بلکې له لوبو سره علاقه او د عمر په بېلا بېلو پړاوونو کې په ډول، ډول لوبو کې ګډون ګڼ شمېر لاملونه او راز، راز انګېزې لرلی شي. د مثال په ډول کېدی شي چې موسم، چاپېریال، تمدن، اقتصادي، ټولنیز او جنسي عناصر د ماشومانو پر لوبو او د لوبېدو په ډولونو رغنده اثر پرېباسي.

### د جبلتونو پوخوالی

پروفیسور میکډوګل په دې باور دی چې په جلبتونو کې تر وخت له مخه پوخوالي له امله په ماشوم کې له لوبو سره علاقه پیدا کېږي. خو د لوبو یاده فطري نظریه، د لوبو مختلف ډولونه او د ماشومانو په علاقو کې شته اختلاف نه توجیه کوي.

### لوبه اړینه هوساینه ده

د بوخت ژوند له امله په ذهن او بدن بوج رامنځته کېږي، د ورځني ژوند بوختیاوې مو ډېر زیات ستومانه کوي. د دغې ستړیا د له منځه وړلو لپاره تفریح خورا ضرور ده. د لوبو د تفریحي نظرېې له مخې، د بدني ستړیا او ذهني ستومانۍ د له منځه وړلو لپاره لوبه اړینه تفریح ده.

### لوبه ژونده ده

د لوبو حیاتي نظریه خورا جامع ښکاري. د دې اند له مخې د ژوند د حرکت لپاره لوبه یوه اړینه بوختیا ده. لوبې، ذهن او بدن ته مناسبه وده ورکوي. د لوبو پر مهال ماشومان له دې امله ارامتیا احساسوي چې د خوړو په څېر لوبې د هغوی د شخصیت برخه ګرځېدلې وي.

لوبې یوازې د اضافي انرژي مصرف نه دی او نه یوازې د ژوند تېرولو تمرین پکې ترسره کېږي؛ په لوبو کې یوازې د نسلي تکامل بېلا بېل پړاوونه نه تکرارېږي او نه د جبلتونو زیاتېدونکي قوتونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library


لوبو انګېزه ګرځي. د دغه اند له مخې لوبه پخپله ژوند دی او له لوبې او تفريح پرته ژوند کول ناشونی دی او د ژوند سمه پېژندنه يوازې د لوبو په ډګر کې صورت نيسي.

## لوبې او کار ټکر نه سره لري

پخوا خلک په دې اند وو چې لوبې او کار دوه مختلف بلکې متضاد فعاليتونه دي او لوبې يوه داسې وخت ضايع کوونکې او بې ګټې کړنه ده چې له عملي او افادي پلوه يې نتايج له صفر سره برابر دي. د تعليم هدف انسان ته فن او هنر ور زده کول دي او دا کار ډېر زيات زيار او سرښندنه غواړي. په دې اساس، لوبې له کار نه د انسان د ويستلو يو خطرناک او شيطاني ايجاد دی. له همدې امله د يوه هوښيار او بالغ ښاري کېدو لپاره همدا مناسبه ده چې ماشومان د لوبو له چاپېريال څخه لرې وساتل شي.

د خوښۍ ځای دی چې نن ورځ موږ د ناپوهۍ له دې تاريکه غارونو څخه راوتلي يو او دې نظريې ته مو غاړه ايښې ده چې لوبې زموږ د ژوند مهمه برخه ده او د لوبو او کار ترمنځ بايد توپير ونه شي. د پخوانو خلکو په څېر د دې په ځای چې د ماشومانو له ژوند څخه لوبې او ساتېري وباسو، اوس هڅه کوو چې هر کار د لوبو غوندې خوندور او زړه راښکونکی کړو او زموږ د دې بدلېدونکو عقايدو له سببه په انساني روغتيا کې ښکاره وده راغلې ده.

د روغو ماشومانو لپاره دا ضرور نه وي چې لوبو ته يې وهڅوو، دوی فطرتاً هر وخت لوبو ته چمتو برېښي. ماشومان په طبيعي ډول له لوبو، ننداړو، ټوکو ټکالو او هر ډول تفريحي بوختياوو سره لېونۍ مينه لري او له داسې کار سره فطري لېوالتيا نه شي لرلی چې تفريح او خوشالي پکې نه وي. هغوی پخپله هغو فعاليتونو ته ور دانګي چې پېچلتيا ونه لري او داسې فعاليتونه وي چې کله پکې ګډون وکړي، نو بې باکه خوند ترې واخيستلی شي. همدا لوبې يوه داسې تفريح ده چې ماشومان پکې خپلو مشروعو فطري تقاضاوو ته رسېدلی شي او خپله خوښه پکې تطبيقولی شي.

## د لوبو د مطالعې ميتودونه

والدين او ښوونکي بايد د ماشومانو لوبې په غور مطالعه کړي او دا مالومه کړي چې ماشومان له لوبو سره تر کومه بريده لېوالتيا لري او د بېلابېلو لوبو لپاره څه ډول ملګري او څنګه چاپېريال خوښوي. د دې مطالعې لپاره راز، راز علمي ميتودونه په کار وړل شوي.

د ماشومانو د لوبو د مطالعې څو مشهور ميتودونه په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱) د پوښتنلیک میتود

۲) د مشاهدې میتود

۳) د خبرو اترو میتود

۴) تجربوي میتود

## د پوښتنلیك میتود

په پورتنیو خبرو د پوهېدو یو میتود دا دی چې د بېلا بېلو لوبو په تړاو د عام فهمه پوښتنو لیست جوړ شي او له دول، ډول ماشومانو څخه یې ځوابونه وغوښتل شي. دغه میتود د پوښتنلیک میتود بلل کېږي. مثلاً:

کومه لوبه دې تر ټولو ډېره خوښېږي؟

آیا پوکانې ډکول دې خوښېږي؟

آیا توپ ډنډه دې خوښېږي؟

آیا د پوستي ټکټونو له ټولولو سره مینه لرې؟

له کومو ملګرو سره دې د پټ پټاني لوبه خوښېږي؟

د پهلوانۍ لپاره دې کوم ځای خوښ دی؟

د ماشوم په ځوابونو کې د هغه د لوبو د رحجانونو په باره کې تر ډېره بریده دقیق معلومات ترلاسه کولی شو. د پوښتنو مخې ته ځینې وختونه څو متبادل ځوابونه هم لیکل کېږي او ماشوم ته ویل کېږي چې سم ځواب په نښه کړي. مثلاً: باران ورېږي، غواړې د کور دننه کومه لوبه وکړې؟

الف) لوډو ب) د نانځکې واده جوړول ج) رسامي کول د) شطرنج

## د مشاهدې میتود

د ماشومانو د لوبو د مطالعې یوه مستقیمه لاره هم شته چې د ماشومانو لوبغالي ته ورشې او په علمي بڼه دا ټکي مطالعه کړې چې د هغې لوبې نوعیت څه دی؟ آیا ماشوم زیاتره وختونه برخه پکې اخلي او که یې علاقه بدلېږي را بدلېږي؟ ملګري یې له دې لوبې سره څومره علاقه لري؟ د لوبو په اوږدو کې یې لانجه راځي او که نه او که لانجه جوړېږي نو پرېکړه یې څنګه کېږي؟ آیا دغه لوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوازې تفريحي لوبه ده او که تر شا يې کوم ښوونيز يا ټولنيز هدف هم شته؟ د لوبو دا ډول علمي مطالعې ته د مخامخ مشاهدې ميتود ويل کېږي.

## د خبرو اترو ميتود

له ماشومانو سره د مخامخ ليدنې او خبرو اترو له لارې هم د لوبو په اړه د هغوی تمايلات معلومولی شو. په دې ميتود کې تاسو د ماشوم په خوا کې کېنئ او په نرمه ژبه ترې پوښتنې کوئ: ته کومه لوبه کوې؟ د لوبې په ډګر کې دې څومره ملګري پيدا کړي؟ په ښوونځي کې د کومې لوبې په ټيم کې شامل يې؟ که دې په لوبه کې لانجه را شي، څه به کوې؟ د ماشومانو له راډيويي او ټلويزوني خپرونو سره څومره علاقه لرې؟ او داسې نور.

## تجربوي ميتود

نن ورځ د لوبو د مطالعې تجربوي ميتود ډېر زيات منل شوی ميتود دی. په دې ميتود کې د ماشومانو د لوبو منظمه او هر اړخيزه مطالعه کېږي او ټولې مهمې خبرې په منظم ترتيب ليکل کېږي. ځينې ماشومان ډېر شرمناک وي، او کله چې پوه شي يو څوک يې څاري نو شرمېږي او په خلاص زړه لوبه نه شي کولی. پر دې ستونزې د برلاسنيا لپاره د ماشومانو اروا پوهانو يوه داسې پرده جوړه کړې چې له يوې خوا نه يې د بل لوري ټول شيان ښکاري، خو له هغه لوري د دې خوا هېڅ شی هم نه ليدل کېږي. دغه «يو طرفه پرده» د لوبو په ځای کې نصبېږي او اروا پوهان يې شا ته کېني او په دقت سره لوبېدونکي ماشومان څاري. ماشومان چې پر دې نه پوهېږي چې څوک يې څاري، ډېر بې باکه په لوبو کې لګيا وي.

اروا پوهان د ماشومانو ټول خوځښتونه، کړنې، خبرې او داسې نور ورسره يادداښت کوي او چې لوبه پای ته ورسېږي نو خپل مشاهدات تحليلوي، چې د همدې له مخې بيا په لوبه کې د مناسبو بدلونونو وړانديز ورته کېږي او د ماشومانو د نيمګړتياوو په باره کې والدينو او ښوونکو ته ګټورې مشورې هم ورکول کېږي. تر مختلفو وقفو وروسته دا هم په ډاګه کېږي چې په لوبه کې بدلون او د ماشومانو مناسبه لارښوونه پر دوی څومره اغېز پرېباسي. د دې مشاهدو او ګټورو سپارښتنو په مټ هڅه کېږي چې د ماشومانو د لوبو لپاره يوه معياري او مثبته فضا رامنځته شي. په غربي هېوادونو کې د ماشومانو د اروا پوهانو دغو هڅو تر ډېره بريده کاميابه پايله لرلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د لوبو د لېوالتیاوو ارتقایي پړاوونه

د تجربې او عمر له زیاتوالي سره د ماشومانو د لوبو ذوق هم بدلېږي. که څه هم د ماشومانو په هوساییزو لېوالتیاوو کې جدي توپیرونه لیدل شوي، خو بیا هم د لوبتیا د ودې او تکامل تدریجي پړاوونه شاوخوا هر ځای او د هر توکم په ماشومانو کې تر ډېره مشترک دي. د تکامل دغه زینې د ماشوم په ژوند کې په درې برخو وېشلی شي:

۱) د ابتدایي عمر لوبې: له زوکړې څخه تر درې کلنۍ پورې ابتدایي لوبې.

۲) د ماشومتوب د پیل لوبې: یعنې له څلور کلنۍ نه تر اته کلنې پورې لوبې.

۳) د زلمیتوب (بلوغت) تر پېر دمخه لوبې: یعنې له دیارلس کلنۍ نه د زلمیتوب تر وخته لوبې.

## د ابتدایي عمر لوبې

تر زوکړې یو څه موده وروسته ماشومان یوازې د خپلو حواسو کارول او خوځېده زده کوي، او په دې عمر کې په یوازې ځان لوبې خوښوي. دوی تر ځان چارچاپېره هر شي ته د لاس اچولو تمرین کوي او د یوه کار له بیا، بیا تکرار نه ډېر زیات خوند اخلي. په لومړیو کې یې دغه حرکتونه ګډوډ وي او ماشومان خپل شاوخوا خلکو او شیانو ته تر ډېر وخته ځیر، ځیر ګوري او په معمولي غږ یې غوږونه څک شي.

ورو، ورو په ماشومانو کې د مخته خوځېدو ځواک پیدا شي. ماشوم د شیانو په لور ور غورځي. خپل لور ته یې را کاږي یا یې ایسته غورځوي. له تګ زده کولو دمخه لا ماشوم تقلید کول زده کوي. په هینداره کې خپل انځور ته ډېر زیات خوشحالېږي. په دې عمر کې ماشوم وړو شیانو ته ډېر زیات میلان ښیي او په هر خوله خلاصي شي کې له ګوتې ننباسلو ډېر زیات خوند اخلي.

د خاپوړو دور له پای ته رسېدو وروسته ماشوم تګ زده کوي او چټکتیا یې زیاته شي. دا مهال ماشوم د انځورونو له لیدو او کیسو اورېدو سره لېږ او زیات لېوالتیا ښیي. په دې عمر کې ماشوم عموماً په «متوازي لوبو» کې بوخت وي. په دې معنا چې نوموړی د ماشومانو په خوا کې خو لوبېږي، خو هغو ته له ور ګډېدو څخه ترهېږي او ځان ترې لرې ساتي.

## د ماشومتوب د پیل لوبې

د ماشومتوب په لومړیو کې د ټولنیز ژوند د څه نا څه سلیقو له زده کړې وروسته په ماشومانو کې د ګډو لوبو کولو علاقه پیدا کېږي. په دې وخت کې ماشوم په یوازې لوبېدو کې بې خوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library


غونډې احساسوي. د څلورو او شپږو کلونو په منځنۍ موده کې ماشومان په بې ځایه خبرو کې ډېر زيات مهارت پيدا کوي. يو شمېر ماشومان د بې معنا او کله نا کله د بې عقلۍ او تر دې چې نيمه فحشو جملو په بيا، بيا ويلو کې يو خوند غونډې احساسوي. د عمر له زياتېدو سره يې د تکرار په ځای له پرلپسې والي سره علاقه پيدا شي. په دې وخت کې غواړي چې هر کار په منظمه توګه سرته ورسوي او له پرلپسې کيسو اورېدو سره يې مينه پيدا شي. مثلاً که د واده لوبه کوي، نو د واده هر دود په منظم ډول وار، وار په ترسره کوي.

څه موده وړاندې د هند په اړه خبر خپور شو چې په کومه سيمه کې څو ماشومانو په لوبو کې د مهاتما ګاندي د وژل کېدو پېښه تمثيل کړې وه. پلټنې کول، وژل، د تورنو نيول، په محکمه کې د قضيې اورېدل او د قاضيانو تر پرېکړې پورې د ټولې لوبې له ترسره کولو وروسته دغو ماشومانو د ګاندي د وژونکي رول لوبوونکی بې ګناه ماشوم هم د لوبې په جريان کې په رښتيا په دار ځوړند کړی وو.

يوه بله پېښه هم را ياده شوه. د لندن په يوه بڼ کې کوچنيو ماشومانو د واده لوبه کوله. دوه تنکيو ماشومانو له ځانه ناوې او زوم جوړ کړي وو او بيا کليسا (د بڼوال خېمې) ته ننوتي وو. له هغه وروسته دواړو يو کوچنی کېک پرې کړی او ټولو په ګډه خوړلی وو. ورپسې «ناوې» او «زوم» په يوه مېز باندې پټې سترګې ناست وي. لږ ځنډ وروسته «ناوې» سترګې پرانيزي او «زوم» ته وايي: «زه اميندواره يم».

وينئ چې خبره له کوم ځای نه تر کوم ځايه ورسېږي! په دې عمر کې ماشومان غواړي چې داسې لوبه ولوبوي چې زړه راښکونکې پېښې ولري او هره برخه يې په ترتيب ترسره شي.

په دې عمر کې خوځند لوبتوکي، چړې، لرليدوني او ځلېدونکي څيزونه د ماشومانو د خوښې لوبتوکي وي او ونو ته ختلو، ښويېدلو، منډې وهلو، پټېدلو، جنګېدلو او په حيواناتو پسې ځغلېدو نه ډېر زيات خوند اخلي.

### تر زلميتوب دمخه لوبې

تر زلميتوب دمخه لوبو کې جنسي اختلافات هم ور ګډ شي. په دې وخت کې په لوبو کې شور او زوږ تر ډېره کم او خوځښت زيات وي او د يوې لوبې په ځای له ګڼو لوبو سره يې علاقه پيدا شي. له نورو نه د لوبې ګټلو او امتيازي مقام لاسته راوړلو هيله يې ډېره زياته زوروره شي. په دې وخت کې ماشومان د منډو ترړو د ساده لوبو پر ځای د مبارزې او مقابلې له لوبو سره لېوالتيا ښيي. کرکټ،

(c) ketabton.com: The Digital Library


باسکټ بال، هاکي، فټ بال او داسې نورو لوبو سربېره، لامبو-وهنه، تفریحي ځایونو ته تلل او هر وخت د بایسکل چلونې هیلې يې په ولولو شي. دغه راز، د اس او موټرسایکل ځغلونې مینه یې په څپو شي. د ډېرو ملګرو په ځای یوازې د یوه «پوخ ملګري» موندلو هیله يې زرغونه شي. که یو خوا نجلۍ داسې ملګرې لټوي چې د زړه له اخلاصه ورسره د «راز» خبرې وکړای شي؛ نو بل خوا هلک هم د خپل جنس یو داسې ملګری لټوي چې «راز داره» یې شي.

همدا هغه وخت دی چې د ماشومانو لوبډلې، ټیمونه او پارټۍ جوړېږي. په دې دوره کې ماشومان د کوچنیو لرګینو وسایلو او د کور د ورځنیو توکو په جوړولو او د برېښنا او نورو وسایلو په ترمیم کې ډېر زیات بوخت وي. نجونې له ګنډلو، اوبدلو او خامک سره بې بریده لېوالتیا ښیي. د «لاس صفایي» لوبې، تاش او د عاشقي و معشوقي ذوق یې لوړېږي. په دې دوره کې د ماشومانو د مطالعې په انتخابونو کې هم پراخه تنوع راځي، نو په دې ځای کې د لوڅو ادبیاتو، فحشو فلمونو او بې هدفه ټلویزوني خپرونو په باره کې مناسبه لارښوونه ورته ډېره زیاته ګټه کولی شي.

## په لوبو کې تنوع او اختلاف

د ماشومانو په لوبو کې تنوع او بدلون ولې او په څه ډول رامنځته کېږي؟ د دې تر شا ګڼ لاملونه لاس لري. په هر عمر کې ماشومان له یوې ځانګړې لوبې سره زیاته علاقه ښیي. کمکی ماشوم له لاس او پښو وهلو ډېر خوند اخلي، چې لږ لوی شي د کاغذونو له تاوولو، اوبو شیندلو، د صابون پوکانې جوړولو او له چټي او بې معنا خبرو ډېر خوند اخلي. څه موده وروسته یې بیا له له وړو او لویو لوبو سره هم علاقه پیدا شي. ښوونځي ته چې لاړ شي، نو په لومړیو کې خو له نورو سره له لوبېدو شرمېږي، خو ورو، ورو د خپلو همزولو په لوبو کې هم برخه اخلي. دغه مهال د نوموړي د لوبو په ذوق کې تنوع او بدلون پیلېږي او له یوې نه زیاتو لوبو سره یې علاقه پیدا شي.

## لوبې او جنسي عناصر

د ماشومتوب په لومړیو کې د هلکانو او نجونو په لوبو کې عموماً کوم ښکاره توپیر نه وي، خو په اته یا لس کلنۍ کې د جنسي عناصرو له امله د دوی په لوبو کې توپیر پیل شي. هلکان عموماً له هلکانو او نجونې له نجونو سره لوبې کول خوښوي او د لوبو د ملګرو په انتخاب کې ماشومان معمولاً خپل همجنسه او همزولو ته ترجیح ورکوي؛ نجونې له نانځکو سره لوبېږي، کورونه جوړوي، د واده تمثیلونه کوي، او هلکان له توپ او لښتو سره لوبېږي. تر بلوغت له مخه ماشومان له خپل مخالف جنس سره لوبېدل خپله کمزورتیا ګڼي او په همدې عمر کې د ماشومانو د داسې ډلو جوړېدو خطر

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم پیدا کېږي چې په راتلونکي کې په جرایمو اخته کېږي.

**د نجونو پر لوبو ټولنیز بندیزونه**

په زلمیتوب کې هلکان معمولاً له هغو لوبو سره علاقه ښيي چې مبارزه، زړورتیا، ځواک، ځیرکي او چالاکي پکې پکار وي او له یو بل سره د مخامخ مبارزې لوبې یې ډېرې زیاتې خوښېږي. نجونې هم غواړي چې همدا ډول لوبې وکړي. خو د ټولنې له وېرې خپلې لوبیزې بوختیاوې محدودې کړي او د خپل بدن په طبیعي کمزورتیاوو سربېره د ښځینه دودونو او چاپېریال تر بوج لاندې عموماً نجونې په داسې لوبو بسنه کوي چې ټوپونه او خېزونه پکې کم وي.

په لویدیځو هېوادونو کې د خلکو عام نظر ډېر زیات متمدن شوی دی. په دغو ټولنو کې پر نجونو باندې تفریحي بندیزونه لګول اوسمهال یو ظلم ګڼل کېږي. پایله یې دا ده چې هلته نجونې هم د «نارینه وو په لوبو» کې برخه اخلي، مثلاً په هاکي، ټېنس، والي بال، بایسکل ځغلونې، لوړ ټوپ اچونې، اوږد ټوپ وهنې او داسې نورو لوبو کې د آزادۍ له کبله د مغربي ښځو بدني روغتیا هم بهتره شوې. خو موږ ډېری داسې لوبې لرو چې په دې خبره پرې بندیز لګوو، چې ګواکې «نجونې یې نه کوي.» زموږ د هېواد د نجونو بدني روغتیا په ټولیز ډول ښه نه ده او په دوی کې د کمترۍ او احساس محرومیت د زیاتېدو یوه لویه وجه پر روا لوبو باندې د ناپوهه ټولنې بې ځایه بندیزونه دي. د خوښۍ ځای دی چې اوس دې لور ته یو ډول هیله بښونکې ویښتیا تر سترګو کېږي.

**لوبې او ځیرکتیا**

په لوبو کې ځیرکتیا هم لوی لاس لري او دا عام فکر چې له ذهني پوخوالي سره سره له لوبو سره علاقه کمېږي، ناسم ثابت شوی دی. ځیرک، کم عقل او د بېلا بېلو ذهني کچو ټول ماشومان ارومرو یوه نه یوه لوبه کوي، بلکې ځیرک ماشومان په لوبو کې تر نورو ډېر ګډون کوي، د دوی له یو بل سره ګډ اوسېدل خوښېږي او له داسې بوختیاوو نه ډېر خوندي اخلي چې غور او فکر پکې ډېر او های و هوی پکې کم وي. دوی په یوازې ځان هم لوبې کوي او د خپلو همزولو په نسبت درس هم ډېر وایي. د نورو ماشومانو په پرتله ځیرک ماشومان د مبارزې له لوبو سره ډېره کمه علاقه ښيي. بل خوا، د لږ ځیرکو، کند ذهنه او بې عقله ماشومانو عموماً دا خوښېږي چې له لرې یې ننداره وکړي او د ځیرکتیا د کمښت له امله د لوبو په بېلا بېلو اړخونو باندې د پوهېدو وړتیا هم ورکې نه وي او ډېر کله ناکامه او جنګېره لوبغاړي ترې جوړېږي. دغه ډول ماشومان که په ګډه هم لوبه کوي،نو تر ځان کم عمره ماشومانو سره یې کوي تر څو دبدبه یې پرې جوړه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لوبې او توکميز تعصب

د نړۍ په ګڼو سيمو کې لا هم د رنګ او توکم توپير موجود دی. دغه توکميز تعصب پر لوبو هم يو ناوړه اغېز پرېباسي، په کومو سيمو کې چې تر نن ورځې پورې له تورپوستو سره ناوړه چلند کېږي، نو هلته تورپوستي ماشومان د کمترۍ احساس د جبران لپاره په لوبو کې وړتيا پيدا کوي او هڅه کوي چې تر نورو وړاندې شي، تر څو له دې لارې د خلکو په سترګو کې د ځان لپاره درناوی او مقام پيدا کړي. ډېری تورپوستي حبشيان په کيسو او ټوکو کې وړتيا ترلاسه کړي. په همدې ډول د نورو وروسته پاتې قومونو ماشومان هم د لوبو په ډګر کې ځان يوه مقام ته رسوي او د خپل قومي وروسته والي د ختمولو هڅې کوي.

د توکميز تعصب جنګونه د لوبو فضا هم زهرجنه کوي، ډېری وختونه د مظلومو قومونو ماشومان د ټولنې له خبرو او پېغورونو دومره تنګ شي، چې له لوبو څخه له يوې مخې لاس پورته کړي. په دې ځای کې يوه ډېره په زړه پورې کيسه ذهن ته راغله. د لاهور په يوه کلي کې څو ماشومان په لوبو اخته وو. په دې کې يو څو ماشومان د چوړو د کورنۍ هم وو. همدې وخت کې وريځې راغلې، نو ماشومانو ټوپونه او خېزونه پيل کړل او په لوړ غږ يې دا سندره پيل کړه:

اې خدايه باران راوله.

زمونږ په کور کې غله را زرغونه کړه

د چواړيانو کره چونګښې وچغوه.

د چواړيانو ماشومانو چې وليدل چې د لوبو مثبته او خوندوره فضا په دا بل مخ اوړي، نو د خپلو خېمو په لور يې منډه کړه او هغه ماشومان يې په ميدان پرېښودل. په کلو کې هم د «ټيټ نسل» خلک د ډول ډول تنګ نظريو ښکار وي. د «لوړ ذات» ډېری کليوال خپل ماشومان د «ټيټ ذات» له ماشومانو سره له لوبو منع کوي.

## لوبې او چاپېريال

ماحول هم د ماشومانو پر لوبو ښکاره اغېز ښندي. د معتدلو سيمو ماشومان د غرنيو ماشومانو برعکس عموماً مختلفې او جلا لوبې کوي. دغه راز، د محدودو سرچينو له امله د کليوالو ماشومانو لوبې د ښاري ماشومانو په پرتله ډېرې ساده او د شمېر له مخې خورا کمې وي. په همدې ډول ښارونو کې هم د تنګو او تياره کوڅو او چټلو سيمو اوسېدونکو ماشومان د ازادې فضا له لوبو نه بې

(c) ketabton.com: The Digital Library


برخې وي. ښاري ماشومان چې يو څه را لوی شي، او د سينما ليدل پيل کړي، نو د مبارزې له لوبو سره يې لېوالتيا مخ په کمېدو شي؛ نو که دې وخت کې يې سمه لارښونه ونه شي، نو د دې وېره شته چې د ټولنې ضد فعاليتونو او مجرمانه کړنو ميلان پکې زيات شي.

## لوبې او موسم

لوبې له موسم سره هم ژوره اړيکه لري. د بارانونو په ورځو کې کيسې لوستل، شيان پخول او کورنۍ لوبې زيات خوند لري. بل خوا، ژمي کې بيا ماشومان په واوره ښويېدل، د واورې کورونه جوړول او باډيوې الوځول خوښوي. د پسرلي په موسم کې يې له ټوپ وهلو، پړي اوښتلو، پټ پټاني، څرخي تاوولو او بايسکل ځغلولو سره علاقه زياته شي. په دوبي کې بيا چکر او ګرځنديي د دوی د لوبو لېوالتيا وګرځي. په دې سربېره، د همزولو معيار، د لوبو په باره کې د والدينو نظر، د هغوی ټولنيز او اقتصادي حالت، د کلي او ښوونځي چاپېريال، تر دې چې د ماشوم ورځنی لباس، روغتيا او خواړه هم د لوبو په ذوق کې د ښکاره توپير سبب ګرځي.

د ماشومتوب په دوره کې لوبې يوه بيخي فطري بوختيا برېښي، په ماشومانو کې د حرکت او منډو جذبه د لوبو په بڼه د اظهار مناسبه لاره ترلاسه کوي او دا هېڅ ضرور نه وي چې ماشومان لوبو ته وهڅول شي. لوبه که هر ډول وي، ماشومان يې د پايلې په اړه له فکر کولو پرته بې باکه ترسره کوي؛ لوبې په اصل کې د ماشومانو د واقعي او طبيعي ارامتيا او خوښۍ دپاره دلچسپه موارد برابروي.

## لوبې او بدني روغتيا

د روغتيا له مخې، لوبې د ماشومانو لپاره زښته ګټوره بوختيا ده. په لوبو کې د ګڼون کوونکو ماشومانو بدني ځواک وده کوي. د منډو، ټوپونو، غورځېدو، ټيټېدو، جګېدو، اوښتو، غورځولو، ښويېدلو، ولېدلو او ځان سنبالولو له امله يې د بدن غړي خلاصېږي، وينه په ډېره اسانۍ پکې دوره وهي او د بدن بېکاره مادې د خولې په بڼه وځي.

زموږ بدني وده او غوړېدنه تر ډېره د لويو پلو په خوځښت پورې اړه لري. همدا پلې په لوبو کې د خوځېدو په حالت کې وي او پياوړې او وازې شي او ورسره د ماشومانو خوځښتي سليقه هم رغېږي. په دې ډول په ماشومانو کې د خوځښت او حرکت پورې اړوند رنځونه هم له منځه ځي. د مناسبې بدني ودې په اساس په بدن کې له ناروغيو سره د جنګېدو پرېمانه ځواک را ټولېږي، تېز او چالاک لوبغاړي ماشومان د بدني نظم او ډسپلن په سبب په خپل ځان هم باوري وي او ډېر کم داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library


پېښېږي چې د کمترۍ د احساس ښکار شي.

**لوبې او ذهني روزنه**

د ماشومانو ژوند له کړنو څخه جوړښت مومي. د لوبو په جريان کې ماشومان له ډول ډول وسايلو سره مخ کېږي. دوی دغه توکي په بېل بېل ډول کاروي او ځينې شيان جوړوي او ماتوي، او له دې لارې يې د خپل مادي چاپېريال په هکله پوهه او معلومات پراخېږي. په ذهن کې يې نوي نوي فکرونه ټوکېږي. د پېښو پر اسبابو يې سر خلاص شي. د لوبو له توکو او د ډولو له نوو جوړښتونو څخه اغېزمن کېږي او پر بېلا بېلو امکاناتو باندې د فکر کولو وړتياوې پکې پنځېږي. او په دې ډول د دوی نوښتگر ذهن د شاوخوا پر نړۍ له نوو، نوو لارو څخه فکر او غور کولو ته چمتو کېږي.

څومره چې ماشوم لويېږي، له لوبو سره يې ذوق هم پراختيا مومي. په لوبو کې د مبارزې په جريان کې د ځان په څېر، له ځان نه مختلف او ډول ډول همزولو سره ويني او د ژوند له يو څه جلا او بېل فکر او طرز سره اشنا کېږي. په دې ټولنيز ليده کاته کې د ماشوم په شخصيت کې وسعت او انډول رامنځته کېږي. د نورو له کړنو او فکر سره بلدېږي او ذهني پوخوالی او سليقه يې غوړېږي. د لوبو په ډگر کې ماشوم د تمرکز کولو، تصميم نيولو، مبارزې کولو، ټاکلو او لاس ورکولو ځانگړنې زده کوي. له نوو ماشومانو، نوي انداز، نوو لغتونو او نويو فکرونو نه له برخمنتيا وروسته ماشوم د ذهني بلوغت پر لويه لار رهي کېږي.

**د لوبو ټولنيز ارزښت**

د ماشومانو په ټولنيزه او ذهني روزنه کې لوبې لوی لاس لري. لوبه يوه په زړه پورې ډله ييزه بوختيا ده. په لوبو کې تنها ماشوم د کورني ناز او مينې له فضا څخه وځي او چې د لوبو په ډگر کې پښه ږدي نو هله احساسوي چې په نړۍ کې نور ماشومان هم ژوند کوي او د ځان په څېر د نورو ماشومانو هيلې او حقونه هم هماغسې اړين دي. نوموړی ډېر ژر پوه شي چې يوازې د زړورتيا، لاسنيوي، زغم، برابرۍ او وروړگلوۍ له لارې په لوبو کې بريالی گډون کولی شي او دا چې په ښکېلتيا، غوسې ښودلو او ټېل ماټېل هېڅ څوک هم له ده سره ملگرتيا نه خوښوي. د ټولنيزو لوبو له لېوالتياوو نه د برخمنتيا په خاطر نوموړی مجبوره کېږي چې د خپل وران شوي شخصيت ډېر نازونه او نخرې شاته وغورځوي او د لوبډمشر خبره منل او له نورو سره په گډه د لوبډو ټولنيزه سليقه ورکې ټوکېږي. د لوبډلې ټولنيز ژوند ته له ور ننوتو وروسته د شرمېدنې، زړه نا زړه توب، بې زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



توب، غوسې او د شخصیت نورې ټولنیزې نیمګړتیاوې ترې لرې کېږي. ځان څو ټاکلو اصولو ته ژمن ساتل او د یوه سوله ییز ښاري کېدو روزنه یې هم په همدې لوبو کې کېږي. که چېرته په دې دوره کې د ماشومانو د لوبو مناسبه څارنه او لارښوونه وشي، نو په راتلونکي ژوند کې هم د یوې رغنیزې ډلې د ګټور غړي کېدو او د خلکو د مشرۍ لوړتیاوې پکې ټوکېږي.

که ستاسو ماشوم د څه شي له امله په لوبو کې ګډون نه کوي، نو د دې کلکه اندېښنه شته چې د دروني حرکت او فعالیت زېرمه به یې د مجرمانه کړنو بڼه غوره کړي او د دې هم ډېر امکان شته چې د خیال پلاؤ عادت ور ولوېږي او څومره چې لویېږي، هماغومره یې له ټولنیز ژوند سره کینه پیدا شي. د لوبو له هوساینو نه د بې برخې ماشومانو په شخصیت کې د شرمېدنې، بې زړه توب، ازرده کېدو، نورو ته ضرر رسولو، بې ځای سر تمبګي، خلق تنګي او ځانځاني په څېر عیبونو د پیدا کېدو احتمال ډېرېږي. په همدې ډول یې د بالغ ژوند لمنه هم داغجنه کېدلی شي. په لوبو کې د ګډون له امله د مبارزې، غورزېدو، پررزېدو او منډو ترړو له لارې د ماشومانو د خلق تنګي او غوسې بړاس وځي او په راتلونکي ژوند کې د ټولنې د یوه باشعوره، متمدن او زغم لرونکي غړي کېدو وړتیا مومي.

### د لوبو احساساتي ارزښت

دا چې د لوبو خوځښتونه او لېوالتیاوې ماشوم هوسا کوي، نو کله چې دی لوبه پیلوي نو تر پایه پورې په ټوله توجه او پام پکې بوخت وي. له لوبو نه دی بې اندازې ارامتیا ترلاسه کوي. د راتلونکي بالغ ژوند ځانګړنې لکه پر ځان کنټرول، پر ځان باور، زغم، نوښتګر فکر، خبره منل، همکاري کول او رهبري، د لوبې د ډګر له خوشالۍ او هوساینې څخه سر را پورته کوي. د ژوند له ربړو څخه د لریوالي او د بدني او ذهني خوشحالۍ او خوښۍ له امله د نوموړي په روغتیا او شخصیت کې توازن رامنځته کېږي. د روغ شخصیت د ودې او غوړېدا لپاره د لوبو له ډول ډول لېوالتیاوو خوند اخیستل د ماشومانو لپاره ډېره زیاته اړینه ده.

### په کور او ښوونځي کې د لوبو زمینه برابرول

«لوبې د زده کړې په لاره کې خنډ پېښوي.» په تېر مهال کې دغه دقیانوسي تعلیمي نظریې ډېر زیات په ناسمه لاره روان کړي وو، خو د خوښۍ ځای دی چې اوس ښوونکي او والدین په دې حقیقت پوه شوي دي چې د ماشومانو ښوونیز ژوند باید له خوشحالیو نه ډک وي. د ناپوهه ښوونکو د ظلم او تشدد له کبله ماشومان له ښوونځي نه په وېره کې وي اوکرکه ترې کوي، له درس ویلو

(c) ketabton.com: The Digital Library


ترهېږي او د جرايمو او ټولنې ضد اعمالو تمايل پکې زياتېږي. اوسمهال د ښوونځي په دوره کې لوبو او تفريح ته ډېر زيات ارزښت ورکول کېږي، تر څو ماشوم خپله تازه ټوکېدلې انرژي په خوندورو بوختياوو کې ولګوي.

لوبغاړي ماشومان په ټولګي کې له خپلو ټولګيوالو سره ډېره کمه شخړه او لانجې کوي. د لوبو په ډګر کې ترلاسه کړې خوشحالي او کاري خپلواکي په ماشوم کې ذهني او احساساتي انډول رامنځته کوي. په دې سربېره، له نورو سره د ليدو کتو او تر ځان پوه کس نه د يو څه د زده کړې شعور يې هم پخېږي. دا سمه ده چې په ټولګي کې ماشومان د کلچر او تمدن له معيارونو سره بلدېږي، خو له يو بل سره د همکارۍ، خواخوږي او زړورتيا په څېر ځانګړنو عملي روزنه يوازې د لوبو په ډګر کې ترلاسه کېدی شي. د لوبو ډګر د ماشومانو لپاره تر ټولو غوره ډيموکراتيک ښوونځی دی. د نړۍ يو ښوونځی هم د لوبغالي له مرستې پرته د ماشومانو د مناسبې ښوونې او روزنې فريضه په برياليتوب نه شي سرته رسولی.

## د لوبو تعليمي ارزښت

دا تواهم هم بې بنسټه دی چې که د ښوونځي چاپېريال خوښې بښوونکی وي، نو د ماشومانو د ښوونې و روزنې موخه له منځه ځي. تفريح کومه بې ګټې بوختيا نه ده. لوبې خپل منل شوی تعليمي ارزښت لري. د مبارزې په لوبو کې ماشوم د سرښندنې، خپلواکي او زړورتيا عملي روزنه ترلاسه کوي. د پاملرنې او زيارکښۍ همدا روزنه له نومورې سره د کتابونو په پوهېدو کې لويه مرسته کوي؛ له همدې امله د هغو ښوونځيو د ازموينو پايلې هم عموماً ډېرې ښې راوځي، چې پر لوبو، ډرامو، انځورګرۍ، موسيقۍ او نورو ښکلو هنرونو هم ډېر ټينګار کوي. د لوبغاړوالي احساس له ماشوم سره د يوه بريالي زده کوونکي په جوړېدو کې ډېره زياته مرسته کوي او د ښوونې په غوټو باندې د ښه ترا پوهېدو او د ښوونځي دنده په خوشحالۍ سره د پای ته رسولو عادت ور لوېږي. که د لوبو دې تعليمي اړخ ته مناسب اهميت ورکول شي، نو زموږ د ښوونيز او روزنيز نظام ګڼې نيمګړتياوې هوارېدلی شي.

## د لوبتوکو مسايل

د ماشومانو لپاره د لوبو مناسب توکي چمتو کول د والدينو لپاره يو پېچلی مسؤليت دی، د لوبتوکو د پېر پر مهال دې ټکي ته بايد پام وشي چې ماشومانو ته به يې څه ګټه رسېږي؟ پکار نه ده چې والدين يوازې د خپلې خوښې لوبتونکي ماشوم ته وټاکي، بلکې د ماشومانو ليدلوری دې هم په پام کې ونيسي. هڅه دې وشي چې په ښايست او زړه راښکونتيا سربېره لوبتوکي تر ډېره وخته پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ماشومانو سره پاتې شي. د ماشومانو لپاره د لوبتوکو د اخیستلو پر مهال لاندې ټکي له والدینو سره ډېره مرسته کولی شي:

۱) **د ماشوم له کچې سره سم:** لوبتونکي باید د ماشوم له ذهني او بدني کچې سره برابر وي او د هغوی اړتیاوې پوره کړي. مثلاً شپږ میاشتني ماشوم ته په کیلي ځغاستونکی موټر یو نامناسب او ستونزمن لوبتوکی دی، نو ځکه یوه کوچنۍ لښته یا د لرګي یو ووړ غوندې لوبتوکی یې هم بس دی.

۲) **غوره، ښایسته برېښېدونکي او زړه راښکونکي:** د لوبتوکو شمېر دې کم وي، خو ښه، ښایسته ځلېدونکي او زړه راښکونکي لوبتوکي پېرل له ډېرو خو بېکاره لوبتوکو ډېره بهتره ده. لوبتوکي چې ډېر شي، نو ماشوم بې پروا غوندې شي. بل خوا، د لوبتوکو د ډېرښت له کبله د یوه لوبتوکي په بېلا بېلو اجزاوو غور او فکر کول او د هغه د پرزه پرزه کولو او ترمیم مینه یې په کمېدو شي.

۳) **کلک او اوږدمهاله:** لوبتونکي باید کلک او پایداره وي. له نه پاتېدونکو او ژر خرابېدونکو لوبتوکو سره د لوبو له امله په ماشوم کې د بد مزاجۍ او تنګ خلقۍ پیدا کېدو احتمال رامنځته کېږي.

۴) **د پاکوالي ارزښت:** داسې لوبتوکي اخیستل ښه وي چې په اسانه پاک شي تر څو ماشوم له چټلیو لرې وي.

۵) **د ساتېري بېلا بېل امکانات:** پکار ده چې داسې لوبتوکي هم واخیستل شي چې ماشوم ورسره په څو طریقو ولوبېدی شي. مثلاً د لرګي بلاکونه – چې ماشوم ترې کتارونه جوړولی شي؛ چوترې، کور، هټۍ، دفتر، بګۍ او کروندې او داسې نور شیان هم ترې جوړولی شي. ځینې ماشومان ور باندې د نښې ویشتنې لوبه هم ترسره کوي.

۵) **د رنګارنګۍ ګټه:** که له ماشوم سره د یوازې لوبېدو، په ډله کې د لوبېدو، د کور دننه او بهر لوبېدو او لنډه دا چې د ډول، ډول لوبو لپاره څه نا څه لوبتوکي وي، نو دغه تنوع ماشوم ستړیا ته نه پرېږدي. خو د یو ډول لوبې پرېښمانه توکي اخیستل ښه خبره نه ده.

۷) **د ماشوم د ضد لوبتوکی:** کله نا کله دې یو نیم داسې لوبتوکی هم ماشوم ته واخیستل شي، چې په ښکاره یې کومه ګټه نه وي، خو ماشوم پسې ډېر زیات ضد کوي؛ نو په دې ډول به ماشوم داسې نه احساسوي چې ګنې د ده هیلې رژول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## لوبتوکي او د ماشوم عمر

په دې عامو اصولو سربېره د لوبتوکو د خریدارۍ پر مهال د ماشوم عمر ته هم ځانګړې پاملرنه پکار ده. له یوې میاشتې څخه تر درې میاشتني ماشوم لپاره پر مهال ګړنجووني، ربړي کړۍ، سپکې څمڅۍ، زنځیرونه او داسې نور ډېر مناسب لوبتوکي دي. زنګ، کاشوغې، پیالې، دېګي او داسې نور له درې څخه تر شپږ میاشتني ماشوم لپاره ښه لوبتوکي دي. له شپږو څخه تر نهه میاشتني ماشوم لپاره انځوریز کتابونه، د لوبو حیوانات، واړه، واړه ګلان او له نهه میاشتنۍ تر یو کلنۍ پورې بیا انځوریز کتابونه، توپ، صندوقونه، زاړه پوستي کارتونه او داسې نور د ماشومانو د خوښې لوبتوکي وي. یو څه موده وروسته دې کوچني برېښېدونکي کتابونه چې لنډې انځوریزې کیسې ولري، څرخونه، موټر، د غړولو لپاره تش ډبلي، او داسې نور ښه لوبتوکي کېدای شي. تر یو نیم کلنۍ پورې موټر، موټر سایکل، پنسل، صندوق، او داسې نور مناسب لوبتوکي دي.

همداسې د دوه کلنۍ په عمر کې د لوبو ښه توکي د شګو ډېرۍ، د ځمکو کیندلو لوبتوکي، د لرګي لوی لوی بلاکونه، توپ، نانځکه، پځه بیاتي او چاړه ده. د درې کلنۍ لوبتوکي لږ لوی موټر، لوی توپ، کورني لوبي توکي، رنګینه خاوره، کورني حیوانات او داسې نور. په پنځه کلنۍ کې د سینګار توکي، د کورني سامان بېلا بېل لوبتوکي او داسې لوبتوکي چې یو څه غور او فکر پکې پکار وي. د شپږ او اوو کلنو ماشومانو لپاره کوچنۍ جامې، فرنیچر او د پخلنځي ووړ سامان د خوښې لوبتوکي وي. د لوی عمر د ماشومانو لپاره موټرې، کښتۍ، الوتکې، د کاشیو بلاکونه، جامې، د لرګي یا کاغذ کور او د کلي نقشې، ښایسته انځورونه، چیستانونه، پزلونه او داسې نورو غوره لوبتوکي دي.

زموږ په هېواد کې د لوبتوکو صنعت له اروا پوهنیز او تعلیمي پلوه لا هم ښکاره پرمختګ نه دی کړی، چې له امله یې په هټیو کې ډول، ډول بې معنا او بهرني لوبتوکي ښه پرېښمانه ترسترګو کېږي. دې ټکي ته په پام سره والدینو ته پکار ده چې د لوبتوکو د ټاکنې په برخه کې له ډېر زیات احتیاط، ځیرکتیا او تدبر نه کار واخلي.

## لوبې، لوبتوکي او د والدینو مسؤلیت

پورتنی نوملړ او لارښوونې له والدینو سره تر ډېره بریده مرسته کولی شي، خو دا ټکی باید په ذهن کې وساتو چې په دې خبرو دې په پټو سترګو عمل نه کېږي. سمه او علمي لاره دا ده چې خپل ماشوم ښه در مطالعه کړئ او د هغه له عمر سره سم د هغه ذهني او جسمي غوښتنې تجزیه کړئ او بیا پخپله دا پرېکړه وکړئ چې د عمر په کومه دوره کې د هغه لپاره څه ډول لوبتوکي او څنګه لوبې مناسبې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې لپاره چې ماشومان مو پر چټلو ځایونو له لوبو څخه را وګرځوئ، دا ستاسو مسؤلیت جوړېږي چې هغو ته ښه لوبتوکي راوړئ او کله چې لوی شي نو په منظمو لوبو کې د هغوی د ګډون لپاره هره ممکنه مرسته ورسره وکړئ، تر څو د لوبو ارزوګانې یې په خپل سم خړوبې شي او په تفریح کې د خپل شخصیت برسېرولو له لارې یو متوازن، ټولنې ته ګټور او خوش مزاجه ښاري ترې وخېژي.

## په کور کې لوبتوکي جوړ کړئ

که مو اقتصادي تنګسیا د ماشومانو لپاره لوبتوکو او د لوبو د مناسب سامان د پېرلو پر وړاندې خنډ جوړوي، نو د فرصت په وخت کې په کور کې هم لوبتوکي جوړولی شئ. له زړو کتابونو څخه انځورونه را پرې او یو ښکلی انځوریز البوم ترې سازولی شئ. د نانځکې جوړول خو خورا اسانه دي. د لرګي بلاک چې هر کوچنی ماشوم باید ورسره ولوبېږي، مور او پلار پخپله هم جوړولی شي. که والدین، ماشومانو ته هم د لوبتوکو د جوړولو تربیه ورکړي، نو دا به هغو ته هم ډېره زیاته ګټه ورسوي.

ماشومانو ته د ښو لوبتوکو او د لوبو مناسب سامان راوړل تر ډېره د والدینو مسؤلیت دی، که والدین د خپلو بې ځایه بوختیاوو، پیتاوي مجلسونو او ګپ شپ وخت یو څه کم کړي، او دغه وخت د ماشومانو لپاره د وړو، وړو لوبتوکو په سازولو تېر کړي، نو د ماشومانو خوشالي لا ډېرېدلی او د هغوی د ښه انسان کېدو امکانات ورسره زیاتېدلی شي.

## د لویو ماشومانو لپاره د لوبتوکو برابرول

د لوی عمر د ماشومانو لوبتوکي نسبتاً ګرانه وي؛ هسې هم دا ورځې د ګراني او نایابي دور دی چې له امله یې ماشومانو ته مناسب لوبتوکي اخیستل یوه ستونزمنه مسئله ګرځېدلې. دا چې له دې امله د ماشومانو پر لوبو او تفریحي بوختیاوو خورا ناوړه تاثیر پرېوځي، نو والدین او ښوونکي هم ورته اندېښمن دي.


خو والدین او ښوونکي دې هېڅ کله دا واقعیت نه هېروي چې که ګراني وي که ارزاني، ماشومانو ته باید په هر حال کې د لوبو مناسب سامان برابر کړو. د لوبو میدانونه ویجاړول نو د کوم ځای هوښیاري ده؟ او ماشومان له یوې اساسي خوښۍ نه بې برخې کول په اصل کې جدي خطرونو ته د هرکلي په معنا ده.

د ښوونځیو سرښوونکي او د ماشومانو د لوبو منظموونکي که له پوهې، ځیرکتیا، اخلاص او دیانت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کار واخلي، نو دغه ستونزې په اسانه له منځه وړل کېدی شي. که مناسب پلان ورته ونيول شي، نو د ماشومانو لپاره د لوبو پرېمانه توکي برابرېدلی شي. په ښوونځيو کې په بې ځايه کارونو د پانګې د لاهو کولو په ځای که دغه پيسې وسپمول شي، نو د لوبو په سامان پرې برابرېدلی شي. دغه راز، که مشران هم خپلو کورنيو لګښتونو ته له سره يوه کتنه وکړي، نو د ماشومانو د سامان لپاره پرېمانه لارې موندلی شي.

خو په والدينو او ښوونکو سربېره په دې برخه کې نور اړخونه هم شته چې مهم مسؤليتونه ور له غاړې دي؛ مثلاً، که حکومت او د لوبو د سامانونو صنعتکاران هڅه وکړي، نو د ماشومانو لپاره په ځانګړو نرخونو د لوبتوکو د چمتو کولو عملي پلانونه په لاره اچولی شي. خبره دا دی چې ماشومانو ته په کافي کچه د مناسبو لوبتوکو چمتو کول دومره اړينه مسئله ده چې دې برخې ته د پلان جوړونې په هره کچه کې لومړی ځای ورکول ډېر زيات اړين دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library


## څپرکی: څلورم



### د ماشومانو عادتونه

د درې کلنۍ په عمر کې لا ماشوم ته داسې عادتونه ور ولوېږي چې که ناسمه بڼه يې غوره کړه، نو په راتلونکي کې د هغو بدلول ډېر زيات ستونزمن کېږي. ماشوم هر هغه کار بيا بيا تکراروي، چې خوند ورکوي. د خوند همدا احساس د عادت اساس ګرځي، نو په دې ځای کې بايد احتياط وشي چې کورنی چاپېريال داسې برابر شي چې ماشوم په هر ښه کار د خوشحالي او په بد کار د خفګان او وېرې احساس وکړي. له ښو خبرو سره مينه او له ناوړه بوختياوو نه د ځان ساتنې عادت د ماشوم په شخصي تجربو او احساساتو پورې اړه لري. په دې اساس يوازې په وچو مذهبي يا پېچلو اخلاقي نصيحتونو د ماشوم د روزنې بنسټ ايښودل اصلاً د شګو کلا ودانول دي.

### څو اساسي ټکي

د تشو يا ډکو بولو کول، خواړه خوړل او د خوب کولو اساسي جسمي عادتونه ماشوم ته د ژوند په لومړنيو مياشتو کې لا ور ولوېږي. په ماشومانو کې د دې عادتونو د پخېدو پر مهال د والدينو بېباکي يا کوم تاديبي نظم او ډسپلن په ډېر شدت عملي کول ډېر زيات زيان لري. بولو ته د کېناستو، پر وخت ډوډۍ خوړلو او د خوب د ادابو د ښوولو پر مهال بايد دې ته پام وشي چې پر ماشوم دغه ابتدايي روزنه بوج ونه ګرځي، ځکه په راتلونکي کې د نوموړي ذهني او بدني روغتيا د همدې ابتدايي عادتونو په مناسبې ودې او تکامل پورې غوټه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## په کوڅه کې د بولو عادت

زموږ په هېواد کې د بولو لپاره ډېرى ماشومان په ډېرې بېباکۍ سره د کوڅې پر چټلو لښتيو کېنول کېږي، نو که چېرته د سهار له خوا له کومې کوڅې څخه تېرېدئ، نو ډله، ډله ماشومان به په لښتيو ناست ووينئ. د دغو ماشومانو مور او پلار هېڅ کله دا فکر نه کوي چې د کوڅې لښتی په تشناب بدلول يو ډېر ناوړه کار دی. د دې هدف لپاره په کور کې تشناب يا يو بل ځای بايد ځانګړی وي او له ماشومتوب څخه لا ماشومان بايد په همدې ځايونو کې له حاجت پوره کولو سره عادت شي.

په دې خبرو کې له ډېرې توندتيا کار اخيستل له مصلحت سره سمون نه کوي. که سزا ورکړئ او په زوره غواړئ چې په ماشومانو کې ښه عادتونه وروزئ، نو په ياد لرئ چې ماشوم به مو په ورځ کې يو نيم ځل له تاسې نه په پټه د بولو لپاره ارومرو داسې ځای ټاکي چې د هغه د خپل ماشومانه ليدلوري له مخې به ښه ځای وي، نو ښه لاره دا ده چې د ځان پاک ساتلو او په معلومو ځايونو کې د حاجت د پوره کولو په بېلا بېلو ګټو يې په نرمه ژبه پوه کړئ.

## ناوړه تشنابونه او قبض

په ځينو کورونو کې ماشومان له دې امله هم تشناب ته زړه نه ښه کوي، چې تشناب د کور په اخري پوړ کې وي او ماشوم چې تر هغه ځايه ورځي، ستړی کېږي. که امکان يې وي نو د ماشومانو لپاره دې په لاندې پوړونو کې جلا تشنابونه جوړ شي. په حمام کې د کموډ جوړول يو مناسب کار دی. ډېر کله د ماشومانو په ذهن کې د پورتنيو منزلونو په تړاو ډول، ډول وېروونکي فکرونه او کيسې پيدا شي. او بل دا چې هلته تياره هم وي، نو ماشومان لا ډېر وېرېږي. په ماشومانو کې د قبضيت يو لامل ناوړه تشنابونه هم دي.

## د عادتونو سمېدل او خرابېدل

کله نا کله ښه سم ماشومان د روغتيا او پاکوالي د زدکړې په جريان کې ناڅاپه ورانکاري شي. د خرابو عادتونو تر شا ګڼ لامونه لرس لرلی شي. د نوي زېږېدلي خور يا ورور په زوکړه باندې په ناز او نخرو کې را لوی شوی يوازينی ماشوم ژوره ذهني صدمه ويني. يو څه موده پاکوالي ته له پاملرنې وروسته، دغه ډول ماشوم بېرته د چټلۍ عادتونو ته مخه کړي. دغو عادتونه ته ور ګرځېدل په اصل کې د مور او پلار په مينه کې د کمښت او له نوي ماشوم سره تر اړتيا ډېرې مينې په مقابل کې د ماشوم له لوري يو طبيعي غبرګون وي او ماشوم له دې احساس څخه ځورېږي چې مور او پلار نور

(c) ketabton.com: The Digital Library


مینه ورسره نه لري او د دې لپاره چې مور او پلار ځان ته متوجه کړي، پخوانۍ مینه بېرته لاسته راوړي، او یو ځل بیا د هغوی د سترګو تور شي، نو عجیبه او نا اشنا کارونو ته لاس اچوي. که ماشوم له هغو عادتونو څخه په لوی لاس ځان تېر باسي، چې مور او پلار ور ښودلي وي، نو والدینو ته پکار ده چې داسې چلند غوره کړي، چې داسې وبرېښي چې دوی ته د ماشوم دغه طفلانه کارونه هېڅ اهمیت نه لري. بل خوا، که غواړي چې ماشوم پوه کړي، نو پکار ده چې د وهلو او رټلو په ځای یې په سړه سینه پوه کړي چې ښه ماشومان دا ډول کارونه نه کوي.

## د خوب په بستره بولې کول

د خوب په ځای کې د بولو خطا کېدل هم په ماشومانو کې یوه عامه خبره ده او ګڼ لاملونه لري. خو ډېر لاس پکې د وېرې د وي. ماشوم چې وحشتناک خوب ویني، نو معمولاً بولې یې خطا کېږي. بل خوا، د ځینو کورونو ذهني چاپېریال دا ډول وي چې د پېریانو، دېبانو، شیشکو، بلاګانو، ببَو او «لوی بابا» کیسې ډېرې عامې وي. د دې کیسو له پرلپسې اورېدو او د کور په تیاره ګوټونو کې د هغو اورېدلو پېریانو او بلاګانو د خیالي انځورونو په لیدو ماشومان هر وخت په وېره او وحشت کې وي.

که د ماشوم بولې ډېرې خطا کېږي، نو پکار ده چې له وېروونکو کیسو اورولو ډډه وشي او په ځای یې داسې دلچسپه کیسې او نکلونه وشي چې په ماشوم کې د ارامۍ او مېړانې حس را ویښ کړي. د بولو خطا کېدل له یوه اړخه جسمي اسباب هم لرلی شي. تر خوب له مخه زیاتې اوبه څښل ماشومانو ته زیان رسوي. پکار ده چې له ویده کېدو مخکې ماشوم تشناب ته له تلو سره عادت شي، څو مثانه یې خالي وي او د شپې یې د بولو حاجت کم وي.

## د خوراک څښاک عادتونه

د خوراک او څښاک په برخه کې د ماشومانو اکثره پالونکې او والدین له ناپوهۍ کار اخلي. ماشوم ته ډېر خواړه ورکول، هر وخت شیریني او چاکلېټونه پرې خوړل یا ډېر کم خواړه ورکول او له خوږو او شیرینو نه یې له یوې مخې منع کول د ماشومانو د خوراک او څښاک له غوښتنو سره لویه بې انصافي ده. ماشوم ته باید په مناسب وخت کې په مناسبه اندازه مناسب خواړه ورکول شي او تر خپله وسه مېوې او شیریني پرې وخوړل شي. ماشومان باید له دې سره عادت کړای شي چې کله وږي وي، نو بیا خوراک وکړي. اکثره ماشومان له لوږې پرته هم په خوږو ور منډې وهي. د ډوډۍ په وخت کې بې ځایه بندیزونه هم یو ناسم کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه ورځ مې یوه مور ولیدله چې له خپلې لور سره په سرک روانه وه. غالباً د کوم خپل له کور نه را روان وو. مور په ډېرې غوسې خپلې لور ته ویل: ورېږي شیشکې! په دواړو لاسونو دې ډوډۍ خوړله. زما خو دې پوزه را پرې کړې. چې کور ته ورسېږو، درسره ګورم به.» خبره غالباً دا وه چې مور به دغه بې وزلې ماشومه په کور کې په ازاده ډوډۍ ته نه پرېږدي. نو نن دغې فرصت شناسې ماشومې چې لیدلي چې مور د کوربه له ښځې سره په خبرو اخته ده او په پردي کور کې هسې هم کوم څه نه راته وايي، او په بېباکۍ سره د ډوډۍ خوړلو فرصت لاسته درغلی دی، نو څومره چې خوړلی شې، خوره یې.

په خوراک څښاک کې ماشومان بې بند و باره پرېښودل هم ښه کار نه دی. د دې کار له امله په ماشوم کې د هاضمې په خرابېدو سربېره په هر ځای کې د «خولې وهلو» عادت هم پیدا کېږي. د لویانو په نسبت ماشومان ډېر ورږي کېږي. نو پکار ده چې د کور نظام داسې جوړ وي چې ماشومانو ته په ورځ کې خواړه ډېر ځله خو ورکول شي، خو له مناسبو وقفو وروسته او په ټاکلو وختونو کې. په دې ډول د خوراک او څښاک په برخه کې ماشوم له نظم سره عادت کېږي او دغه نظم د بدن د مناسبې ودې لپاره خورا مهم دی.

## د خوب عادتونه

له تي جلا ماشوم تر ډېره پورې په دې هیله وي چې د پخوا په څېر یوازې مور دې یې مړوي. د عمر په زیاتېدو باید ماشوم په خپل لاس ډوډۍ خوړلو سره عادت شي. بله دا چې له مور او پلار سره د ویده کېدو عادت چې څومره ژر ختم شي، هماغومره ښه ده او که امکان یې وي نو ماشوم باید په جلا کوټه کې له ویده کېدو سره عادت کړای شي.

تر خوب له مخه که مور یا پلار ماشوم ته کومه ښه کیسه وکړي، نو ماشوم ډېر زیات خوشاله کېږي. له خوب نه مخکې کیسې له ماشوم سره په ژور خوب کې مرسته کوي. د شپې وختي ویده کېدل او سهار وخته پاڅېدل د ماشومانو لپاره ډېر زیات ګټور دي. مناسب خواړه او په ازاده فضا کې قدم وهل د ماشومانو د بې خوبي ستونزه له منځه وړي. که له دې سره هم ماشوم ډېر کم خوب کوي او یا په خوب کې ډېر زیات ناکراره وي، نو پکار ده چې طبي معاینه او د اخلالګرو جسمي عناصرو درملنه یې وشي.

## د ګوتې رودلو عادت

ماشوم د ګوتې رودلو له عادت نه منع شي او که نه؟ په دې موضوع ډېرې زیاتې خبرې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي. د ګوتې رووډنې د عادت ملاتړه ډله وايي چې «دا يو طبيعي کار دی او ټول ماشومان يو وخت خپله ګوته رووي او له وخت سره بېرته له دې عادت نه لاس اخلي. دغه کار ماشوم ته ارامتيا او خوښي وربښي او په سر کې لا ماشوم له دې کار نه منع کول بې خطره نه دی او ممکن ماشوم ته زيان ورسوي. او داسې نور.» خو له طبي ليدلوري د ګوتې رووډل زيان لري، ځکه چې دغه عادت د ګوتې او ووريو په مناسبه وده ناوړه اغېز کوي او د تنفس د خرابېدو خطر هم له ځان سره لري.

د روانشناسي له ليدلوري هم دا يو ښه عادت نه دی. ماشوم چې هر وخت ګوته په خوله کې نيولې وي، نو په لاس باندې شاوخوا شيان نه شي لمس کولی او د هغو له استفادې محرومه کېږي، چې په دې ډول د خپل چاپېر ماحول په باره کې يې ابتدايي علم ډېر زيات محدود پاتې کېږي. بله دا چې د هلو ځلو او خوځښت په ځای ماشوم په خپلو حسي خوندونو کې غرق وي، او ممکن په خپل ځان کې د ورک کېدو له امله په ماشوم کې داخلي اختلالات پيدا شي. دا ډول ماشوم په راتلونکي کې په رنګا رنګو فعاليتونو کې له ګډون څخه له ذهني اړخه معذوره غونډې وي.

**د علاج ناوړه روشونه**

د ماشوم د دغه بد عادت د له منځه وړلو په وخت کې هم بايد له ډېر زيات زغم نه کار واخيستل شي. د بد رد او په تريو تندي د زشتو خبرو په ځای پکار ده چې ګوته يې ورو له خولې را وايستل شي. بلکې ښه به وي چې ماشوم ته په لاس کې يو سپک او ښکلی لوبتوکی ورکول شي چې تر ډېره وخته يې په لاس کې ونيسي. کند ذهنه ماشومان له خارجي ماحول سره ډېره کمه علاقه لري، نو له همدې امله په خپله دنيا کې ورک وي او د ګوتې له رووډنې ډېر زيات خوند اخلي. بل، هغه ماشومان چې په ذهني کشمکش کې اخته وي، هغوی هم د ګوتې په رووډنې لنډمهاله ارامتيا احساسوي، او په همدې وختونو کې په ماشوم کې د ګوتې رووډنې عادت پخېږي.

د ماشوم ګوته په مرچو يا ترخو درملو ککړول، دستکشې ور په لاسول يا د ماشوم لستوڼي دومره اوږده ګنډل چې ټول لاس يې پکې پټ وي، د دغې ستونزې د حل خورا ناوړه روشونه دي. د ماشومانو رټل، ترټل او د ګوتې پر رووډنې ماشوم خجالته کول هم يو ناوړه کار دی. که تنکي ماشومان ګوته خولې ته اچوي، نو پکار ده چې يو لوبتوکی ورکول شي او کوشش دې وشي چې پام يې په بله واوړي. او که په لويينې کې هم دغه عادت نه ترې لرې کېږي، نو بيا دې د ماشومانو له اروا پوه سره مشوره وشي او د ماشومانو اروا پوهنيزه شننه بايد وشي. او که ماشوم د کوم ذهني اختلال له رنځ نه د ځان ساتلو له مخې خپله ګوته رووي، نو بيا پکار ده چې د ذهني فشار د ختمولو په برخه کې يې ورڼده لاسنيوی وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د جنسي غړي د لمسولو عادت

په وړو ماشومانو کې خپل جنسي غړي ته د لاس ور وړلو عادت هم عام دی. دغه عادت ډېر زيات خطرناک دی. که ماشوم تر ډېره په دغه عادت اخته وي، نو د دې اندېښنه شته چې په لويينې کې دغه ماشوم په جنسي فعاليت کې د برخې اخيستو وړتيا له لاسه ورکړي.

په دې ځای هم کې مور او پلار بايد له ډېر زغم او اروايي ځيرکتيا نه کار واخلي او د «اوه! وشرمېږه، دا څه کوې؟ ارمونيه! خبيثه!» په څېر ترخه توري استعمالول او يا جسمي سزا ورکول د اصلاح خورا ناوړه روشونه دي. ممکن ماشوم به په دې تنکي عمر کې خپل جنسي غړي ته يوازې د لوبتوکي په سترګه ګوري. که په ماشوم کې له مناسبو لوبتوکو او خوندورو فعاليتونو سره علاقه پيدا شي، نو ممکن پام يې په بله واوړي او پخپله به له دې عادت نه لاس واخلي.

## په غاښونو د نکانو غوڅولو عادت

په غاښونو د نکانو غوڅولو عادت ډېر عام نه دی او تر ډېره په هغو ماشومانو کې پيدا کېږي چې ډېر زيات مضطرب او په ذهني فشار اخته وي. په غاښونو د نکانو غوڅول ماشوم ته لنډمهاله ارامي ورکوي. دغه ماشومان بايد پوه کړای شي چې که د نکانو ميکروب يې بدن ته ننوځي، پر روغتيا يې ناوړه اثر کولی شي او هسې هم د ښو ماشومانو په ډله کې نکانو غوڅوونکو خيرنو ماشومانو ته د احترام په سترګه نه کتل کېږي. بل خوا، پکار ده چې نجونو ته د نکانو توږوونکي او د نکانو رنګ ورکول شي او د صفا او صيقل شويو نکانو په جمالياتي ټکو بايد پوهې کړای شي، تر څو د نکانو د پاکوالي مينه ورسره پيدا شي.

## د لويانو ناوړه عادتونه او ماشومان

ښکنځلې، جنګ او لاس اچول، په چټلتيا کې لوبېدل، چټل اوسېدل، دروغ ويل، غلا او دې ته ورته ناوړه عادتونو باندې به د کتاب په راتلونکو مخونو کې په تفصيل سره خبرې وکړو. خو که مو ماشوم په داسې چاپېريال کې روزل کېږي، چې هلته د وخت پابندي، د مهربانه مور او پلار په نرمه ژبه د خبرو انداز او يو کار په مناسبه طريقه ترسره کول رواج وي او داسې ماحول وي چې د ماشومانو مشروع تفريحي تقاضاوې په سپينو سترګو نه تر پښو لاندې کېږي، نو دا اندېښنه ډېره نه وي چې ماشومان به ناوړه عادتونه واخلي. د ماشوم په لوبو بنديز لګول، په اصل کې په ماشوم کې د غوسې او بدمزاجۍ د تقويه کولو په معنا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يو شمېر کسان چې ماشوم په لوبو ويني، نو په خوا کې يې ودرېږي او هسې نا هسې د ماشوم په لوبو کې ګوتې ور وهي. د ماشوم دغه ډول لاسوهنه هېڅ نه خوښېږي. بله دا چې له دې سره د لوبو ازاده فضا هم له منځه ځي. په دې سربېره، دا ډول لاسوهنه په ماشوم کې دا صلاحيت ختموي چې خپل کار پخپله ترسره کړي او خپلو ستونزو ته پخپله د حل لاره ولټوي. په ماشوم ډېر پام ساتل، هر کار کې ورسره بې ځايه مرسته کول او هره هيله يې سملاسي پوره کول، د ماشوم د نوښت ځواک او خپلواکي ته زيان رسوي. تر حد ډېره مينه په ماشوم کې دا تلوسه ټوکوي چې د هر چا د سترګو تور اوسي او دغه تلوسه په بالغ ژوند کې هم ماشوم دې ته مجبوروي چې د نورو په اسرې پسې وګرځي او يا خيراتخوره او ماشومانه چال و چلند ته لاس کړي.

### د ښوونکو او والدينو مسؤليتونه

د بدو عادتونو د اصلاح تر ټولو مناسبه دوره، د ماشومتوب وخت دی. يو ځل چې عادتونه پاخه شي، بيا يې پرېښودل ډېر سخت وي. نو له همدې امله ډېر زيات پام پکار دی چې ماشومان مو يوازې ښه عادتونه زده کړي او که په بدو عادتونو اخته هم شي، نو بيا هم د هغوی د اصلاح کولو له مسؤليت نه سترګې پټول يا د اصلاح غلط روشونه کارول، په خپلو ماشومانو او ټولنې لوی ظلم دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library


## څپرکی: پنځم



### د ماشومانو تېروتنې او پلمې

د ماشومانو ورځنیو تېروتنو ته خفګان نه دی پکار، بلکې هڅه وکړئ چې په دې تېروتنو ځان ښه پوه کړئ او تر لامله پورې یې ځان ورسوئ. د ماشوم د تېروتنو اساسي لاملونه وپلټئ او د هغو د مخنیوي په مناسبو حل لارو غور وکړئ. په وړو، وړو خبرو د ماشوم رټل او سزا ورکول، د ماشوم لپاره ښه پایله نه لري. په دې ډول ماشومان د خپلې تېروتنې په نوعیت د پوهېدو او په راتلونکي کې د احتیاط کولو تمایل له لاسه ورکوي او آن له ډېرو بدني جزاګانو وروسته ماشوم لا زیات غوسه ناک او سرتمبه کېږي.

**ناراسته ماشوم، بېکاره زلمیان**

د ماشومانو د بې شمېره تېروتنو یو لامل ناراستي او تنبلي هم ده. د ناراستي لاملونه که یوې خواته جسمي ریښه لري، نو بل لوري ته ذهني اړخونه هم لوی لاس پکې لري. د ګرځېدو په ځای د ناراسته ماشوم دا ډېر خوښېږي، چې کرار ناست وي. د همدې ناراستۍ له لاسه یې د کور او ښوونځي له کارونو سره هم علاقه کمه وي. د لوبو میدان ته خو اول ور وځي نه، او که بیا ور هم شي نو د لوبېدو پر ځای یوازې ننداره یې خوښېږي.

دغه ډول له کار نه تښتېدونکي ماشومان د ښوونکو، والدینو او ملګرو د ټوکو او ملنډو ښکار

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګرځي او ډول، ډول اصلاحات پرې جوړېږي. میندې یې له ناراستۍ او تنبلۍ سر ټکوي، په ښوونځي کې د ښوونکو له خولې د «تنبل» او «د کار غل» نومونه پرې ایښودل کېږي او د خپلې ناراستۍ له لاسه ماشوم پخپله هم په دې فکر شي چې په رښتیا هم د یوه کار هم نه دی. د بې باورۍ او نهیلۍ دغه احساس یې چې لا ډېر شدت ومومي، نو ماشوم لا ډېر ناراسته شي او چې لوی شي، نو عموماً «بېکاره» ځوان ترې جوړ شي. ناراسته ماشومان که له یوه لوري د خپلې کورنۍ په ناموس یو تور نښان وي، نو بل لوري ته د ټولنې د اقتصادي ژوند لپاره هم یو بوج وي.

## د ناراستۍ بدني عناصر

بدني عناصر هم ماشومان ناراسته کوي، نو د ناراسته ماشومانو طبي معاینه هم پکار ده. د سترګو، غوږونو او سترو غړو خصوصي معاینه خو ډېره زیاته مهمه ده. د لید د کمزورتیا له کبله یو خو ماشوم د ټولګي په درسي بهیر کې فعاله ونډه نه شي اخیستلی، بل په دې ډول یې له زده کړو سره هم علاقه او توجه ورځ تر بلې کمېږي او ماشوم ناراسته غوندې شي. دغه راز، په غوږونو او ژبه کې هم د عیب له لاسه ماشوم د ښوونځي په اړه بې پروا او ناآرامه شي. په دې سربېره، د بدن د بېلا بېلو غدو ناوړه وده او ناقص فعالیت هم په ماشوم کې د تحرک لمبې سړوي او د روغو ماشومانو چالاکي او تېزي پکې نه لیدل کېږي.

## ځانغوښتونکی ماشوم

کله نا کله ماشوم د ځانغوښتنې له امله هم ډېر کارونه کوي. ځانغوښتونکی ماشوم په هر کار کې یوازې خپل خیر غواړي او د نورو د احساساتو هېڅ پروا ورسره نه وي. دغه ډول ماشوم د خواخوږۍ له احساس او د ملګرتیا له عاطفې نه له یوې مخې خالي وي او په هره خبره «زه نو څه وکم»، «ماته یې څه» په څېر ځوابونه ور کوي. یو ځل لیکوال ته د دوو ورونو اروایي شننه ور له غاړې شوه. د دغو دواړو ورونو خوی او خاصیت یو تر بله ډېر زیات فرق درلوده او دواړه د یوې متوسطې کورنۍ تقریباً همزولي او ځیرک ماشومان وو. دوی به چې له بازار نه سودا راوړه، نو «ش» به «م» ته ویل چې ټوله سودا باید تر کوره پورې ته ورسوې، چې له دې امله به ډېری وختونه د دواړو ترمنځ لانجه راتله. دا چې هر ځل ټوله سودا وړل «م» ته بې انصافي ښکاره شوې، نو په دوهمه یا دریمه ورځ یې سودا «ش» ته ایښې او ورته یې ویلي دي، چې «شینه! کله خو ته هم دا سودا وړه.» خو پر «ش» دغه معقوله خبره هېڅ تاثیر نه کوي او ټوله سودا په بازار کې پرېږدي او بې غمه خپله لار لنډوي. د «ش» ښوونیز ژوند هم له ناراستۍ او تنبلۍ سره لاس و ګرېوان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د «ش» دا عادت ډېر پخوانی وي. کله مې چې د دوی کورني حالات معلوم کړل، نو پوه شوم چې مور هم له «ش» نه پزې ته راغلې او پلار خو يې هره ورځ په لښته د دغه ځيرک ماشوم سابو ور په مالګه کوي. دا ټکی چې د پلار دغه چلند ناسم دی، له دې خبرې څرګندېږي چې په ماشوم دغو سزاګانو هېڅ داسې کوم اغېز نه دی کړی.

د سزا په ځای پکار ده چې ماشوم په نرمه ژبه پوه کړو، چې که ماشوم له نورو سره يو ځای اوسېدل زده کړي، نو ټول خلک به په ښه سترګه ورته ګوري او مور او پلار به هم ډېره مينه ورکوي. دغه راز، ټول کارونه خپلو خويندو او ورونو ته پرېښودل او د کور په ورو، ورو کارونو کې له والدينو سره همکاري نه کول، د ښو ماشومانو خاصيت نه دی، او داسې نور. په ماشومانو کې د نورو د شفقت او توجه د ترلاسه کولو شوق ډېر زيات وي. که دغه خصلت يې په مناسبه توګه وروزل شي، نو ماشوم په ډېره اسانه د خودغرضۍ کارونو پرېښودو ته چمتو کولی شو.

## حرصناک ماشومان

ځينې ماشومان ډېر زيات حرصناک وي. مثلاً که موټر مو ورته واخيسته، نو شېبه وروسته به توپک ته په خوارو سترګو ګوري، خو چې دا هم لاسته راوړي، بيا يې هم سترګې نه مړېږي. يو وړوکی هلک به چې له خپلې مور سره هر چېرته ته، نو په تاخچه کې ايښي ټول شيان به يې په رومال کې وتړل او د ستنېدو په وخت کې به په ډېر ضد سره په دې خبره ولاړ وو، چې دغه پنډه له ځان سره يوسي. دا ډول ماشومانو ته سزا ورکول لا تاوان لري، ځکه له دې وروسته له نورو نه په پټه په غلا کولو اموخته کېږي.

## نافرمانه ماشومان او د والدينو ناپوهي

ناپوه والدين او د کور وچه او «واعظانه» فضا هم ماشوم بې ادبه او نافرمانه کوي. ډېر کله د يوه ماشوم بې ادبي، د ماشوم د ناپوهي او ښو الفاظو د کموالي له سببه وي. مثلاً تاسو په مينه خپل زوی ته «کوټۍ» وايئ او بله ورځ هغه د ټولو په مخکې تاسو ته هم «کوټۍ» وايي، نو د هغه پر دې معصومه بې ادبي تووند غبرګون مه ښيئ، ځکه چې ماشوم لا هم د الفاظو دقيق استعمال نه دی زده کړی. اکثره والدين له دې سر ټکوي چې ماشومان يې ښکنځلې کوي او بد رد وايي، لويانو ته احترام نه کوي او ورځ تر بلې پسې نافرمانه کېږي. د دې لپاره چې ماشوم مو ښکنځلې ونه کړي، د کلي له خيرنو ماشومانو سره له ناستې ولاړې يې بايد لرې وساتئ. تر دې له مخه چې له ماشوم نه د درناوي تمه وشي، نو لويان دې لومړی پخپله هم له خپل قول او فعل سره پام وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو ډله لویان پر ماشومانو دومره پېچلي امرونه کوي چې ماشومان د پلمو او حیلو ، سټرېا، انکار، ضد او داسې نورو بېلا بېلو پړاوونو نه وروسته بلاخره دې ته اړ شي چې د ښکاره انکار په شکل کې د پوره بې ادبي چلن ته مخه کړي. ماشوم ته د هغه له وسه پورته کارونو ویل، لویه تېروتنه ده. د لویانو درناوی او له هر چا سره ښه چلند کول، د دغې تربیې لپاره هم د لښتې استعمال زیات تاوان لري. خپل ماشوم ته د اطاعت او فرمانبرداری د روزنې لپاره د مؤدبه او نېکو ماشومانو دلچسپه حکایتونه زیاته ګټه رسوي. په کور کې باید ماشوم ته له لومړۍ ورځې لا مناسبه خپلواکي او اختیار ورکول شي او ورسره دې دا هم ور وښودل شي، چې په څه ډول له دغې ازادۍ نه صحیح استفاده وکړي. که ماشوم مو هر وخت کور کې بند وي او له لویانو د درناوي وچ نصیحتونه او لارښوونې اوري، په دې ډول مو ماشوم تنګېږي او بیا یو داسې وخت هم راشي چې دی له دې بې کیفه او «واعظانه» چاپېریال سره بغاوت ته متې ور بډ وهي.

### د ماشومانو شوخۍ

شوخي خو د ماشومانو تر ټولو ډېره د خوښې وړ کړنه ده. وړې، وړې شوخۍ خو باید هېڅ په پام کې ونه نیسو. خو له حده ډېر شوخ ماشوم په کور، کوڅه او ښوونځي کې د ټولو لپاره د تکلیف لامل ګرځي. د وړو ماشومانو زیاتره شوخیانې یوازې د کمې پوهې او نا آګاهي له امله وي. مثلاً، ماشوم چې په دې نه پوهېږي، چې د نی رنګ په کتابونو ډېر بد رنګه داغونه جوړوي، نو ډېر په بې غمه زړه د رنګ قوتی په کتاب واړوي او د رنګ له بهېدو خوند اخلي. د کوچنیو ماشومانو په ځینو وړو، وړو شوخیو د کور یو شمېر لویان ډېر زیات خوشالېږي، د دوی خندا ماشوم ته سمه جایزه ښکاري او ماشوم د نویو شوخیو په فکر کې شي. دا ډول ماشوم په ښوونځي کې په خپلو شوخیو زده کوونکي هم تر دوه نفسه رسولي وي. په سزا یا جریمې د ماشوم د اصلاح کېدو تمه لرل اصلاً لېونتوب دی. شوخو ماشومانو ته باید په اسانه ژبه د مؤدبه چلند ښوونه وشي. پکار ده چې د ښو ماشومانو د ژوند حالات ورته بیان شي او ورته وویل شي چې دغه ماشومان له همدې امله په راتلونکي کې لویو مقامونو ته رسېدلي دي چې شوخۍ به یې نه کولې. ماشوم دې له نېکو ماشومانو سره په ګرځېدا او لوبېدو عادت کړای شي، تر څو د ښو اخلاقو تمایل پکې پیدا شي.

د نورو د پاملرنې او مینې مرکز اوسېدل، د ماشومانو تر ټولو ژوره هیله وي. د دې هیلې لپاره ماشوم ډول، ډول پلمې او بانې جوړوي. چیغې وهل او ژړل خو د وړو مهم خصلت وي. یو څه لوی ماشومان بیا د ضد او په وړو باندې د ظلم او تشدد په مټ خپله دبدبه او رسوخ پیاوړی کوي. ماشوم دغه ډول کارونه عموماً د مور او پلار د توجه جلبولو لپاره کوي. د ماشوم دغو کارونو ته ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


اهمیت ورکول نه دی پکار. او که تاسو هېڅ توجه ورته ونه کړئ، نو ماشوم پخپله دا احساسوي چې دې چل هم ګټه ونه کړه، ځکه ماته خو اصلاً د چا را پام نه دی.

## پلمې او بانې کول

ماشوم ته چې کله نا کله یو وړوکی کار وسپارل شي او له څه امله یې ونه شي کړای او بیا د لامل پوښتنه ترې وشي، نو ماشوم ډول، ډول پلمې جوړوي، چې په ښکاره ډېرې معقولې ښکاري؛ مثلاً «دوکان بند وو»، « په سر مې درد وو»، «له یاده مې ووتل»، «پلانکي غلطه لاره را ښودلې وه» او داسې نور. د ماشوم هدف دا وي چې په دې ډول ځان بې ګناه ثابت کړي او د خپلې تېروتنې مسؤلیت د نورو په غاړه واچوي.

همداسې د مکافاتو مینه هم د ماشوم د بې شمېره تېروتنو سبب ګرځي. ماشوم چې په یوه کار کې ماتې وخوري، نو په یوه بل اسانه کار کې د مهارت لپاره هلې ځلې پیل کړي، تر څو خپله تېره ناکامي ور باندې جبران کړي. په زده کړو او درس کې بدنامه «ګلاب جان» غلا ته مخه کوي، تر څو پیسې ترلاسه کړي او دغه پیسې په خپلو ملګرو مصرف کړي، او په دې ډول د «سخاوت» تر سیوري لاندې د خپلې بدنامۍ ټاپه له منځه یوسي. هغه ماشوم چې په ټولګي کې یې د ټولګیوالو په مخکې د کورنۍ دندې په سر سزا لیدلې وي، د تفریح په وخت کې د خپلې کورنۍ د کارنامو په باره کې د غټو، غټو کیسو په بیانولو کې ډېر سخت مهارت پیدا کوي. همدارنګه، هغه ماشوم چې پېچلي درسونه نه شي زده کولی، نو هڅه کوي، چې په خوشنویسي کې تکړه شي او له دې لارې د ښوونکي له جزا نه ځان وژغوري.

ځینې ماشومان چې په یوه مشکل کار یا لوبې نه پوهېږي او ویني چې نور ماشومان په هماغه کار کې بوخت دي، نو زړه ته یې ارمان درېږي. او له ډېرې غوسې بې ځایه د هغوی په لوبو کې لاسوهنه کوي او زړه یې غواړي چې په یو نه یو ډول ستونزه او لانجه ورسره جوړه کړي. د لوبو په میدان کې د دا ډول ماشومانو اصول دا وي چې «نه پخپله لوبېږو او نه بل ورته پرېږدو.»

## خیال پلو وهل

په ویښه ماڼۍ جوړول په وړو ماشومانو کې ډېر زیات عام وي. ماشوم د خپلو هیلو له مخې یوه فرضي نړۍ په تصور کې نیسي او له ځانه د دغې نړۍ رستم جوړوي. دغه ذهني فعالیت خطر نه لري، خو که ماشوم ډېر زیات پکې ډوب شي، بیا نو خبره د اندېښنې وړ ده. د خیالپلو په مزو کې اخته ماشوم د ژوند له لوړو ژورو بې پامه کېږي او که په دغه ډول په ځان کې ورک ماشوم سره له

(c) ketabton.com: The Digital Library


کاره د تېښتې تمايل ډېر شي، نو بيا دغه ماشوم په ځوانۍ کې هم سختو کارونو ته له لاس اچولو ډډه کوي.

**د «ناروغۍ» پلمې**

ماشومان په خيالي ناروغيو هم ډېر اخته کېږي. په سهار کې ښوونځي ته له تګ څو شېبې له مخه يو شمېر ماشومان له دې سر ټکوي چې طبيعت يې وار په وار خرابېږي. ځينې چالاکه ماشومان خو په واقعي معنا سره د ناروغۍ د اغېزو يو تمثيل هم پيل کړي او معمولاً چې د ښوونځي د رخصتۍ وخت را نږدې کېږي، دغه «ناروغي» يې هم په کمېدو شي. دغه فرضي ناروغۍ يې بيا د ازموينو په ورځو کې بيخي ډېر زور ونيسي. په ښوونځي کې د کورنۍ دندې په سر د «سر درد»، «ملا خوږ»، «د سترګو خوږ»، «د نس درد»، «د طبيعت ناجوړتيا» او داسې نورې پلمې خو زموږ په ماشتوب کې هم عامې وې.


د ناروغۍ پلمې جوړول په واقعيت کې د ژوند له ترخو تقاضاوو او اړينو مسؤليتونو څخه يوه تېښته ده او د تېښتې دغه لاره د ناراسته او لذت لټوونکو ماشومانو ډېر پخوانی عادت دی. هغه ماشوم چې په داسې اصولو تربيه شوی وي، چې په خپل وخت کار، په خپل وخت لوبې او د رښتينولۍ لمنه يې نيولې وي، دغه ډول ماشوم هېڅ کله د لنډمهاله ارامتيا او عيشونو لپاره په دروغو پلمې نه جوړوي. دا ډول ماشوم آن په زلميتوب کې هم خواريکښه، صادقه، دروند خويه، د باور وړ او ګټور ښاري ثابتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library


**څپرکی: شپږم**



## د ماشومانو دروغ

لوړ تخیل او حاضر جوابي د وړو ماشومانو خاص صلاحیتونه دي. دغه ذهني صلاحیتونه په دروغ ویلو او خبرو تاوولو کې هم ډېر زیات په کار راځي. ماشومان ډول، ډول دروغ وایي. له ماشوم نه چې کله تېروتنه یا سرغړونه وشي، نو د سزا له وېرې معمولاً دروغو ته پناه وړي.

### د دروغو په زړه پورې ډولونه

والدین او ښوونکي له ځینو ماشومانو په دې وجه سر ټکوي، چې ماشوم یې خوله ور او دروغجن دی. د دغه شان ماشومانو والدین باید معلومه کړي چې ماشوم یې عموماً څه ډول دروغ خوښوي. د ماشوم دروغ ګڼ لاملونه او انګېزې لري او په همدې اساس د دروغو بېلا بېل ډولونه هم څېړل کېدلی شي او د مخنیوي لارې چارې یې هم مختلفې کېدلی شي. د ماشومانو د دروغو څو عام او دلچسپه ډولونه په لاندې ډول دي:

۱) د ملنډو دروغ

۲) د ذهني پاشلتیا دروغ

۳) د ځانښودنې دروغ

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴) د غچ او حسد دروغ

۵) د پلمو دروغ

٦) د خودغرضۍ دروغ

۷) د وفاپالنې دروغ

۸) دودیز دروغ

**د ملنډو دروغ**

یو شمېر ماشومان په دې ډېر زیات خوشالېږي چې مور ته ووایي، په لاره کې یې زمری ولیده او یا داسې سړی یې تر سترګو شو چې اته سترګې یې وې. دا خبرې په رښتینې معنا دروغ نه دي. بلکې مازې د یوه ماشوم د فطري شوخۍ نتیجه وي. دغه مهال د ماشوم د لغتونو زېرمه پراخه شوې وي او ماشوم داسې احساسوي چې که په خپل تخیل فشار راوړي، نو داسې خندوونکې کیسې هم جوړولی شي چې د خپل ورځني ژوند په چاپېریال کې یې نه وي لیدلې. دا ډول خیالي خبرې په راتلونکي کې د داستان لیکنې، طنز لیکنې او شعر او شاعرۍ بنیاد هم ګرځېدلی شي.

**د ذهني پاشلتیا دروغ**

ماشوم چې کله یوه پېښه ویني یا واوري، نو عموماً د حقیقت او افسانې ترمنځ پوره فرق نه شي کولی. آن وروسته یې دا هم یاد نه وي، چې د پېښې کومه برخه اصلي وه او کومه برخه یې د ده د خپل تخیل زېږنده ده. یو ځل یوه ماشوم د کلچه پزۍ مخې ته د خلکو جنګ لیدلی وو. کور ته چې ورسېده، مور ته یې همدا پېښه په دې ډول بیان کړه: «خلک پخپلو کې سره ونښتل او ځو کسانو د کلچه پزي شیرینۍ هم وتښتولې.»

په اصل کې شیریني ته هیچا هم لاس نه وو ور وړی، بلکې د جنګ په لیدو د ماشوم پخپله زړه غوښتل چې په یو نه یو ډول شیریني ته لاره پیدا کړي. له پېښې وروسته ماشوم د خپل خام عمر او ذهني پاشلتیا له مخې دا توپیر نه دی کړی، چې د شیرینیو لوټماري د پېښې برخه وه او که د ده د خپل ارمان زېږنده.

**د ځانښودنې دروغ**

په ماشوم کې د ځانښودنې احساس ډېر غالب وي. ماشوم غواړي چې د ټولو د پاملرنې او شفقت

(c) ketabton.com: The Digital Library


مرکز وي. «نن مې دوه ماران ووژل» يا «نن مور سل افغانۍ راکړې»؛ هماغه دروغ دي، چې ماشوم يې په دې خاطر وايي چې ځان ته د نورو توجه واړوي او د ځانښودنې احساس ورباندې خړوب کړي. د خيال پلو پر مهال چې د ماشوم په ذهن کې کوم خواهشات را پورته کېږي، د ځانښودنې دروغ دغو خواهشاتو ته د بيان وسيله جوړېږي. آن دا ډول خبرو ته د دروغو په ځای ښه ده چې طفلانه مبالغه يې وبولو.

## د غچ او حسد دورغ

کله نا کله ماشوم د کينې او غچ له احساسه هم دروغ وايي. د ماشوم هدف چې د خپل سيال سر ټيټي وي، نو په مقابل لوري پسې له ځانه غلطې خبرې غوټه کړي. « زه يې ووهلم»، «ماته يې ښکنځلې وکړې»، «ټولې پيسې يې رانه وتښتولې» او داسې نور. ډېر کله ناپوه والدين په دې ډول غچ اخيستونکو خبرو باور وکوي او له ډېرو خپلوانو سره پرې خپلې اړيکې ورانې کړي.

که دغه ډول خبرې په سړو مغزو تحليل شي، نو سملاسي خبره واضح کېږي چې په دغو له ځانه جوړ شويو تورونو کې معمولاً د رښتيا يو ټکی هم نه وو. عموماً ماشومان له يو شمېر خلکو نه په کومه بله خبره نفرت کوي، يا يې په ذهن کې د يوه بل همزولي په هکله د حسد او غچ احساسات را ټول شوي وي، نو ماشوم په دې ډول دروغو اصلاً د خپل نفرت او حسد احساسات په يوه بله لاره سړوي.

## د پلمو دروغ

ماشوم چې کله کوم داسې کار وکړي، چې جزا پرې ورکول کېږي، نو له دغې جزا نه د ځان ساتلو لپاره ډول، ډول پلمې جوړوي. يوه عامه طريقه خو يې دا وي چې د خپلې تېروتنې له منلو نه سوچه انکار وکړي: «ما نه ده کړی». ډارن او نازولي ماشومان بيا بې غمه ووايي: «زه څه خبر يم؟». يا بيا ډول ډول نورې پلمې جوړوي. له ښوونځي نه تښتېدلی ماشوم وايي: «نن مو معلم صېب مړ شو»، «د کرکټ د لوبې په مناسبت يې رخصتي راکړه».

ماشوم چې په دغه ډول دروغو کې بريالی شي، نو حوصله يې لوړه شي او که يو نيم دروغ يې ښکاره هم شي، نو په راتلونکي کې د خپلو پلمو په جوړولو کې له لا ډېر احتياط او ځيرکتيا نه کار اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د خودغرضی دروغ

کله نا کله ماشوم د خپلې شخصي گټې یا یوازې ساتېرې لپاره دروغ وایي. په ازموینو کې نقل کول، په لوبو کې په چل ول د بریا کوشش کول، له دوکانونو نه د توکو د پټولو په خاطر دوکاندار په خبرو کې مشغولول، او داسې نور هغه کارونه دي چې ماشوم یې د کوم شخصي هدف دپاره په ډېرې ځیرکۍ سرته رسوي.

## د ملگرتیا دروغ

د خپل ملگري په یوه جرم د پردې اچولو په خاطر هم ماشومان له دروغو کار اخلي. په ښوونځیو کې ډېرى وختونه لیدل کېږي چې په کلکې سزا او طمعې ورکولو سربېره ماشوم د خپلو ملگرو په خلاف له شاهدي ویلو څخه انکار کوي او ان کله نا کله خو د هغوی په ملاتړ کې له دروغو هم نه په شا کېږي. په راتلونکي کې د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو دروغو بنسټ معمولاً د ماشومتوب د همدې ملگرتیا په دروغو بنا وي.

## دودیز دروغ

له بده مرغه زموږ په ټولنه کې گڼ داسې دروغونه دود شوي چې په ډېره بده سترگه نه ورته کتل کېږی. مثلاً، موږ د پېر و پلور او په خپلو ورځنیو تعاملاتو کې په ډېرې بېباکۍ دروغ وایو. ماشوم چې له خپلو مشرانو نه په دومره روانه ژبه دروغ اوري، نو ماشوم هم په دغه مسیر روان شي. او بیا چې خبر شي، چې د ده ټولنې دغو دودیزو دروغو ته هېڅ ډول سزا نه ده ټاکلې، نو له ډېرې خوښۍ په کالو کې نه ځایېږي.

## د درملنې سم او ناسم روشونه

د دروغ ویلو د عادت علاج ډېر اړین دی او د تعلیم او تربیې له دې مهم اړخ نه غفلت، د مور او پلار او ښوونکو یو لوی ټولنیز جرم دی. دروغجن ماشوم په هېڅ توگه هم یو متمدن ښاري نه شي کېدای. بلکې دغه بد خصلت د ماشوم په جرم پسنده او خطرناکه وگړي کېدو کې څرگند رول لوبوي. اروا پوهانو د دغې خطرناکې ذهني بیمارۍ د علاج دپاره گڼې سپارښتنې بیان کړې، چې له هغو ځنې په یو شمېر مهمو روشونو لاندې خبرې شوې:

۱) توپیري درملنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲) له پارېدو ډډه کول

۳) د غلطۍ په اعتراف انعام

۴) په باور درملنه

۵) علمي او ادبي تعليم

٦) معقول مذهبي تعليم

۷) له غلطو ځرګندونو ځان ساتنه

## توپيري درملنه

د هر ډول دروغو د علاج دپاره له يوه روش نه ګټه نه شو اخيستلی، ځکه هر دروغ په ځان کې يو نه يو داسې توپيري ټکی لري، چې هغه د دروغو په نورو ډولونو کې نه وي. نو په همدې بنا پکار ده چې لومړی د دروغ وينا اسباب وموندل شي او بيا له ارواپوهنيزې شننې وروسته دا پرېکړه وشي، چې په دغو دروغو کې خو به د ماشوم کومه ځانګړې کمزورتيا، ناوړه عادت، ګناه يا جرم لاس نه لري. نو کله چې دغه توپيري ټکی معلوم شي، نو له هغه وروسته بايد ماشوم ته مناسبه مشوره او جزا يا سزا ورکول شي او په راتلونکي کې د رښتيا ويلو نصيحت ورته وشي.

## له پارېدو ډډه کول

که مو ماشوم دروغ ويلي وي او تاسو په دغه برخه کې پلټنه کوئ، نو بايد له ډېر زغم نه کار واخلئ. «پکار ده چې وشرمېږې؛ دروغجنه غله لکه ته چې يې، ستا لپاره خو مرګ ځای دی.» دا ډول پاروونکي کلمات ماشوم پر خپل ناوړه چلند له غور کولو را ګرځوي او کله چې په ماشوم د تندو او ترخو سوالونو ګوزارونه کېږي، نو ماشوم د يوه دروغ د سپيناوي لپاره شل نور دروغونه را جوړوي. خو که تاسو له زغم نه کار واخلئ او خبرو ته يې په دقت غوږ ونيسئ او داسې ښکاره کړئ، چې تاسو په اصلي خبره له خبرېدو سره، سره تحمل و زغم کوئ، نو ممکن ماشوم په خپل کار پښېمانه شي او ورو په ورو په رښتيا ويلو راشي.

که ماشوم خپله تېروتنه ومني، بيا هېڅ سزا هم نه ده ورته پکار. په دې برخه کې دا تمه هم بايد ونه ساتو چې ماشوم به په ښکاره د خپلې تېروتنې يا سرغړونې اعلان وکړي. «رښتيا رښتيا induced وايه، هغه شی چېرته پروت دی؟» د دې پوښتنې په ځای ماشوم خوا ته کېنوئ او په نرمه ژبه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library


وواييږ، «وګوره ګرانه! د رښتيا ويلو په برکت د انسان عزت زياتېږي. په دروغو کې نو څه ګټه ده؟ له ماشومانو نه ارومرو تېروتنه کېږي. که رښتيا رښتيا راته ووايې، هيڅ سزا هم نه درکوو.» له دغو مينه ناکو خبرو به ماشوم درته د خپل مرستندوی په سترګه وګوري او ټوله کيسه به رښتيا، رښتيا درته وکړي. په دې وخت کې په خپله ژمنه ټينګ ودرېږئ. دا وخت د سزا نه دی، بلکې دوه، درې داسې نصيحتونه به ډېر مناسب وي، چې د ماشوم زړه ته لار وکړي او په راتلونکي کې ورته د لارې مشال شي.

له تېروتنې سملاسي وروسته کوشش مه کوئ چې په ماشوم خپله تېروتنه ومنئ. ماشوم په اصل کې د خپل عادت خلاف يوه کړنه ترسره کړې وي. دغه وخت يو څه په خپل کړي کار پښېمانه وي، يو څه د سزا ډار ورسره وي، نو وجدان يې مضطرب وي. په داسې حال کې ممکن ماشوم د سملاسي دروغو په ويلو ځان له اضافي پرېشانۍ نه بچ کړي. دغه راز، ډېره موده وروسته هم ماشوم ته په خپل جرم د اقرار کولو ويل، يو بې ګټې کار دی. په يوه تېروتنه چې ډېر وخت ووځي، نو ماشوم داسې انګېري ګنې اوس هغه کيسه ناپديده شوې ده.

**په باور درملنه**

د ځينو بې فرهنګه مشرانو په څېر ماشومان هم په دې فکر وي چې رښتيا يا ښه چلند يوازې تر خپلو پورې بايد محدود وي. ډېر کله ماشومان داسې ګڼې، چې پردي کسان او لويان يې ګواکې دښمنان دي او که رښتيا ورته ووايي، نو تاوان به وکړي. واړه ماشومان عموماً درون ګرا وي او د خپلو خپلوانو تر حلقې پورې محدود وي او په نورو باور نه کوي. خو که له ماشوم سره د همدردۍ چلند وشي او هڅه وشي چې د هغوی له ليدلوري په ستونزه ځان پوه کړو، نو ډېر په اسانه را سره همکارۍ ته رضا کېږي. نو د دې په ځای چې دروغجن ته پېغورونه ورکول شي، د هغه شخصيت ته درناوی وکړئ او باور او تعاون يې لاسته راوړئ؛ چې يو به په دې ډول ماشوم ستاسو لطف ته د منني په سترګو وګوري او په خپل عادت به د شرم احساس وکړي؛ او بله دا چې د خپل چلند په بدۍ باندې پوهېدل به هم ورته اسانه شي.

**علمي او ادبي ښوونه**

خپل ماشوم له رښتيا ويلو سره عادتول په دې معنا نه دی چې د هغه تخيلي، رومانوي او افسانوي تمايلات يې ور نابود کړئ. ماشومان د ساده شعرونو، ټوکو، کيسو او داستانونو له کتابونو لرې ساتل زيان ورته رسوي. د راډيو او ټلويزون معقولې برنامې د ماشومانو په مناسبه وده او

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرمختګ کې کافي مرسته کوي. په دې سربېره، کله نا کله په ماشوم ښه فلم لیدل هم کوم باک نه لري، خو په څنګ کې يې پکار ده چې ماشومان د تاريخ او ساينس ابتدايي کتابونو لوستلو ته هم وهڅول شي. د لرغونتونونو او تاريخي ځايونو د ليدنې فرصتونه هم بايد ورته برابر شي. دا ډول فعاليتونه په ماشوم کې د حقيقت او افسانې ترمنځ د فرق کولو بصيرت پيدا کوي. ماشوم ته ووايئ چې د تاريخي اثارو د ليدنې حالات له يادو بيان کړي او يا يې وليکي، چې په دې ډول يې د بيان او وينا کولو تمرين وشي. ماشوم مو په سريال کې د يو-سترګي دېب په اړه د خبرو کولو او د باغ بالا د تاريخي ځای په اړه د مقالې ليکلو په توپير په لنډه ټکو کې پوه کړئ. دغه ډول ادبي روزنه به مو په ماشوم کې ورو په ورو د رښتيا ويلو په تړاو يو ادبي ځواک او علمي احساس را پيدا کړي.

**معقوله ديني ښوونه**

دين د ژوند لپاره يو بشپړ نظام او د انساني اخلاقو او کړو وړو د اصلاح تر ټولو غوره وسيله ده. دين د رښتيا ويلو تلقين کوي. ماشوم بايد په مينه ناکه ښه ديني تعليماتو ته تشويق شي. ماشوم په ډېره مينه او په اسانه ټکو په دې حقيقت پوه کړئ، چې دغه کاينات يو ستر واکمن لري چې له مور ټولو سره مينه کوي، په دې شرط چې د دروغو له لارې د يو بل له غولونې پرهېز وکړو، يو بل ته رښتيا ووايو او په نېکه لاره مزل وکړو. ماشوم ته په زړه راښکونکي بڼه د دين مهم اصول په سم ډول ښودل، د هغه لپاره د ژوند يوه ناپايه سرمايه ده او د يوه متمدن او رښتيني ښاري په جوړېدو کې لويه مرسته ورسره کوي.

**له ناسمو څرګندونو ځان ساتنه**

ماشوم چې له مور او پلار نه د خدای، ستورو، اسمانونو، قيامت او د ماشوم د زوکړې په باره کې پوښتنې وکړي، نو يو شمېر ناپوهه مور او پلار خو يا اصلاً د دې ډول پوښتنو اجازه نه ورکوي او يا د خبرې بدلولو په خاطر بې ځايه خبرې ورته شروع کړي. د مور او پلار له لوري دغه غلط او ګډوډ معلومات چې په راتلونکي کې دروغ ثابت شي، نو له ماشوم سره فکر پيدا شي، چې مور او پلار د دروغو په وسيله دی تېر ايستلی دی. په دې اساس، ماشوم فکر کوي، چې زما د کورنۍ مشرانو او مسؤلو کسانو ته چې په دروغو کې کومه مضائقه نه ښکاري، نو زه ولې د دغې مېوې له خوندونو محروم يم؟

د ماشوم د پوښتنو د ځوابولو په مهال د امکان تر کچې رښتيني اوسئ او د واقعيت لمنه ونيسئ. خبره بدلول او دروغ ويل ماشوم ته زيان رسوي. په دې ډول ممکن په لنډمهاله توګه د ماشوم د

(c) ketabton.com: The Digital Library


تجسس لمبه مړه شي، خو يوه ورځ اورمرو راځي، چې ستاسو کړې خبرې به ناسمې ثابتېږي او دغه وخت به د ماشوم په سترګو کې ستاسو درنښت کمېږي او ستاسو په شان د دروغ ويلو او خبرې اړولو شوق به يې لا ډېره وده مومي.

دغه راز، د ماشوم په مخکې لاپې او بې ځايه ټوپونه هم نقصان لري. په خپلو لاپو خو به تاسو د ارامتيا احساس وکوئ او ممکن ماشومان به هم ډېر زيات خوند ترې اخلي، خو په ماشوم باندې د لاپو دغه بې چوکاټه ماحول خورا ناوړه اغېز پرېباسي او په ماشوم کې هم له لاپو څخه ذهني ارامتيا او د نورو له خولې د ستايل کېدو شوق ورکې پيدا کېږي، چې د دغه کار حتمي پايله دا را وځي چې په عادي خبرو اترو کې يې هم د مبالغې او غُلو عنصر غالبه شي. نو که د لاپو وهلو عادت تاسو پخپله په ارامه نه پرېږدي، نو لږ تر لږه د ماشومانو په مخکې مو د دغه عادت واګې مه سستوئ.

### د ماشومانو دروغ او زموږ مسؤليت

دروغ ويل يوه اروايي بيماري او اخلاقي کمزوري ده. د دروغو د ساينټيفيک علاج لپاره د هغه لاملونه پېژندل ضرور دي. د دې ناروغۍ سم او په وخت علاج يوازې په ماشومتوب کې کېدای شي. د بامسؤله مور او پلار او ښوونکو په توګه دا ستاسو مسؤليت جوړېږي، چې د خپل ماشوم د دروغو په نوعيت ځان پوه کړئ، لاملونه يې له اروا پوهنيز اړخه تحليل او له غور او فکر وروسته، د علاج مناسبه لاره ورته غوره کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**څپرکی: اووم**



## د ماشومانو ویرې

په ماشومتوب کې ماشومان معمولاً ویرېږي او د نورو عادتونو په څېر د ماشوم ډار او ویره هم تر ډېره له کورنۍ تربیې را پیدا کېږي. د ماشوم ابتدایي وده د مور او پلار توجه ته خورا زیاته اړتیا لري. ډاکټر واټسن وایي چې تر درې کلنۍ پورې د ماشوم د عاطفي ژوند بنیاد تقریبا په بشپړه بڼه ایښودل شوی وي، یعنې تر دې عمره پورې مور او پلار د خپلې تربیې د نوعیت له مخې تقریباً دا ټاکلې وي، چې ماشوم به یې د یوه غوره او زړور شخصیت په توګه لویېږي او که به یو داسې خشن، وسواسي او بې زړه زلمی ترې جوړېږي، چې ټول ژوند به په ډول، ډول ویرو کې اخته وي. ډېره موده کېږي چې د روغتیا د نړیوال سازمان په همکارۍ ډاکټر جان بالبي د ماشومانو د اروا پوهنې په ډګر کې خپله څېړنه تکمیل کړه. د یادې څېړنې لنډیز دا دی چې د ابتدایي ژوند اخلالوونکي واقعات ماشوم ته په کوچنیوالي کې خورا ډېر نقصان رسوي او په راتلونکي ژوند کې یې هم د خوښۍ، رواداري، اعتدال او کامیابۍ امکان را کموي.

### ویره او ابتدایي تربیه

آهنګر لومړی اوسپنه تودوي او بیا د څټک په وارونو ترې د خپلې خوښې توکي سازوي. اوسپنه چې څو یخېږي، هماغومره په نورو شیانو د هغې تبدیلول ستونزمنېږي. د ښوونکو یا مور او پلار په حیث تاسو هم د آهنګر حیثیت لرئ او تربیه ستاسو څټک ده. ځیرک او هوښیار ماشوم مو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


توده او پسته اوسپنه ده، چې هره بڼه وغواړئ، ورکولی یې شئ. خو د خپل تولید د تیارولو په وخت کې باید تاسو له یوه آهنګر نه ډېر زیار وباسئ او ډېر احتیاط وکړئ، ځکه که ماشوم په ابتدایي عمر کې په سمه توګه ونه روزل شي، نو په زلمیتوب کې د تربیې اور له سره تازه کول او بیا د غوره شخصیت او د خپلې خوښې قالب ته یې برابرول، ډېر زیات مشکل او په اکثره حالتونو کې تقریباً ناشونی ګرځي. نو ماشوم د بې ځایه وېرو له منګولو ازادول، د ابتدایي تربیې تر ټولو مهم اړخ دی.

## زموږ د وېرو تحلیل

موږ له زیانونو، پېښو، ناروغیو او مرګ نه ډېر په وېره کې یو، له دنګو ودانیو نه چې لاندې راګورو، نو ډېر کله مو له وېرې لړزه ونیسي، د تور تم له «بَبَو» نه خو بیخي زموږ سا وځي، د زهرجنو حیواناتو وېرې تل زموږ ارامتیا تروړلې ده. آن یو شمېر کسان خو له ځرمښکې، ماښامځکالي او چرګې په څېر بې ضرره حیواناتو نه هم وېرېږي. د ساینس د مادي ارامتیاوو په سر هم موږ نن ورځ ځان په داسې ناکراره چاپېریال کې احساسوو، چې د وچې، لمدې او هوایي پېښو وېره، د غلا، ډاکې او وژنو اندېښنه او د برق او اور ډار زموږ په اذهانو را خپور وي.

په اوسني دور کې د سړو او تودو جنګونو وېرې د نړۍ په اکثریت برخو کې د خلکو ذهني روغتیا له منځه وړې ده. ډول، ډول واقعي او غیرواقعي وېرو زموږ احساساتي ژوند له پاشلتیا سره مخ کړی. دا وېرې ولې او څنګه منځته راځي؟ د لویانو په څېر، ماشومان ترې په څه ډول اثر اخلي؟ د والدینو، ښوونکو او د انساني فطرت د زده کوونکو لپاره دغه موضوع خورا زړه راښکونکې ده.

## په ماشومانې کې د وېرې او ترهې اروپوهنیزه تجربه

په اروپوهنیزو لابراتوارونو کې له ګڼو تجربو او مسلسل تحقیق وروسته ډاکټر واټسن دې نتیجې ته ورسېده چې د زلمیتوب د دورې اکثره وېرې په کوچنیوالي کې د والدینو له نیمګړې تربیې او ناوړه ماحول نه سرچینه نیسي. کوچنی تي خور په لومړنیو شپو او ورځو کې یوازې له سختو غږونو او د خپل جسمي توزان په له منځه تلو یوه فطري وېره احساسوي، خو په راتلونکي ژوند کې نورې ټولې وېرې د والدینو د غفلت او ناسمې تربیې له امله ورته پیدا کېږي.

واټسن وموندل چې د لومړي ځل لپاره چې یوه نهه میاشتني ماشوم ته مختلف حیوانات مثلاً چونګښه، ماهي، کوتره، سویه، بې ضرره مار او داسې نور راوړل شوو، نو هېڅ وېره یې یې ونه ښوده، بلکې له هغو سره یې لوبې پیل کړې او ورځ تر بلې یې اشنایي او ملګرتیا ورسره زیاتېدله. څه موده وروسته، دغه ماشوم به چې له حیواناتو سره په لوبو بوخت وو، نږدې یې د دروند غږ آله نصب کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماشوم خو له دا ډول غږونو نه له مخکې لا ډارېده او اوس به يې چې له حيواناتو سره د لوبو پر مهال هغه وېروونکي غږونه اورېدل، نو د دغه اړيکې له لاسه يې له دې بې زيانه حيواناتو نه هم وېره پيدا شوه.

لا ډېرو تجربه دا هم وښودله چې ماشوم د سوی او د دغه ډول پوستکي لرونکو له حيواناتو علاوه، له پوستکي او بل هر پوستکي لرونکي شي نه هم وېره احساسوله. له دې نه واټسن دا پايله واخيسته چې د ماشومانو ګڼې نورې وېرې هم د تربيې او د ماحول د تجربو له امله را پيدا کېږي. په ماشومانو کې د تيارې وېره هم په همدې ډول پيدا کولی شو. په توره تياره کې پروت ماشوم ناڅاپه يو وېروونکی غږ لږزوي. دا چې په ماشوم کې د وحشتناکه غږ يوه فطري وېره وي، نو له دې وروسته ماشوم يوازې له تيارې هم وېرېږي. دغسې هغه ماشوم چې له چرګې او څرمښکې نه وېرېږي، هغه هم په پيل کې ارومرو له دې بې زيانه حيواناتو سره کوم داسې څه ليدلي وي، چې دی واقعا هم ترې وېرېده او وروسته د هغه اصلي وېروونکي شي وېره، هغه بې خطره شي ته انتقال شوې ده. د ماشومانو په ژوند کې بې شمېره وېرې په همدې ډول صورت نيسي.

**د مور او پلار ناسم چلند**

که مور او پلار «داسې مه کوه»، «پام کوه! شيشکه به دې وخوري»، او داسې نورو خبرو طريقه ډېره استعماله کړي، نو د ماشوم په ذهن کې ډار او وېره په غوښتلي يا ناغوښتلي ډول ځای نيسي. مثلاً ماشوم مو د لښتي په لور روان دی، تاسو له غوسې نه پرې چيغه کړئ، «هې، مه ځه.». ماشوم چې لښتي ته له نږدې کېدو سره هم مهاله ستاسو وېروونکې چيغه اوري، نو لښتي نه هم وېرېږي او دغه وېره هم ورسره پيدا شي. ورو، ورو يې همدا ډار او وېره دومره پخه او عامه شي، چې تاسو پخپله ترې په تنګ شئ. اوس نو چې ماشوم لا لښتي ته کتلي نه وي، په چيغو سر شي او که دغه وخت د دې وېرې مناسب علاج ونه لټوئ، نو امکان لري چې ماشوم مو په لويوالي کې هم لښتي ته ورته ويالو، نهرونو، بحرونو او سيندونو نه يوه غيرعادي وېره ولري.

کله نا کله ماشوم د لوبو په مهال کوم داسې شي ته لاس واچوي، چې د ماتېدو يا خرابېدو انديښنه يې وي. مور دغه ډول شيان د ماشوم له لاسه په زوره اخلي او بېل يې ږدي او که په منع کولو سربېره هم ماشوم د هغه شي له راخيستلو لاس نه اخلي، نو ناپوهه مور يې معمولاً تر غوږ لاندې يوه نيمه څپېړه ور بنده کړي او بېرته هغه شی ترې واخلي. په څپېړه ماشوم ته بدني درد رسېږي او ماشومان له درد نه ډېر زيات وېرېږي، نو اوس د بدني سزا له وېرې سره، سره له هغه ممنوع توکي نه هم وېره لري. مور خو په دې ډول د ارامتيا يوه سا واخلي، خو د ماشوم ذهني ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورسره اختلالات پيدا کوي. که د ماشوم ذهني ژوند تجزيه شي، نو معلومه به شي چې د يوه ماشوم زياتره وېرې له همدې ډول «وړو» خبرو را پيدا کېږي.

په کور کې د ماشومانو د لوبو او خوب ځايونه بايد د امکان تر بريده له وېرووونکو غږونو محفوظ وي. د توپان تر راتلو دمخه لا ورونه او کړکۍ وتړئ، چې د اوسپنو د کړنګېدو شور جوړ نه شي او ماشوم د ډار او وېرې احساس ونه کړي. امکان لري چې د همدې وېرونکي شور له لاسه ماشوم له توپان او بادونو څخه هم وېره واخلي. ماشوم چې ويده وي هم، بايد خوا ته يې شور ماشور جوړ نه شي. له ماشوم نه د وېرې د ختمولو لپاره د بدني سزاګانو له اصول نه بايد تقريباً لاس واخيستل شي. پکار ده چې له وهلو او ډبولو ډېره استفاده ونه شي. د وهلو، ډبولو او ګواښونو پرلپسې استعمال د ماشوم په ذهن کې يو خوف پيدا کوي، چې په پايله کې يې د ماشوم په راتلونکي ژوند کې ډول، ډول وېرې منځته راتلی شي. ماشومانو ته د پېرې، بلا، شيشکې، بَبَو او داسې نورو شيانو ګواښونه خو بايد هېڅ کله ونه کارول شي، ځکه د دې اندېښنه شته چې په ماشوم کې له وېرې علاوه، خرافاتي ذهنيت هم ريښې وکړي.

### د بې ځايه وېرې علاج

له احتياط سره، سره يو نه يو ډار او وېره ارومرو په ماشوم کې ځای پيدا کوي. خو هره وېره په مناسبه بڼه تداوي کېدای شي. مثلاً که مو ماشوم بې سببه له پيشو نه وېرېږي، نو د پيشوګانو ښې، ښې کيسې ورته وکړئ. خو ضرور نه ده چې دغه طريقه دې هر هغه ماشوم ته ګټوره وي، چې له پيشوګانو وېرېږي. د پيشو په څېر بې ضرره حيوان نه د وېرېدو له امله د ماشوم په بې زړه توب پسې ملنډې وهل، اصلاً يو غلط کار دی. په دې کې د دې اندېښنه شته چې د ماشوم ذهني ژوند لا زيات ګډوډ شي. دا طريقه هم ګټوره ده، چې له هغو ماشومانو سره ملګرتيا وکړي، چې له پيشوګانو څخه نه وېرېږي. خو ممکن له پيشوګانو سره د نورو ماشومانو د لوبو په ليدو هم د ماشوم په وېره کې کمی رانه شي، نو بيا څه وکړو؟

واټسن له ماشومانو څخه د وېرې د ختمولو لپاره يوه تجربوي طريقه بيان کړې ده. له پيشو نه وېرېدونکی ماشوم چې کله دوډۍ خوري يا دې ته ورته په کوم په زړه پورې کار اخته وي، نو تر ده لږ لرې کوټنی پيشو په پړي وتړئ. دا احتياط بايد وکړئ، چې پيشو په کافي اندازه لرې تړلې وي. له دې وروسته، هره ورځ پيشو په تدريجي ډول ماشوم ته را نږدې کوئ او کومه ورځ چې معمولي وېره هم ښکاره کړي، نو پيشو بېرته شاته يوسئ. د خوړو په خوند کې د ورکېدو او په دې فکر چې «دښمن» يې تړلی دی، د ماشوم په ذهن کې د وېرې پخوانی شدت را کمېږي. هره ورځ په منظم

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډول د پیشو او ماشوم ترمنځ شته واټن را کموئ او کله مو چې ولیدل چې د پیشو په نږدېکت ماشوم نه ډارېږي، نو هغه ورځ د پیشو پړی خلاص کړئ او پیشو ته ناز ورکړئ. ورو، ورو به مو ماشوم هم له پیشو سره روږدی شي.

د دغه ډول تدریجي تربیې په مټ ګڼو نورو وېرو ته هم د پای ټکی ایښودلی شو. خو د خپلې نیمګړې پالنې او غیرعلمي تربیې له امله په ماشوم کې د راز، راز وېرو له را پیدا کولو وروسته، د هغو وېرو د ختمولو په طریقو غور و فکر کول اصلاً عقلاني لاره نه ده. بهترینه لاره همدا ده چې له پیل نه لا د وېرې اسباب او علتونه تر خپله وسه د ماشومانو له ژوند نه لرې وساتو، ځکه د وېرې مناسب مخنیوی او وقایه، تر درملنې په کراتو غوره او ارزنه ده.

**وېره او ذهني بیماري**

د کوچنیوالي وېره په زلمیتوب کې د لېونتوب په بڼه هم را پورته کېدلی شي. د ډاکټر ریورز یو ناروغ به له تنګو ځایونو ډېر زیات وېرېده. کله یې چې د ناروغۍ تاریخچه ترتیب کړه، نو معلومه شوه چې په کوچنیوالي کې یوه ورځ دغه ناروغ د کباړ له پلورنځي بېرته را روان وو، چې د کلي په تنګه او تیاره کوڅه کې یې یوه سپي لاره ونیوله او دومره په لوړ غږ یې پرې وغپل، چې په ماشوم د وېرې له لاسه رڼا ورځ تیاره شوه. نوموړی په ډېره سخته کور ته په منډو ورسېده، او ورو په ورو له سپي څخه د نوموړي وېره له تنګو کوڅو څخه په وېره بدله شوه او بیا داسې وخت راغی چې له هر تنګ ځای نه به ډېر زیات وېرېده.

په همدې ډول یوه اروا پوه ته ناروغ راوړل شو. دغه ناروغ به خپل ځټ بار، بار یوه لور ته تاواوه. په ده کې دغه عادت دومره پوخ شوی وو، چې ان پخپله هم ترې تنګ راغلی وو. کله یې چې بیماري تجزیه شوه، نو معلومه شوه چې په کوچنیوالي کې به دغه کس په بازار کې د یوه مېوه پلورونکي له مومپلیو نه په پټه موټی ډکاوه او لاره به یې لنډوله. مېوه پلورونکی په دې هڅه کې وو چې یوه ورځ دغه شیطان غل وچ د غلا په وخت کې ونیسي. نو یوه ورځ هټیوال تر بوجۍ شاته ورته کمین ونیوه. ماشوم چې څنګه مومپلي ور پورته کړل، مېوه پلورونکي سمدلاسه له څټه را ونیو. د دې ناڅاپي نیول کېدو له وهمه په ماشوم بې هوښي راغله او درز، را وغورځېده. له دغې پېښې وروسته به نوموړي بار، بار داسې احساسوله، ګنې څوک یې له څټ نه رانیسي. د ورځې به په سلګونو ځله دغه سوچ د ده ذهن ته لاره کوله او ده به سلګونه ځله له دغه فرضي نیول کېدو نه د ځان ژغورلو لپاره څټ ته په یوه خاصه خوا حرکت ورکاوه. ناروغ د څټ له دې حرکته ډېر زیات تنګ شوی وو. خو کله چې له اروا پوهنیزو لارو ده ته د کوچنیوالي هغه منفي پېښه ور یاده شوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library


وهڅول شو چې په دغه پېښه ځان پوه کړي، نو ورو، ورو يې دغه ځورونکی عادت هم له منځه ولاړ.


څېړنې ښيي چې د ګڼو ذهني ګډوډيو او بيماريو بنياد د ماشومتوب په وېروونکو پېښو ولاړ وي، چې په اوايلو کې لا د دې په ځای چې ويې پېژنو او درملنه يې وکړو، په زوره يې په ذهن کې ځپو. دغه ځپل شوې ترخې تجربې په لاشعور کې يوه بلا غوغا او هنګامه را ولاړه کړي، چې په پايله کې زموږ عاطفي ژوند هم له خاورو سره يو کړي.

**سمه وېره او ناسمه وېره**

کومه تعليم و تربيه چې ماشوم ته له وېرو نجات ورکوي، د هغې موخه دا نه ده چې له ماشومانو نه زمريان جوړ کړي. يو شمېر وېرې داسې هم دي چې په ماشومانو کې يې شتون لازمي دی. مثلاً له زيانمنو فعاليتونو نه د ځان ساتنې او ضرري شيانو ته له بې غوره او بې پامه لاس اچونې وېره د ماشوم لپاره مفيده ده. له برقي تارونو، ګازي پايپونو، زهرجنو حيواناتو او ککړتيا نه لريوالی ضرور دی. خو د دغو شيانو په تړاو هم د ماشوم د وېرې بنسټ بايد پر ناپوهۍ او خرافاتو نه وي بنا شوی، بلکې ماشوم بايد په ساده ژبه پوه کړو چې دغه شيان زيانمن او ضرري دي، نو بويه ځان ترې لرې وساتو. په دې ډول به ووينئ، چې هره هغه لارښوونه، مشاهده يا شخصي تجربه چې ماشوم خپل اصلي حقيقت ته نږدې کوي او د ماحول په باره کې يې معلومات زياتوي، په ماشوم کې پر ځان باور او ډاډ پيدا کوي. په دې سربېره، د شک او وېرې له اضطراب نه هم نجات ورکوي. دا ډول تربيه ماشوم ته د حالاتو د صحيح درک يو بصيرت ورکوي او سمدلاسه په دې پوهېږي، چې له يوه خطر نه تېښته بهتره ده او که ټېر ورسره وهل، مناسب دي.

زموږ پر ذهن ډول، ډول وېرې مسلط شوې دي. زموږ ژوند هسې هم له ارامتيا او سکون سره نابلده دی او ورځ په ورځ زياتېدونکو وېرو زموږ ژوند نور هم پرېشانه کړی. د دې لويه وجه دا ده چې له ماشومتوب څخه لا زموږ د تربيې بنياد په وېرو او توهماتو ايښودل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


**څپرکی: اتم**



## د ماشومانو خوبونه

د تېرې پېړۍ اروا پوهانو د خوب مطالعې ته ډېره توجه نه ده کړې او يوازې زموږ پر شعوري ژوند، شعوري کړنو او منطقي استدلال پوهېدو ته ډېر لېواله وو. دوی ته چې خوبونه يوازې د نجوميانو موضوع ښکارېدله، نو د خوبونو د دلچسپه، مرموزو او دقيقو اړخونو څېړنه يې له پامه غورځولې وه.

ډېره موده نه کېږي، چې دغه حقيقت روښانه شوی، چې زموږ په ذهن کې د شعور ترڅنګ لاشعوري خيالات هم مېشت دي. په شلمې پېړۍ کې د لاشعور له ژورتياوو سره ډېره زياته علاقه وښودل شوه. د لاشعور په تړاو د فرويډ څېړنو او نظرياتو زموږ په خوبونو خورا ژوره رڼا واچوله.

### د خوب اروا پوهنه

په ورځني ژوند کې زموږ په ذهن کې د زرهاوو په شمېر، ښه يا بد او روا يا ناروا خواهشات را پيدا کېږي. له ديني، کلتوري او ټولنيزو ازښتونو علاوه، سلګونه نور خنډونه هم د دغو خواهشاتو د پوره کېدو په لاره کې ولاړ وي. دا چې په ويدو کې دغه خنډونه خپل ځواک له لاسه ورکوي، نو په پايله

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې يې زموږ په لاشعور کې ځېل شويو خواهشاتو او جذباتو ته موقع په لاس ورځي او د خوب په بڼه را پورته کېږي. د فرويډ په نزد، په ويدو کې د لاشعور د همدې ځپل شويو خواهشاتو ډراماټيک تمثيل ته خوب ويل کېږي.

**د ماشومانو خوبونه**

د لويانو په پرتله د ماشومانو خوبونه ډېر په اسانه د پوهېدو وړ وي. د ماشومانو خوبونه ډېر لنډ او واضح او مبالغه پکې کمه وي. د دې برعکس د ځوانانو په خوبونو کې د ډسپلن، بنديزونو او سمبوليکي ژبې عناصر پېچلتيا پيدا کوي، چې له دې امله د لويانو په خوبونو پوهېدل يو څه ستونزمن او ډېره خواري غواړي. خو د ماشومانو په خوبونو کې دغه پېچلي عناصر يا خو اصلاً وجود نه لري او يا په ډېره ساده او اسانه بڼه ځان ښکاروي. په تېره بيا تر پنځه کلنۍ پورې خو د ماشومانو خوبونه ډېر زيات ساده او اسان فهمه وي او د زلميانو د خوبونو هغه پېچلي اړخونه تقريباً نه پکې ليدل کېږي. خو د لويو ماشومانو خوبونه د تنسيخ، غلط بياني او بې نظمۍ په څېر د لاشعوري افعالو له اغېزو څخه خالي نه وي او له دې امله له پنځه تر اته کلنۍ پورې ماشومان خو کله نا کله دا ډول خوبونه هم ويني، چې د جوړښت او مختلفو لاشعوري عناصرو له مخې د بالغ ژوند له پېچلو خوبونو سره ورته والی لري.

د وړو ماشومانو په خوبونو د پوهېدو لپاره هېڅ ډول اروپاپوهنيز تحليل ته اړتيا نه پېښېږي. دغه راز، د دغو خوبونو په تعبير کې کوم ځانګړی فن يا هنر هم نه استعمالېږي. د زلميانو د خوبونو د مطالعې لپاره له خوب ليدونکو څخه د خاصو پوښتنو په مټ معلومات اخيستل کېږي. خو د ماشومانو خوبونه دومره اسان فهمه وي، چې عموماً مسلکي پوښتنو ته اصلاً اړتيا نه پېښېږي. د ماشوم د ورځني ژوند پېښې او پر ماشوم د هغو ذهني تاثرات ساده او مستقيم وي، چې په نتيجه کې يې د هغه خوبونه هم ساده او په همدې معمولي پېښو بنا وي. تر يو څه مودې پورې خو ماشوم خپل خوبونه ښه په ذهن کې ساتي، نو ځکه له ماشوم څخه د خوب په هلکه د اړينو معلوماتو ترلاسی ډېر ستونزمن نه وي. دا چې د ماشومانو خوبونه د هغوی د ژوند د شخصي پېښو او شاوخوا چاپېريال پورې اړوند وي، نو په دې اساس د ماشوم په خوبونو د پوهېدو لپاره د هغه د عمومي ژوند په باره کې يو څه معلومات هم کفايت کوي.

يوه ماشوم ټوله ورځ له خپل توپک سره لوبې کولې. د شپې يې په خوب کې وليدل چې توپک يې ورک شوی او دی پسې ګرځي. يو بل ماشوم د چای څښلو په وخت کې مور له ډېرو شيرينيو خوړلو منع کړی وو، نو په خوب کې يې ليدل چې د کلچه پزي په دوکان کې ناست دی او په بې غمه زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


شیرینۍ خوري. په همدې ډول د کوچینو ماشومانو اکثره خوبونه د ورځنیو پېښو او شخصي تجربو په تړاو د هغوی د ذهني عکس العمل هینداره وي. په دې اساس د ماشومانو خوبونه له یوې مخې بې معنا ګڼل، ناسم کار دی.

**ظاهري متن او باطني معنا**

د ماشومانو په خوبونو کې اصلي واقعات عموماً ډېر کم بدلون او تغیر مومي. همدا لامل دی چې د ماشوم د خوب په اصل مفهوم باندې د پوهېدو لپاره ارواپوهنیز تاویل او مسلکي تعبیر ته اړتیا نه وي. د ماشومانو د خوبونو ظاهري متن او پټه معنا سره یو شان وي. مثلاً که بالغ ماشوم په خوب کې ووینې چې په منډو په زینو خېژي، خو د لارې له تېرېدو ډېر سخت ډارېږي، نو د دې ټولې کیسې اروا‌پوهنیز تاویل ارومرو معلومېږي. د خوب ظاهري متن خو هماغه دی چې د خوب په حالت کې د خوب لیدونکي لپاره تمثیل شوی دی، خو اصلي مخفي معنا یې بل څه هم کېدلی شي. ډېر امکان لري چې خوب لیدونکی د خورا لوړ عزم زلمی وي او غواړي چې د پرمختګ بېلا بېلې زینې ژر، ژر لنډې کړي. خو یو څه ستونزې یې مخې ته خنډ دي – د همدې یوه بالغ وګړي خوب بې شمېره نور تاویلونه هم درلودلی شي.

فروید او نورو اروا‌پوهانو خو د خوب د سمبولونو او نښو د علمي تاویل لپاره منظمه وییپانګه هم جوړه کړې. په زینو ختل، کانې او وېره د لاشعور د ژورتیاوو او ګډوډیو سمبولونه دي. په دې بنا، د خوب د انځوریزو پېښو په ساده ظاهري صورت او د هغه تر شا د خوب د پټې معنا ترمنځ ستر توپیر موجود وي. د یوه خوب په باره کې د واقعي پوهې لپاره د خوب لیدونکي د ژوند او چاپېریال په هکله باید پراخه معلومات په لاس کې ولرو. د دې برعکس، که همدا خوب ماشوم ووینې، نو ضرورت نشته چې په پټې معنا پسې یې سر وګرځوو، ځکه د ماشوم په ژوند کې لا کشمکش، محرومیت، ډسپلن او د ممنوعیت ترخو تجربو ګډوډې نه وي رامنځته کړې. له دې امله د کلتوري معیارونو، ټولنیزو ارزښتونو او د وجداني اوازونو تر فشار لاندې ماشوم تر اوسه پورې د دې اړتیا نه لري، چې خپل لاشعوري خواهشات په ظاهره د معصومو سمبولونو په بڼه بیان کړي. په دې اساس، د یوه ماشوم په زینو ختلو خوب ممکن د تېرې ورځې د واقعي ختلو د شخصي تجربې او مشاهدې یو یاد وي.

**پیشو د غوښې خوبویني**

ماشوم مو لوبې کوي. مشر ورور یې ناڅاپه راشي او د ماشوم ځورول پیل کړي. مور چې وګوري د

(c) ketabton.com: The Digital Library


دواړو جګړه زور نيسي، نو ټول لوبتوکي ترې په الماری کې بندوي، تر څو ماشومان له يو بل سره د لانجو سزا ووينی. د ماشوم چې لوبه په نيمه کې پاتې شي، نو په ذهن کې يې يوه ځورووونکې غوټه پاتې شي او که ماشوم ته تر دغې منفي پېښې وروسته خوب ورشي، نو ډېر احتمال شته چې په خوب کې د لوبې د بشپړولو پرېشانوونکې خواهش يې ډراماټيکه بڼه خپله کړي. په دغسې حالت کې ماشوم خپل ځان د لوبتوکو په منځ کې ويني او هغه ځورونکې مشر ورور يې په دوربين کې هم نه معلومېږي. دغه راز، بې وزلې ځپلې ماشوم په خوب کې د پيسو ډېرې ويني. له زده کړو سترې ماشوم په خوب کې د ښوونځي ودانۍ د سوځېدو په حالت کې ويني او وړې ماشوم عموماً د خوب په ډوډۍ کې په خيالي پلاو ځان مړوي.

«پيشو د غوښې خوب ويني» متل د ماشومانو د خوبونو په مطالعه کې ډېر زيات واضح کېږي. ليکوال ته د نړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې د کوچنيانو په زندانونو کې د بندي ماشومانو د خوبونو د څېړنې فرصت ورکول شوی دی. دغه ماشومان د ډول، ډول جرمونو په سزا کې په داسې ادارو کې زنداني کېږي، چې د زندان او ښوونځي يو امتزاج غوندې وي. د دې بدمرغه ماشومانو اکثره خوبونه د ځپل شويو خواهشاتو انعکاس وي. دغه بندي ماشومان معمولاً په خوب کې ويني چې په بازارونو کې ازاد ګرځي، په لويو ميدانونو کې لوبې کوي او په خپل کور کې له خويندو او ورونو سره مجلسونه او ګپ شپ لګوي. د پاکستان په يوه زندان کې يوه قاتل ماشوم ليکوال ته وويل چې يو ځل يې په خوب کې مقتول ليدلی وو. مقتول ورته ويلي وو، چې ته مې بښلی يې او ورځه ازاد يې. په دغه خوب کې له خوشي کېدو وروسته په ازاد ډول د ګرځېدو ځپل شوی خواهش په مستقيم ډول بيان شوی دی. په دې سربېره، ليکوال ته د بريتانيې په ګڼ شمېر زندانونو او ښوونځيو يا د ټيټ عمر مجرمينو په ادارو کې هم د مجرمو ماشومانو د خوبونو په هکله د څېړنو او تحقيق فرصت ورکول شوی دی. د دغو ماشومانو په خوبونو کې هم ليکوال د تروړل شوې خپلواکۍ د بېرته ترلاسي او په ډک زړه د چکرو او ساتېريو څپانده ارزوګانې ليدلې دي.

### په خوبونو يقين

د خوب ليدنې په وخت کې ماشوم په دې نه پوهېږي چې خوب ويني، بلکې فکر کوي، ګنې هر څه په واقعيت کې پېښېږي. د ماشومانو خوب يوه داسې غولوونکې تجربه وي چې له ماشوم څخه د واقعيت او افسانې او رښتيا و دروغو ترمنځ د توپير کولو وړتيا اخلي. بله ستونزه دا ده چې د خوب له ليدو وروسته په ويښه کې هم ماشوم تر ډېره پورې په همدې فکر کې وي، چې په خوب کې ليدلي شيان دروغ نه، بلکې ټول واقعيت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوه ماشوم خوب کې ليدلي وو، چې يو څوک د لوبو موټر په ډالۍ کې ورکوي. ماشوم په خوب کې موټر کلک له سينې سره نيولى وي. سهار چې پاڅېږي او يو خوا، بل خوا ګوري، موټر يې نشته. نوموړی «زما موټر»، «زما موټر» چيغې کړي او په ژړا پيل وکړي. په اصل کې خبره دا وه چې ماشوم د خوب خيالي موټر، واقعي موټر ګڼلى وو. د ماشوم لپاره دغه خوب يوه خوشالوونکې ذهني پېښه وه. په دغه پېښه کې د ماشوم يو لوی ارمان په دومره واضح بڼه بشپړ شوی وو چې ان په ويښه کې هم د ماشوم ځيرکتيا دا توپير نه شوی کولی، چې په خوب کې ليدلی موټر حقيقت وو او که يوه افسانه وه؟

## د ماشومانو او لويانو د خوب ترمنځ توپير

د زلميانو خوبونه دومره ساده او مخامخ نه وي، که د لويانو خوبونه هم د ماشومانو په څېر يوازې د ساده خواهشاتو تر بشپړېدو پورې محدود واى، نو د خوبونو څېړنه به ډېره اسانه شوې وه. د ځوانانو په ځينو خوبونو کې هم لوږه، تنده او جنسي خواهشات په مستقيمه بڼه څرګندېږي او له دې پلوه، د ځوانانو خوبونه هم د ماشومانو له خوبونو سره نږدې مشابهت لري. خو فرق يې دا دی چې بالغ وګړي داسې خوبونه ډېر کمويني، چې له دقيقو نغوتو او تاويل غوښتونکو غوټو پرته يې خواهشات په مستقيمه بڼه پکې بيان شي. مګر د دې برعکس د ماشومانو ډېری خوبونه د هغوی جسمي ارمانونه او ماشومانه ارزوګانې په مخامخ او تمثيلي بڼه بشپړوي.

## د وېرې او اضطراب انګېزې

د ماشومانو په خوب کې ډار، وېره او اضطراب هم يو محرک کېدلی شي. په ماشومتوب کې هسې هم ماشوم وېروونکي خوبونهويني. په ماشومتوب کې بې شمېره وېرې تر موږه چاپېرې وي او په دغه وخت کې له ماشوم سره د خپلې جسمي کمزورتيا او بېوسي ډېر تريخ احساس پيدا کېږي. ډېر کله ماشوم داسې احساسوي ګنې دی د کور او ښوونځي د بنديزونو پر وړاندې له يوې مخې بې وسه دی. له محروميته ډک، په دغه ډول چاپېريال کې د ماشوم پر ذهن هره شېبه وېره او نهيلي خپره وي او له دې امله د هغه د شخصيت مناسبه وده لوی زيان ويني. ماشوم چې د خپل ژوند هر اړخ د مشرانو په واک او چاپېريال کې بند ويني، نو ډېر زيات ځورېږي او د خپلواکي او يوازيتوب له خوندونو بې برخې کېږي. د ماشوم په تنوع خوښوونکي زړه کې زرګونه خواهشات څپې وهي، خو ماشوم له مجبورۍ هره هيله ځپي. په هره خبره سزا او قدم په قدم د ګواښ له وېرې ماشوم په پرلپسې ډول له ذهني فشار او اضطراب سره مخ وي. همدا ذهني حالت د ماشوم په هغو خوبونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې بیانېږي، چې په لیدو یې بې واکه له خوبه را بیدار شي.

ماشوم مو د کور له تیاره گوټونو ډارېږي. تاسو یې د کوم کار لپاره لاندې خونې ته لېږئ، خو ماشوم مو پلمې جوړوي. خو که تاسو گواښونه ورته وکړئ، نو د ماشوم پر ذهن له تیارې سره، سره د سزا وېره هم خپره شي. دا چې خوبونه د ورځني ژوند د پېښو په تړاو د ماشومانو ذهني غبرگون وي، نو ځکه دا ډول ماشومان عموماً په خوب کېویني چې له تیارې کلا نه «پېرى» یا مار راوتلى او د ده په خوا ور روان دى یا دا چې پلار جان یې لښته پسې راخیستي او دربوي یې. ځینې وختونه دغه ډول گډوډ خوبونه دومره وېروونکې بڼه اخلي چې له ډېرې وېرې د ماشوم بولې خطا شي او د دې امکان هم ورسره زیاتېږي، چې ماشوم په خوب کې د غړېدو او گرځېدو په ناروغۍ اخته شي.

ځینې ماشومان فطرتاً ډارن وي. په وړه تېروتنه یې په ذهن کې ډول، ډول وسواسونه او اندېښنې پیدا کېږي. «که مې مور خبره شوه، نو زه به څه کوم»، «وای، هغه پلانکى مې پلار ته شکایت ونه کړي». همدغه وسواس او وېره یې په ذهن مسلط او د خوب په بڼه تمثیلېږي. د دغه ډول ماشومانو ورځني خوبونه بیا تقریباً په دې ډول وي: «کومې پیسې مې چې د مور له بټوې نه غلا کړې وې، مور مې پرې خبره شوې او اوس زما ډبولو ته را روانه ده.»؛ «زه په ختو کې نښتى یم او له څلورو خواوو لړمان او ماران د چیچلو لپاره را څښېږي.» د دغه ډول وېروونکو خوبونو په لیدو، ماشومان ناڅاپه له خوبه را ویښ شي.


**د وېروونکو خوبونو درملنه**

د ښوونکو او والدینو په توگه دا ستاسو مسؤلیت دی، چې د ماشوم د رواني ژوند ټول اړخونه وڅارئ او د امکان تر بریده کوشش وکړئ، چې د ماشوم له چاپېریال څخه مو وېره او اضطراب لرې وي. د ماشوم د ودې په بېلا بېلو پړاوونو کې خپل ماشوم ته مناسبه خپلواکي او معقول اختیار ورکړئ. دغه ډول روغتیایي روزنه په ماشوم کې د وېروونکو خوبونو د لیدو احتمال کموي.

که ماشوم مو ډېر زیات وېروونکي خوبونه ویني، نو واضحه معنا یې دا ده چې روزنه مو ارومرو بنیادي نیمگړتیاوې لري، چې له امله یې ماشوم خوشاله، بېباکه او بې جنجاله ژوند نه شي کولی. که څه هم دغه حالت ډېر د اندېښنې وړ دی، خو علاج یې دومره سخت نه دی. له ماشوم سره مو د مناسبو لوبتوکو او ښو ملگرو په لټون کې مرسته وکړئ. له دې ډډه وکړئ، چې د هغه مشروع غوښتنې تر پښو لاندې کړئ. هغه ماشوم چې له خوشالیو ډک چاپېریال کې لوی شوی وي، د هغه په خوبونو کې وېره او اندېښنې ډېرې کمې لیدل کېږي، آن د دغه ډول ماشوم لپاره پخپله خوب

(c) ketabton.com: The Digital Library


لیدل هم یو تفریحي فعالیت ګرځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**څپرکی: نهم**




## د ماشومانو جرمونه

د ماشومانو په معصوم فطرت شاعرانو خورا ښکلي شعرونه ليکلي. خو ارواپوهان، ښزاره ښوونکي او اندېښمن والدين په دې ډېر ښه پوهېږي چې ماشوم څومره معصوم او بې ګناه وي!! ماشومان په طبيعي ډول با اخلاقه نه وي، بلکې پرلپسې معقوله روزنه او پالنه په ماشوم کې ښه خويونه پيدا کوي.

په وړو، وړو تېروتنو سربېره، ماشومان ګڼ جرايم هم سرته رسوي. خپل يا مقابل جنس وګړو سره لانجې، فحش خبرې او ډول ډول جنسي کړنې او بې لارې د ماشومانو د جنسي جرمونو يوازې يو څو ډولونه دي. د غوسې له لاسه له ټولنې بغاوت، شخړه و جګړه، قتل او وژنې، ځانوژنه، په نورو ماشومانو او حيواناتو ظلم، سپين سترګي، تور پورې کول، د لويانو سپکاوی، په غچ يا شوخي کې د نورو توکو ته زيان اړول، اور لګونه، خيرات غوښتل، تېر ايستنه، غلا او لوټل، شپې بهر تېرول او لوچکې د ماشومانو د خوښې وړ جرايمو يوازې يو څو ډولونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د بېګناه ماشومانو په هکله زموږ ناسم لیدلوری

نن ورځ ټولې نړۍ په ډېر جدیت سره د خپلو مجرمو ماشومانو اصلاح او روزنې ته مخه کړې، په دې چې دغه خبره اوس تر پخوا ډېره روښانه شوې، چې همدا کوچنی مجرم په زلمیتوب کې د ټولنیز نظم د ګډوډۍ مسؤل ګرځي. له دا ډول ماشومانو سره څه پکار دي؟ دا یوه پېچلې ستونزه ده. موږ چې پر یوه ماشوم د «بد»، «شوخ»، «نه اصلاح کېدونکی»، «شر پسنده» او داسې نورې ټاپې ووهو، نو فکر کوو، چې خپل مسؤلیت مو سرته رسولی دی. په ماشوم د «قاتل»، «تالاګر»، «غل» او داسې نور نومونه ایښودل یا مازې په سزاګانو غور کول، د باغي ماشوم د اصلاح یوه لاره هم په ګوتو نه را کوي. نو په دې ځای کې پوښتنه دا ده چې کله یو ماشوم جرم سرته ورسوي، نو څه ډول چلن ورسره پکار دی؟ آیا محکمې ته یې کش کړو، او لاس یې ور پرې کړو؟ او که یوازې په تنبیه اکتفا وکړو؟ تلپاتې بندیز پرې ولګول شي؟ او که د ښوونکو او مور او پلار پاملرنې ته پرېښودل شي؟ د لویو مجرمانو په څېر، ده ته هم د قانون له مخې سزا ورکړو او که یوازې جریمه شي؟ د مجرمو ماشومانو د اصلاح او تربیې لپاره څه وکړو؟ که د ماشوم د اصلاح تمه نه وي، نو ایا اعدام دې شي او ټولنه دې له دغه «ناولي» وجود څخه پاکه شي؟ دغو پوښتنو ته معقول ځوابونه یوازې د ماشومانو د جرایمو له علمي تحقیق وروسته لاسته راتلی شي. د ماشومانو د چاپېریال او نورو لاملونو له تجزیې پرته یوازې په جرم تمرکز کول، یوه غیر ساینسي تګلاره هم ده او زیانمنه کړنه هم.

## اروا پوهنیزه تګلاره او قانوني تګلاره

د ماشوم جرم یو داسې ذهني سمبول دی، چې اصلي علتونه یې هم ذهني دي. اروا پوهنه د ذهن فعالیتونه څېړي. پر کوچني مجرم ځان پوهول له همدې اروا پوهنیزو اصولو عملي استفاده ده. په غل ماشوم کې غلا مازې یو سمبول ده. که ماشوم زندان ته واچوئ، نو ټولنه د لنډ مهال لپاره خو د دغه ناوړه سمبول له زیانونو ژغورلی شئ، خو د نوموړي سبمول اصلي علتونه مو له پامه غورځولي دي. د غله ماشوم په هکله پولیس یوازې په دې ځان پوهوي، چې ماشوم څه، کله او چېرته غلا کړې او د دغه «جرم» لپاره د سزا ډول وړاندیزوي. خو د مجرم ماشوم په مجبوریتونو له ځان پوهولو وروسته، په څه ډول د نوموړي سمه درملنه وشي، چې په راتلونکي کې د جرایمو له دامه ځان خوندي وساتي او په متمدن ژوند کې خپل طبیعي او حقیقي مقام ولټوي؟ د دغه مهم اصلاحي اړخ په برخه کې موږ ټول له غفلته کار اخلو او زموږ په ماشومانو کې د جرم د زیاتېدو تر ټولو لوی لامل همدا دی. د اروا پوهانو تګلاره د حکومت له دې سرسري او غیرعلمي تګلارې سره ډېر زیات توپیر لري. اروا پوهنیز میتود دا دی، چې په جرم سربېره، مجرم هم په بشپړ ډول وڅېړل شي. د مجرم د

(c) ketabton.com: The Digital Library


تېر او اوسني ژوند په هکله دې معلومات را ټول شي او د دغو معلوماتو له مخې دې د نوموړي د ژوند بشپړ چوکاټ چمتو او بیا دې د هغه د اصلاح لپاره مناسب علمي ګامونه پورته شي.

### د کور دننه او بیرون چاپېریال

ارواپوه په دې ځان پوهوي، چې د ماشوم د جرم اصلي نوعیت څه دی؟ یعنې دا چې د جرم د سرته رسولو په وخت کې د ماشوم فکر، خواهشات او احساسات څه وو؟ او د جرم اصلي انګېزه یې څه وه؟ ممکن ماشوم د کوم ذهني یا جسمي عیب له لاسه دغه کار کړی وي، ځکه نو ارواپوه د ماشوم ځیرکتیا، اخلاق، عادتونه، احساسات او بوختیاوې ټول په غور تر څېړنې لاندې نیسي او له دې علاوه، د هغه جسمي روغتیا هم له پامه نه غورځوي.

د مجرمو ماشومانو د تشخیص او درملنې لپاره چې ارواپوهان کومو ټکو او فکتورونو ته خاصه توجه کوي، له هغو ځنې یو څو یې په لاندې ډول دي:

۱) نېستی ځپلې کورنۍ

۲) د کورنۍ خراب وضعیت

۳) تر کورنۍ بهر چاپېریال

۴) د چاپېریال په وړاندې د ماشوم غبرګون

### نېستی ځپلې کورنۍ

د ماشومانو مادي او معنوي ماحول د هغوی د جرایمو لپاره یو لوی محرک دی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې «نېستي انسان کفر ته رسوي». د نوې ارواپوهنې موندنې هم همدغه حقیقت راته روښانوي، چې کوچني مجرمان زیاتره د همدې نېستۍ ځپلو کورنیو «نازولي ماشومان» وي. په خیرنو سیمو او تنګو او تیارو کورونو کې مېشت نېستمن ماشومان چې له ښوونې او تفریح نه بې برخې پاتې وي، د خپلو والدینو د اقتصادي ستونزو له کبله ښه خواړه او جامې نه ور رسېږي، نو د دغې بې اندازې نېستۍ په مقابل کې غلا کول یو طبیعي عکس العمل دی.

لیکوال عموماً لیدلي، چې د ماشومانو په زندانونو کې د کوچنیو غلو او تالاګرو لوی شمېر له همدغه شان بدمرغو سیمو څخه وي، چې د بهر بې خونده چاپېریال او په کورني ماحول کې تنګلاسي او نېستي یې د ژوند تریخ وضعیت لا زیات کړکېچن کړی وي. د تنګ کور له لاسه د

(c) ketabton.com: The Digital Library


کورنۍ ټول غړي په یوه خونه کې پراته وي. په داسې حالت کې مور او پلار د خپل ګډ ژوند په فعالیتونو کې ډېر کم احتیاط او خلوت مراعتولی شي. د جنسي اختیار او خلوت نشتوالی پخپله د مور او پلار ارامتیا هم له منځه وړي او بل تر ډېره وخته په ماشومانو باندې هم خپل اثر او رسوخ نه شي ساتلی. په کور کې د نوو لانجو ځورونکې ډرامې د ماشومانو د سترګو په وړاندې پېښېږي. په دغه ډول چاپېریال کې په جنسي فحشا سربېره غوسه او د اضطراب او غم سیوري هم غوړېدلي وي. د ماشومتوب دوره د لوبو او منډو دوره وي. په کور کې د خوراک او څښاک د مناسبو شیانو په نشتوالي سربېره، که د عادي تفریح توکي هم پیدا نه شي، نو د ماشوم لالهانده طبیعت لا زیات پرېشانېږي. په دغه ډول ماشومانو کې له والدینو نه په پټه دباندې وتل او په بازارونو او لوبغالو کې د شور او غوغا اچولو رجحان پیاوړی کېږي. دغه تفریحي لوچکي د وړو تېروتنو، شوخیو او شیطانیو ټول پړاوونه چې ووهي، نو په پای کې په منظمو جرایمو بدل شي.

## د کورنۍ خراب وضعیت

د کورنۍ خراب وضعیت هم ماشومان مجرمانه کړنو ته مجبوروي. د میرنۍ مور یا خویندو و وروڼو ناوړه چلند؛ د پلار یا مور او یا د دواړو مړینه د ماشوم پر ذهن، کړنو او شخصیت ناوړه اغېز ښندي. د والدینو له شفقت نه بې برخې ماشومان که په سم ډول ونه څارل شي، نو د ماشوم د ورانېدو احتمال زیاتېږي. په عادي کورونو کې ماشومان د څو کسانو لرونکې یوې داسې کورنۍ غړي وي چې د ماشوم د مختلفو تقاضاوو د پوره کولو لپاره یو نه یو سرپرست خامخا شتون لري. مور مینه ورکوي، د بېلا بېلو اړتیاوو لپاره یې پلار پیسې را ګټي. وړې خویندې او وروڼه یې د لوبو او ساتېریو ملګري وي او د نږدې عزیزانو او دوستانو تله راتله د ماشوم د ټولنیز ژوند خوند لا زیات کړی وي.

خو د دې بالعکس، د ناقصو یا جنګېره کورونو په ګډوډ عاطفي ژوند کې دغه ټولې هوساینې نه وي. په دغه ډول ناجوړه چاپېریال کې د ماشومانو شخصیت له منځه ځي. له حده زیات وهل او ډبول او یا تر حد زیاته مینه او ناز هم عموماً په ماشوم کې د ښو اخلاقو خواهش له منځه وړي. په جرایمو ککړو کورنیو کې خو د ماشوم هېڅ پوښتنه مه کوئ. د ماشوم لپاره یوازې په دې خبرېدل هم د ده لپاره یوه قوي انګېزه ده چې پخپله پلار یې هم د جېب وهنې په جرم کې په زندان کې دی او مور ته یې د جنس پرسته او فاحشو خلکو تګ راتګ عامه خبره ده. که د کورنۍ نور غړي هم تر خپله وسه په دې ډول ناوړه کارونو باندې روږدي وي، نو ورو، ورو ماشوم هم د هغوی رنګ اخلي. د شراب څښلو پر مهال د مور او پلار ترمنځ ښکنځلې او بد رد، لاس اچونه او د بې شرمۍ له لاسه د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماشوم له زړه نه د مور او پلار لپاره هغه پاتې درناوی او عزت هم ختم شي. د والدینو د عزت احساس له لاسه ورکول د ماشوم په زړه کې ځان او نورو عزیزانو ته هم د درناوي احساس ته ژوره صدمه رسوي او په دې سره د ماشوم د اخلاقو بنسټ کمزوری شي او ماشوم ته چې ټول کورنی چاپېریال مجرم واېسي، نو دی هم د جرم په تېر ایستونکي جال کې ښکېل شي.

د دغه راز ماشومانو د سم علاج لپاره ارواپوهان د ماشوم پورته یاد شوي ټول کورني حالات په ژوره بڼه څېړي او ټول اړخونه یې له علمي پلوه سنجوي، ورپسې د دغو بدمرغه ماشومانو د اصلاح لپاره ډول، ډول لارې په ګوته کوي. له مادي، اخلاقي او ټولنیز پلوه، د کورنۍ د ناوړه حالت د سمون او اصلاح هڅې کېږي. کورنۍ هڅول کېږي چې له ماشوم سره په خواخوږۍ چلند وکړي. د ماشوم د اصلاح یوه لاره دا هم ده چې مجرم ماشوم د کور له تباه کوونکې فضا څخه د مجرمو ماشومانو اصلاحي ادارو ته لېږل کېږي. په دغو ادارو کې مجرم ماشومان تر ټاکلې مودې پورې ساتل کېږي، د ماشوم تعلیم ته معقول چمتوالی نیول کېږي، ذهني او بدني روغتیا ته یې ځانګړې توجه کېږي او په ډول، ډول تفریحي فعالیتونو کې بوخت ساتل کېږي. د ماشوم په دې اصلاحي دوره کې هڅه کېږي چې ماشوم په داسې ډول وروزل شي، چې د جرم په لور یې میلان ختم شي او د اصلاح او پرمختګ ارزو یې زور ونیسي، څو بېرته چې ستنېږي، نو د یوه ښه ښاري کېدو جوګه ګرځېدلی وي.

## تر کور بهر چاپېریال

د ماشومانو په جرمونو کې کورني حالات ډېر لوی لاس لري، خو ماشومان یوازې تر خپل کوره پورې محدود نه وي او ډېر کله فقط خارجي چاپېریال د ماشوم د جرایمو مسؤل وي. تر کور دباندې چاپېریال په درې ډلو وېشلی شو:

الف) د ښوونځي یا کارځای چاپېریال

ب) تفریحي چاپېریال

ج) د ملګرو کړۍ

په ناوړه ښوونځیو کې درس ویل، د ښوونکو سزاګانې او د تعلیمي فرصت د نشتون په پایله کې ډېری ماشومان خواریو ته مجبوره کېږي. په دغو مزدوریو کې کارګر ماشوم ته د خپلې خوښې کار نه پیدا کېدل، کار ډېر او مزد کم او یا په کارځای کې ناوړه چلند او داسې نور هم د دې سبب ګرځي، چې په ماشوم کې د جرایمو په لور تمایل وده ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ناقصه تفریحي چاپېریال اغېزې هم بې شمېره دي. د لوبو لپاره د مناسب لوبغالي نشتوالی، په چټلو کوڅو کې له ورانو ماشومانو سره لوبېدل، د سېنما او سیګرټو بې بریده مینه، د زیانمنو تفریحي فعالیتونو مثلاً له قمار او شرط تړلو سره علاقه ښه ماشومان هم په لنډ وخت کې د تباهۍ کندې ته غورځولی شي.

د ماشوم د ملګرو کړۍ د ماشوم د شخصیت په وده کې بې سارې رول لوبوي. د ځان ګرايي له امله د ملګرو نشتوالی یا له جاهلو، بې لارې او مجرمو ماشومانو سره انډېوالي او تر ځان لویو ماشومانو یا ځوانانو سره ناسته پاسته، ماشوم ته ډېر زیات تاوان رسوي. د ماشومتوب غلط ملګري د ژوند په ابتدا کې لا ماشوم په داسې بې لاریو اړوي، چې په ځوانۍ کې د هغو لارو پرېښودل ډېر زیات ستونزمن کېږي.

که د جرم لاملونه له کور نه بهر چاپېریال پورې مربوط وي، نو بې لارې ماشوم یو څه اسانه او په بریالیتوب سره اصلاح کېدلی شي. د ماشومانو ځانګړي کلبونه جوړول، له مور او پلار سره یې په یوه ښه کلي کې د مېشتېدو په برخه کې کومک کول، ماشوم په ښه ښوونځي کې شاملول، خواري کښو کارګرو ماشومانو ته په ښو شرکتونو کې د هغوی د خوښې کار پیدا کول، له کور نه بهر د غوره تفریحي اسانتیاوو برابرول، د ماشومانو د ساتنې قوانین او مقررات نافذول، د جرمونو د مخنیوي یو څو بهترینه لارې دي. د دې پر ځای، ماشوم ته سختې سزاګانې ورکول او یا د ماشوم بندي کول، له یوه اړخه هم مناسبه نه ده.

## د چاپېریال په مقابل کې د ماشوم غبرګون

د چاپېریال په تړاو د ماشوم خپل ځانګړی غبرګون ډېر مهم دی. ناوړه چاپېریال د ماشوم پر ذهن ډېر ناوړه اغېز ښندي او د چاپېریال اړوند د ماشوم فردي عکس العمل د جرم لوی لامل ګرځي، نو ځکه ارواپوهان د چاپېریال له ارزونې وروسته د مجرم ماشوم ذهن هم تر څېړنې لاندې نیسي. ارواپوه د ماشوم د بدني، ذهني او رواني اړخونو له ژورې ارزونې وروسته هڅه کوي چې پر دې پوه شي چې د ماشوم هغه کوم دروني عیبونه دي، چې د بهرني چاپېریال په تړاو یې د دغه جرمي چلند خپلولو ته لمسوي. تر دې وروسته، د ماشوم دغه ذهني غوټې او عاطفي اختلال په مناسبه بڼه تداوي کېږي او له دې لارې په ماشوم کې د جرم خوښونې په احساس کې لوی کمښت رامنځته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د جرايمو اساسي لاملونه**

تنها يو لامل د ماشومانو د جرمونو مسؤل نه وي، بلکې معمولاً څو عناصر يو بل ته لاس ورکوي او د يوه جرم لامل جوړېږي. د ماشومانو د جرمونو اساسي لاملونه کوم دي؟ دغه قضاوت ته رسېدل اسانه کار نه دی. د مجرمو ماشومانو پر اروا پوهنه د پروفيسور سرل برټ څېړنو نړيوال شهرت موندلی دی، په بريتانيه کې د نوموړي تر لارښوونې لاندې ليکوال هم د کوچنيو مجرمانو د اصلاح او روزنې فرصت ترلاسه کړی دی. نوموړي پروفيسور په خپل کتاب «کوچني مجرم» کې د جرم لاملونه د اهميت له مخې په لاندې ډول ترتيب کړي:

۱) ناقصه تربيه

۲) د بېلا بېلو فطري غوښتنو شدت – لکه لوږه، شهوت، غوسه، هوس، بې لارې، تجسس، ډله ييز طبيعت، او داسې نور.

۳) په عاطفي ژوند کې ګډوډي.

۴) له ذهني غوټو نه رامنځته شوي ناوړه عاطفي حالات.

۵) د ګناه او جرم کورنی روايت.

٦) ذهني کمزوري، کند ذهني او داسې نورې ذهني ګډوډۍ

۷) زيانمن فعاليتونه، مثلاً سيګرټ څکول، سينما ته تلل او داسې نورو کارونو ته تلوسه

۸) د ودې اړوند فکټورونه، مثلاً د بلوغت پاروونکې دوره.

۹) د ذهني کمزورۍ کورنی روايت.

۱۰) ناوړه کورنی وضعيت لکه مېرنۍ مور، د پلار مړينه يا پرلپسې له کور نه مسافري او داسې نور.

۱۱) د بيروني چاپېريال اغېزې – لکه د کوڅې، بازار يا کلي بې لارې ملګري او د ښو تفريحي اسانتياوو نشتون.

۱۲) د ليونتوب په څېر ذهني ناروغيو اړوند کورنی روايت.

۱۳) د بدني کمزورتيا په تړاو کورنی روايت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۴) بې وزلي او نېستي.

۱۵) د ماشوم خپله بدني ناتواني.

## د عاطفي فکټورونو ارزښت

په ټوله کې عاطفي فکټورونه تر نورو ټولو هغو ډېر زيات اهميت مومي، ليکوال د پاکستان او بهرنيو هېوادونو په زياتره مجرمو ماشومانو کې د عاطفي انډول نشتون يا نيمګړتيا ليدلې. دا چې په عاطفي ژوند کې ګډوډي د ماشوم د جرمونو تر ټولو اساسي لامل دی، د برټ، بالبي، هيلې، برونر، ګلوکس، شا، ريکليس او د مجرمو ماشومانو د ارواپوهنې د نورو نوميالیو څېړو له څېړنو هم روښانه ده.

## د جرايمو مخنيوی

پروفيسور برټ د ماشومانو د جرايمو د مخنيوي لپاره لاندې لارې وړانديزوي:

۱) په لومړيو کې بايد جرم پسنده ماشومانو ته مناسبه توجه وشي او مور و پلار دې هېڅ کله دا نه هېروي، چې په ښوونځي کې تر شاملېدو مخکې دوره د ماشوم د ژوند ټاکونکې دوره وي او په همدې ابتدايي دوره کې د ماشوم د اخلاقي او عاطفي شخصيت بنسټ رامنځته کېږي. ښوونکو ته پکار ده چې کوچنيو ماشومانو ته ځانګړې توجه وکړي او د ټاکلي تعليمي نصاب په څنګ کې عاطفي او اخلاقي تعليم او تربيه هم له پامه ونه غورځوي. په ماشوم کې چې د ټولنې ضد کړو وړو علايم تر سترګو شي، نو ښوونکي ته پکار ده چې د سملاسي مخنيوي لپاره يې ګامونه پورته کړي. دغه کار د مور او پلار په همکارۍ په ډېره ښه طريقه سرته رسېدلی شي. په دې سربېره، د مکتب له فراغت وروسته هم د ماشوم په ټولنيزو فعاليتونو پاملرنه او د لارښوونې لپاره يې بايد مناسبې لارې چارې په پام کې ونيول شي.

۲) مجرم ماشومان چې پوليسو او محکمې ته وسپارل شي، نو له هغه وروسته هم د دې په ځای چې ټولنيز فعالان د خپل مسؤليت د ختمېدو احساس وکړي، پکار ده چې په دغه اساسي فعاليت کې پرلپسې خپله ونډه واخلي.

۳) يوازې د جرم پر ځای مجرم بايد په ژوره توګه وارزول شي. د دې په ځای چې مجرم ته د هغه تېروتنې ور وشمېرئ، پکار ده چې د هغو په لاملونو پسې خواري وشي او يوازې د سزا ورکولو په ځای د هغه د ناروغ ذهن لپاره مناسب علاج وړانديز شي. دغه راز، د ماشومانو لپاره بايد اروايي

(c) ketabton.com: The Digital Library


روغتونونه جوړ شي او په لاندې ځانګو کې دې کارکوونکي پکې وګومارل شي:

الف) د مجرم د کورني چاپېريال د بشپړې ارزونې لپاره – ټولنيز فعال،

ب) د مجرم د طبي معاينې او علاج لپاره – ډاکټر،

ج) د مجرم د ذهني تجزيې او جرم ته اړ ايستونکو مواردو د موندلو لپاره – اروا پوه.

۴) له سزا يا اصلاح نه مخکې بايد دا وکتل شي چې زموږ سزا يا د اصلاح لاره د مجرم له وضعيت سره مناسبه ده او که نه؛ ټول مجرمان په يوه روش تداوي کول سم کار نه دی. له علاج يا سزا وروسته هم بايد ماشوم ته جدي توجه وشي، چې بېرته خپلو جرمي کړنو ته ور ونه ګرځي.

۵) د جرايمو په علتونو او د اصلاح پر لارو د تحقيق لپاره بايد په کالجونو، پوهنتونونو او ټولنيزو څېړنيزو ادارو کې د جرم پېژندنې ځانګې جوړې شي او له هرې ممکنه لارې دې د جرمي اروا پوهنې نوې موندنې تر عامو خلکو ورسول شي.

٦) د ماشوم لپاره مناسب استوګنځی، طبي درملنه، دلچسپه تعليم، په ښوونځيو کې د ماشومانو اروا پوهنيزه مطالعه، روغ صنعتي چاپېريال، د تفريح لپاره غوره اسانتياوې، د نفوسو د کنټرول پلان ګذاري، د غوره نسل وده او دې ته ورته مواردو په برخه کې بايد مناسب ګامونه واخيستل شي او د ماشومتوب د مسايلو د هر اړخيزې څېړنې لپاره بايد منظمه زمينه مساعده شي.

## په غربي هېوادونو کې مجرم ماشومان

يوه موده وړاندې ليکوال د ملګرو ملتونو په ملاتړ د بريتانوي ماشومانو پر جرمونو باندې د اوږدو څېړنو فرصت ترلاسه کړ. په بريتانيه کې د سرغړوونکو ماشومانو د مطالعې او درملنې لپاره بې شمېره ادارې جوړې دي او ليکوال له دې ادارو نه ډېر زيات اغېزمن شوی. په دې لنډه څېړکي کې پر دغو ټولو ادارو تفصيلي خبرې امکان نه لري، خو لاندې به د مجرمو ماشومانو د محکمو سترګو ليدلی حال په لنډ ډول وليکو:

## په بريتانيه کې د مجرمو ماشومانو محکمې

د ۱۹۰۸ز کال د ماشومانو د قانون (چلډرن ايکټ) له مخې، په بريتانيه کې د ماشومانو محکمې رامنځته شوې، تر دې وړاندې هم په يو شمېر سيمو کې دغه ډول محکمې وې، خو دولتي حيثيت يې نه درلوده. د ماشومانو محکمو ته يوازې هغه مجرمان راوستل کېږي، چې عمر يې د اتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوولسو ترمنځ وي. د دغو محکمو موقعیت، د هغو تشکیل او د پلټنو طرز له عامو محکمو سره ډېر توپیر لري.

د ۱۹۳۳ز کال د زندان ته استول کېدونکو ماشومانو له قانون سره سم، د ماشومانو محکمه باید د نورو محکمو له ودانۍ سره توپیر ولري او که ممکن نه وي نو بیا دې د ماشومانو قضیې او نورې عادي قضیې په بېلو، بېلو وختونو کې ترسره شي، تر څو کوچني مجرمان له بالغو مجرمانو څخه د امکان تر بریده لرې وي. په لندن او ګڼو نورو لویو ښارونو کې د ماشومانو د محکمو لپاره ځانګړې ودانۍ جوړې شوې، خو په ډېری ولسوالیو کې د ماشومانو د قضیو په شمېر کې د کمښت او د ځای د نشتوالي له کبله د ماشومانو قضیې د عادي محکمو په بېلو برخو کې اورېدل کېږي.

**د ماشومانو د محکمې غړي**

د ماشومانو د یوې عادي محکمې نقشه څه نا څه دا ډول وي. خونې ته چې ور ننوځې، مخامخ قاضیان په څوکیو ناست وي. د قانون له مخې د دغو قاضیانو شمېر له دریو ډېر نه شي کېدای او لږ تر لږه یوه ښځینه قاضي هم باید ولري. د قاضیانو لپاره اړینه نه ده چې قانون پوه وي، خو د کورنیو چارو له هدایاتو سره سم دا ضرور ده چې یاد قاضیان د ماشومانو په چارو او د هغوی په ټولنیزو مسایلو پوه او معلومات پکې ولري. دغه قاضیان عموماً د اړوندو سیمو مخور خلک وي، چې په خپلو شخصي کارونو سربېره د ټولنې په خیریه او اصلاحي کارونو کې هم په ډېره لېوالتیا برخه اخلي. یادو قاضیانو ته معاش نه ورکول کېږي. د دوی له ډلې یو د محکمې مشر وي، چې په منځ کې ناست وي او دوه نور یې ښي او کیڼ اړخ ته ناست وي.

د مشر قاضي ښي لور ته د قانوني کاتب ځای وي. نوموړی د محکمې معاش لرونکی کارمند وي او د ده لپاره لازمه ده، چې حقوق پوه وي. یاد کاتب د محکمې د اورېدو په وخت کې قاضیانو ته په قانوني مواردو کې مشورې ورکوي، نو ده ته د محکمې قانوني مشاور هم ویلی شو. د مشر قاضي کیڼ لوري ته منشي ناست وي، د منشي په مېز د انجیل کتاب ایښی وي. له شاهدانو څخه په انجیل لوړه اخیستل او د محکمې په خونه کې د قانون له مخې نظم او ډسپلین ساتل، د منشي له دندو څخه وي.

قاضیانو ته مخامخ د مجرم ماشوم د درېدو ځای وي او تر دې شاته د ماشوم د مور او پلار یا سرپرست کسانو لپاره څوکۍ ایښودل شوې وي. تر دغو څوکیو شاته، سیمه ییز چارواکي، د پولیسو افسران او خبریالان ناست وي. د محکمې دواړو اړخونو ته د شاهدانو، د بشرپوهنې زده کوونکو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


عادي وګړو لپاره د ناستې ځای برابر شوی وي.

### د پلټنې پیل

ماشوم چې محکمې ته دننه شي، نو قاضیانو ته مخامخ ودرېږي. تر شا یې مور او پلار په خپلو ځایونو کېني او په دې ډول د عدالت پلټنه پیل شي. ماشوم ته په ډېره ارامه او نرمه ژبه پر ده لګېدلی جرم اورول کېږي، بیا ترې پوښتنه کېږي چې آیا دا رښتیا دي چې پلانکی د قانون خلاف کار دې ترسره کړی؟ په دغو محکمو کې لیکوال ولیدل، چې په بریتانیه کې اکثره مجرم ماشومان له هر ډول بانو او پلمو پرته په خپل جرم اعتراف کوي.

تر دې له مخې چې ماشوم محکمې ته راوستل شي، د مجرم ماشوم په باره کې ټول اړین تحقیقات د بېلا بېلو راپورونو په بڼه را ټولېږي. مثلاً، د والدینو راپور، د ښوونځي راپور، د اروا پوه راپور، د مجرمانو د ښوونکي راپور، طبي راپور، او داسې نور. دغه راپورونه د ماشومانو د ژوند د بېلا بېلو اړخونو په تړاو پوره علمي مشاهده وي، چې بېلا بېلو کسانو، په بېلا بېلو وختونو کې له بېلا بېلو لیدلورو برابر کړي وي.

### محکمه، یو څېړنیز ارګان

د محکمې په جریان کې هڅه کېږي، چې د یادو راپورونو په رڼا کې د جرم د شالید په هکله پوهه ترلاسه شي. د دغو راپورونو له لارې د اړوندې قضیې په تړاو محکمې ته هر اړخیز معلومات په لاس ورشي. د محکمې پر مهال چې کله د ماشوم پر ټولنیزو، اروایي او یا طبي اړخونو بحث کېږي، نو له همدې را پورونو څخه د اړوند راپور حواله پرې ورکول کېږي او که په کوم اړخ کې لا زیاتو معلوماتو ته اړتیا وي، نو محکمه د څه مودې لپاره ځنډول کېږي او په دغه وخت کې مطلوب معلومات لاسته راوړل کېږي.

په یادو راپورونو باندې له غور کولو څخه د محکمې هدف دا وي، چې قاضي خپله ټوله توجه یوازې پر جرم را ټوله نه کړي، بلکې دغه ټول اړین اسناد هم په ژوره توګه ورازوي، چې په جزوي یا کلي توګه یې ماشوم د ټولنې ضد فعالیتونو ته لمسولی وي. کله چې په محکمه کې یاد راپورونه تر څېړنې لاندې نیول کېږي، نو د محکمې خونه د ټولنپوهنې او اروا پوهنې یوه څېړنیزه اداره ښکاري. د پلټنې د دغه ځانګړي طرز په اساس، د ماشومانو محکمه له عامو محکمو سره امتیازي توپیر لري. لیکوال به چې په بریتانیه کې د ماشومانو هرې محکمې ته ورته، نو د محکمې په جریان کې به د یوه وچ قانوني ماحول په ځای یوه واقعبینه فضا په نظر ورتله. د سماعت په وخت کې قاضي او شاهدان

(c) ketabton.com: The Digital Library


په مجرم ماشوم هم بحث کوي، خو دغه ټوله لړۍ په ډېر زغم او مینه ناک ډول سرته رسېږي او ټوله پلټنه د ماشوم د جرم اصلي لامل ته د رسېدو او د مناسبو حل لارو د موندلو په موخه یوه رښتیني او خالصه هڅه بریښي.

**د محکمې صلاحیتونه**

کله چې جرم ثابت شي، نو محکمه دوه ډوله صلاحیتونه لري:

لومړی – اصلاحي

دوهم – جزايي

د وړو، وړو تېروتنو او د لومړي ځل لپاره په کوچني جرم عموماً خبره په ضمانت پای ته رسېږي، خو که قاضي ښه وګڼي، نو ماشوم ځانګړې «پاملرنې» وسپارل کېږي. ماشوم پاملرنې ته ورکول، په دې معنا وي چې ماشوم تر یو څه مودې پورې له سیمه ییزې چارواکو څخه یوه مناسب غړي ته سپارل کېږي او په دې ټوله موده کې د ماشوم کړه وړه په منظمه بڼه څارل کېږي. په دې سربېره، محکمه کولی شي چې مجرم د مجرمو ماشومانو یوه ثبت شوي ښوونځي یا زندان ته ولېږي او ۱۹۴۸ کال د جزايي محکمې د کوډ له مخې، له محکمې څخه د وهلو صلاحیت اخیستل شوی دی.

اوسمهال، د ماشومانو د محکمې جزايي واک یوازې تر ناڅېزه جریمو او مناسب بند پورې محدود دي. محکمه، ماشوم له دوو پونډو څخه ډېر جریمه کولی هم نه شي او که مجرم ماشوم جریمه نه شي ورکولی، نو بېرته د اظهاراتو خونې ته وړل کېږي، چې دلته هم له یوې میاشتې زیات نه شي ساتل کېدای. که محکمه په دې ګومان وي، چې ممکن ماشوم کوم لوی جرم یا بد اخلاقي ترسره کړي، نو بیا د اظهاراتو مرکز ته لېږل کېږي؛ خو که کوم ځای د اظهاراتو مرکز نه وي، نو په دغسې ځایونو کې مجرم ماشومان په ځانګړو ادارو کې ساتل کېږي.

که په دې اړه کافي شواهد پیدا شي، چې د ماشوم په جرم کې مور او پلار یې هم لاس درلوده، نو محکمه هغوی هم جریمه کولای شي یا د قانوني پاملرنې په جریان کې د ماشوم لګښتونه ترې اخیستلی شي.

**محکمې ته وړاندې کېدونکي ماشومان**

په مجرمو ماشومانو سربېره، یادو محکمو ته لاندې ماشومان هم راوستل کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱) بې سرپرسته ماشومان،

۲) د والدينو د بد چلند ښکار شوي ماشومان،

۳) د والدينو له کنټرول نه وتلي ماشومان،

۴) د بدو ملګرو ښکار شوي ماشومان،

۵) داسې ماشومان چې په نږدې وخت کې ترې د جرم د ترسره کېدو اندېښنه وي.

دا ډول ماشومان عموماً د پوليسو او د زندان له ښوونکو علاوه، د ماشوم د کورنۍ د غړو په مرسته هم محکمې ته راوستل کېږي، نو په دغه برخه کې زياتره په کوڅو او بازارونو کې کم عمره بې لارې نجونې هم محکمو ته راوړل کېږي. ډېری وختونه چې ستومانه مور او پلار ووينې چې شوخ ماشوم يې نور د واک له دايرې وتلی دی، نو پخپله مور او پلار يې د ماشومانو محکمو ته مخه کوي.

## د قضيې اورېدنه او د لاملونو موندنه

د قضيې اورېدنه خورا زړه راښکونکې او له معلوماتو ډکه پروسه وي. د اورېدنې په دوران کې ګڼ هغه فکتورونه روښانه کېږي، چې د ماشومانو د جرم اصلي لامل جوړوي او په زياتره قضيو کې د ټولنيزو او چاپېريالي عناصرو ارزښت ډېر ښه واضح کېږي. د مجرمو ماشومانو زياتره شمېر د بې وزله کورنيو څخه وي. نېستۍ ځېلي مور او پلار ډېر کم لوستي وي او ډېر کله پخپله هم په جرايمو کې ښکېل وي. دغه ډول والدين خپل ماشومان په نيمګړو معيارونو تربيه کوي او په دغې ناقصې تربيې سربېره د ژوند له پرلپسې سختيو نه هم چې ماشوم په تنګ شي، نو د جرايمو نړۍ ته پناه يوسي. د دې ډلې مجرمان عموماً په غلا اخته کېږي. د ټولنيزو عناصرو تر څنګ، په دغو محکمو کې د ناوړه چاپېريال اهميت هم روښانه کېږي. ليکوال ليدلي چې د لندن په ختيځو برخو کې محکمو ته نسبتاً ډېرې قضيې راځي. په دغه سيمه کې چټل، تنګ و تياره کلي ډېر زيات دي. دا چې په چټلو سيمو کې د جرم او بد اخلاقيو امکانات زيات وي، د دغو محکمو له ګڼه ګوڼې ډېر ښه په ډاګه کېږي.

د بريتانيې د ماشومانو په محکمو کې يوې خوا ته چې د بې لارې ماشومانو کړه وړه د قانون په تله کې تلل کېږي، نو بل خوا د تولنې ټول هغه تياره او بوين اړخونه هم واضح کېږي، چې د قانون خلاف کړو وړو اصلي لاملونه جوړوي. په دې اساس، دغه محکمې د انصاف او عدالت په ارګان سربېره ګټور ملي مرکزونه هم دي، چې د بريتانيې په ټولنيز او متمدن ژوند کې له لوړ مقام نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


برخمن دي.

## د مجرمو ماشومانو د څېړنې اداره

د بریتانیې تر ټولو مشهوره اداره «د ماشومانو د جرایمو څېړنیز او معالجوي انسټیټیوټ» دی، چې په لندن کې موقعیت لري. د یادې ادارې په ملاتړ، د نړۍ له ګوټ، ګوټ څخه وتلي اروا پوهان د ماشومانو پر جرایمو بېلا بېلې څېړنې ترسره کوي. دغه انسټیټوټ درې میاشتنۍ تحقیقي مجله هم نشروي او پر دغه موضوع د لېکچرونو او د کتابونو د چاپ په برخه کې هم کار کوي. په دې سربېره، د مجرمو ماشومانو د ځانګړې درملنې لپاره یو کلینک هم لري. د یاد انسټیوټ د مستقل پاکستاني غړي په توګه لیکوال هم د دغې ادارې له بېلا بېلو څانګو څخه ګټه اخیستې ده.

## د سملاسي پاملرنې اړتیا

په همدې ډول په امریکا او د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم د مجرمو ماشومانو په تعلیم او تربیه ګټورې څېړنې او عملي کارونه ترسره کېږي. د مجرمو ماشومانو محکمې، د ماشومانو اصلاحي ارګانونه، څېړنیز مرکزونه او په دغه برخه کې د کتابونو بې شمېره لړۍ د دې خبرې پخلی کوي، چې لویدیځ هېوادونه د خپلو مجرمو ماشومانو اصلاح او تربیې ته څومره جدي هلې ځلې کوي.

زموږ په هېواد کې د بې لارې ماشومانو شمېر ډېر په چټکۍ مخ په زیاتېدو دی. په ماشومانو کې د اخلاقي بې لارۍ او جرایمو زیاتوالي ته په کتو، لازمه ده چې موږ هم په پوره اخلاص او پاملرنه خپلو مجرمو ماشومانو ته توجه واړوو. د ماشومانو د علاج او اصلاح لپاره غوره مرکزونه پرانیزو او د هغوی پر جرایمو د دقیقو څېړنو لپاره علمي مرکزونه رامنځته کړو، تر څو په هېواد کې مو په ماشومانو کې د جرایمو او بې لارۍ تمایلات را ټیټ شي او له مجرمو ماشومانو څخه د اصلاحي برنامو په مټ ښه ماشومان او ښه ښاریان جوړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library


**څپرکی: لسم**

## تښتېدونکي او بې سره ماشومان

له ښوونځي او کور نه تېښته هم د ځينو ماشومانو د خوښې فعاليت دی. والدين او ښوونکي بايد دغه ډول ماشومانو ته ځانګړې پاملرنه وکړي. د تېښتې له امله ماشوم په ښوونځي کې هم وروسته پاتې کېږي او په عام ژوند کې يې هم په جرايمو د اخته کېدو سبب ګرځي.

### په ماشومانو کې د بې سري مينه

ماشومان طبيعتاً له ګرځېدو را ګرځېدو سره علاقه لري. ماشومان له خطرناکو کارونو ډېر زيات خوند اخلي. په ماشوم کې يوه پټه هيله وي، چې دی چکر او تفريح، بې موخې سفرونو او عجيبه، عجيبه کارونو ته لمسوي.

د بې سرۍ لپاره د ماشومانو د جذباتو په مقابل کې د کوچيانو قبيلې، د اوبو کبان او خانه بدوش مرغان هم ماتې خوري. د ځنګلي اوسېدونکو، کوچيانو او مهاجرو مرغانو په څېر د ماشومانو ګرځېدل خو کوم موسم نه لري، خو ځېرنې ښيي چې په پسرلي او د اوړي په لومړيو ورځو کې ماشومان په دغو فعاليتونو کې ډېره برخه اخلي.

ځينو ماشومانو ته بې سري په ميراث ور پاتې وي. د کوچيانو، سېلانيانو او مهاجرو والدينو ماشومان په طبيعي ډول حرکت او ګرځېدا ډېره خوښوي او له دې داسې معلومېږي چې په دغه ډول ماشومانو کې له پيل څخه لا د بې سرۍ يو خاص «جبلت» پټ وي، نو چې لاره و فرصت ومومي، له کوم ځايه، کوم ځای ته رسېدلي وي. د دغه ډول ماشومانو پښو ته پړي اچول يا په خونه کې زندانول يې هم د مصلحت خلاف کار دی او ان د دې وېره شته چې د قيد او بند له لاسه يې د بې سرۍ ذوق لا زور ونيسي.

### د تېښتې اسباب

له کور نه د تېښتې عادت ګڼ لاملونه لري. ناروغتيا، په کورنۍ کې د نظم او ډسپلن نشتوالی، د بازارونو جذبوونکې ښکلاوې، د پيسو له ترلاسه کولو وروسته د ډول، ډول خوراکونو تلوسه، په ښوونځي کې د نصاب سخت اېسېدل او د ښوونکي بې پامي يا زښتې خبرې او داسې نور. يوازې يو لامل ځانله د يوه ماشوم د تېښتې سبب نه جوړېږي، بلکې څو علتونه په ګډه دغه عادت ته ځواک وربښي. مثلاً ماشوم ترمخ لا ذهني کمزوری وي، چې له دې امله په ټولګي کې وروسته پاتې وي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې ډول يې له زده کړو سره لېوالتيا په کمېدو شي، چې په پايله کې جزا ورکول کېږي او د جزا وېره د پېريانو په څېر ماشوم را ونيسي. تر څنګ يې دا وسواس هم ورسره پيدا شي، چې ګواکې زياتی ورسره کېږي. په دې ټولو سربېره، د ښوونځي د تکړه ملګرو ټوکې او پېغورونه مړو ايرو ته پوکی شي، چې په پای کې ماشوم له دغه ناوړه ماحول سره په مېړانه د مبارزې په ځای تېښتې ته مخه کړي، ځکه دی په همدې کې د ځان لپاره يوه مؤقتي ارامتياويني.

ځينې وختونه له ښوونځي نه د تېښتې اول ځل يوازې تصادفي ترسره کېږي. مثلاً ماشوم ښوونځي ته ناوخته کېږي، نو اوس ډارېږي چې ښوونکی به يې شنه لښته ورته ونيسي. دغه وخت، يو بې سره او بې لارې ملګری په مخه ورځي، نو دواړه خپل بکسونه شاته اچوي او د يوه خوندور ځای په تکل په چکر وځي. د تېښتې له دې لومړنۍ تجربې نه ماشوم دومره خوند واخلي، چې اوس يې وار په وار د دې کار د تکرار لپاره تلوسه زياتېږي. ورو په ورو يې دغه تېښته په عادت بدله شي او بې سره انسان ترې جوړ شي.

**د تښتېدونکو ماشومانو اروا پوهنيزه ارزونه**

يو شمېر ماشومان اصلاً ښوونځي کې شاملېدو ته لا زړه نه ورکوي، د دې تر شا هم ګڼ محرکونه کېدلی شي. کېدلی شي ماشوم د کور له ارامه چاپېريال نه نابلده فضا ته له ورتګ نه وېرېږي او يا يې د مکتب په باره کې غلط تصور جوړ شوی وي. دغه ډول ماشوم چې د هغه د خوښې خلاف ښوونځي ته په جبر واستول شي، نو حتمي ده چې له ښوونځي نه به تېښته کوي او که په کور کې ورباندې سختي وشي، نو له کور نه هم تښتي او ممکن په بې سرۍ اخته شي.

تښتېدونکي ماشومان په ژوره توګه څېړل او بيا د تېښتې پټ او ښکاره محرکونه په واضح ډول ارزول، يو خورا اړين ټکی دی. د بې سرۍ له عام او فطري خصلت نه په ناچارۍ کې تېښته کول او د ذهني اضطراب يا فشار له امله تېښتې ته مخه کول، له يو بل سره توپير لري. زياتره کوچني ماشومان خو عموماً د کور له بې خونده او استبدادي ژوند نه د مؤقتي ارامتيا لپاره تېښتې ته مخه کوي. خو که په پيل کې لا دغه زيانمن تمايل ونه ځپل شي، نو د دې سخته اندېښنه ده، چې همدا ماشومان په عادي تښتېدونکو او مجرمانو بدل شي.

**د بلوغ دوره او د بې سرۍ جذبې**

د بلوغ په دوره کې ماشوم ته خپل کور محدود او له زړه راښکونتياوو تش معلومېږي او د ماشوم زياتېدونکی بدني ځواک د ده په ذهن کې نوي احساسات او جذبات راپورته کوي، په تفريحي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځايونو، د لوبو په ميدانونو، شنو زرغونو کروندو، له مېوو او ګلانو نه ډکو باغونو، د ويالو او سيندونو په غاړو او روښانه لويو لارو باندې د بې هدفه ګرځېدو ارمانونه يې په ارامه نه پرېږدي. داسې ښکاري ګنې روښانه کوڅې او ښکلي برېښېدونکي کلي دی خپل لوري ته ور بولي.

د نېستمنو کورنيو ماشومان د زړه راښکونکي چاپېريال په لټه کې له کور نه تښتي. په تنګ کور کې له بې شمېره غړو سره اوسېدلی ماشوم له يو څه مختلف ماحول نه د خوند اخيستلو لپاره په پراخو ځايونو کې بې غمه چکرې وهي. په بې خونده او بې رنګه کليوال چاپېريال کې تنګ شوی ماشوم د ښار د خوندورو او په زړه پورې هنګامو په لور ور ځغلي. داسې به ښکاري، ته وا د دغو تښتېدونکو زلميو بدن ته کومه بې سره اروا ننوتې، چې د نامعلومو هدفونو په خوا يې کشوي. دغه ماشومان د يوې نوې دنيا او يوې نوې مستۍ په لټه کې سرګردانه معلومېږي.

د نېستمن کور غمجن چاپېريال په خپل ذات کې دومره زيان نه رسوي، خو له دغه چاپېريال سره چې دا احساس د ماشوم په ذهن وزرې خورې کړي، چې دی کوم حيثيت نه لري او په کورني نظام کې يې هېڅ مقام نشته، نو دغه احساس هم د ماشوم تېښتې ته يو قوي محرک ګرځي. په دغو حالاتو کې ستونزه دا وي، چې ماشوم خپل احساسات په سمه بڼه بيانولی هم نه شي او تر څو چې په واضحه توګه دا معلومه نه شي، چې د نوموړي د ستونزو اصلي نوعيت څه دی، تر هغو پورې يې مناسب علاج هم شاوخوا ناشونی وي. دا خبره بايد په ذهن کې کېنوو، چې بيا، بيا تښتېدونکی ماشوم عموماً د ذهني فشار له لاسه دغه منفي چلند ته مخه کوي، نو ځکه دا اړينه ده چې د ماشوم د تېښتې په انګېزو او د خپل شخصيت په باره کې د هغه په فکر او ليدلوري پوه شو.

**د بې سره ماشومانو اروا پوهنيزه شننه**

له ټولنيزه اړخه، د غله ماشوم په پرتله د تښتېدونکي او بې سره ماشوم سرخوږی کم دی، خو په دغه ډول ماشوم پوهېدل بيا يو څه ډېر ستونزمن دی. د نوموړي د جرم پسندۍ لاملونه نه يوازې دا چې بې شمېره وي، بلکې عموماً خورا پېچلي هم وي. په دې ځای کې بيروني او دروني عناصر په بېلا بېلو بڼو سره يو ځای کېږي او په ماشوم اغېز ښندي، نو ځکه بهترينه لاره همدا ده چې د دغه شان ماشوم د چلن پر منفي انګېزو ځان پوه کړو او هڅه وکړو چې د دغې ستونزې ريښو ته ځان ورسوو.

د بشري تمدن له تکامل سره هممهاله يوې خوا ته چې زموږ مادي اړيکې پراخې شوې، نو بلې خوا ته د خپل چاپېريال له پېچلتياوو نه د مؤقتي تېښتې هيلو هم زور اخيستی. په موږ کې د خپل ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library


په هره ځانګه کې د خپلواکۍ تلوسه شېبه په شېبه زياتېږي. په ښوونځي او کار ځای کې ماشوم خپل ځان قيد احساسوي. بې خونده کار، پای نه لرونکي درسي ساعتونه، د ښوونکو اوږده لېکچرونه، لوړ، لوړ دېوالونه، په هغو کلکو مېزونو ناسته چې د ماشوم ناارامتيا لا ډېروي، د ازادۍ نشتون او پرلپسې غلامي – نو اوس چې ماشوم په دې بې خونده ژوند کې فرصت ترلاسه کوي، نو سملاسي تېښتې ته مخه کوي. که لومړنۍ هلې ځلې يې کاميابه شوې او له ښوونځي يا کار ځای نه له تېښتې وروسته په سرکونو بې سرې خوند ورکړ، نو دا يې تلپاتې بوختيا ګرځي او په دې ډول يو عادي تښتېدونکی ترې جوړ شي.

په همدې ډول، که په کور کې ماشوم په ازادۍ سره له سا اخيستو بې برخې وي، کور تنګ او اوسېدونکي يې ډېر وي، د نېستۍ له لاسه معقول خواړه نه ور رسېږي، د تفريح لپاره يې لوبتوکي، راډيو او ټلويزون نه وي او له دې وېرې چې ماشوم يې د بدو ماشومانو په ملګرتيا کې بې لارې نه شي، مور يې په کور کې قيد ساتي، نو ماشوم کور ته هم د زندان په سترګه ګوري او بيا، بيا ځلې چې د مور په نشتوالي کې له کور نه د وتلو تمرين وکړي، نو ورو په ورو په يوه پوره بې لارې او بې سره ماشوم بدل شي.

## د معقولې ازادۍ او تفريح اړتيا

په داسې حالت کې د ماشوم د اصلاح لپاره يوازې يوه لاره ده، هغه دا چې ماشوم ته په ښوونځي، کارځای او يا کور کې تر خپله وسه ازادي او معقول اختيار ورکړئ. خدای ماشوم ته له انرژۍ او توانايي ډک بدن او له نوښت او ابتکار نه رون ذهن ورکړی، نو تاسو يې د ودې لپاره مناسبه زمينه برابره کړئ.

په کارځای کې ډېر کار مه ور باندې کوئ. په ښوونځي کې د درس په څنګ کې د لوبو، چکر، ډرامو، انځورګرۍ، ښکلو هنرونو او نورو تفريحي فعاليتونو زمينه هم ورته برابره کړئ. په لوبو کې د منډو او منظمو او هدفمنو چکرونو او تفريح له امله د ماشوم د بې سرې جذبات په ډېره ښه بڼه خروبېدلی شي او له ده سره به دا احساس هم پيدا شي، چې د ښوونځي په سيستم کې د ده د قوي او لذت پسنده اړتياوو لپاره هر ډول امکانات په بهترينه شکل موجود دي. په کور کې هره شېبه په ماشوم جدي پام ساتل مناسب کار نه دی، ځکه په دې ډول په ماشومانو کې د فرصت په ليدو له کور نه د تېښتې ارمان لا زيات زور اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د تښتېدونکو ماشومانو ناسمه درملنه**

ماشوم چې يو ځل له کور نه په تېښتېه روږدی شي، نو يو شمېر والدين له يو څو عزيزانو سره په ډېره ګرمه وينه د ماشوم په تلاش کې وځي او کله چې په لاس ورشي، نو ښه په خوند يې ودربوي. دوی فکر کوي، چې دغه ډول جزا د ماشوم د منع کېدو ترڅنګ، د هغه لپاره تأديبي بڼه هم لري. خو بيا چې ماشوم ته ګوري، چې دغې جزا هېڅ اثر ور باندې نه دی کړی، نو ډېر مايوسه شي.

يو تن د ماشومانو په وهلو باندې ډېر زيات مشهور دی. په زلميتوب کې به د ده مشر ورور هم د ځينو «ناوړه» کړنو پر سر ده ته ډېر زيات وهل ورکول. خو بلاخره د هرې ورځې دې وهلو خوړلو ته يې حوصله ختمېږي او له کور نه تښتي، او بيا يوه ورځ د «ځوانمردی» په دې هنر کې د مهارت په زياتېدو سره د ممبی ښار د يوې لويې مافيايي ډلې مشر ترې جوړېږي. دغه منفي قالب ته د نوموړي د غورځېدو يوازينی لامل هغه «تأديبي هڅې» وې، چې ورور يې د وهلو په بڼه عملي کولې.

ماشوم چې له کور نه تښته پيل کړي، نو په دې هم بايد خبر شو، چې د بې هدفه ګرځېدو لپاره يې کوم ځايونه خوښېږي. که نوموړی په بازارونو کې ګرځي، نو پکار ده چې د خريداري لپاره بازار ته بوتلل شي. که سينما ته ځي، نو کله نا کله دې د سينما ليدو لپاره هم لږ او ډېرې پيسې ورکول شي، بلکې کله نا کله که کوم ښه فلم راشي، نو ماشوم له ځان سره يو ځای سينما ته بوځئ. که پخپله کور ته ټلويزون راوړئ، نو دغه وضعيت به لا ښه شي. که ماشوم باغونو او سيندونو ته وځي، نو کله نا کله د فرصت په وخت کې تفريح ته ورسره لاړ شئ. سمه ده چې مصروفيتونه مو ډېر دي! خو د خپل ماشوم ډول، ډول فطري ذوقونه بايد ومنئ. بايد خپل وخت او تمرکز قرباني کړئ او په هره توګه بايد مطلوب توکي او پيسې برابرې کړئ. په سزاګانو او د ماشوم د هيلو په ځپلو، د ماشوم د بې سرۍ ريښې لا تقويه کېږي.

**د اصلاح سمې لارې**


د بې سره ماشوم د اصلاح لپاره سربېره پر دې چې د هغه روغتيا، ادراک، ذوقونه، ځيرکتيا، اخلاق، د کلي او ښوونځي ملګري او داسې نور در معلوم کړئ، په څنګ کې يې د هغه د کور او ښوونځي د نظم او ډسپلن په څرنګوالي هم بايد پوه شئ. په زلميو هلکانو کې له والدينو يا ښوونکو سره خفګان او له ټولګيوالو سره د اړيکو شکېدل، د تېتښې، بې سرۍ او جرمي فعاليتونو په شکل را پورته کېږي، نو ضرور ده چې د دغو شخړو تل ته ورسېږئ او د مفاهمت حل لارې ورته پيدا کړئ.

د کورنۍ نېستی ځپلی ژوند، جسمي عيبونه، په ښوونځي کې د خپلې تنبلۍ او داسې نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مواردو له امله په ماشوم کې د کمترۍ احساس پیدا کېدل طبیعي خبره ده. ښوونکي باید ذهني کمزورو ماشومانو ته ډېره او ځانګړې توجه وکړي او پرلپسې دې په زغم او صبر هلې ځلې وکړي، چې د نورو ټولګیوالو له معیار سره د ماشوم برابرولو لپاره بېلا بېل ښوونیز میتودونه وکاروي. په ټولګي کې چې نوموړی هر څومره کم اررمي وباسي، د ټېښتې رغبت به یې هماغومره کم وي. بله دا چې، د کورني ژوند د بهترۍ لپاره دې مور او پلار تر خپل وسه ډېره خواري وباسي. زموږ په دې مادي دور کې هوساینه او ارامتیا مخ په له منځه تلو دي. والدینو ته پکار ده، چې له خپلې محدودې سرمایې او وخت سره، سره هڅه وکړي چې د ماشومانو د تفریح لپاره د امکان تر بریده زمینه مساعده کړي، چې کور د وچ او بې کیفه زندان په ځای یو دلچسپه او له خوښیو ډکه تفریح‌ګاه وبرېښي او د کوڅو او بازارونو ښکلاوې د ماشومانو په تېر ایستلو کې پاتې راشي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**څپرکی: یوولسم**



## په ماشومانو کې د غلا او پټولو عادت

په ماشومتوب کې تقریباً هر کس ارومرو یو نه یو وخت پیسې او نور شیان پټوي. خوراکي شیان او لوبتوکي خو هر ماشوم ور پورته کوي. په طبیعي ډول خو هر کس حرصناکه وي، خو د ډول، ډول شیانو ټولولو هوس په ماشومانو کې بیا ډېر شدید وي. د ماشومانو د غلا معیار او روش تر ډېره د کورنۍ او ماحول په عادي وضعیت پورې تعلق لري. په ځینو نامتمدنه سیمو کې خو له دوکانونو شیان غلا کول لا هم د ماشومانو روا حق ګڼل کېږي.

### د شیانو ټولولو هوس

د شیانو قانوني او شخصي ملکیت یو ټولنیز واقعیت دی. د خدای له لوري ((ستا)) او ((زما)) ترمنځ کوم واضح فرق او تخصیص نشته. خو له دې سره، سره، د شخصي ملکیت دستور زموږ په ټولنو کې له پېړیو راهیسې دود دی. د ډول ډول شیانو څښتنولي انسان ته ارامتیا او ځواک ښښي او په ډېر ملکیت سره په ټولنه کې د سړي قدر او مقام هم لوړېږي.

په غلو ماشومانو کې د ملکیت او قبضې دغه جلبت تر ناعادي کچې پورې شدید حالت لري، نو ځکه پکار ده، چې د نورو ملکیت ته درناوی ور وښوول شي. کوچني ماشومان د ملکیت په تړاو اصلاً کوم تصور نه لري. مثلاً لیدلي به مو وي، چې ماشوم په زوره د خپل همزولي لوبتوکی تښتوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېرته ورکولو نه يې په زغرده انکار کوي. د جاهليت په زمانه کې زموږ نيکونو او پلرونو هم د ((ميم زر ما ټول يې زما)) په اصل ژوند تېراوه. تر نن ورځې پورې، په موږ کې د دغه پخواني تصور موجوديت د غلا يو مهم سبب دی.

غلا نورې انگېزې او محرکونه هم لري. د غله اراده ممکن د څښتن ځورول وي. کېدای شي غل به غواړي، چې يو تن له يوه ځانگړي شي څخه محرومه کړي. له غلا کړيو شيانو سره يوازې عاطفي اړيکه هم د غلا محرک کېدلی شي. د لويانو په مقابل کې د بغاوت احساس هم کله نا کله د غلا په بڼه څرگندېږي. بې وزلي خو له شک پرته د غلا يو مهم عنصر دی. خو په اکثرو حالاتو کې غلا يو داسې طفلانه رجعت دی، چې په دې لاره غل د ټولنې له کلتوري بنديزونو څخه بې پروا د خپل فکر او چلن له مخې يو ځل بيا هماغه پخوانۍ زمانې ته ور گرځي، چې يوازې ((زور)) پکې د قانون په توگه منل کېده.

## بې وزلي او غلا

د ماشومانو له نظره د بې وزله کورنيو ماحول عموماً ډېر بې کيفه او بې خونده وي او اکثره وختونه له دې ستومانوونکي چاپېريال نه ستومانه ماشوم د غلا طريقو او روشونو ته مخه کوي. دی د خپلو وړو، وړو خواهشاتو لپاره اخوا دېخوا د پيسو غلا ته مجبوره کېږي، تر څو سېنما ته په تلو خپل د لذت پسندۍ تنده ماته کړي.

هغه بې وزلی ماشوم چې په کور کې په مړه گېډه ډوډۍ نه ور رسېږي، د ډول، ډول خوراکونو د ذوق په خاطر خپل چاپېر خوراکي شيان له نظره نه غورځوي. د ماشومانو په فطري ډول له خوږو شيانو سره مينه وي او په ماشومتوب کې هسې هم د بدن د مناسبې ودې لپاره شيريني مهمه غذا ده، نو که ماشوم ته د خوږو شيانو مناسبه اندازه په لاس ور نه شي، نو د شيرينيو د پېرلو لپاره يې پيسو پټولو ته سخته لېوالتيا وي.

## غلا او چالاکي

بعضي وختونه ماشومان يوازې له هيجان او هنگامو نه د اخوند اخيستو په خاطر هم غلا کوي. ماشوم د نورو له تېر ايستلو ډېر زيات خوند اخلي. په دغه ډول غلا کې عموماً غلا شوی شی د ماشوم د گټې شی هم نه وي، خو په دې ځای کې ډېر خطرناک او د غور وړ غل هغه ماشوم دی، چې له يوه واضح او معلوم محرک پرته غلا ته مخه کوي. په دغه ډول ماشوم د مور او پلار شفقت او جزا اصلاً کوم اثر نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا ډول ماشومان عجیبه مجرمان وي. دوی د خپل جرم د پټولو لپاره د دروغ ویلو استعداد هم پیدا کړی وي. د ښکاره ثبوت په موجودیت کې هم دوی د خپل جرم له منلو ځان باسي او د ځان ژغورنې په خاطر ډول ډول په زړه پورې پلمې را جوړوي. خو د دې ډول غلو ماشومانو عادي خبرې بیا له تنوع او فکر نه خالي وي او همداسې بې سوچه او بې فکره غږېږي. خو د خپل ځان په اړه ډېر کم او ډېر په احتیاط یو څه وايي. دوی پوښتنو ته پرېکنده او واضح ځواب هم نه ورکوي. دغه ډول د کم سن غله ماشومان، د خبرو په جریان کې آن لاس اچولو نه هم ډډه نه کوي. له دې داسې معلومېږي چې د پلټنو په جریان کې دوی له چوپتیا، دروغو او یا خپلې بد اخلاقۍ نه هم یو ډول خوند اخلي او په خپل جرم ظاهرا هېڅ اندېښنه نه ښکاروي او په څېرو کې یې ډېر زیات مصنوعي معصومیت لیدل کېږي او بیا که په خپل جرم اعتراف هم وکړي، نو په ډېره مېړانه د خپلې بې وزلۍ، غریبۍ او د ناوړه حالاتو عذرونه مخې ته ږدي.

دغه ډول ماشومان عموماً په ټولګي کې د ښوونکي د بې پروایي او په کور کې د والدینو د تشدد له لاسه د غلا په څېر مرض باندې اخته کېږي. په ګڼو سرکښه او سرزورو ماشومانو کې خو ان حوزو او محکمو ته له رسېدو وروسته هم ډېره کمه پرېشاني یا پښېمانتیا لیدل کېږي او دا د دې خبرې لوی ثبوت دی، چې یاد ماشوم د جرایمو نړۍ کې ډېر له پخوا لا قدمونه ایښي.

**له اضطرابه ډک کورنی ماحول**

د دغه ډول ماشومانو تېر ژوند له ډېر درده هم ډک وي او په زړه پورې هم وي. دوی خپل ډېری وختونه عموماً په اضطراب لرونکي چاپېریال او د جنجالي حادثاتو په غېږه کې را تېر کړی وي. مثلاً د خپل نامعلوم پیدایښت له امله د ټولنې لعن او طعن اورېدل، د والدینو شخړې او د طلاق ننداري لیدل، روږدي لویان او مشران، د نورو له لوري د اخلاقي قدرونو تر پښو کېدل، د کورنۍ د غړو په مختلفو ذهني او جسماني ناروغیو اخته کېدل، او داسې نور. دوی دې ته ورته نورې ډېرې د کورني تراژیدیو اضطرابي ډرامې په خپلو سترګو لیدلې وي. د دوی له درده ډک تېر ژوند ته سرسري کتنه هم دا په ډاګه کوي، چې دغه ماشومان په خپل ماحول کې پرلپسې ګډوډۍ او فشارونو د جرمي کړنو په لور لسمولي وي.

**پر ماشوم د مور او پلار اغېز**

د ماشوم ابتدایي ټولنیزه نړۍ د هغه تر والدینو پورې محدوده وي. د والدینو د سوچ او برخورد له نوعیت نه ماشوم د نورو انسانانو په هکله خپل ذهنیت جوړوي. که والدین بې فرهنګه، بد

(c) ketabton.com: The Digital Library


مزاجه، متردد او بې وعدې انسانان وي، نو ماشوم فکر کوي، چې ممکن ټوله دنيا به په همدې ډول وي. ماشوم چې د کور په فضا کې رښتينولي او ښېګڼه ونه مومي، نو پخپله هم د ټولنې ضد کارونو ته مخه کړي او په هره سمه يا ناسمه لاره د خپلې خوښې شيانو د ترلاسي هوس ور پورې شي.

بعضې والدين په پيل کې د خپل ماشوم بد عادتونه بې پامه نيسي. دوی فکر کوي، چې ماشوم يې لوی شي، نو پخپله به د با اخلاقه شخصيت په ګټو او توپيرونو پوه شي. دغه فکر ډېر خطرناک دی. که زوی مو په غلا لاس پورې کړی وي، نو د خپل ماشوم ياد مرض بايد په پيل کې لا ښه مطالعه شي او د سمو تدبيرونو په مرسته له ماشومتوب نه يې لا دغه بد عادت ور ختم کړئ.

په غلو ماشومانو کلک نظر ساتل تاوان نه لري. خو کله يې چې دغه عادت په ختمېدو وي، نو بيا په تدريجي ډول خپله پاملرنه نرمه کړئ. ماشوم ته مو بايد د ښو ماشومانو ټولي ته د ورتګ مناسبه زمينه برابره کړئ. څو دوی د خپل شخصيت د سپکوالي او د متمدنو ماشومانو د لوړو اخلاقو فرق په ښه ډول درک کړي. ماشوم مو د ښو ماشومانو د تقليد لپاره په زړه راښکونکو لارو چمتو کړئ. له وهلو او دربولو خو بيخي بايد ډډه وکړئ.

**فلم، ټلويزون او فحش کتابونه**

د وژنو، تالان او لوټماري فلمونه ليدل، د ټلويزون له اخلاق وژونکو برنامو خوند اخيستل، په ورځپاڼو کې د جرايمو خبرونه لوستل او سپک طنزونه او فحش کتابونه لوستل هم په ماشوم کې د غلا رجحان پيدا کولی شي. يوه ډله والدين خپل ماشومان د ټلويزون او فلمونو له ليدلو په ډېره کلکه منع کوي. دغه روش يوه غيرساينسي تګلاره ده، ځکه د محروميت له امله د ماشوم خواهشات لا شدت مومي او له دې وروسته دا احتمال شته، چې ماشوم له مور او پلار نه په پټه د سينما يا له ملګرو سره د بې سرۍ عادتونه واخلي.

ماشومان په طبيعي ډول د نوو، نوو تجربو او له خطر او خوښۍ نه ډکو حادثاتو ته ډېره لېوالتيا لري. د دې په ځای چې د ماشوم دغه هيله ورژوئ، پکار ده چې په ښه ډول يې د پوره کولو لارې چارې ولټوئ. ماشومانو ته مو د ښو ټلويزوني خپرونو د ليدو ممکنه زمينه مساعده کړئ. ماشومانو ته مو کله نا کله د کوم ښه فلم ليدو اجازه هم ورکړئ. دغه راز، په تفريحي او علمي سفرونو کې ګډون ته يې وهڅوئ. په دې سربېره، د ماشوم لپاره د مناسبو تفريحي فعاليتونو او لوبو توکي برابر کړئ، تر څو د ماشوم ځپانده انرژي په يوه ښه لوري مصرف شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له زده کړو بېزاري**

غله ماشومان د ښوونځي له کارونو سره هم ډېره کمه علاقه ښيي. دغه ډول ماشومان عموماً کند ذهنه نه وي، بلکې تنبل او ناراسته وي. له زده کړو سره د دوی د لېوالتیا کمښت یوازې د پېچلي نصاب له امله نه وي. دوی د ښوونځي بندیزونه او اصول هم نه خوښوي. په دې سربېره، د توندو او وچو ښوونکو له ناقصو تدریسي میتودونو څخه یې هم زړه ډک وي. دغه ډول ماشومان که څه هم د زده کړو ورتیا لري، خو له زحمت او تمرکز نه وېرېږي. دوی له نصاب سره په نه لېوالتیا سربېره، په لوبو او د ښوونځي په نورو فعالیتونو کې هم په مینه برخه نه اخلي او د نورو مشورې یا نصیحت خو یې په طبیعت بیخي ډېر بوج جوړوي او خبرې ته د غوږ نه نیولو دغه عادت یې د اصلاح چاره لا ډېره سختوي.

غل ماشوم د ملګرتیا جذبات هم نه پالي او له نورو ماشومانو سره ډېر ژر نه عادي کېږي، لیکن د خپل ذوق له همزولو سره ډېر ژر بلدېږي. غل ماشوم له ټولنیز او ذهني معیار څخه د ولېدلې طبقې له ماشومانو سره هم ډېر ژر عادي کېږي. ډېری وختونه دغه ډول ماشوم په لوی لاس د خپلې کورنۍ د نوم بدولو ته مټې ور ونغاړي. د مشرانو د ناوړه چلن له امله د ده په لاشعور کې د نفرت او کرکې مواد ټول شوي وي، چې دغه تنده او ترخه ماده وروسته د غلا په بڼه را څرګندېږي.

**د غلا له لارې جنسي تشفي**

غلا او جنسي لېوالتیاوې هم له یو بل سره ژوره اړیکه لري. په پرلپسې توګه یوازې د ښکلا او سينګار سامان، ښکلي انځورونه، جامې او د لیک او لوست شیان غلا کوونکي ماشومان په همدې کتار کې راځي. د پاکستان او بهرنیو هېوادونو په ارواپي کلینکونو کې لیکوال ته څو ځله د دې فرصت ورکول شوی، چې هغه هلکان له ارواپوهنیزه اړخه وڅېړي، چې یوازې د نورو د مینې لیکونه، هنري انځورونه، ږمنځې، ښځینه نېکرونه، نور ملبوسات او داسې نور به یې غلا کول. ډېرکله د عمر له زیاتېدو سره چې په ماشوم کې جنسي اضطراب پیدا کېږي، نو د غلا په زړه راښکونکو فعالیتونو کې ښکېلتیا ماشوم ته کافي ارامتیا ور کوي. دغه ډول غلا نوموړي ته څه نا څه جنسي سکون ور بښي.

د ذهني یا جسمي مرضونو له امله هم ماشوم په غلا عادت کېدلی شي او په دې برخه کې لیدل شوي، چې د ناروغۍ له کامیابه علاج سره یې د غلا عادت هم ورک شي. د دغه ډول ناروغه ماشومانو د درملنې لپاره له ماحول سره د ماشوم تطابق ډېر ضرور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


### د غلو ماشومانو علاج


د غلا علاج ډېر ستونزمن کار دی. د دې عادت بنسټ د ژوند په ابتدايي کلونو کې لا اېښودل شوی وي. د غلو ماشومانو یوه لویه نښه له ښوونځي نه تېښته او له زده کړو سره د علاقې کموالی هم دی. نو په دې اساس، د اصلاح یو اړخ دا هم دی، چې په یو نه یو ډول مو ماشوم له تعلیم سره لېوالتیا ته وهڅوئ. که ماشوم مو د مکتب له کلک نظم او ډسپلن نه زړه توری وي، نو یوه معقول او مناسب ښوونځي ته یې تبدیل کړئ، چې ټول تاکید یوازې په کتابونو باندې نه وي، بلکې د ماشوم د شخصیت د بېلا بېلو اړخونو وده هم په پام کې نیول شوې وي.

زموږ په ټولنه کې له زده کړو نه د ماشوم په وېرولو او زړه توري کولو کې د ((ملا صاحب))، ((مشرې بیبي)) او ((معلم صاحب)) په څېر تش په نوم ښوونځیو هم رغنده ونډه اخیستې ده. په دې ((ښوونځیو!)) کې تعلیمي فعالیتونه تر حده ډېر بې خونده وي او د دې ځای له وچ ماحول نه ستړی ماشوم په طبیعي ډول د ټولنې ضد او مجرمانه کړو وړو په لور میلان پیدا کوي، نو ځکه د غلا له عادت څخه د ماشومانو د خوندیتوب او د غلو ماشومانو د بریالي علاج لپاره د ماشومانو په ښوونیز چاپېریال کې په زړه پورې او عملي فعالیتونه ځایول ډېر زیات اړین دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**څېرکی: دوولسم**



## په ماشومانو کې د قمار وهلو عادت

مورږ په یوه اباد او فکري جمهوریت کې ژوند کوو. زمورږ پر هر ښار، هر کلي او گودر باید زمورږ د فکري روغتیا او سلیقې نښې ښکاره شي. زمورږ د کوچنیو او لویانو په چلن کې باید یو فکري پرتم او وقار ترسترگو کېدلی. په اوسني عصر کې له غوره سیرت او اخلاقو پرته بریالی ژوند ناشونی دی. آیا مورږ او زمورږ ماشومان د ژوند د خم و پېچ لپاره واقعي چمتوالی نیسي؟ راځئ د پاکستان کلتوري پلازمینې ته به یوه کتنه وکړو او وبه گورو چې د اسلامي تهذیب په دې لرغونې زانگو کې اوسنیو نیالگیو د خپلې خوښۍ او ساتېرۍ لپاره څه برابر کړي دي.

### د رڼا او تیارو کلي

لاهور د جوماتونو، زیارتونو، باغونو، درسځایونو، کتابخانو او رڼاگانو ښار دی. خو په همدې زړه وړونکي ښار کې بیا تیارې کنډوالې او تورتم کلي هم په لوی شمېر اباد دي. د همدې مشهور ښار د ژوند گڼ اړخونه دومره وحشتناک دي چې مورږ ټول باید سملاسي توجه ورته وکړو. د ماښام له خوا د

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې ښار په لوبغالو، باغونو او پارکونو کې ډله، ډله ماشومان د لوبو، ساتېريو او تفريح لپاره را ټول شوي وي. د دوی په ليدو انسان عجيبه ارامتيا احساسوي. مګر واقعيت دا دی، چې موږ په دې کې پاتې راغلي يو، چې د دې بدمرغه ښار ټول ماشومان په لوبو کې مصروفه کړو، ځکه د لوبو او تفريح له دغو ټولو اسانتياوو سره، سره د ماشومانو يو لوی شمېر داسې هم شته، چې له يو نه يوه امله له مناسبې تفريح څخه محروم پاتې وي.

دغه بدمرغه ماشومان څه مجبوريتونه لري؟ آيا هغوی له سالمو تفريحاتو نه طبيعي کرکه لري او که دې لور ته د هغوی د توجه په برخه کې جدي هلې ځلې نه دي شوې؟ آيا د لوبو او ساتېريو له ژوند جوړوونکو فعاليتونو څخه د دې ماشومانو په محروموالو کې د مکتب، کورنۍ او ټولنې تېروتنې او غفلتونه مسؤل دي او که د دې غيرعقلاني وضعيت تر شا نور لاملونه هم شته؟ د ظلم حد دا دی، چې موږ په دې اړخ کله غور هم نه دی کړی، نو په ډېر ډاډ نه شو ويلی چې په مناسبو او منظمو تفريحي فعاليتونو کې له ګډون څخه د دغو محرومو ماشومانو اصلي مجبوريتونه څه دي؟ او علمي او ساينسي چاره يې څه ده؟

**له تفريح نه د محرومۍ پايله**

د ماشومانو د شخصيت او اخلاقو په جوړښت کې لوبې او ساتېري له هوا، اوبو او خوړو څخه ډېر اساسي اهميت مومي. په منظمو لوبو او ساتېريو کې د نه ګډون له کبله د ماشومانو عاطفي او ټولنيزه روغتيا خپل توازن له لاسه ورکوي. دغه ډول ماشومان د همغږۍ، اصلاح او تکامل له اصولو سره نا اشنا پاتې وي او په دې ډول په ظاهره سم سهي ماشومان هم په ډول، ډول بې لاريو واوړي.

په لوبو او تفريح کې له ګډون څخه د محرومو ماشومانو يو لوی شمېر داسې هم دی، چې په ډول، ډول ناوړو عادتونو له اخته کېدو وروسته، په پای کې د ځان، خپلې کورنۍ او ټولې معاشرې لپاره د ځور او کړاو سبب ګرځي. په دې څېرکي کې به په لاهور کې د مېشتو هغو ماشومانو يوه تصويري خاکه بيان کړو، چې شخصيت يې د لوبو، تفريح، تعليم او تربيې او لارښوونو د نشتون له امله يوه داسې څېره خپله کړې، چې زموږ له قانوني او اخلاقي قواعدو سره ډېر زيات ټکر لري. زموږ هدف هغه بدمرغه ماشومان دي چې د ښار په باغونو، پارکونو او تنګو و تيارو کوڅو کې د قمار له لارې خپل زړه خوشالوي.

**د قماربازۍ يوه ځلانده اډه**

موږ به خپله سروې د ښاروالۍ له باغونو څخه پيل کړو. د سرکلر سرک په غاړه د ښار له پخوانيو

(c) ketabton.com: The Digital Library


دروازو دباندې او زوړ دېوال ته څېرمه ګڼ داسې باغونه شته، چې د ښاروالۍ په لاس کې دي. د دې باغونو ((تفريحي)) او ((کلتوري)) شالید د ټولو هغو ښاريانو په وړاندې یوه معنا لرونکې ننګونه را پورته کوي، چې د خپل ځان او نورو له نېکمرغۍ او ودې سره واقعي علاقه لري.

راځئ اوس به مو د شاه عالم دروازې دباندې، همداسې یوه پارک ته یوسو. د سرکلر سرک له دې ويجاړې سيمې نه چې لږ ور اخوا شئ او د پارک څلور دېوالي ته ور ننوځئ، نو ځان به د يوې غيرعادي تنهايۍ او بېلتون په ماحول کې ايسار ووينئ. د پارک شمالي لوري ته له اوبو ډکه چټله وياله بهېږي. همدې لوري ته په دېوالونو باندې کتار کتار فحش ليکنې هم ليدل کېږي. په پارک کې ځای، ځای د وښو نښې هم ليدل کېږي، خو ډېره برخه يې له دوړو ډکه صحرا غوندې ده.

دغه پارک د هغو تنکيو قماربازانو د خوښې ځای دی، چې له شاوخوا کوڅو او کورونو څخه دلته را ټولېږي. او د زړه له اخلاصه د قماربازۍ په مختلفو ډولونو خپل زړه خوشالوي. د دغو ماشومانو لوی شمېر هغه باغي هلکان جوړوي، چې نه خو ښوونځي ته ځي او نه هم په کوم پلورنځي يا فابريکه کې کار کوي. په همدې ماشومانو کې له ښوونځي، دوکانونو او کارخونو څخه د تښتېدلو ماشومانو هم يو ښايسته شمېر شامل وي. يو شمېر ((قماربازان)) پکې داسې هم پيدا کېږي، چې د جېب وهلو په فن کې هم پوره کمال ته رسېدلي وي.

**د بديو د راټولېدو اوسپنيزه غېږه**

ناپوه، بې سره، تښتېدلي، نااهله او د نورو ډولونو دغه مظلوم ماشومان له بنيادي پلوه له يوې طبقې څخه نه برېښي، خو د دوی په چلن کې د څو مشترکو خاصيتونو له امله دغه ټول ماشومان د شر او بديو په يوه واحد تار کې پېيلي وي. د شر او بدۍ په دې اتحاد کې ښکېل ياد ماشومان د هغه انسان په سترګو هم توره شپه راولي، چې په سينه کې يې د کاڼي زړه وي.

د دې ډول، ډول ماشومانو د شخصيت څو مشترک خاصيتونه په لاندې ډول دي:

يو: د قماربازۍ په ټولو اصولو او قوانينو پوهېدل او د ((لوبې)) نظم او ډسپلن ته پوره درناوی،

دوه: د قماربازۍ ژبه په سمه توګه استعمالول، چې له سپکو الفاظو او بازاري اصطلاحاتو څخه پرېمانه استفاده پکې کېږي.

دريم: کله نا کله توندې خبرې، لفظي شخړې او د لاس اچولو پېښې، چې کله نا کله خبره جنګ او سر ماتولو ته هم رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور: د ((لوبې)) په جریان کې د عادي او ((ډکو)) سیګرټو استعمال، او داسې نور.

**واړه قماربازان او لوی لوبغاړي**

که لږ ورته ځیر شئ، نو د دغو بدمرغه ماشومانو دوه ډلې به مو تر سترګو شي:

۱) له اووه یا اته کلنۍ څخه تر لس یا یوولس کلنۍ پورې ماشومان.

۲) له یوولس یا دوولس کلنۍ څخه لوی ماشومان.

اوله ډله د وړو قماربازانو ډله ده. واړه قماربازان معمولاً په کمو پیسو قمار وهي، په دې اساس، په دې ډله کې د قطعو له پاڼو سره، سره وړې او لویې سکې هم له یوه لاس نه بل ته اوړي را اوړي. د وړو قماربازانو ترمنځ هم لانجې راځي، خو دغه لانجې ډېرې ژر حل کېږي او د یو څو سپکو ښکنځلو یا شخړې وروسته د ((لوبې)) مات تسلسل بېرته روان شي.

د لوی عمر قماربازان بیا له یوې روپۍ نه په کمو پیسو قمار وهل خپل سپکاوی ګڼي. نو د دوی په لوبو کې د قطعو او د روپو د اوښتلو را اوښتلو ننداره هم د لیدو وړ وي. د ((لوبې)) په جریان کې په جېب کې کوچنی چاقو ساتل او بیا نورو هلکانو ته ښودل د دغو ماشومانو لپاره د لوی ویاړ خبره وي.

**د تیارو لویې لارې**

د لویو قمار وهونکو په منځ کې هم د لفظي شخړو او جګړې حالت رامنځته کېږي، خو شمېر یې نسبتاً کم وي. ځینې جګړې خو ان ډېر سخت حالت ته رسېږي. د قماربازۍ د قوانینو یا د کوم پخواني ((استاد قمارباز)) له لوري زیاتره جګړې په یو نه یو ډول حل کېږي. خو که خبره زیاته شي، نو بیا لاس اچولو او د چړو استعمال ته هم خبره رسېږي.

ډېری وختونه داسې هم کېږي، چې یو ((لوبغاړی)) په قمار کې له پرلپسې ماتې وروسته قرضداره کېږي، نو که ګټونکی د پور د تادیې لپاره وخت ورکړي، نو بیا خو خبره جوړه ده، که نه نو ارومرو لانجه جوړېږي. خو د لانجو په ګڼو حالتونو کې د تفاهم له لارې د شخړې ((حل لاره)) په یوه داسې وحشتناکه بڼه هم بدلېږي، چې د جانبینو په مخ د ګناه او معصیت داسې وحشتناکې دروازې پرانیزي، چې راستنېدل ترې لا ډېر ناممکنه شي. نو ګورئ به چې جګړه پېښه شوه، خبره لفظي شخړې او ښکنځلو ته رسېږي، ورپسې په اشارو او کنایو کې ځینې خبرې کېږي او په پای کې لاسونه د یو بل ګرېوان ته رسېږي، چې په پایله کې یې همدا کم عمره لوبغاړي ناڅاپه د قماربازۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library


اډې نه په یوه داسې حالت کې رخصتېږي، چې اوس د هغو وحشتناکو لارو لارویان وي، چې په هغو کې تر قماربازۍ هم ډېرې خطرناکې تیارې ورته په تمه وي.

## د نابالغو ((مشرانو)) تیاره رول

د وړو او لویو قماربازانو په دې ډلو کې یو شمېر ماشومان داسې هم وي، چې په ظاهره قماربازۍ کې برخه نه اخلي، خو اورمرو په یو نه یو ډول ور پورې وابسته ښکاري. په اصل کې دغه ماشومان د قماربازۍ کمیشن کاران وي. هر ګټونکی له خپلې ګټې نه یوه ټاکلې برخه هغوی ته ورکوي. دغه واړه کمیشن کاران په خپلواکه بڼه کار نه کوي، بلکې د هغو بې وجدانه مشرانو د استازو په حیث په دې فعالیت کې ککړ وي، چې شاوخوا ته تر ونو لاندې ناست وي او د چرسو اوږده، اوږده کشونه کاږي. دغه نابالغ ((مشران)) له وړو کمیشن کارانو ټولې پیسې ترووړي او ډېره کمه برخه بېرته هغوی ته ورکوي. ماښام بیا همدا مشران له دغه مردارۍ نه له خلاصېدو وروسته، د کورنیو شرابو اډو، رنډيۍ خانو او د پړکنده سېنماوو په خوا ور روان وي.

د کم عمره قماربازانو لپاره د یادو مشرانو عمومي ((خدمات)) په لاندې ډول وي:

۱) قمارباز هلکان د پولیسو له تګ راتګ خبرول او د اړتیا په وخت کې په تېښته، پټنځای او نورو برخو کې مرسته کول،

۲) د پولیسو په چاپو کې ښکېل ماشومان په ډول، ډول پلمو او بېلو بېلو معاملو د قانون له منګولو څخه ازادول،

۳) په پارک کې د سیګرټو، چرسو او نورو موادو په پېر او پلور نظر ساتل،

۴) د قماربازۍ په ټولو اړخونو کې نظم، ډسپلن، اصولو او قوانینو ته د ژمنتیا فضا رامنځته کول، او داسې نور.

## د قماربازۍ په وبا د ماشومانو ښکېلېدل

په همدې پارک کې یوه پهلوان د کاغذپرانۍ د تار جوړولو اډه هم جوړه کړې. د نوموړې په شاوخوا کې هغو ماشومانو غور ماغور جوړ کړی وي، چې د خپلو تفریحي توکو د خریدارۍ لپاره دې پارک ته راځي.

ښه نو دا هلکان څه کوي؟ دا خو قمار نه دی. دا خو د کرکټ منظمه لوبه ښکاري. همداسې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې پارک ته يو شمېر ماشومان د سالمو لوبو لپاره هم راځي. خو کله چې د دغو ماشومانو توپ دې بې فکره قماربازانو ته ورشي او کوم ماشوم په توپ پسې ور منډه کړي، نو قمار ته د ايښودل شويو سکو او نوټونو غونډۍ به يې ارومرو پام ور خپلوي. او خدای خبر، د نوټونو او نغدو پيسو مقناطيس يوه ورځ په دې توانېږي، چې دوی هم خپل لور ته ور جذب کړي. کله چې همدا معصوم ماشومان د حرص يا شوق له خاطره يو ځل د قماربازانو ګوټو ته ورشي، نو بيا مکتب، کورنۍ او دولت يو هم دوی له دې وژونکې وبا څخه نه شي ژغورلی.

## د قماربازۍ هر اړخيز جالونه

نو دغه هلکان بل چېرته ولې نه ځي؟ ممکن ځينې مجبوريتونه او مصلحتونه به يې د يوه بديل ځای ته په تلو کې خنډ جوړوي، خو که د دې ماشومانو کورونه په همدې شاوخوا کوڅو کې وي، نو بيا بل چېرته د هغوی د لوبو امکان نشته.

خو که لاړ هم شي، نو چېرته؟ زموږ د شاوخوا ټولو پارکونو وضعيت په همدې ډول دی. په ځينو سيمو کې د ښاوالۍ پارکونه د ښځو لپاره ځانګړي دي، خو کله چې دغو پارکونو ته د ننوتلو وخت ختم شي، نو دلته هم قماربازان خپله ولکه ټينګه کړي. د ښار د يوه مشهور او ښکلي ښځينه پارک همدا حال دی.

او دغه وبا يوازې تر پارکونو پورې محدوده نه ده. د ښار دننه او شاوخوا کوڅو او بازارونو ته يې هم لاره کړې، چې د اکثره کوڅو او بازارونو په ګوټونو کې دغه فعاليت د غرمې له وخته پيلېږي او بيان د شپې تر ناوخته پورې دوام کوي.

## زموږ وجدانونه ولې ويده دي؟

د لاهور هوښيار او تکړه پوليس په مسؤليت پېژندنه کې ډېر زيات شهرت لري!! په همدې ښار کې يو پوهنتون هم شته، چې په نوو او زړو کېمپونو کې يې مختلف ټولنيز علوم په نظري او عملي ډول په نوو ميتودونو تدريسېږي او د ((بوای سکاؤټ)) غورځنګ مرکزي څانګه هم په لاهور کې ده. په همدې ښار کې د ((ګرل ګايډز)) غورځنګ هم فعاليت لري او د ژونديو زړونو دغه ښار د شلګونو هغو خيريه بنسټونو ادرس دی، چې کلني راپورونه يې ډېر زيات رنګين او پرتمين وي. لاهور د علماوو، واعظانو، ليکوالو او ژورناليستانو وطن دی. دلته شپه و ورځ د ټولنيز پرمختګ او پيشرفت بحثونو يو شور جوړ کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د علومو او معارفو په دې تاریخي ښار کې د تیارې او تورتم پورتني داغونه اصلاً د درک وړ نه دي. که د ژوند انځورګري دا وي، چې د دغه ښار په تور و سپین رڼا واچول شي، نو بیا دغو پوهانو پر دې کم عمره قماربازانو ولې سترګې پټې کړې؟ او د ټولنیز پرمختګ او پراختیا فعالان او بنسټونه چېرته دي؟ موږ به دغه وحشتناکه تراژیدۍ تر څو په خپلو سترګو وینو؟ د سیمې د خلکو وجدان ولې ویده دی؟

**د اصلاح او رغونې نوي څرکونه**

ډېره زیاته اړینه ده، چې موږ ټول یو بل ته لاس ورکړو او په ګډه د دې بدمرغه ماشومانو د اصلاح مسؤلیت ته اوږې ورکړو. قانوني اصلاحاتو له جرایمو او سرغړونو سره د مبارزې لپاره نوې طریقې جوړې کړې دي. اوسنیو تعلیمي پالیسیو د بې سوادي او جهالت مخه ډب کړې. متوسطه زدکړې جبري ګرځېدلي دي. په نږدې راتلونکي کې به ثانوي زدکړې هم جبري شي. په هېواد کې د وړیا ښوونیزو مرکزونو او نورو ښوونځیو له لارې د دې بدمرغه ماشومانو په ژوند کې د اصلاحي انقلاب لویه تمه ده. علم، هنر او لارښوونې ته د عامه لاسرسي په واسطه د هغوی په سیرت او چلند کې مثبت او ګټور بدلون یقیني شوی دی او امکان شته چې دغه کم عمره ماشومان پخپله د دې ناوړه عمل پرېښودو ته وهڅېږي.

خو موږ باید هېڅ کله دا حقیقت هېر نه کړو، چې قانوني او تعلیمي اصلاحات تر هغو پورې مېوه نه نیسي، چې د اصلاح او رغونې په دغه جهاد کې موږ ټول په خپله خوښه برخه وا نه‌خلو. امکان یې شته، چې دغه کم عمره قماربازان ستاسو د ماشوم روغ او سالم سیرت هم په غلط مسیر برابر کړي او د کورنۍ لپاره مو د ډول، ډول پرېشانیو باعث وګرځي، نو له دې امله زموږ خیر په همدې کې دی، چې د وضعیت تر خرابېدو له مخه لا باید د دغې ستونزې مخه ونیول شي.

له دې پرته چې د ماشومانو روزنې او پرمختګ ته د یوه مؤثر ولسي غورځنګ بڼه ور کړو، زموږ د بقا او احیاء لارې به په هماغه ډول تړلې وي. دغه کار سخت دی، خو ناشونی نه دی. که موږ کلي په کلي، کوڅه په کوڅه او بانډه په بانډه د ماشومانو د اصلاح کمېټې جوړې کړو او د دغو کمېټو په تنظیم او کارونو کې له اخلاص، احساس او ایمانداري نه کار واخلو، نو د دې بدمرغه ماشومانو اصلاح او رغونه له کوم خارجي عامل پرته ډېره ښه سرته رسېدلی شي او په دې ډول بې شمېره وګړي، کورنۍ او یوه بشپړه معاشره له لا ډېرو بې لاریو، زیانونو او ویجاړیو په خپل وخت ژغورلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځېرکی: دیارلسم**



## تنبل ماشومان

د ښوونځي په درسونو کې وروسته پاتې ماشوم ته معمولاً تنبل ماشوم ویل کېږي. تنبلي بې شمېره لاملونه لري. ناسازه ماحول یې یوه لویه وجه ده. په چاپېریالي لاملونو پوهېدل ډېر اسانه دی او نسبتاً د هغو له منځه وړل هم ډېر سخت نه وي. ښوونځی، کور او کلی د چاپېریالي لاملونو درې لوی عناصر دي، چې د ماشوم د تنبلۍ سبب ګرځي.

### دقیانوسي ښوونکي او تنبل ماشومان

د تنبلۍ لومړنۍ نښه زدکړو ته نه پاملرنه او د ښوونځي له ژوند سره د علاقې نشتوالی ده. کېدای شي، چې د ښوونځي نظام دومره ناقص وي چې ماشوم له زدکړو نه زړه توری کړي.

زموږ په زیاتره ښوونځیو کې لا هم دقیانوسي اصول او د تعلیم او تدریس زاړه میتودونه واکمن دي. د ډېری ښوونکو د تدریس میتود ډېر وچ او توند میتود وي. په هره خبره د زده کوونکي ګواښل او له لښتې ډېره استفاده د دغه ډول ښوونکو عادت ګرځېدلی وي او دوی ته د «تدریس»

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدا يوه طريقه ور پاتې وي. دوی د تنکيو زده کوونکو فطري او فردي غوښتنو ته له توجه پرته د درس او تدريس همدا جبري طريقه تر ټولو ښه سبک بولي. د اوسنيو ښوونپوهانو له ګټورو مشورو څخه ياد ښوونکي ډېر زيات بد وړي. د دوی په ټولګي کې له تکړه، منځني، تنبل، غبي او کندذهنه ماشومانو سره يو ډول چلن کېږي. په درس څوک پوه شوي وي يا نه، دغه جاهله ښوونکو ته هيڅ مهمه نه وي. چې په خبرو راشي، نو خوله يې نه بندېږي. د دې په ځای چې په ساده او نرمه ژبه زده کوونکي په درس پوه کړي، دغه ښوونکي له همدې وچې او تونډې لهجې سره عادت شوي وي.

## د تنبلۍ ابتدايي زينې

له بده مرغه، د دې ټولو خبرو يوازې يوه پايله راوځي، چې اکثره زده کوونکي د درسونو د سختوالي او د ظالم ښوونکي د لښتې له وېرې ((ميخانيکي)) زدکړې ته مخه کړي. خو ځينې شاګردان چې د دغه ډول ذهني زيار وړتيا نه لري، نو له ښوونځي نه په تېښته کې خپل خلاصون ويني.

نن ورځ موږ په خپلو ښوونځيو کې داسې مهربانه ښوونکو ته ضرورت لرو، چې د تدريس له اروا پوهنيزو اصولو سره ښه بلد وي، چې په انساني طبيعتونو کې د اختلاف ښه پوهه ورسره وي، چې په خپلو زده کوونکو کې له تعليم نه د بېزارۍ نښې په لومړيو کې لا درک کولی شي او په څنګ کې يې د خپل تدريسي ميتود اصلاح هم ورسره کوي، چې د لښتې پر ځای په مهربانۍ پوهول يې خوښېږي او چې د ښوونځي ژوند په ډول، ډول لېوالتياوو دومره دلچسپه کړي، چې ماشومانو ته ښوونځی هم د لوبو ميدان ښکاره شي.

د کندذهنه او تنبلو ماشومانو طبيعت هسې هم له ښوونځي څخه تېښتې او بې لارۍ ته وي، د دې په سر د سختو او تونډو ښوونکو تګلاره يې يوه بله پلمه شي. په ټولګي کې اررمي کول د تنبلۍ لومړنۍ نښه ده. په دوهم قدم کې په غوښتلي يا ناغوښتلي ډول ناوخته راتګ او په دريم قدم کې د تېښتې لپاره پلان نيول او په پای کې په رښتيا تېښته کول او د کوڅو او بازارونو له تفريحي بې لاريو خوندونه اخيستل يې نورې نښې دي.

## زموږ شخصيت ځپونکي ښوونځي

د ماشوم په تنبلۍ کې د ښوونځي ودانۍ، موقعيت، توکي، وسايل او ډسپلن هم لوی لاس لري. زموږ د ګڼو ښوونځيو موقعيت مناسب نه دی. په زياترو ښوونځيو کې د ټولګيو او دهلېزونو پاکوالي ته مناسبه توجه نه کېږي. ماشومان په سپېره ځمکه، د پلاستيکي بوجيو په ورستو ټوټو يا ماتو کړوپو

(c) ketabton.com: The Digital Library


مېزونو ناست وي. په دېوالونو د رنګ داغونه او په چتونو د غنو ځالې په ټولګيو کې يو عجيبه ((هنري)) تخليق جوړوي. د ښوونکي زيږه لهجه او اوږده، اوږده درسي ساعتونه د ماشومانو په ذهن کې دا فکر پيدا کوي، چې مکتب يو ستومانوونکی زندان دی، چې د ژوند له خوشاليو او بازاري راښکونتياوو له يوې مخې خالي دی. په تېره د ((د)) ټولګي او نورو وروسته پاتې ډلو ماشومان خو بيخي د محروميت په احساس اخته وي. دې ډلو ته داسې ماشومان استول کېږي، چې معمولاً تر ټولو ډېر تنبل وي، نو په دغه ډول ماشومانو کې له ښوونځي نه د تېښتې شوق يوه طبيعي خبره ده.

زما (ليکوال) يادېږي، چې خپل ابتدايي ښوونځی يې همدغه شان زندان ته ورته ځای وو. زموږ د بې رحمه ښوونکي زړه به ممکن زموږ له تورې تختې هم ډېر تور وو. ککړ ماحول، خيرن اطاقونه او (غوړ نيول) عامه خبره وه. له دغه ډول ماحول نه مې د وحشت احساس کاوه او اکثره وخت به په پټه ووتلم او تر رخصتۍ پورې به په باغونو او بازارونو کې ګرځېدم. د ښوونځي له وچ ماحول نه به چې ووتلم، نو په دغو خوندورو ځايونو کې به مې له ګرځېدا نه ډېر زيات خوند اخيسته. د اوسني نسل نېکمرغي دا ده، چې اوسمهال د دغه ډول ماشوم تخريبوونکو ښوونځيو د اصلاح لپاره کافي هلې ځلې روانې دي.

## نېستي او ګډه وډه حاضري

ښوونځي ته په بې نظمي تلل يا کله نا کله ناوخته رسېدل هم د تنبلۍ سبب ګرځي. په دې ډول د ماشوم د درس لړۍ ماتېږي او له ټولګي سره اوړه په اوږه نه شي تللی. د ماشوم يا د والدينو ناروغتيا هم ښوونځي ته په تګ کې د بې نظمي سبب ګرځي. په کومو کورونو کې چې پلار بې روزګاره وي او د کورنيو ستونزو له لاسه مور يې شپه ورځ په وچې ډوډۍ پسې لالهانده وي، نو په دې وضعيت کې څوک په دې پسې سر وګرځوي، چې ماشوم ښوونځي ته ځي هم او که نه؟

نېستي تر ټولو ناوړه ټولنيز لعنت دی. زموږ په اجتماعي وده او تعليمي ارتقا کې نېستي او غريبي تر ټولو لوی خنډ ده. د عامه روغتياساتنې او له لوږې او احتياج نه ځان ژغورنه څه نا څه سرمايې ته ضرورت لري. د لوږې له لاسه په بدن او ذهن کې داسې ناکراري جوړه وي، چې له علمي فعاليتونو نه توجه په بله اړوي. له نېستۍ ځپلي ماحول څخه راغلي ماشومان په ښوونځي کې عموماً بې حاله غوندې وي او د کنجکاوۍ هغه جذبه پکې نه شي پيدا کېدلی، چې د علم او هنر د ترلاسي لپاره اړينه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نېستمن ماحول او تنبلي

نېستي ځپلي کورنۍ پر ماشوم ټولنيز او مادي ماحول را تنګ کړی وي، چې له دې سره عامه معلوماتو ته د ماشوم د لاسرسي وسايل هم کم وي. يو داسې کور په ذهن کې ونيسئ، چې نه خوړو ته څه لري او نه د تن پټولو جامې درکولی شي، نو په دغه ډول نېستمن او بې خونده ماحول کې به پر ماشوم څه تېرېږي؟

هغه ويجاړ کور چې اصلاً د مېلمه څرک پکې نه وي، نو ماشوم به اجتماعي کړه وړه او د مجلس آداب په څه ډول زده کړي؟ په دې اساس، د ماشوم پر اجتماعي ذهنيت کنګل شوی حالت خپور وي. د شور او زوږ د سيمو په چټل ماحول، تياره کورونو او تنګو خونو کې چې ماشوم له سم خوب نه هم محروم وي او خواړه هم کم او نيمګړي ور ورسېږي، نو بېچاره ماشوم د خوار ځواکۍ او بې خوبي په څېر په ګڼو نورو مرضونو اخته شي. د پرلپسې بېکارۍ او ناوړه روغتيايي حالت له لاسه پلار هم بدخويه او سخت مزاجه شي. بل خوا، د اولادونو د ډېروالي او اقتصادي ستونزو له امله مور هم بې حواسه غوندې وي او چې د مور او پلار ترمنځ لفظي شخړې او وخت په وخت خبره لاس اچولو ته ورسېږي، نو ماشوم له ډاره په يوه کونج کې غلی ولاړ وي او دغه ټوله ننداره په خپلو سترګو ګوري. په کور کې د وړو او لويو کارونو د يوې ناپايه سلسلې له امله ماشومان هم په نه خبره پارېږي او هر وخت غمجن وي. په دغه ډول وضعيت کې که ماشوم د محروميت د احساس له شديد فشار نه په تنګ شي او له کور نه د تېښتې تصميم ونيسي، يا په خپل ورځني ژوند کې پرلپسې د خوشاليو او ارامتياوو نشتون ووينې او خپل پاتې ذهني روغتيا هم له لاسه ورکړي، نو ډېر د حيرانۍ وړ به نه وي.

له زهرجن کورني ماحول نه چې ماشوم ښوونځي ته لاړ هم شي، نو له ذهني او جسمي اړخه په بشپړ ډول ختم شوی وي او په درس باندې د پوهېدو ډېره کمه وړتيا ورپاتې وي. په دغه ډول ماشوم باندې په ټولګي کې اررېمي راځي او لږ ځنډ خو صبر کولی شي او په ټولګي کې ناست وي، خو چې څنګه فرصت په لاس ورشي، نو له ټولګي نه پټې سپکې کړي. په دې ډول دردوونکي حالت کې د ټولنې له دغې «تاديبي ادارې» نه د ماشوم بغاوت يو طبيعي عمل دی او د دې لپاره موږ ټول مسؤل يو.

## بد اخلاقه والدين او تنبل ماشومان

د کور اخلاقي ماحول د ماشوم په تنبلي کې لوی لاس لري. په کور کې د مذهبي او اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښتونو نشتوالی او په عادي چارو کې د مور او پلار له لوري د رښتینولۍ او ایمانداری ارزښتونه تر پښو لاندې کېدل په ماشوم ډېر ناوړه اغېز شیندي. د کورنۍ په غړو کې د مسؤلیت د احساس نشتوالی او د مزو او چړچو له چلنده یې ماشوم هم بې پروا غوندې وي. د ژوند په عامه راکړه ورکړه کې چې خپل شاوخوا د اصولو تر پښو لاندې کېدا ویني، نو ماشوم هم د فرېب، غلا او نورو ټولنې ضد کارونو ته مخه کوي او دغه وخت یې له ښوونځي سره علاقه لا کمه شي او له ښوونځي نه تېښته یې د خوښې وړ فعالیت گرځي.

له دغو ماشومانو سره معمولاً یو بل ظلم دا کېږي، چې د مور او پلار او ښوونکو ترمنځ یې همغږي او اړیکه نه جوړېږي، آن برعکس که نهیلی ښوونکی د فراري او تنبل زده کوونکي شکایت د هغه پلار ته ورسوي، نو له حالاتو ځورېدلی پلار له خپل ماشوم سره لا زیات وران شي. اکثره «ارام طبیعته» استاذان د خپلو اعصابو خرابولو او شخړو له وېرې د ماشوم والدینو ته د شکایت چورت هم نه وهي. ځینې ناپوهه والدین چې بیا د ښوونکي پند او نصیحتونه واوري او کور ته ورسېږي، نو په زغم سره د ماشومانو د پوهولو په ځای د هغوی په گواښلو او سختو بدني سزاگانو باندې پیل وکړي. دغه چلند له یوې مخې غلط دی او پایلې یې خورا وېروونکې دي. استاذان او والدین دې د ماشومانو د پوهولو په برخه کې له ډېرې ځیرکتیا او پوهې کار واخلي او سم فرصت دې وپېژني. که نه همدا مظلوم او تنبل ماشومان به یوه ورځ د بې لارۍ له مختلفو پړاوونو وروسته د ټولنې ضد جدي فعالیتونو او جرایمو نړۍ ته ورسېږي.

**د کوڅو او بازارونو تنبلوونکي مجلسونه**

د کلي ماحول هم د ماشوم په تنبلۍ کې لوی لاس لري. ماشوم چې له کور نه وځي او د خپل کلي بې فکره ډلې ته ورشي، نو د ښوونځي هغه لړ او ډېره پوهه او ادب یې هم له اوبو سره لاهو شي. زموږ په کوڅو او بازارونو کې د بې لارې ماشومانو لوړ شمېر د تشویش تر حده رسېدلی. زموږ نوی نسل په ناوړه اخلاقي فعالیتونو او جرمي کړنو کې ډېر زیات وړاندې تللي دي. فحش خبرې، لاس اچونه او د قانون سرغړونه د دې نسل محبوب فعالیتونه گرځېدلي دي.

د دغه ډول بدمرغه ماشومانو له خولو نه چې ستاسو ماشوم د تعلیم د سرخوږیو کیسې او د مکتب د وچ ماحول په اړه زهرجنې خبرې واوري، نو د هغوی له ناوړه اغېز نه به په څه ډول خوندي پاتې شي؟ ماشوم مو د درس له سختیو څخه تر مخ لا ستومانه دی. د کور یو سان او بحراني ماحول خو روح ور وژلی وي. نو د کلي د کوچنیو باغیانو او فراري ماشومانو په مجلس کې ماشوم په دې یقیني شي، چې د ښوونځي او درس په خاطر ذهني او جسمي سختۍ تېرول یو بې گټې کار دی او

(c) ketabton.com: The Digital Library


که په تېروتنې سره ښوونځي ته ور غلط هم شي، نو ټول پام يې هماغه د کلي بې لارې کوونکي او اواره ماحول ته وي.

## د تنبلي علاج

ښوونکي او والدين بايد د تنبلي مختلف اړخونه ژور وڅېړي او د دغو بدمرغه ماشومانو د ستونزو له دقيق تحليل وروسته بايد مناسبه مرسته ورسره وشي. که د ماشوم ښوونځی نه خوښېږي، نو هڅه دې وشي چې يوه غوره او په زړه پورې ښوونځي ته يې بدل کړئ. د دې لپاره چې له کتابونو سره يې علاقه پيدا شي، انځوريز، اسانه او په زړه پورې کتابونه ورته راوړئ. د لوبو او په اضافي وختونو کې له تفريحي فعاليتونو سره د لېوالتيا په خاطر مناسب توکي ورته برابر کړئ. د کلي له بې لارې کسانو نه د خپلو ماشومانو د ژغورنې يوه اسانه او علمي تګلاره دا ده، چې د کلي د يو څو ښو ماشومانو کوچنی کلب جوړ کړئ، تر څو په خپلو منځونو کې کېني او له مناسبو او سالمو تفريحي فعاليتونو څخه خوند واخلي. په دې ډول کلپونو کې د تعليمي قطعو او الفاظو جوړونې په څېر سالمو لوبو له برکته په ګڼو تنبلو ماشومانو کې د ليک او لوست له فعاليتو سره له نوي سره علاقه را ټوکېږي.

که موږ په خپل وطن کې د انسانيت، اخلاقو او علم او هنر وده غواړو، نو د ماشومانو د سالمې او مناسبې تعليم او تربيې په خاطر به له پوره سرښندنې کار اخلو. د تنبلو ماشومانو د اصلاح او لارښوونې لپاره به تعليمي کلينکونه پرانيزو. د ماشومانو د ودې او نېکمرغۍ لپاره به طبي، ټولنيزې او اروايي ادارې جوړوو. د والدينو او استاذانو د روزنې لپاره به د ارواپوهنې ځانګړي کورسونه پرانيزو. په فردي کچه به هم پرلپسې هلې ځلې او له سنجيده غور او فکر نه کار اخلو او له تنبلۍ څخه د ماشومانو د ژغورنې او د بې لارې افرادو له زياتېدو څخه د هېواد د خلاصون لپاره له دې ډول رغنيزو او اصلاحي اقداماتو پرته بل چاره نشته. په دغه ملي جهاد کې زموږ د ټولو همکاري او ګډون ډېر زيات ضرور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library


## دريمه برخه

## د ماشومانو ښوونه او روزنه

د ماشومانو تعليم

د ماشومانو جذباتي تربيه

د ماشومانو جنسي تعليم

د ماشومانو ټولنيز تعليم

د زحمت او زيارکښۍ تربيه

د ماشومانو اخلاقي تعليم

د ماشومانو مذهبي تعليم

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library



**څېرکی: څوارلسم**

## د ماشومانو تعلیم



په پخوا وختونو کې هم ګڼو ښوونکو په انساني فطرت د پوهېدو هڅه کړې ده. د دې خلکو نیمګړې لاسته راوړنې د ښوونیز بهیر په مختلفو څانګو کې استفاده شوې دي. موږ د پخوا زمانې د ګڼو داسې ښوونکو مثالونه لرو، چې د خپل تدریس په میتود کې به يې بې شمېره اروایي اصول په پام کې نیول. خو په دغه برخه کې د علمي مشاهدو، څېړنو او تجربو په پیلېدو ډېر وخت نه دی تېر شوی.

### د تحقیق او تجربې د پیل کیسه

په ښوونه او روزنه کې اروا پوهنیز اصول د اتلسمې پېړۍ په پای کې په عملي ډول وکارول شوو. په دې برخه کې د روسو، پیسټالوزي او فروبل نومونه د یادونې وړ دي. د روسو په اند زموږ په ژوند کې ورځ تر بلې تصنع رامنځته کېږي. د ماشوم د مناسبې ذهني ودې لپاره یو داسې زړه راښکونکي او هوسا ماحول ته اړتیا ده، چې په هغه کې ماشوم له کوم مزاحمت او ځور پرته خپل فطري استعدادونه وغوړوي او په پای کې یو مهذب ښاري وګرځي.



پیسټالوزي د روسو دې تخیل ته عملي جامه ور واغوسته. ده یو داسې ښوونځی جوړ کړ، چې ماشومانو ته به په طبیعي چاپېریال کې له ازادۍ او اختیار سره، سره په انفرادي توجه ښوونه او روزنه ورکول کېده. ورپسې فروبل د وړکتون مشهور تعلیمي میتود ایجاد کړ، چې نن ورځ د نړۍ ټولو ماشونو ته ترې ګټه رسېږي. د دې ترڅنګ ګڼو نورو اروا پوهانو هم په دغه لړ کې ګټور خدمتونه کړي دي.

په دې کې به څوک شک ولري، چې تعلیم زموږ د ټولنې یوه زښته اړینه پدیده ده. له یو څه سواد

(c) ketabton.com: The Digital Library


او زده کړو پرته په دې نړۍ کې ژوند کول ناشونی دی. له خپل چاپېریال څخه په شخصي تجربو او د نورو له خولو يو څه زده کول يوازې د انسانانو ځانګړنه نه ده، بلکې حيوانات هم له دې لارو څه نا څه استفاده کوي، په تېره اهلي حيواناتو خو په دې ډول ډېر شيان زده کړي وي. خو تر انسان نه ډېر مدني او مهذب حيوان نشته او د ټول بشري تمدن ستنې په تعليم او تربيه ولاړې دي.

**له زدکړو نه د محرومۍ زيانونه**

د زدکړو يوازينی هدف له ذهني او مادي چاپېريال نه د ناپوهۍ تياري لرې کول او تر خپله وسه بشري ژوند خوشاله، خوښ او کاميابه ګرځول دی. که ماشومان د تعليم په ګاڼه د سمبالېدو په ځای فطرت ته پرېښودل شي، نو دوی به همداسې جاهل پاتې وي او راتلونکی ژوند به يې په باوري ډول تباه کېږي. نه يوازې دا، بلکې د ټولنې نورو خلکو ته يې هم له جهالت او ناپوهۍ نه د زيان رسېدو خطر پيدا کېږي.

له اروا پوهنيزه اړخه، د تعليم هدف په انسان کې ځينې مثبت او ګټور ټولنيز بدلونونو پنځول دي، چې په دې تغيراتو سره نوموړی په ټولنه کې د سم او متمدن ژوند وړتيا ومومي. يعنې علمي فضيلت او اخلاقي درناوی پکې پيدا شي. د انسان هوښيارتيا او اخلاق د هغه په شخصيت کې ځان ښکاروي. يعنې چلند د انسان د انسانيت، تعليم او تمدن ترجماني کوي، نو ځکه د تعليم هدف د انساني چلند اصلاح او مناسبه تداوي ده. ښوونځی، جومات، کتابتون، سينما، راډيو، ټلويزون، اخبارونه او نورې معاشرتي ادارې د تعليم د سرچينو په ډول استعمالول ډېر زيات اړين دي، خو په دې ټولو سرچينو سربېره که مور د زده کوونکو په چلند کې د ګټور بدلون او تغير په رامنځته کولو کې ماتې خورو، نو زمونږ ټولې ښوونيزې هلې ځلې بې ګټې کېږي. د ماشومانو د تعليم هدف د دې ستونزې عملي حل لاره ده، چې د ماشوم چلند په څه ډول تربيه او اصلاح کړای شي، تر څو د ځوانۍ پر مهال په ټولنه کې يوه مناسب مقام ته ورسېږي.

که د هېواد د ماشومانو لوی شمېر په پام کې ونيسو، نو د دې درک به ډېر ستونزمن نه وي، چې په دغه مهمه مسئله کې غفلت څومره ستر تاوان اړولی شي. په ماشومتوب کې عدم تعليم، ناقص تعليم او نيمکله تعليم په ځوانۍ کې چې کوم ګلان زېږوي، له هغو څوک ناخبره دي!

د ماشومانو د زدکړو اهميت خو واضح دی، مګر اوس به دا وڅېړو چې اروا پوهنه په دغه ښوونيز عمل کې څنګه مرسته را سره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د ښوونکي لپاره په ارواپوهنه پوهېدل ولې اړین دي؟**

ارواپوهنه زموږ د ژوند هر اړخیز تحلیل دی. د ارواپوهنې نوی، جامع او مشهور تعریف دا دی، چې ارواپوهنه هغه ټولنیز علم دی، چې د انساني چلن ژوره مطالعه او څېړنه کوي، فرق نه کوي، چې د دې چلن لاملونه ذهني یا بدني دي او که شعوري یا لاشعوري، او یا په اوسمهال پورې اړه لري که په تېرمهال پورې. اوس که د تعلیم هدف په همدې چلن کې مناسب بدلون راوستل وي، نو ښکاره ده چې تر ټولو ړومبی باید په چلند ځان پوه کړو. دا چې ارواپوهنه د چلند علم دی، نو ځکه په ارواپوهنه پوهېدل اړین دي او د تعلیم ټول بهیر او هر اړخ باید په ارواپوهنه بنا وي. له همدې کبله، ښوونکي باید د ماشوم په ارواپوهنه پوه وي.

ارواپوهنه په زدکړو کې ډېره زیاته مرسته کوي، خو د دې مرستې حدود او څرنګوالی څه دی؟ ټولنیز فعالیتونه ارومرو څه نا څه هدف لري. تعلیم هم یو موخیز ټولنیز عمل دی. د ښوونې په عمل او د هغه په هدف او غرض باندې د پوهېدو لپاره به په دغو پنځو پوښتنو غور وکړو او وبه ګورو چې ارواپوهنه یې په حل کې څنګه مرسته راسره کوي:

۱- د ماشومانو د تعلیم بنسټي اهداف او موخې څه دي؟

۲- د زده کوونکي فطرت څه دی؟

۳- ښوونیز نصاب باید څنګه وي؟

۴- د تدریس بهترین میتودونه کوم دي؟

۵- د زدکړو لپاره تر ټولو ښه ځای کوم دی؟

**د ماشومانو د زدکړو اهداف**

اوله پوښتنه دا ده چې د ماشومانو د تعلیم هدف او موخه څه ده؟ ارواپوهنه په مستقیم ډول له دې پوښتنې سره هېڅ اړیکه نه لري. د تعلیم اهداف او موخې ټاکل له بنیادي پلوه د فلسفې، مذهب او اخلاقیاتو دنده ده.

د فلسفې مختلف فکري مکتبونه دې پوښتنې ته مختلف ځوابونه ورکوي. د دفاعي فلسفې په نزد د تعلیم موخه ساتنه او دفاع ده. موږ حیوانات اهلي کوو او ماشومانو ته علم او فن ور زده کوو، د دې لپاره چې ټولنه د هغوی د کړنو او کارونو له بدو نتایجو خوندي وي. په جذباتي فلسفه کې فرد ډېر اهمیت مومي. د دې فلسفې له مخې هر کس یو شمېر ځانګړي استعدادونه او ارمانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


لري، نو تعليم او تمرين بايد د هغو استعدادونو د را برسېره کېدو لپاره مناسب فرصتونه چمتو کړي. د مسلکي فلسفې له اړخه، زدکړه يو فرد د دې جوګه ګرځوي، چې يو مناسب مسلک يا روزګار ترلاسه کړي. مذهبي فلسفه د تعليم هدف د اخرت لپاره چمتوالی په ګوته کوي. ټولنيزه فلسفه راته وايي چې، فرد بايد د علم په ګاڼه سينګار او د ټولنې يو باسليقې او کاميابه غړی وګرځي. د انتخابي فلسفې په نزد، تعليم د کره او ناکره (سوچه او ناسوچه) ترمنځ د توپير ذريعه ده. د تعليم په مټ د نالايقو له ډلې څخه د اهل کسانو انتخاب اسانه کېږي. د اقبال لاهوري فلسفه، تعليم د «ځان» د تکميل يوه ذريعه ګڼي.

بشري تفکر له پورتنيو فلسفو علاوه ګڼ نور فکري نظامونه هم پنځولي دي، چې د تعليم هدف او غرض پرې واضح کېږي. د زمانې ارزښتونه او انتخاب او د خلکو اړتيا پخپله دا پرېکړه کوي، چې د تعليم کومه فلسفه ورته مناسبه او ګټوره ده او کله چې د تعليمي فلسفې په افاديت او ګټورتيا توافق رامنځته شي، نو ارواپوهنه ټاکل شوي هدف ته د عملي جامو ور اغوستلو لپاره را مخې ته کېږي. د خپلو ماشومانو د تعليم لپاره چې زموږ هدف هر څه وي، ارواپوهنه د هغه هدف په ترلاسي کې له موږ سره مرسته کوي، مګر د دغه هدف په ټاکلو کې مستقيم او مخامخ رول نه لري.

خو ځينې مفکرين په دې نظر دي، چې ارواپوهنه د تعليم د اهدافو په ټاکلو کې هم ډېره مرسته کوي. ارواپوهنه راته وايي، چې آيا زموږ تعليمي موخې او اهداف د لاسرسي وړ دي او که نه. ارواپوهنه د فرد او اجتماع ذهن مطالعه کوي او ارواپوهان ادعا کوي، چې زموږ د ټولنيزو او سياسي قوانينو او اخلاقي ارزښتونو بنسټونه په ارواپوهنيزو اصولو ايښودل شوي دي. ارواپوهنه د انساني طبيعت په تړاو د هر اړخيزو معلوماتو تر رسولو وروسته دومره خو راته په ډاګه کوي، چې د بشري ژوند په دغو برخو کې د ښوونې لپاره ټاکل شوي اصول د پلي کېدو وړ هم دي او که نه؟ نو له دې اړخه، د تعليم د اهدافو په تعيين کې هم له ارواپوهنې پرته چاره نشته.

### د ماشومانو فطرت او د ارواپوهنې علم

دوهمه پوښتنه دا ده چې د متعلم فطرت څه دی؟ د زده کوونکي په فطرت باندې د پوهېدو په برخه کې ارواپوهنه د لارې مشال ثابته شوې ده. د ښوونې په پخوانيو ميتودونو کې د زده کوونکي اهميت تقريباً له پامه غورځېدلی وو. يوازې ښوونکي او نصاب ته ټول ارزښت ورکول شوی وو او ماشوم ته د يوه تش لوښي په سترګه کتل کېدل، چې هر څه پکې واچول شي، نو له چون او چرا پرته به يې ومني. د زده کوونکي په طبيعت باندې ځان پوهول او د زده کوونکي لپاره درس د هغه د پوهې په اساس د منلو او دلچسپه کولو ته هېڅ فکر نه کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ارواپوهنې له ودې او د انساني برخورد، کړو وړو او شخصیت د اساسي اصولو له روښانه کېدو سره، سره د زده کوونکي څېړلو هم اهیمت وموندہ. مډرن ارواپوهنې دا په ډاګه کړې، چې د ماشومانو د طبیعت له مطالعې پرته، هغوی ډول، ډول وچو او پېچلو نصابونو ته مجبورل اصلاً علمي روش نه دی او په اوسني عصر کې دا منل شوي دي، چې د ماشوم په فطرت باید ځان پوه کړای شي. که د ماشوم فطرت، ذوقونه او استعدادونه په پام کې ونیسو، نو د یوه اسانه، اغېزمن، ګټور او خوندور تعلیمي میتود غوراوی شونتیا مومي. دغه ډول ښوونیز او روزنیز روش د ماشوم په طبیعت بوج هم نه ګرځي او د ژوند له غوښتنو سره یې هم تطابق کوي.

**د ماشومانو فطري کړنې او استعدادونه**

د ماشومانو په فطري استعدادونو پوهېدل او په هغو کې ګټور تولنیز بدلون او اصلاح د تعلیم او تربیې د بریالي روش لپاره اړین ټکی دی. دغه فطري استعدادونه په لاندې ډول دي:

(۱) غبرګونونه

(۲) فطري تمایلات

(۳) احساسات

(۴) استعداد او ځیرکتیا

**د ماشومانو غبرګونونه:** غبرګونیز فعالیتونه هغه عکس العملونه دي، چې زموږ د بدن په مختلقو برخو پورې ځانګړي دي، او په یوه ځانګړې حالت کې هر ځل یو ډول عمل کوي. مثلاً د سترګو رپېدل، ټوخېدل، پرنجېدل، د لاړو بهېدل او داسې نور، د غبرګونونو مثالونه دي. په ښوونه او روزنه کې د دغو غبرګونونو اغېز ډېر کم وي، نو ځکه له تعلیمي اړخه، د غبرګونونو ارزښت ډېر کم دی، خو پر هغو پوهېدل له والدینو او استاذانو سره ډېر کومک کوي. روسي چلنپوه پاؤلوف او امریکایي ارواپوه واټسن په دې برخه کې ګټورې څېړنې کړې دي.

**د ماشومانو فطري تمایلات:** په معاصره ارواپوهنه کې یې غیراکتسابي انګېزې بولي. جنسي خواهشات، د جمع کولو مینه، تقلید کول، د برترۍ یا کمترۍ احساس، او داسې نور د فطري تمایلاتو یو څو مثالونه دي. له تعلیمي لیدلوري دغه تمایلات ډېر زیات اهمیت مومي، ځکه همدا غیر اکتسابي محرکات تر ډېره پورې زموږ د شخصیت اساس جوړوي او زموږ فعالیتونه، ذوقونه او اخلاقي ارزښتونه تر ډېره بریده د همدې محرکاتو په ځواک او زموږ په ذهني نظام کې یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


حیثیت او روزنه پورې تعلق نیسي.

**د ماشومانو احساسات:** احساس هغه هیجاني کیفیت ته ویل کېږي، چې د یوه ځانګړي فعالیت په تړاو انګېزه او شعوري تمایل پکې لیدل کېږي. وېره، غوسه او مینه زموږ د ژوند څو مهم احساسات دي. په احساساتو کې جسمي بدلونونه خاص رول لري. د احساساتو ځواک، د هغو سم یا ناسم استعمال او په هغو کې سمون او تعدیل هم زموږ په ژوند کې د لوی انقلاب سبب ګرځي. د فطري تمایلاتو په څېر احساسات هم له تعلیمي اعتباره ډېر زیات مهم دي.

**د ماشومانو استعداد او ځیرکتیا:** د فطري استعدادونو او ځیرکتیا له مخې، ټول ماشومان یو شان نه وي. په انساني فطرت کې ستر فردي اختلافات موجود دي. په استعداد او هوش کې توپیر او د هغه په عواملو پوهاوی ښوونکو ته ډېره زیاته ګټه رسوي. د دغې پوهې په رڼا کې، ښوونکی له بېلا بېلو ماشومانو سره د هغوی له ذهني وضعیت سره مناسب او د فردي چلن بصیرت مومي. د ماشوم د استعداد او ځیرکتیا دغه عملي پوهه د درس او تدریس چاره هم دلچسپه او اغېزناکه کوي.

د ماشوم د طبیعت د دې اړخونو مطالعه خورا ډېره اړینه ده. د پخوانو په وراسته تعلیمي نظام کې همدا نیمګړتیا وه، چې د ماشوم په فطرت باندې د نه پوهېدو یا بې اعتنایي له کبله به د ښوونځي نظام په منفي طریقه بنا وو او د نظم او ډسپلن د پلي کولو لپاره به له بدني جزاوو استفاده کېده. ښوونکو به د ماشومانو فطري غوښتنو، ارمانونو او احساساتو ته اصلاً د ارزښت په سترګه نه کتل. د ژوند ډول، ډول تفریحي فعالیتونه به د امکان تر بریده د ښوونځي له چاپېریال نه لرې ساتل کېدل. د ماشوم اروا‌پوهنې د ماشومانو په فطرت باندې د پوهېدو ارزښت روښانه کړ او په اوسني عصر کې یې ښوونکي ته وښودل، چې هغه تعلیم هېڅ کله په خپلو موخو کې نه شي بریالی کېدلی، چې د ماشوم فطري غوښتنې پکې تر پښو لاندې کېږي.

## اروا‌پوهنه او تعلیمي نصاب

د ماشومانو نصاب باید څه ډول وي؟ اروا‌پوهنه دې پوښتنې ته هم ډاډمن ځواب ورکوي.

معاصرې اروا‌پوهنې روښانه کړې، چې ماشوم یوازې د پندونو او نصیحتونو پر ځای د عملي مثالونو او شخصي مشاهدو په مټ ښه زده‌کړه کوي. په پیل کې ماشوم یوازې په لوبو مینن وي، نو ځکه د ژوند ابتدایي دوره یې باید په وړکتون، کودکستان او نورو ادارو کې تېره شي.

په پنځه - شپږ کلنۍ کې د مکتب اصلي دوره پیلېږي. په دې پړاو کې دې ماشوم له لیک و

(c) ketabton.com: The Digital Library


لوست او ابتدايي حساب سره بلد کړای شي، ځکه د تمدن له دغو درې بنسټونو پرته يو ډول مطالعه او ارتقا هم امکان نه لري. په ماشومانو کې د تجسس او تخيل ودې ته هم پام پکار دی، چې د دې هدف دپاره دې ماشومانو ته د خپلو او نورو هېوادونو او ولسونو لنډې زړه راښکونکې کيسې واورول شي. له تاريخ او جغرافيې سره د ماشوم اصلي علاقه په همدې ډول غوړېږي. په زړه پورې مناظر او د طبيعي ښکلا مطالعه او مشاهده هم بايد پرې تمرين شي، تر څو په ماشومانو کې د علمي مشاهدې تمايل پيدا شي. د عمر له زياتېدو سره چې د ماشوم تجربه او شعور وده کوي او تخيل او استدلال يې پوخوالی مومي، نو د رياضي، ابتدايي منطق او طبيعي علومو ساده او اسانه خبرې دې ور وښوول شي.

د نورو مضامينو په څنګ کې دې ښکلي هنرونه لکه موسيقي، انځورګري او داسې نور عواطف روزونکي مضامين هم په نصاب کې شامل کړای شي. په دې سربېره، د جنسي موضوعاتو په باره کې هم يو څه معقول او محتاط تعليم او تربيه ضرور ده. د ټولنيزو ادابو د پوخوالي لپاره په خپلواکو فعاليتونو او په ښو کلبونو کې اشتراک هم ګټه ورته رسوي. د لوی عمر د ماشومانو لپاره په خيريه بنسټونو او سرې مياشتې په څېر سازمانونو کې غړيتوب هم ډېر مناسب دی.

ښوونکی بايد په دې هم غور وکړي، چې زړه ته په لار کوونکو ټکيو په ماشومانو کې معياري عاطفه وروزي. هغه بېساري ځواکونه، چې د شخصيت او اخلاقو د سمون لپاره د مذهب په مينه کې نغښتي دي، له هغو هم بايد استفاده وشي. خو پکار ده چې ماشوم د «مذهبي زدکړو» په نوم له هغو زهرو خوندي وساتل شي، چې بنياد يې په افراطيت، خرافاتو يا تنګ نظري ولاړ وي، ځکه په دې ډول د مذهبي زدکړو اصلي موخه له منځه ځي.

د بېلا بېلو استعدادونو او سطحو د زده کوونکو لپاره د مناسبو درسي کتابونو د ليکنې او سپارښتنې په چارو کې خو د ماشوم روانشناسي ډېره زياته ګټوره راځي. همداسې، د ماشومانو د ځيرکتيا د کچې له مخې، د هغوی د ډلبندۍ په چاره کې هم د اروا پوهنې وضع کړي ازمايښتونه ډېر ګټور ثابت شوي دي.

## ماشومانو ته د تدريس اروا پوهنيزې څېړنې

د نصاب تر ټاکلو وروسته اوس پوښتنه پيدا کېږي، چې د دې نصاب د تدريس لپاره تر ټولو غوره ميتود څه دی؟ اروا پوهنه په دې ځای کې هم زموږ لاسنيوی کوي. علم څنګه ترلاسه کېږي؟ په ټولګي کې د زده کوونکو د تمرکز لپاره ښې لارې کومې دي؟ په څه ډول يې درس ته لېواله کړو؟ د

(c) ketabton.com: The Digital Library


زده کوونکي له بدن او ذهن څخه سترړيا په څه ډول ختمه کړو؟ حافظه څه شی ده؟ د يادولو اسانه او علمي طريقې کومې دي؟ ولې او په څه ډول يو څه له ياده وځي؟ د فکر او استلال استعداد څنګه را ټوکېږي؟ اکتسابي لېږد څه معنا لري؟ د مختلفو مضامينو په تدريس کې اکتسابي لېږد څه ډول استفاده کولی شو؟ د فطري تقاضو او احساساتو تربيه او خړوبتيا په څه ډول وکړو؟ د دغو خواهشاتو او احساساتو د مناسبې تربيې له لارې په زده کوونکي کې د مهذب انسان کېدو وړتيا څنګه زرغونه کړو؟ په زده کوونکي کې خواخوږي، وروروليي، همکاري، رښتينولي او داسې نور غوره خصلتونه څنګه زرغون کړای شي؟ د ښو عادتونو د جوړولو او بدو عادتونو د ختمولو لپاره کوم ګامونه بايد واخيستل شي؟ دا ټول هغه مهم مسايل دي، چې ښوونکي ته يې په حل لارو پوهاوی ډېر زيات اړين دی، ځکه په دې مسايلو له پوهېدو پرته د تدريس ميتود قطعاً ناعلمي او نامناسب وي. پر دغو ټکو د پوهېدو په برخه کې هم د ماشوم ارواپوهنه د لارې مشال ثابته شوې ده.

ماشومان له لوبو ډېر زيات خوند اخلي. د لوبو په ميدان کې ماشوم د خپلو فطري تمايلاتو د بې باکه اظهار فرصت ترلاسه کوي. په لوبو کې په خوند سربېره، ماشوم د شعوري تمرکز له زحمته خلاصېږي او په دې ډول فطرتا لوبو ته تمايل ښيي. اروپوهان په دې خبره سره يوه خوله دي، چې که زدکړه هم د لوبو په څېر دلچسپه او خوندوره شي، نو ماشومانو به په لوبو، لوبو کې ډېر څه زده کړي وي. په دې اساس، د دغه ليدلوري په اغېز کې، ښوونيزو اروپوهانو د تدريس ګڼ داسې دلچسپ ميتودونه پنځولي دي، چې هڅه شوې د دغو ميتودونو په مټ تدريس هم د لوبو په څېر په يوه خوندور او رغوونکي فعاليت بدل شي. د ډالټن تګلاره، د مانټ سوري تګلاره، انکشافي تګلاره، د پلان ګذارۍ تګلاره، ټولنيزه تګلاره، او داسې نور د زدکړې هغه اروپوهنيز روشونه دي، چې له امله يې د ماشومانو د زدکړو او تدريس چاره خورا اغېزناکه او هوساييزه کېږي او د يوه بوج په ځای زدکړه د ماشوم لپاره تفريحي فعاليت ګرځي.

د ښوونځي عمومي نظم او ډسپلن، د سمو ښوونکو انتخاب، درسي مهالوېش، د تفريح وقفه ټاکل، د ټولګي نظم، په زده کوونکو کې له ښوونځي سره د مينې احساس زرغونول، د ښوونکو او زده کوونکو خپلمنځي روابط، د زده کوونکي بدني او ذهني عادتونه او کړه وړه، د شاګردانو د شخړو او لانجو هوارى، د لوبو تنظيم، د مختلفو استعدادونو د زده کوونکو لپاره په جدا جدا ټولګيو کې د هغوی له ذوق سره سم د مضامينو انتخاب، په راتلونکي کې د مناسب مسلک لپاره د زده کوونکو چمتو کول، او داسې نورو مهمو مسايلو په برخه کې چې د ماشوم اروپوهنې کوم ارزښتناکه خدمتونه کړي دي، له عملي او افادي اړخه له هغو انکار ناشونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


### د ښوونځي د ودانۍ اروا پوهنيز ارزښت

د ښوونځي د ودانۍ او موقعيت په اړه هم اروا پوهانو ګټورې څېړنې او تجربې ترسره کړې دي. په زده کوونکو کې د غوسې، بدخلقۍ، لاس اچونې، ځورونې، او بې شمېره نورو ناوړه او د ټولنې خلاف کړنو نه علاوه، له زدکړو سره د ماشوم د لېوالتيا د کمښت، له ښوونځي نه د تېښتې، تنبلي او داسې نورو کړنو يو لامل د اروا پوهنيزو اصولو خلاف رغېدلې ودانۍ دي. د ماشومانو ښوونځی بايد څه ډول وي؟ اروا پوهان ان د ښوونځي د ظاهري جوړښت ارزښت هم له پامه نه غورځوي.

يو داسې ښوونځی په ذهن کې ونيسئ، چې په يوه چټل او بوين ځای کې جوړ وي. د لوبو ميدان خو ايسته پرېږده، په ټولګيو کې يې ان د ارامې ناستې زمينه هم برابره نه وي او ماشومان په خړه ځمکه يا په ورستو پلاستيکي ټوټو ناست وي. په تياره خونو کې يې د څراغونو درک نه وي، کتابتون ونه لري، د ماشومانو د خوراک څښاک لپاره د ښو خوراکي توکو يو پاک او لوی کانتين نه وي. بيت الخلا او حمامونه يې له درسي اطاقونو سره نښتي وي او تل چټل او خيرن وي، د ښوونځي په ماحول کې شنه بوټي، ګلان او ونې نه وي؛ نو په داسې بې خونده ماحول کې له جوړ شوي ښوونځي سره علاقه او بيا له زدکړو سره د مينې جذبه په هېڅ صورت کې هم نه شي پيدا کېدلی. د دې ډول ښوونځي حتمي پايله به په علمي فعاليتونو کې ځوړتيا نه وي، بلکې په دې غيرفطري مادي فضا کې تل د دې اندېښنه وي، چې په ماشوم کې د ټولنې ضد عادتونه او نامتمدنه تمايلات وده ومومي.

د پخوانيو وختونو د دقيانوسي ښوونځيو په ودانيو کې لږ او ډېر ترميم اورمرو بايد وشي. خو د نوي مکتب د ودانولو په وخت کې دې انجينر خامخا د ماشومانو له يوه اروا پوه سره مشوره وکړي. په ښوونځي کې ماشومان د خپل ژوند مهم ترينه دوره تېروي. د ښوونځي له چارو سره د ماشوم لېوالتيا او د ماشوم په اخلاقو باندې ښوونځی هماغه وخت اثر ښندلی شي، چې کله په نورو فکتورونو سربېره د ښوونځي په ودانۍ کې د راښکونتيا او جذابيت عنصر ته لومړيتوب ورکول شي. او د ودانۍ مختلفې برخې په پوره سليقه ورغول شي. ماشومان د خپلو مجلسونو، استوګنې او لوبو لپاره څه ډول ماحول خوښوي؟ يو اروا پوه چې د ماشومانو له فطرت سره تر خپله وسه بلد وي، نو که انجينر د هغه له لارښوونې سره سم ښوونځی جوړ کړي، نو دغه ودانۍ په سترګو هم دومره جذابه کېدلی شي، چې د ماشومانو له خوښې سره به بيخي جوړ وي او خپله به يې د ځان لوري ته ور کاږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له اروا پوهنې نه د استفادې اړتیا**

د ماشومانو د سمې ښوونې او روزنې لپاره اړینه ده، چې د هغوی فطرت په بشپړ ډول مطالعه کړو. د هغوی ذهن، فطري غوښتنې، فعالیتونه، ذوقونه او احساسات یې په پوره توګه وڅېړو او بیا د هغو په رڼا کې د ماشومانو لپاره یو داسې ښوونیز نظام جوړ کړو، چې د ماشومانو د ژوند ټولو اړخونو ته پکې پام شوی وي. په کومو هېوادونو کې چې د ماشومانو په زدکړه کې له اروا پوهنې استفاده شوې ده، هلته د ماشومانو د تعلیم او تربیې په برخه کې هم هیښوونکې بریاوې لیدل کېږي. د ماشومانو په تعلیم او تربیه کې د ستاینې وړ دغه بریا د دې پخلی کوي، چې د اروا پوهنې ادعاوې یوازې کاغذي پلانونه نه دي، بلکې د اصلاحي چارو او بریالي ژوند ارزښتناکه پیغامونه دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**څپرکی: پنځلسم**



## د ماشومانو د احساساتو روزنه

د ورځپاڼو له سرسري مطالعې هم دا اټکل کولی شو، چې زموږ په ورځني ژوند کې احساساتو څومره ګډوډي رامنځته کړې ده. شخړې او لانجې، قتلونه او وژنې، ډله ییزې فتنې، کورنۍ لانجې، د توکمیز او مذهبي تعصب جګړې او داسې نور ټول زموږ د احساساتو معجزې دي. که فکر وکړو، نو په دې کې اخر زموږ څه ګناه ده؟ موږ په یوه داسې بې نظمه چاپېریال کې نړۍ ته راغلو، چې هلته په وینا کې تېزي، په عمل کې بې شعوري او په فکر کې کوږوالی د اوبو په بیه ده. زموږ د ټولنې احساساتي چاپېریال خورا پاروونکې فضا لري او د دغې ټولنې له زهرجنې فضا څخه زموږ ماشومان نو په څه ډول خوندي پاتې کېدلی شي!

### په احساساتي تربیه کې د غفلت پایلې

که ماشوم ته د ژوند په لومړنیو کلونو کې مناسبه جذباتي تربیه ورکول شي، نو په ځوانۍ کې هم یو متمدن ښاري او د یو بل درک کوونکی مهذب انسان ترې جوړېدلی شي. دا چې د تربیې دغه کار یو څه پېچلی دی، نو ځکه والدین او ښوونکي هم له دې مسؤلیت نه د ځان ژغورنې په خاطر ډول، ډول پلمې لټوي. مثلاً وایي به چې د شخصیت وده په ښوونې او روزنې پورې نه، بلکې په ارث پورې تعلق لري. کوم ماشوم چې په جېب وهلو، غلا او وهلو ډبولو کې نوم پیدا کړي، نو ټولنه په همدې خبره چې ګواکې «دی له موره همداسې زېږېدلی» د هغه د جرمي چلند له مسؤلیت منلو نه ځان وباسي.

اوسنیو تجربوي مشاهدو او اروا پوهنیزو څېړنو زموږ دغه دعوا له یوې مخې غلطه ثابته کړې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوسني عصر ساينسي مشاهدو مور ته دې ټکي وپوهولو، چې په ماشومتوب کې د احساساتو تربيه د اخلاقو او شخصيت بنسټ جوړوي. د دې برعکس، د احساساتو تربيه له پامه غورځول د سالم شخصيت ودې ته ډېر جدي نقصان رسوي. په کور کې د مور او پلار خپلمنځي جګړې، د کوچني لوچک ملګري او د ښوونځي تونده ښوونکي د ماشوم ذهني انډول له خاورو سره يو کوي. د چاپېريال همدا خطرناکې اغېزې له ماشوم نه يو تند مزاجه، جنګېره او بداخلاقه انسان جوړوي.

## د ماشومانو په طبيعتونو کې توپير

احساساتي تربيه يوه مهمه او پېچلې مسئله ده. انساني طبيعتونه له يو بل نه ډېر فرق سره لري. ان د يوه مور او پلار د دوو زامنو په منځ کې ستر ذهني توپيرونه کېدلی شي. دې واقعيت ته په کتو، د بېلا بېلو طبيعتونو ماشومانو لپاره د تربيې يو ډول اصول نه شو ټاکلی.

د ماشومانو يوه اروا پوه به له واده نه مخکې ښځې او مېړه ته د ماشومانو د روزنې په تړاو د خبرو په ترڅ کې په لسو «اساسي اصولو» ډېر زيات تاکيد کاوه. خو له واده نه وروسته چې يې خپل ماشوم وشو، نو پوه شو چې اصول يې يوازې د خپلو ماشومانو د روزنې لپاره ګټور وو. د خپل ماشوم د فردي تربيې له مخې، د هغه اروا پوه په دې «لسو اصولو» کې يو څه بدلون اړين برېښېده، نو تر دې وروسته نوموړي په خپلو ويناوو کې پر دې اصولو د تېر په څېر له تاکيد نه لاس واخيست او دغه اصول به يې يوازې د مشورو په توګه خلکو ته ورکول. څه موده وروسته چې د اروا پوه د بچيانو شمېر ډېر شو او د خپلو لوڼو او زامنو د طبيعتونو د څېړلو فرصت لاسته ورغی، نو نوموړی پوه شو، چې د بچيانو په خويونو او شخصيت کې يې دومره اختلاف دی، چې يوازې د يو څو ټاکلو مشورو په اساس د هغو تربيه نه شي کېدلی او يوازې د مشورو او اصولو په مټ خپل ماشومان په سمه توګه درک او په علمي ډول نه شو روزلی، بلکې د ماشومانو د ژوند د مختلفو ابعادو مشاهده هم ضرور ده. نوموړی اروا پوه چې دې نتيجې ته ورسېد، نو پر دغه موضوع يې د يو څو ټاکلو اصولو او معياري مشورو په تړاو له ويناوو سره له يوې مخې مخه ښه وکړه.

د هر ماشوم په احساساتي تربيه کې يو شان ټاکلي اصول او وچې مشورې ګټه نه کوي. نو دا د والدينو او ښوونکو مسؤليت دی، چې هر ماشوم بېل، بېل مطالعه کړي او د هغه په احساساتي اختلالاتو ښه ځان پوه او بيا يې په نرمه ژبه وپوهوي. خپل ماشوم ته مو په ساده ژبه د يوه متوازن ژوند طرحه تشريح کړئ. په ورځني ژوند کې داسې فرصتونه ورته برابر کړئ، چې د ژوند لپاره يو خوش اخلاقه رويه خپلول ورته اسانه شي. ډېره هڅه دې وشي، چې د ماشومانو ژوند له غوسه پاروونکو خبرو، د جنګ او جګړو له کيسو او اخلاق خرابوونکو پېښو خوندي وي. هغه ماشوم چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


ارامه او مثبته فضا کې لوی شوی وي، په ځواني کې هم له هر ډول احساساتي نا انډولۍ نه په امان کې وي.

### د تونډ مزاجه ماشومانو درملنه

ځينې ماشومان په کوچنيوالي کې لا غوسه ناک او جنګړه وي. چې لوی شي، نو همدا ډول کسانو ته د «وچ مزاجه» او «بدمزاجه» لقبونه ور پورې کېږي. د احساساتو د دغه تنوع بې شمېره لاملونه کېدلی شي، مثلاً ناروغي، د کمترۍ احساس، د والدينو اقتصادي بحران، ناوړه چاپېريال او داسې نور.

د بدمزاجه ماشوم بهترينه درملنه دا ده، چې په دلچسپو او عملي طريقو د ښاري ژوند او جمهوريت لوی، لوی اصول ور زده کړئ. له خپلو همزولو سره لوبېدو ته يې وهڅوئ. تريخ مزاجه ماشوم عموماً يوازيتوب خوښوي او د غم او خوشالۍ په وختونو کې له معقول چلند سره اصلاً نا اشنا وي. له نورو سره په ګډه د لوبېدو او د کار په چل هېڅ نه پوهېږي. په فکر او عمل کې د انفرادي طرز له امله ټولنيز شعور يې کنګل وي. له خپلې شاوخوا نړۍ سره د دلچسپۍ ښودلو روزنه يې د درون بيني په خاصيت د تورې يو ګوزار وي او په دې ډول دا احساس ورسره پيدا شي، چې په خپل ځان کې غرق اوسېدل او له هر چا سره تريخ چلند په هېڅ ډول هم ښه کار نه دی. په دغه ډول نوموړی په ځان کې د غرقېدو له عادت نه لاس اخلي او د خپلو همزولو ماشومانو ټولنيزو فعاليتونو ته ور ماتېږي.

### د ادبي او هنري ذوق روزنه

د ماشومانو د احساساتي تربيې لپاره، د هغوی ادبي او هنري تربيه هم ضرور ده. د يونان لرغونو انسانانو به د ښکلا، ښايست، حسن او جمال د احساساتو ودې ته ځانګړې توجه ورکوله. د دوی په ښوونيز نظام کې د «ښکلا احساس» تربيه کول په لومړي مقام کې راته.

د افسوس ځای دی، چې زموږ په دې ماشيني او صنعتي دور کې له تعليم نه د احساساتو د روزنې عنصر په رژېدو دی. زموږ په نصابونو کې بې شمېره وچو مضامينو ته بې ځايه ارزښت ورکول کېږي. شاعري، ډرامې، نڅا، موسيقي، ډېر تورنه او نور ښکلي هنرونه شاوخوا له نظره غورځېدلي دي. ماشوم چې له دا ډول هوساييزو او احساس رغوونکو مضامينو سره نابلده پاتې شي، نو د خپلو قلبي عواطفو د بيان او د خپلو احساساتو له سم درک نه هم بې برخې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه ماشومان چې په داسې ښوونځيو کې زده کړې کوي، چې ښکلي هنرونه يې د نصاب برخه وي، د احساساتي تربيې ډېر مناسب فرصتونه مومي. دغه ماشومان په راتلونکي کې عموماً بې باکه او زغم لرونکي انسانان وي. د دوی د ښوونځيو دلچسپه تعليم و تربيه او زړه راښکونکی چاپېريال د وېرې، غوسې او حقارت احساسات نږدې هم نه ور پرېږدي او ښوونځی ورته د يوه بهترين روزنتون په څنګ کې يو بهترين لوبغالی هم وي. دا ډول خوندور چاپېريال د هغوی په شخصيت کې د غوره انساني صفاتو په زرغونولو کې هم معلوم نقش لوبوي.

د دې په خلاف، د دقيانوسي طرز د وچو ښوونځيو زده کوونکي له دغو احساساتي ښېګڼو څخه بې برخې وي او په چاپېريال کې يې د راښکونتيا نشتوالی په طبيعت کې د تنوع، نوښت او له طبيعي مناظرو څخه د لذت اخيستنې احساس رژوي. په هسې خبره د لفظي شخړې او هر وخت د سزاګانو له لاسه دغه ماشومان لا ډېر جنګېره، غوسه ناک او سرتمبه شي. د دې حتمي پايله د يوه نامتوازنه شخصيت جوړېدل دي. د دغو ماشومانو احساسات، خواهشات او جذبات چې د خپل بيان لپاره روا لارې ونه ويني، نو د ماشوم په درون کې جوشونه وهي او چې کله دغه اتشفشان لاره پيدا کړي، نو يوه غوغا رامنځته کړي. دغه ډول ماشومان تېر اخر، د ګرم مزاجه، تند ژبو او فساد جوړوونکو ځوانانو په څېره کې لويېږي او د معاشرې لپاره د خطر او تشويش سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**څپرکی: شپاړسم**



## د ماشومانو جنسي تعليم

جنسي خواهشات د انسان يو بې بريده زورور او پياوړی جبلت دی. له پيړيو راهيسې زموږ ټولنه په دې نه ده توانېدلې چې دغه بې بريده ځواک مهار کړي. د شهواني هيجانونو شديد احساس انسان حيوانيت او آن لېونتوب ته رسوي. په خپل ورځني ژوند کې د جنسي انگېزو په اهيمت باندې له پوهېدو سره، سره بيا هم موږ د جنسي مسايلو په اړه له مجرمانه غفلت نه کار اخلو. د ويجاړو کورنيو، په گډ ژوند کې جگړو، د بې شمېره ذهني او جسمي ناروغيو، جنسي بې لاريو او په شخصي ژوند کې د ژور خپگان او د نهيلۍ او مايوسۍ د تراديژيو تر شا يو لوی سبب زموږ جنسي ناپوهي ده.

ماشومانو ته جنسي ښوونه د والدينو يو مهم مسؤليت دی. ماشوم چې خوراک څښاک، تگ او خبرې کول زده کوي، نو ورسره د جنسي احساساتو د کنټرول او ضبط يو څه استعداد هم پکې پيدا شي. جنسي احساسات د بلوغت په دوره کې خپل پخوالي ته رسېږي، چې دغه وخت د ژوند د لومړنيو کلونو غوره جسماني عادتونه د جنسي هيجانونو په مناسبه لارښوونه کې ډېر زيات کومک کوي. په دې توپاني دور کې که مناسب ټولنيز چاپېريال او جنسي تعليم ته لاسرسی نه وي، نو جنسي خواهشات په غلطو لارو وده کوي او په شخصيت کې د ډېر زيات هيجان او گډوډۍ سبب کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


### د ماشومانو د جنسي پوښتنو ځواب

ماشومان چې د جنسي مسايلو په باره کې پوښتنې وکوي، نو ښوونکي او والدين څلور ممکنه لارې غوره کولی شي:

(۱) په وهلو او رټلو ماشوم غلی کول او هيڅ ځواب نه ورکول.

(۲) په دروغو ماشومانو ته غلطې او ګډې وډې خبرې ښودل.

(۳) د زړه له اخلاصه ټولې خبرې په پوره تفصيل سره ورته بيانول.

(۴) منځنۍ لاره غوره کول. يعنې د غلطو او دروغجنو خبرو يا د بې بند و باره وضاحتونو په ځای د ماشوم له ذهني سويې سره سم په ساده ژبه د هغه پوښتنو ته لنډ، لنډ ځوابونه ورکول.

### غلطې لارې او ناوړه پايلې

د ماشومانو جنسي تجسس ځپل يوه غيرساينسي رويه ده. دغه راز، د دوی د پوښتنو په ځواب کې دروغ ويل هم يوه لويه ټولنيزه تېروتنه ده. نن ورځ چې تاسو کوم څه ور ښودلي، که سبا هغه ناسم وخېژي، نو د ماشومانو په سترګو کې به مو درناوی ختم شي او که ماشوم پوه شي چې تاسو له اصلي خبرو نه ځان تېر باسئ، نو ماشوم به د کور له مزدورانو او د کوڅې له بې لارې ماشومانو نه د سمو او ناسمو جنسي معلوماتو ترلاسي ته مخه کړي.

په جنسي پوښتنو ماشوم رټل او خوله ور ترل خو خورا جاهلانه رويه ده. د دې بالعکس، په بې باکه توګه جنسي مسايل په پوره تفصيل سره د دوه او دوه څلور په څېر بيانول هم يوه غلطه تګلاره ده. له دې امله، دا انديښنه شته چې په ماشومانو کې له جنسي مسايلو سره دلچسپي د اعتدال له بريده واوړي؛ نو تر ټولو ښه لاره همدا ده چې ماشوم کله د يوې جنسي مسئلې په هکله پوښتنه وکړي، نو په ډېره سليقه او په اسانه ژبه لنډ ځواب ورکړئ او هغه ته د قناعت ورکولو هڅه وکړئ.

د ماشومانو د جنسي زدکړو په برخه کې يو شمېر والدين له دې امله هم زړه نا زړه وي، چې هغوی پخپله هم په جنسي مسايلو کې ډېره محدوده او غيرعلمي پوهه لري. اکثره والدينو د جنسي معلوماتو پانګه يوازې په تصادفي ډول له اخوا دېخوا خبرو نه ټوله کړې وي، نو ماشوم چې کله کومه پوښتنه کوي، نو دوی په همدې خبره ځان باسي، « چې لوی شوې، نو پخپله به پوه شې.» دوی په دې نظر وي، چې هماغه شان چې دوی په دې هکله څه نا څه پوهه ترلاسه کړې، نو د ماشوم لپاره به يې هم هماغه لاره بهتره وي. په کور کې د والدينو د غفلت له لاسه چې د ماشوم فطري جنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library


تجسس په سم ډول خړوب نه شي، نو د کوڅې او بازار له لويو هلکانو او له بلې هرې ممکنې لارې نه د جنسي معلوماتو په باره کې د حقايقو ټولولو ته مخه کوي او د معلوماتو دغه ناسمه او خطرناکه زېرمه په راتلونکي ژوند کې ډېر زيات تاوان ور رسوي.

**په ابتدايي جنسي زدکړه کې د مور نقش**

د جنسي معلوماتو او د جنسي زدکړو په ميتودونو په پښتو ژبه کې معقول کتابونه له نشت سره برابر دي. د خپل ماشوم د جنسي تعليم تر پيل له مخه دې مور او پلار يو نيم مستند کتاب ارومرو ولولي.

ماشوم چې دوه کلن شي، نو مور دې د فرصت په وختونو کې هره ورځ له ماشوم سره د څه نا څه خبرو عادت خپل کړي. په دغو ورځنيو خبرو اترو سره د ماشوم او مور ترمنځ يو بې باکه عاطفي تعلق رامنځته کېږي. د جنسي ښوونې تر پيل له مخه دغه ډول عمومي بې باکي ډېره اړينه ده. په دغه وخت کې ماشوم ته د خپل شاوخوا چاپېريال په تړاو څو وړې، وړې خبرې ور وښيئ. مثلاً ګړۍ ولې ټکا کوي؟ اور څنګه لګېږي؟ باران څنګه اوري؟ بدن ولې په صابون وينځل کېږي؟ شيريني څېرته جوړېږي؟ د شپې تياره ولې شي؟ د ورځې پلار جان چېرته ځي؟ کتاب څه شی ده؟ او داسې نور. ماشوم چې پنځه کلنۍ ته رسېږي، نو د بې شمېره پوښتنو کولو عادت يې جوړ شوی وي.

د ابتدايي جنسي زدکړې لپاره همدا تر ټولو ښه دوره ده. نو په دغه وخت کې په دلچسپه ژبه د عادي جنسي مسايلو په تړاو اسانه معلومات ورته پيل کړئ.

**«ماشوم څنګه زېږي؟»**

ماشومان څه ډول جنسي پوښتنې کوي؟ دا پوښتنه د ماشوم په عمر، چاپېريال او په دې ټکي پورې تعلق نيسي، چې دی څو کشرانې يا مشرانې خويندې او وروڼه لري. ماشوم ته چې د مور او خپلو سينو ترمنځ توپير ښکاره شي، نو پوښتنه کوي «دا څه دي؟» «دا ولې داسې دي؟» نو ماشومانو ته بايد وويل شي، چې د ښځو سينې د ماشومانو له سينو سره فرق لري او ښځې چې ماشومان پالي، نو د هغوی په سينو کې شيدې هم پيدا کېږي. په دغه ډول خبرو د ماشوم زړه څه نا څه ډاډه شي.

د ماشومانو د زوکړې په باره کې پوښتنې خو په ماشومانو کې يوه عامه خبره ده. ماشومان پوښتنه کوي چې «ماشوم له کومه راځي؟» «څنګه راځي؟» «څوک يې راوړي؟» او داسې نور. په

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې پړاو کې له غلط بياني بايد ډېره ډډه وشي. د داسې پوښتنو په ځواب کې ساينس او لنډيز بايد په داسې ډول سره لاس په لاس کړای شي، چې د ماشوم له ذهني سويې سره جوړ وي. مثلاً هڅه کولی شو، چې ماشوم په دغه ډول څه نا څه پوه کړو، چې «ماشوم د مور له ګېډې زېږي. لومړی يو کوچنی جوړښت لري. بيا ورو، ورو غټېږي او چې ښه لوی شي نو دباندې راووځي.» او داسې نور.

که مناسبه يې ګڼئ، نو د اميندوارۍ په ورځو کې مور کولی شي چې ماشوم له ځان سره کېنوي او ورته ووايي چې «درته ويلي مې وو کنه، چې ماشومان د مور په ګېډه کې پيدا کېږي (ګېډې ته دې اشاره وکړي)، ته لاس ور وړه. وګوره، چې دننه يو تنکی ماشوم دی.» د زېږېدنې په تړاو ماشوم ته د معلوماتو ورکولو دغه طريقه عملي او ساينسي تګلاره ده. که ماشوم پوښتنه وکړي چې «زما په ګېډه کې ماشوم ولې نشته؟» نو ورته ووايئ چې يوازې د ښځو په ګېډه کې ماشوم پيدا کېدلی شي. «ولې؟» ځکه چې د ښځو په ګېډه کې يوه کوچنۍ غوټۍ وي. دغه غوټۍ غوړېږي، وده کوي او بيا پوره ماشوم ترې جوړېږي.

دغه ډول معلومات تر کومه حده او په څومره وضاحت ماشومانو ته بيان شي؟ دا نو د ماشوم په عمر او د جنسي مسايلو په هکله د هغه د تجسس په شدت پورې اړه لري. د بدن په جوړښت باندې د ماشوم د پوهولو په وخت کې تناسلي غړي دې په لنډ ډول ور وپېژندل شي. په دې ډول به له ماشوم سره د خپل تناسلي غړي اړوند بې ځايه حيراني نه پاتېږي.

**د عمر مدارج او مناسبه جنسي ښوونه**

د اووه کلنۍ شاوخوا ماشومانو کې جنسي تجسس لا زور نيسي. ماشومان چې دې عمر ته ورسېږي، نو د زېږون په مسئله کې له مور نه پرته د پلار د مسؤليت په هکله هم بايد يو څه ورته وويل شي. که نه، د کلي او کوڅې ماشومان په خپلو فاحشو او شهواني کيسو د ماشوم بې لارۍ ته لاره جوړوي. که په کور کې مو اهلي حيوانات وي، نو د هغو د کوروالي، د ښځينه حيوان د اميندوارۍ د ورځو او د زېږون د مختلفو پوړونو ساده خبرې هم ورته بيانوئ. د دغه ډول جنسي ښوونې په مټ تاسو د يوه داسې متوازن فرد بنسټ ږدئ، چې د زلميتوب او ځوانۍ په پړاو کې د جنسي شعور او سليقې يو ژوندی ثبوت وي.

ماشوم چې لږ را لوی شي او په ليک و لوست راشي، نو جنسي ښوونه يې لا اسانه شي، ځکه اوس کولی شئ، چې د جسمي جوړښت له مخې د ښځې او نارينه توپير، د ماشومانو زېږون، عادي جنسي ناروغۍ او دې ته ورته نورو موضوعاتو په هکله ساده او دلچسپه کتابونه هم د لوست لپاره ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماشوم چې دغه ډول یو کوچنی کتاب پای ته ورسوي، نو د کتاب پر موضوع بحث ورسره وکړئ او له یو بل سره مو خپل افکار تبادله کړئ او وګورئ چې له کتاب نه یې ګټه هم اخیستې ده او که په مفهوم یې غلط پوه شوی دی. د پېچلو عبارتونو په معنا یې پوه کړئ. د جنسي ښوونې په جریان کې بې ځایه خندا، زړه نا زړه توب، تذبذب او یا شرم مه کوئ. که نه نو په ماشوم به یې اغېز ناوړه وي.

ماشوم چې په لومړنیو کلونو کې له مور او پلار نه معقول جنسي معلومات ترلاسه کړي، نو د بلوغت په دوره کې له ستونزو نه سره مخ کېږي. له دوولس نه تر اتلس کلنۍ پورې دوره ډېره زیاته هیجاني دوره وي. له ابتدایي لارښوونې محروم ماشوم په دې توپاني دور کې داسې احساس کوي لکه له کومې وېروونکې تیارې چې تېرېږي. د نجونو په نسبت د هلکانو لپاره دغه دوره ډېره صبرازما دوره وي. هغه مور او پلار چې په دې نازکه وخت کې هم ماشومانو ته د جنسي مسایلو په باره کې هېڅ معلومات نه ورکوي، هغوی په خپل اولاد لوی ظلم کوي.

**په ماشومانو کې د استمنا عادت**

ګڼې جنسي بې لارۍ او ناروغۍ دي، چې په ماشومتوب کې لا انسان پرې اخته کېږي. شاوخوا هر ماشوم د دغو شهواني بې لاریو پر مسیر یو نه یو وخت تېرېږي؛ نو د دې لپاره چې دغه سرکښه هیجانونه د متمدنه جنسي احساساتو حالت خپل کړي، جنسي تعلیم باید د ماشومانو د تربیې مهم ترینه برخه وي.

استمنا یا موټک وهل د بلوغت یوه پېچلې جنسي ربړه ده. یو نظر دا دی، چې استمنا کبیره ګناه ده او د استمنا له لاسه ذهن او بدن نجس کېږي، نو پکار ده چې د دې ناوړه عادت د مخنیوي لپاره ښه جدي ګامونه پورته شي او په استمنا اخته ماشومان باید دومره ووهل شي چې پرېښودو ته یې مجبور شي. دغه تګلاره سمه نه ده. په استمنا باندې سخته سزا ورکول حالت لا زیات اندېښناک او کړکېچن کولی شي او د دې په ځای باید د دې رنځ په علتونو د پوهېدو هڅه وکړو او د اصلاح او درملنې لپاره یې سالم اقدامات واخلو.

په دواړو جنسونو کې استمنا له ډېر کم عمر نه پیلېږي. حتی د شېږو میاشتو په کوچنیو ماشومانو کې هم دغه عادت لیدل شوی. د استمنا لومړنی محرک معمولاً تصادفي وي. ماشوم چې لوڅ لغړ لوبې کوي، نو ناڅاپي یې لاس له تناسلي غړي سره ولګي، نو ماشوم خبر شي چې د بدن د دې برخې موږل ډېر زیات خوند لري. په تناسلي غړي باندې د خارښت له کبله هم له استمنا سره علاقه پیدا کېږي. ډېر کله کوچني ماشومان له لویو ماشومانو سره د لوبېدو په جریان کې هم په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


عادت اخته کېږي.

په ابتدايي پوړونو کې دې عادت کوم خاص جنسي ارزښت نه وي پیدا کړی، نو ځکه په دغه موده کې ماشوم په استمنا د شرم او ګناه تریخ احساس نه کوي. خو د عمر په زیاتېدو سره چې خبر شي، چې استمنا یو ډېر ناوړه شهواني عمل دی، نو د شرم او د ګناه د احساس له کبله له ماشوم سره د دغې جنسي بې لارۍ په اړه یو نوی ذهني تمایل پیدا شي. په دې وخت کې ماشوم خپلې دې مجبورۍ ته څه نا څه خفه هم وي او د پټولو لپاره یې ډول، ډول لارې چارې هم ګوري. په دې نازک پړاو کې د لویانو د نامناسب او بې درده رویې له لاسه د دې احتمال زیاتېږي، چې دغه عادت یې لا پوخ شي.

**د استمنا علاج**

مناسبه لاره همدا ده چې له کم عمر نه لا دې ته پام کوئ، چې ماشوم خپل تناسلي غړي ته د بې سببه او ډېر زیات لاس ور وړو له عادته لرې وي. که ماشوم له خپل تناسلي غړي نه له لاس لرې کولو نه منع کېږي، نو ښایسته لوبتوکي ورته واخلئ، چې تر ډېره وخته یې په لاسونو کې ونیسي او ورسره ولوبېږي. د خپل ماشوم ملګرو ته هم باید پام وکړئ. که کوچنی ماشوم د غټ عمر له کوڅه ډبو هلکانو سره په لوبو اخته وي، نو په دې بې لارۍ باندې د اخته کېدو وېره یې پیدا کېږي.

د دې عادت لپاره د خپلو ماشومانو رټل او سپکول هم یوه غیرعلمي تګلاره ده. ماشوم یو څه له خپل شهواني عادت نه مجبور وي. د دې له پاسه ستاسو رټنه «پام کوه»، «لوچکه! تباه کېږې». «حرامي! خبیثه»؛ او داسې نور، د ګټې په ځای تاوان ورته رسوي. ستاسو د دې ګواښونو او رټنو له لاسه هغه نور هم وډار شي او لا زیات خفګان ور ولوېږي. ماشوم له دې پرلپسې سپکو سپورو نه تنګ شي او درون بینۍ او ګوښه والي ته مایله شي. په خپل ځان کې د غرقېدو تمایل او په ځان مېینتوب له لاسه په ماشومانو کې دغه عادت لا ډېر پیاوړی شي. د نهیلۍ او خفګان له امله یې د استمنا عادت ورځ تر بلې ټینګېږي، ځکه چې ماشوم له خپل بې خونده چاپېریال څخه لرې په دې شهواني خوندونو کې مؤقتي خوښي او لذت احساسوي. ماشوم باید په نرمه ژبه پوی کړای شي چې «دا ښه عادت نه دی، ځکه یو ځل چې انسان پرې اخته شي، نو بیا یې مجبوریت ګرځي او ښو کارونو ته پام نه شي کولی. پر دې شهواني فعالیت ډېر زیات وخت ضایع کېږي. د استمنا له امله له ملګرو سره د ناستې پاتې تلوسه ختمېږي او د لوړو صفاتو په اساس د خپل ژوند د رغولو جذبه سړېږي. که تکړه شې، نو پخپله په ډېره اسانه له دې مرض نه ځان ژغورلی شې.» او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د یاد انحراف د له منځه وړلو لپاره دا ډول نصیحتونه هم له ماشوم سره ډېره مرسته کولی شي چې «د یو څه مودې لپاره خو ټول ماشومان په دې عمل باندې اخته وي، خو تر اوږدې مودې په دې عادت کې ښکېلتیا ښه کار نه دی، ځکه روغتیا ورسره خرابېږي او د بېلا بېلو ستونزو د زیاتېدو اندېښنه پکې ده. د دې عمل پرېښودل هېڅ سخت کار نه دی. که همدا نن پوخ هوډ وکړې، نو دغه عادت به دې بیا هېڅ کله ونه ځوروي.» او داسې نور.

د قولي نصیحتونو په څنګ کې په ماشومانو کې د لوبو او په تفریحي فعالیتونو لکه ټکټونه او سکې ټولول، په چکر تلل، سکاؤټنګ، ګائیډنګ او داسې نورو بوختیاوو کې وخت تېرولو او د ماشومانو په ښو کلپونو کې د ګډون علاقه پیدا کړئ. د لوی عمر هلکانو او نجونو ته د سره صلیب او نورو ټولنیزو او مدني ادارو غړیتوب ډېره ګټه رسوي. په ګټورو او دلچسپو فعالیتونو کې د بوختیا له کبله د استمنا عادت ورو په ورو پخپله کمېږي.

**په ماشومانو کې همجنس بازي**

په مخالف جنس کې د مناسبو ملګرو د نشتوالي له کبله ډېری واړه هلکان او نجونې د هم جنس بازۍ لوري ته د میلان احساس کوي. د خپل جنس لـه یـوه تـن سره جنسيـ مینـه هـم یـو خطرناکـه جنسي انحراف دی. همجنس بازي زموږ په ټولنه کې په هلکانو او نجونو کې په یو ډول عامه ده. په هغو سیمو کې خو دغه جنسي انحراف ډېـره وده کـوي، چـې لـه مخـالف جـنس سره پـه لیـدو کتـو سختي او غیرمعقول بندیزونه وضع شوي وي.

دغه ټکی پر حیواناتو باندې د تجربو په مټ هم ثبـوت شـوی دی. پروفیسرـ مـوس یـو مـوږک د دواړو نارینه او ښځینه جنسونو په یوه ډله کې تربیه کړ. بیا یې په دغه مخلـوط چاپېریـال کـې روزل شوی موږک د تختې په یوه سر کېښود او په بل سر کې یـې د برېښـنا تارونـه وغځـول او تـر شـا یـې موږکه ورته کېښوده. په تجربه کې ولیدل شـوو، چـې پـه مخلـوط مـاحول کـې روزل شـوی مـوږک د برېښنا له تارونو تېرېږي او بیا بیا موږکې ته ځان رسوي. دغه راز، دې لور ته موږکه او هغـه بـل لـور ته موږک کېښودل شو او تر مخالف جنس پورې د رسېدو لپاره د برقي جریـان د زغملـو دغـه بـدني سرښندنه په دې ځای کې هم ولیدل شوه. خو همدا تجربه چې یوازې د یوه جنس په منځ کـې روزل شویو نارینه او ښځینه موږکانو باندې ترسره شـوه، نـو پایلـه یـې بیخـې بـرعکس وه. د دې ډلـې یـوه موږک یا موږکې هم له مخالف جنس سره د لیدو لپاره له برقـي جریـان څخـه د تېرېـدو تکلیـف پـه ځان تېر نه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زموږ په ټولنه کې هم يوازې د هلکانو په ملګرتيا کې را لوی شوي هلکان او يوازې د نجونو په چاپېريال کې لويې شوې نجونې له مخالف جنس سره حتی د خبرو اترو سليقه هم نه لري. په ورځنيو چارو کې يوازې د سالمې راشې درشې تربيه د همجنس بازۍ چاره کولی شي.

**نښپالنه (فتيشيزم) او پايلې يې**

له جنسي اړخه په يو شمېر ګمراه ماشومانو کې نښپالنه هم ليدل شوې ده. د مخالف جنس د بدن له يوې برخې يا د هغه/هغې له يوې نښې سره د جنسي هيجان احساس ته فتيشيزم ويل کېږي.

يو ځل پوليسو يو زلمی د يوې پېغلې نجلۍ د کوځې په غوځولو ونيوه. له تلاشي وروسته د ځوان له خونې نه د کوڅيو يوه لويه ذخيره راووته. له پلټنو وروسته معلومه شوه، چې په ماشومتوب کې چې دغه ځوان په ښوونځي کې وو، نو د مخې په څوکۍ کې يې يوه نجلۍ کېناسته. د هغې نجلۍ ښايسته او اوږدې زلفې به د ده په مېز را پرتې وې. دې ځوان به چې دغو وېښتانو ته کتل، يوه منحرف ټولګيوال به د ده جنسي جذبات را پارول. ورو، ورو نوموړی د وېښتانو په چورت کې د استمنا په عادت اخته شو. له وېښتانو سره د جنسي خوند د همدې ابتدايي تجربو له امله يې د نجونو له کوڅيو سره يوه شديده نښپالنيزه (فتيشي) مينه پيدا شوه، چې په پايله کې يې د ده جنسي ژوند ور تباه کړ.

**له حيواناتو سره جنسي مينه**

له حيواناتو سره جنسي مينه په ماشومانو کې دومره عامه نه ده. حيواناتو سره جنسي مينه په ځينو شپنو ماشومانو کې ليدل شوې ده. دغه کليوال ماشومان د خپلو څارويو د څرولو لپاره له کلي لرې څرځايونو او دښتو ته وځي او د پراخو دښتو، چوپتيا او يوازيتوب په دغه زړه وړونکي ماحول کې چې کله د دې ماشومانو جنسي احساسات را وپارېږي، نو شهواني سترګې يې په همدې نړدې څرېدونکو څارويو لګېږي.

دغه ماشومان له معقولې کورنۍ تربيې نه محروم او معمولاً له زدکړو سره نا اشنا وي. نو د کور او کار د مسؤليتونو د بوج له لاسه چې دوی د خپل بې کيفه او کړاومن ژوند نه ځان ګوښه کړي، نو له حيواناتو سره په جنسي کړنو کې لنډمهاله خوند احساسوي.

نو د ماشومانو مناسبه جنسي ښوونه څومره مهمه ده! د عمر په لومړيو کې يې چې جنسي تربيه ونه شي، نو شهواني جذبات يې ورو، ورو انحراف ته مخه کوي او په دې ډول د جنسي جذباتو په


(c) ketabton.com: The Digital Library


پورتنيو بې لاريو سربېره په راتلونکي کې له محرماتو سره کوروالي، ساديزم او مازوخيزم د پيدا کېدو احتمال هم شدت پيدا کوي. دغه جنسي انحرافات چې په ذهني او بدني روغتيا څومره تخريبي اغېزې ښندي، په هغو باندې خو خبرو ته چندان اړتيا نشته.

## د جنسي ناپوهي ويجاړوونکي نتايج

د جنسي ښوونې تر ټولو ستونزمن اړخ يو ماشوم د مينې او ګډ ژوند لپاره اماده کول دي. په عادي جنسي معلوماتو سربېره، له عمر سره، سره د هلکانو او نجونو د واده په هدف و غرض، د مينې په سالم ډول او د کاميابه مېړه يا ښځې کېدو په لارو چارو هم بايد ماشوم پوه کړو. په دې خبرو باندې د نه پوهېدو له امله ډېرى اړيکې له واده سملاسي وروسته خرابې شي. په ګڼو حالاتو کې د ښځې او مېړه خپلمنځې شخړې ان د بېلتون او طلاق تر بريده ورسېږي.

د عمر په لومړيو کلونو کې له سالمې جنسي تعليم او تربيې څخه د خپل ماشوم د محروموالو په نتيجه کې والدين په لوى لاس د دې ټولو بدبختيو اساس ږدي. د جنسي ژوند په دې دردوونکو پېښو کې د کمښت يوازې يوه لاره ده. هغه دا چې، خپلو ماشومانو ته په کور او ښوونځي کې د هغوى د عمر، پوهې او ضرورت له مخې معقوله جنسي تعليم او تربيه ورکړئ او په هغوى کې د جنسي بې لاريو څخه د ځان ساتنې استعداد او د برياليي ګډ ژوند سالم جنسي شعور وروزئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوولسم څپرکی

## د ماشومانو ټولنیز تعلیم

له زوکړې وروسته ماشوم سمدلاسه په یوه داسې نړۍ کې قدم کېږدي، چې هلته د ژوند تېرولو او د فکر او عمل ټولنیز روشونه د ژوند په هره برخه کې مسلط برېښي. نو-زېږی ماشوم فطرتاً گوښه والي او فردیت ته مایله وي، خو د خپلو گڼو اړتیاوو د بشپړتیا په خاطر ډېره موده د یوازیتوب طبیعت ته ژمن نه شي پاتې کېدلی او د خپلې پالنې په ابتدایي کې دور کې لا د خپلې ډلې د ټولنیزو ارزښتونو یو څه درک پیدا کوي.

### د تي خور ماشوم ټولنیز ذوق

تي خور ماشوم له خپل شاوخوا چاپېریال سره ډېره علاقه نه ښیي. دوه میاشتنی ماشوم د شاوخوا له نورو ماشومانو سره خورا بې پروا چلند کوي. خو د کور له هغو لویانو سره بیا ډېره علاقه ښیي، چې د ده پالنه او پاملرنه کوي.



په دریمه میاشت کې ماشوم د خوراک و څښاک وړو، وړو شیانو ته د څو شېبو لپاره متوجه وي. په څلورمه میاشت کې د خپل مور او پلار د خفگان په حالت باندې پوهېدلی شي. له پنځمې میاشتې وروسته ماشوم د رڼې او گواښ په ځواب کې ژړا او د مسکا ځواب په مسکا ورکول زده کړي. له دې نه تقریباً دوه میاشتې وروسته، ماشومان ساده او اسانه لوبو ته توجه کوي.

په اتمه میاشت کې ماشوم داسې بې معنا غږونه وباسي، چې بامعنا کلمو سره ډېر ورته والی لري. دی د لویانو خولو ته گوري او د یوې نیمې کلمې پېښې هم کوي. تر لسمې میاشتې پورې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپل شاوخوا له کوچنیو ماشومانو سره د عادي لېوالتیا شعور هم وومومي.

### ساده ابتدايي ټولنیزه تربیه

یو کلن ماشوم په تندي باندې په لاس ایښودو سلام کول زده کړي. دی خاپوړې کوي او د شاوخوا د شیانو په نومونو هم پوهېدلی شي او د ځینو لارښوونو په اساس تر خپله وسه په هغو عمل هم کوي. ماشوم د خپلې خوښې شیانو ته د نورو کسانو توجه هم را اړوي. دا چې په دې عمر کې یې هیلې سمدلاسه پوره کېږي، نو ماشوم ته ځان ډېر مهم ښکاري او له ځان سره د مینې تمایل پکې پیدا شي.

که له ځان سره د مینې دغه تمایل یې په پیل کې لا حل نه شي، نو د دې اندېښنه شته چې دغه تمایل یې په لویوالي کې په غرور او لانجه بازۍ واوړي. همدا هغه وخت دی چې ماشوم ته د ځینو ټولنیزو اصولو ساده تعلیم او تربیه خورا مهمه وي. خپل ماشوم مو په یو نه یو ډول له نورو سره د ګډ اوسېدو او د لوبو جمهوري اصولو ته تشویق کړئ. که نه په لویینې کې به د خپل نرګسیت او فرعونیت له کبله نه یوازې د ټولنې لپاره د کړاو سبب وي، بلکې ستاسو ژوند به هم در تباه کړي. په ابتدايي عمر کې د دا ډول ټولنې ضد تمایلاتو علاج شونی هم وي او اسانه هم. د ماشوم په ابتدايي ژوند کې داسې فرصتونه جوړ کړئ، چې له نورو ماشومانو سره له لوبو خوند پکې واخلي.

### په ښوونځي کې شاملول او ټولنیزه پراختیا

ماشوم چې په ښوونځي کې شامل شي، نو د خپلو همزولو په یوه تنکۍ او بېله دنیا کې ګام کېږدي. همدا نوې دنیا د هغه د ټولنیزې غذا تر ټولو مهمه برخه جوړوي. د خپلو ټولګیوالو مختلف عادتونه او د هغوی نوو کړنو ته په کتو د ماشوم پر شخصیت ژور اغېز پرېوځي. دی له هغوی ډېر څه زده کوي. له کور نه له وتو او په ښوونځي کې له شاملېدو وروسته، د ماشومام شخصیت په ښکاره توګه یو نوی قالب خپلوي.

له نوو شیانو سره بلدتیا پیدا کول، د لویانو خبرې اورېدل او ځان پرې پوهول، د کورنیو معلوماتو پوښتنه او ګروېږنه کول او د زیاتېدونکي تجسس د خړوبتیا په پار ماشوم د بېلا بېلو پوښتنو یو توپان را په مخه کړي. د سوال کولو یو محرک د نورو توجه ترلاسه کول هم وي. په دې وخت کې ماشوم د حقیقت موندنې په دور کې وي. مور او پلار ته پکار ده چې د ماشومانو له دې حقیقت طلبي نه ستومانه نه شي. بلکې په هره ممکنه طریقه دې د ماشوم دې بې ضرره پوښتنو ته معقول ځوابونه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## جنسي او ټولنيز ذوق

د کوچنيو ماشومانو په ټولنيز ذوق کې د جنسي اختلاف احساس تقريباً په نشت حساب وي. مثلاً د هلکانو او نجونو د خواخوږۍ په نوعيت کې کوم ښکاره توپير نه دی ليدل شوی او د ماشومانو پر ډلبندۍ او صميمانه شخصيت باندې هېواد، نسل، جنس، رنگ او اقتصادي وضعيت هېڅ اثر نه پرېباسي.

په لوبو کې د خاص ملگري انتخابول او له يو بل سره د ناستې پاستې له طرز نه د ماشومانو ژوند ډېر زيات روښانه کېږي. يو شمېر ماشومان ډېر زيات شرميندوکي وي. دوی له نورو نه بېل او يوازې اوسي. د دې برعکس ځينې زړور ماشومان په هره ډله کې چټې په چټې ځان تخته کوي. په يوه ډله يا ټيم کې د ماشومانو بريالی غړيتوب د هغه پر کورنۍ تربيې او شخصي تجربو پورې اړه نيسي. هغه ماشوم چې د جمهوري چاپېريال د اجتماعي اصولو په غېږه کې لوی شوی وي، په بلوغت کې تقريباً په هره نوې ټولنه کې د غړيتوب او رهبرۍ مسؤليتونه په برياليتوب سره سرته رسولی شي.

د ښوونځي د لوبو او له ډول، ډول ماشومانو سره د ملگرتيا له لارې د ماشوم ټولنيز شعور په ډېرې تېزۍ سره ترقي کوي. د لوبو په ميدان کې د ماشوم معقول تمايلات او رحجانونه لا پسې پخېږي او په يوه منظمه لوبه کې د اصولو او معيارونو له مخې د ډلې له نورو غړو سره په گډه د يوه واضح هدف لپاره په خوشالۍ د هلو ځلو د اصولو عملي روزنه او تربيه ترلاسه کوي.

## د ماشومانو ټولنيز اخلاق

د ښو او بدو له ابتدايي او ساده تصور سره ماشوم د ژوند په پيل کې لا اشنا شي او کولی شي چې په يوه ټولنيزه مسئله کې د سم او ناسم څه نا څه توپير وکړي. که په کور کې ماشوم ته تر پنځه، شپږ کلنۍ پورې د ټولنيزو اخلاقو ابتدايي روزنه ورکول شوې وي، نو د ښوونکو او نورو مشرانو په اضافي لارښوونو سره دغه تربيه د هغه پر شخصيت رغنده اغېز پرېباسي.

د پنځه، شپږ کلنۍ په شاوخوا کې تر کور دباندې ماحول هم د ماشوم پر ټولنيزو اخلاقو اغېز ښندل پيلوي. د عمر له زياتېدو سره د ماشوم لپاره د دلچسپۍ او د اقتدار د مرکز په توگه د کور راښکون په کمېدو شي او د تقليد وړ معيار په توگه د مور او پلار د ژوند طرز هغه پخوانی زور او راښکونتيا ختم شي. ماشوم له خپل فردي ذهن او د خپل ځانگړي شخصيت له گرداو نه څه نا څه ځان وباسي او په نورو کې يې لېوالتيا زياته شي، چې په دې ډول د ماشوم په چلند او شخصيت کې مثبت بدلون په ټوکېدو شي. دغه مهال، په ټولنيزو فعاليتونو کې د ماشوم لېوالتيا زياته شي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې لپاره چې دغه لېوالتیاوې یې په سم مسیر وده وکړي، ماشوم ته باید سالمه لارښوونه وشي.

**احساسات او ټولنیزه وده**

په ټولنیزه وده کې احساسات خورا مهمه ونډه لري. د ماشوم احساساتي سیستم تر ډېره بریده د مور او پلار د احساساتي عادتونو په اساس رغېږي. په پیل کې ماشوم پر خپل مور او پلار خورا زیات جذباتي ویاړ احساسوي. ماشوم د هغوی شخصیت او سبک د اخلاقو او انسانیت بهترینه نمونه ګڼي. بد اخلاقه او تریو والدین د خپل بې توله ژوند له امله په خپلو ماشومانو ناوړه اثر ښندي او ماشومان یې هم عموماً غوسه ناک او جنګېره وي.

د ماشوم د کورنۍ جذباتي فضا په پای کې د ماشوم د راتلونکي ژوند یوه اړینه برخه ګرځي. د بلوغت تر پیل له مخه لا ماشوم ګڼ شمېر ټولنیز عادتونه او ارزښتونه ور خپل کړي وي. دغه ابتدایي ټولنیزه تربیه په بلوغت کې هم د ده پر ټولنیزوالي له هره اړخه اثر پرېباسي. د ماشومانو د ټولنیزې تربیې یو مهم اړخ دا دی، چې هغوی ته د نورو حقونو، نظرونو او هیلو ته درناوی ور زده شي. خو که ماشوم د خپلو خیالاتو په نړۍ کې په ځان کې د ورکېدو او نرګسیت تمایل پیدا کړي، نو د ټولنیزې ناغېړۍ د زیاتېدو شدید خطر یې هم شته او له دې امله د ماشوم د ملګرو کړۍ هم محدودېږي او ګډ، ټولنیز او اقتصادي ژوند یې د ستونزو او ربړو قرباني کېږي.

د دې مضرو رجحانونو د مناسبې درملنې لپاره مهمه ده، چې ماشوم ته په نورو باندې د هغه د ښه یا بد چلند د اغېزو په هکله ټولنیزه تربیه ورکړو. د تربیې دغه عمل باید تر خپله وسه دلچسپه او اسانه وي او له دې باید ډډه وشي چې خپلې شخصي- ربړې او بالغ نظرونه په پټو سترګو په ماشومانو وتپو. ځینې ناپوهه والدین او ښوونکي د ماشومانو او زلمیانو د پوهولو په طریقو کې د توپیر اهمیت ته پام نه کوي. دوی د خپلې «روزنیزې سرتمبګۍ» له کبله په دې غلط فهمي کې اخته وي، چې په یوې خبرې د پوهېدو په خاطر د ماشومانو لپاره یا خو فردي او جلا طریقې اصلاً وجود نه لري او بیا که وي هم، نو د تعلیم او تربیې په «جدي چاره» کې دغه «ماشومانه طریقې» ډېر اهمیت نه مومي.

که د ماشوم احساساتي حاجتونه په خپل وخت په مناسبه طریقه پوره شي، نو په ټولنه کې د یوه متوازن او سالم وګړي د جوړېدو صلاحیت یې زیاتېږي او په دې ډول د هلکوالي له دور څخه تر وتو وروسته یو متوازن او کامیابه بالغ انسان ترې جوړېږي. د ماشوم د ژوند د دغو دورو په ځانګړو تقاضاوو ځان پوهول ډېر زیات مهم دی. په دې پړاوونو کې باید ماشوم ته داسې ښوونه وشي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسې کارونه ور وسپارل شي، چې د هغه تر بدني او ذهني سطحې لوړ نه وي. په ماشومانو کې بايد ورو په ورو په ټولنه کې د خپل هر مسؤليت د سرته رسولو او پخپله هر مقام ته د رسېدو صلاحيت پيدا شي. په ابتدايي ټولنيزه تعليم او تربيه کې که دغه خبرې په نظر کې ونيول شي، نو د ماشوم ټولنيز چلند د ټولنې ارزښتونو او معيارونو ته را نږدې کېږي او د ژوند په هر پړاو کې د ټولنې ضد کړنو د سرته رسېدو امکان يې را کمېږي.

## د ماشومانو ډله ييز فعاليتونه

مشترک ذوقونه، چټکه ذهني او بدني وده او د نورو ماشومانو زياتېدونکې پوهه، د ښېړ او دوولس کلنۍ په منځنۍ موده کې همدا مهم عناصر د ماشومانو د صنفي او ګروپي ډلو بنسټ جوړوي. په دغه ډول ساز شوې ډلې د ابتدايي دور له ډلو يو څه خپلواکې وي. په دې عمر کې ماشومان د ځان لپاره يو دلچسپه او اسانه غوندې معيار ټاکي، مثلاً «په ګډه لوبېدل»، «په ګډه ګرځېدل»، «په ګډه باډيوې الوځول» او داسې نور. کله چې دغه مشترک معيار جوړ شي، نو د ماشومانو يوه عاطفي غوندې ډله رامنځته شي.

ماشوم فطرتاً ځان غوښتونکی وي. خو دا چې د ده هيلې له نورو سره په ملګرتيا او اشتراک پوره کېږي، نو له همدې امله دی په خپل فرديت پښه ږدي او ډله ييزو فعاليتونو ته مخه کوي. څومره چې دی لويېږي، ورسره د سزا او جزا او ټولنې له خوا د منل کېدو يا رشخند کېدو له ډاره په خپل ځان کې د ورکېدو له عادت نه ورو په ورو لاس اخلي او دا احساس ورسره پيدا شي، چې د ژوند واقعي خوشاله شېبې هماغه وي، چې له نورو سره په ګډه ناسته، لوبو، خندا او خبرو تېرې شي. که څه هم دغه کار يې له ځان غوښتنې سره په ټکر کې وي، خو بيا هم دی د ټولنيزو مکافاتو او احساناتو په حرص کې د ټولنيزوالي په خوا ميلان ښيي. په نورو تکيه، د هغوی د لاسنيوي او درناوي احساس، چې په ماشومتوب کې تقريباً نه ليدل کېږي، اوس په ښکارېدو شي.

## د ټولنيز جوړجاړي تربيه

د ټولنې د يوه مهذب وګړي کېدو لپاره، ماشوم ته د ټولنيز جوړجاړي او مطابقت ښوونه هم مهمه ده. هغوی ته له نورو ماشومانو سره د ښه چلند او د هغوی حقونو او ذوقونو ته درناوی بايد ور زده شي.

د لوبو ميدان د ماشوم بهترين ټولنيز روزنځای دی. د ماشوم ټولنيزه ترقي تر ډېره پورې د هغه په لوبو پورې تعلق نيسي. هغه ماشومان چې لوبو ته لاسرسی نه لري، چې له خپل ځان سره ښکېل

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي او يا داسې ماشومان چې په خپل شاوخوا کې د ماشومانو د کاختی له لاسه يـوازې د لويـانو پـه شتون کې را لوی شوي وي، هغوی له خپلو همزولو سره د نه لوبېدو له کبله د ملگرتيا له جذبې سره هم نا اشنا وي. همدا د لوبو لېوالتيا ده چې د راتلونکي ذهني او ټولنيز ژوند د سبک بنسټونه رغولی شي. د ماشومانو لپـاره زښـته مهمـه ده، چـې لـه خپلـو همزولـو سره پـاتې شي او ورسره ولـوبېږي. د معقولې ودې لپاره هر ماشوم بايد يو شمېر داسې مناسب او همـزولي ملگـري ولـري، چـې د زړه لـه اخلاصه ورسره د زړه خواله وکولی شي.

**بلوغت او ټولنيز انقلاب**

کومه مينه چې ماشوم د نورو لپاره په ابتدايي پړاو کې احساسوي، هغه معمـولاً د ځـان غوښـتنې مينه وي. خو د بلوغت په لومړيو کـې بيـا ماشـوم د مخـالف جـنس پـه لـور پـه طبيعـي ډول نـازک غوندې کشش احساسوي. دا د «مينېدو» دوره وي. دغه وخت د ماشوم په ټـولنيز چاپېريـال کـې يوه نوې پراختيا رامنځته کېږي او په داسې ټولنيزو مسايلو کې ښـکېلېږي، چـې لـه مخـه يـې ورسره هېڅ دلچسپي نه وه. له دې سره يې ټولنيزتوب هم ورځ تر بلې وده کوي او اوس د خپلې ډلې د گټو او د خپلو ملگرو په خاطر جنگ او ننگ ته هم درېږي.

دغه مهال، سربېره پر دې چې د ماشوم د مينې د جـذباتو يـوه چـاره وشي، دا هـم اړينـه ده چـې ماشوم د رهبرۍ، خدمت او اطاعت په اصولو پوه کړای شي. ستاسو ماشوم به په لويينې کې د يوې ډلې مشري وکولی شي که نه؟ آيا د يوه ښه رهبر د اطاعت وړتيا به ولري، که نه؟ دا مسايل تر ډېـره پورې د ماشوم په کور او ښوونځي کې په ټـولنيزه تربيـه پـورې تعلـق نيسي۔ ستاسـو ماشـوم بايـد د رهبرۍ، خدمت او اطاعت له ابتدايي اصولو سره اشنا وي. که ماشوم مو نور نه شي اغېزمنـولی، نـو د ټولنې لپاره د ډېرې حيثيت لري. ماشوم بايد په ځان کې د ژوند سليقه پيدا کړي. که ماشـوم مـو گنگس و گيچ وي، نو د معاشرې په پېچلي نظام کې هېڅ ځای نه شي موندلی.

ستاسو ماشومه بايد په ځان کې ټولنيز راښکون ولري. هغې ته د پاکوالي او اعتدال ښوونه وکړئ. د ښوونځي په فعاليتونو کې د هغې په لېوالتياوو کې کمښت يې يوه خطرناکه علامه ده. خپله لور يـا خور د تعليم له گاڼه بې برخې ساتل او د ښاري ژوند له اصولو نابلده ساتل، له خطره خـالي نـه ده. د شاوخوا ټولنيز نظام ته په ژوره توگه ځير شئ، بيا وگورئ چې وخت او چاپېريال له دې نازکې طبقـې نه څه روا توقعات لري؟ د دې په ځای چې د ټولنيز ژوند تعلـيم او تربيـه ورکـړئ، خپلـه ماشـومه د کور په څلور دېوالي کې بندي ساتل په دې معنا ده، چې د خپل عصر۔ غوښـتنې مـو تـر پښـو لانـدې کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټولنيز بلوغت په سالم ټولنيز چاپېريال کې وده مومي. د ماشوم د چاپېريال يو شمېر ځانګړي عناصر د ټولنيز شعور ودې ته لاره هواروي. ټولنيز نظام د ماشوم ټولنيز شعور ته يو ځانګړی لوری ورکوي. د ښار او کلي ژوند، جلا جلا ارزښتونه، د اقتصاد صنعتي او رغنيز نظامونه، پانګه والي او جمهوري نظامونه او په سياست کې زموږ د فکر او فعل متضاده رويه زموږ په ټولنيزه وده او ارتقا کې د اختلافاتو سبب ګرځي. د ديکتاتوري حکومت په «بلې، صېب!» چاپېريال کې روزل شوی ماشوم د غلامۍ له ذهنيت سره وده کوي. د جمهوري ماحول ماشومان معمولاً بې باکه وي. د صحرا په کوچيانو کې روزل شوی ماشوم زحمت کشه وي. پرلپسې په نرمه او ارامه فضا کې لوی شوی ماشوم د وخت له ترخو حقايقو سره په مبارزه کې له ډول، ډول مشکلاتو سره مخ کېږي.

**په ټولنيزه وده کې د تفريح نقش**

ماشوم له خپلو همزولو او سالمو ماشومانو سره لوبې او ساتېري ډېره خوښوي. دی داسې ماشومانو ته اړتيا لري، چې په لوبه کې ورسره زړوره مقابله وکړي. معذور ماشوم په لوبه کې سمه برخه نه شي اخيستی. کمزوری ماشوم له زورورو ماشومانو وېرېږي او په خپل ځان باور نه لري. په دې ډول، د کمترۍ د احساس احتمال يې شته، چې د هغه ماشوم د ټولنيزې ودې لپاره مضر ـ کېدلی شي.

د ماشومانو د بدني کمزورۍ درملنه دې وشي او يا دې داسې اسانه او سپکو لوبو ته وهڅول شي، چې په هغو کې د بدني زور په ځای فکر او ذهن ته ډېره اړتيا وي. که امکان يې وي، نو په کور کې د ماشومانو د لوبو لپاره غولی او ځايونه جوړ کړئ. د بارانونو په موسم کې د خونو دننه د لوبو توکي ورته برابر کړئ. خو د ژوند د ټيټ معيار، لوږو بيو او اقتصادي بحران له امله په اکثرو کورونو کې په دې خبرو عمل کول تقريباً ناشونی وي. په دې صورت کې د شاوخوا ښوونځيو په ودانيو کې د مطلوبو ساتېريو له سهولتونو استفاده خورا مهمه ده.

له ماشومانو سره زموږ د غفلت او بې پامۍ ښکاره ثبوت دا دی، چې موږ د ماشومانو د تفريح، چکر او لوبو لپاره د مناسبو ځايونو په جوړولو کې تر اوسه پورې پاتې راغلي يو. په دې اساس، د ساتېريو او تفريح د مناسبو اسانتياوو د نشتون له امله زموږ اکثره ماشومان معمولاً په کوڅو او بازارونه کې په لوبو لګيا وي. که تاسو خپل ماشومان په کوڅو کې له لوبېدو نه شئ منع کولی، نو لږ تر لږه دومره هڅه خو وکړئ چې کوڅې مو له چټلۍ او ککړتيا څخه پاکې وي، تر څو ماشومان مو په پاکو ځايونو کې ولوبېږي. تفريح ته د نه لاسرسي له کبله د ماشومانو په ټولنيزه وده کې يو خنډ پېښېږي او زموږ په ټولنه کې د ناپوهۍ، جرايمو او مرضونو د زياتوالي لويه وجه د ماشومانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library


روغتیا او تفریح په برخه کې زموږ غفلت دی.

## د ابتدايي ژوند دود له منګولو څخه خلاصون

تقریباً هر انسان د ژوند یو خاص انداز لري. د اوسېدو دغه انفرادي ډول په میراث نه ور رسېږي. بلکې کورني حالات هم لوی لاس پکې لري. زیاتره وختونه د کامیابه والدینو ماشومان چې دا ویني چې د خپل مور او پلار په څېر لوړو مقامونو ته نه شي رسېدلی، نو تنبلي یې واخلي او یا په عیشونو واوړي او نا اهله انسانان ترې جوړ شي. بل خوا، د بې وزله کورنۍ شکلی ماشوم، د سوالګرۍ او خیرات خورۍ په لور ډېر تمایل احساسوي. مینې ځپلی ماشوم تل د نورو د پاملرنې په ارمان وي. هغه ارمونی ماشوم چې کینه او بې پامي ورسره شوې وي، له سترګو څخه په پناه کېدو کې خپل خیر ویني. په ټولو کې مشر ماشوم د ظلم، تشدد او بې ځایه دبدبې جوړولو په لټه کې وي. تر هغه را کشر ماشوم د ژوند په سیالۍ کې له خپل مشر ورور نه د پرمختګ هوس پسې اخیستی وي. تر ټولو کشر ماشوم د هر چا د محبوب کېدو ارمانجن وي. تنها ماشوم چې تر ننه پورې له هېڅ سیال سره نه وي مخ شوی، په بلوغت کې د واکمنۍ او رهبرۍ په ښایسته خوبونو کې ورک وي. لنډه دا چې دغه پیدایشي فکتور د راتلونکي ژوند په ټولنیز چلند باندې خورا ژور اغېز پرېباسي.

د ماشومتوب د دې ناوړه غوښتنو د له منځه وړلو لپاره ماشومان وهڅوئ چې له خپلو همزولو سره په ځانګړي ډول او د هر عمر له وګړو سره په عمومي ډول ناسته پاسته وکړي. که د کورنۍ ټول غړي په اوونۍ کې یو نیم ځل په یوه داسې فعالیت یا لوبه کې ګډون وکړي، چې په هغه کې د هر غړي لپاره د دلچسپۍ یو نه یو مورد موجود وي، نو په دې سربېره چې ماشومان له یو بل سره د محدود ټولنیز فکر و چلند له عیبونو سره بلدېږي، د ډله ییز شخصیت د خپلولو تربیه یې هم کېږي. د ماشومانو کمپونه، کلبونه او ډلې په دې برخه کې ډېره زیاته ګټه رسوي. د ګائیډنګ، سکاؤټنګ او د لوبو په دولتي ادارو کې ماشومان د نورو د درک او د خپلو احساساتو د بیان ټولنیزه سلیقه زده کوي. له ملګرو سره په چکر او تفریح دباندې وتل، له ټیم سره په ګډه کار کول او لوبې د ماشومانو ټولنیز شعور لارې ته برابروي. او د ابتدايي ژوند دود له پرلپسې تسلط څخه یې خلاصون په برخه کېږي.


## د ټولنې ضد چلند درملنه

کله چې د ماشوم شخصیت په ټولنه کې د نورو وګړو روا حقونه تر پښو لاندې کوي او په یو نه یو ډول په عامه امنیت او ټولنیز نظم کې د ګډوډۍ سبب ګرځي، نو ښکاره ده، چې ماشوم د بد

(c) ketabton.com: The Digital Library


اخلاقۍ او جرايمو په دايره کې ګام ايښې دی او ښکاره ده چې که ماشومان په همدې ډول پرېښودل شي، نو زموږ ټولنيز نظام به په بشپړ ډول ګډوډ شي. له همدې امله د ټولنيزې سلامتيا او پخپله د ماشومانو شخصي مفاد د دې تقاضا کوي، چې مناسبه درملنه يې وشي.

په دې ځای کې به لومړی دا ګورو چې د دې ګډوډۍ لوی لامل څه شی دی. ممکن د ښوونکي د تدريس روش غيرعلمي وي، مور او پلار يې ډول، ډول طبيعي غوښتنې تر پښو لاندې کړې وي، يا د ماشوم بهرنی ماحول ناجوړه وي. د دې ټولو اړخونو علمي تحليل او پر وخت درملنه خورا مهمه ده. خو که په دې وخت کې مو د ماشوم مناسبې تعليم او تربيې او اصلاح ته پام ونه کړ، نو په راتلونکي کې به يې د اصلاح او سلامتيا امکانات نور هم کم شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


**څپرکی: اتلسم**

## د زيار او زحمت تربيه



د ماشومانو د تعليم او تربيې بنسټيزه موخه له ماشوم څخه يو سالم او ګټور ښاري انسان جوړول ده. د کورنۍ تربيې موخه يوازې د ماشوم روغتياساتنه نه ده، بلکې په هغه کې د انسانيت لوړ صفتونه پنځول او د اخلاقي ارزښتونو راسخول هم ده. دغه راز، د ښوونځي د تعليم موخه يوازې دا نه ده چې زده کوونکي په ازموينه کې د کاميابېدو جوګه شي، بلکې د ژوند د بېلا بېلو مسؤليتونو لپاره اماده کول ده. هغه کورنۍ تربيه او نصابي ښوونه چې دغه اساسي نکتې له پامه غورځوي، د دې سبب ګرځي چې د ماشوم اخلاق او شخصيت ناسم جوړښت خپل کړي.

### د ابتدايي تربيې اهميت

د ماشومانو په فکر او فعل کې د سلامتيا، ګټورتيا او درناوي لپاره بهترينه لاره دا ده، چې هغوی ته د زيار کښنې او له لاسي کارونو سره د لېوالتيا عملي تربيه هم ورکول شي. د يوه معقول هدف د ترلاسي لپاره هلې ځلې او لاس و پښې وهل، د ماشوم په اخلاقو او شخصيت مثبت اغېز شيندي.

کوم خوشبخته ماشومان چې د عمر په ابتدايي دوره کې د زيارکښنې او زحمت له مناسبې تربيې سره مخ شي، هغوی په غټوالي کې هم د مسايلو د درک او پخپله د خپلو ستونزو په حل باندې برلاسي وي. ټولنې ته هم له دې ډول زلميانو ډېره ګټه رسېږي. ځکه همدا کسان د مهمو چارو د مخته بيولو مسؤليت ته اوږې ورکوي. د ټولنيز ژوند په ټولو برخو کې بريالیتوب د همدې کسانو ارزښتناکو خدمتونو ته محتاجه وي. له زيار، زحمت او لاسي کارونو لرې کسان د ټولنې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه یوازې بې ګټې وي، بلکې په اکثرو حالاتو کې د نقصان سبب هم ګرځي.

### له لاسي کار څخه د کرکې تمایل

له بده مرغه، پخوا زموږ په ملک کې له لاسي کار نه ډډه او آن د کرکې تمایل هم ډېر زیات وو. کله چې انګرېزانو هند ونیوه، نو هغوی د یوه داسې وراسته تعلیمي نظام بنسټ کېښوده، چې یوازینۍ موخه یې د خپلو دفتري چارو د ترسراوي لپاره د لوستو «بابوګانو» تیارول وو.

د یاد تعلیمي نظام د سرسري توب او د رواجوونکو د ځان غوښتنې ښکاره ثبوت یې د لارډ میکالې لیکنې دي.

د خپلې واکمنۍ په دور کې انګرېزانو تل د همدې بېکاره تعلیمي نظام خپرولو ته کار ووایه. پایله یې دا شوه چې د دې په ځای چې موږ ژوند ته تیار کړي، د تعلیم هدف یوازې د دفتري دندې ترلاسې وګڼل شو. زده کوونکي په دې ګومان وو، چې د دوی تر ټولو مهم مسؤلیت په میخانیکي ډول زدکړه او په امتحان کې کامیابي پورې محدود ده. بل خوا، ښوونکي په دې غلط فهمې کې اخته وو، چې د دوی د درس او تدریس موخه یوازې ماشومان دفتري نوکریو ته تیارول دي. د دې ناقص لیدلوري پایله دا شوه، چې زموږ په ماشومانو او لویانو کې له بدني زیار، زحمت او لاسي کار څخه د تېښتې عادت ریښې وکړې. زده کوونکي او ښوونکي دواړه د یوې داسې تنګ نظرۍ او سطحي فکر ښکار شوو، چې د «لوړو خیالونو او ملکوتي فکرونو» له پنځولو سره سخت منافي وو.

### د زیار او زحمت په روزنه ټینګار

خو کله مو چې خپلواکي واخیسته، نو دا احساس راسره پیدا شو چې زموږ تعلیمي نظام په سوچه ډول د کتاب محورۍ له امله له یوې مخې ناقص او نیمګړی دی. دغه احساس زموږ د صاحب نظرانو په کړیو کې د غلامۍ په دور کې هم وو. خو هغه مهال یې له وسه پوره نه وه، ځکه چې د انګرېزانو سیاست د ښوونیزو اصلاحاتو ډېر سخت ضد وو. د پاکستان تر جوړېدو وروسته، په دې اړخ ډېر سنجیده او ژور فکر پیل شو. تعلیمي درجې په ژوره توګه وڅېړل شوې. ګڼ ګټور اصلاحات وړاندیز شوو. او زیاتره اصلاحاتو ته عملي بڼه ورکول شوه. په مختلفو دورو کې رامنځته شویو تقریباً ټولو ښوونیزو کمیسیونونو او اصلاحي کمېټو زموږ د تعلیمي نظام هره څانګه په تنقیدي سترګو وڅېرله. او د بهتره تعلیم داسې هر اړخیز پلانونه یې وړاندې کړل، چې زموږ ملي اړتیاوې او تقاضاوې یې په ډېر ښه ډول پوره کولې. تغییر، سمون او اوښتون که له یوې خوا زموږ د تعلیمي نظام په ټولو اړخونو رڼا واچوله، نو له بلې خوا یې د زیار، زحمت او لاسي کارونو مرکزي اهمیت هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښه واضح کړ.

نن ورځ چې موږ په کوم عصر کې ژوند کوو، هغه ته د ماشینونو او فابریکو عصر وایه شي. په دې صنعتي دور کې کامیابي او پرمختګ په مختلفو برخو کې روزل شویو او باتجربه وګړو پورې تعلق نیسي. دغه وګړي که پیاوړي انجینران وي یا عادي کارګران، لازمه ده چې د زیار او زحمت له اصولو او د لاسي کار له عظمت سره پوره بلدتیا ولري. دغه ډول زیارکښه انسانان په هماغه صورت کې پیدا کېدلی شي، چې کله موږ په خپله کورنۍ تربیه او تعلیمي نظام کې د لاسي کار اصولو ته لوړ مقام ورکړو. زموږ تعلیمي رهبرۍ او مشرتابه د وطن دغه بنسټي اړتیا ډېره ښه احساس کړې او خورا مناسب پروګرامونه یې ورته وړاندیز کړي دي.

**د کوچنیو ماشومانو لپاره ګټور لاسي فعالیتونه**

یوه موده وړاندې وړاندیز شوی وو، چې په ابتدائیه ښوونځیو کې دې هره اوونۍ زده کوونکي او ښوونکي په ګډه په یوه داسې فعالیت کې برخه اخلي، چې بدني زحمت ورکې پکار وي. مثلاً د ښوونځي د ودانۍ صفايي، د مېزونو او نورو توکو ساتنه او داسې نور. که په ښوونځي کې یو وړوکی غوندې بڼ جوړ شي، نو پر هغه پام هم بدني زیار ته اړتیا لري. په دغه بڼ کې ماشومان د باغوانۍ په کارونو کې د بوختیا له لارې ډېر څه زده کولی شي.

په همدې ډول دا وړاندیز هم شوی وو، چې په متوسطه ښوونځیو کې دې ماشومان د ښوونځي د ودانۍ په کوچنیو ترمیماتو، رنګمالي او کاګل په څېر کارونو کې برخه اخلي. د متوسطه ښوونځي لوی ماشومان خو حتی د ښوونځي د ودانۍ په رغونه او پراختیا کې هم ونډه اخیستلی شي. د لاسي زیار په دغه ډول کارونو کې د ګډون له لارې زده کوونکي نه یوازې په یوه ګټور فعالیت کې د تربیه کېدو فرصت ترلاسه کوي، بلکې له یو بل سره په ګډه د کار او له یو بل سره د مرستې عملي تربیه یې هم کېږي. ښکاره ده چې دغه ډول فعالیتونه د ماشومانو د شخصیت او اخلاقو ودې ته ډېره ګټه رسوي. د متوسطه ښوونځي لوی شاګردان په ګڼو ملي کارونو کې هم قوم ته د مرستې لاس ور کولی شي. مثلاً د سیلاب د مخنیوي لارې چارې، د ناروغیو د مخنیوي لارې چارې، د ترافیکي اصولو عامول، او داسې نور.

**د لویو ماشومانو لاسي فعالیتونه**

د لیسې او پوهنتون زده کوونکو ته به د خپلو ټولګیو په پاکولو او ترمیم کې برخه اخیستل دومره ضرور نه وي، خو د لیلیې د زده کوونکو لپاره د خپلو خونو له پاکولو سره شخصي لېوالتیا ډېره ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسولی شي. د ليسې زده کوونکي که د ليليې خواړه او ډوډۍ پخپله تيار کړي، نو د لاسي زيار له عظمت سره هم لږ و ډېر بلدېدلی شي. دغه راز، د پوهنتون زده کوونکي که خپل کلبونه، اتحاديې او کانتينونه پخپله مخته يوسي، نو په مزدورانو باندې د غيرعادي انحصار له ناوړه عادت نه خلاصېدلی شي.

د لوی عمر د ماشومانو لپاره خو د منظمو غيرنصابي کارونو پرېمانه ګټور پروګرامونه په لاره اچول شوي دي. زده کوونکي اوس د اوړي په رخصتيو کې دوه يا درې اوونۍ په رغنيزو چارو کې برخه اخلي. دغه ډول رغنيزې چارې چې د زده کوونکو ګډون پکې ګټور ګڼل شوی دی، په درې ډلو وېشل شوې دي:

لومړی: د ملي طرحو کارونه

دوهم: د ملي خدماتو فعاليتونه

دريم: د هېواد د دفاع پروګرامونه

د ملي طرحو په کارونو کې د هېواد اقتصادي پيشرفت، ترقي او داسې نورې ټولې طرحې لکه د ملېريا د مخنيوي غورځنګ، د سيلاب مخنيوی او داسې نور، شامل دي. د ملي خدماتو په کارونو کې د بالغو ماشومانو تعليم ته رغنده اهيمت ورکول شوی دی. د هېواد د دفاع په پروګرامونو کې د کورنۍ دفاع په مختلفو فعاليتونو کې ګډون او په اضطراري حالاتو کې د هېواد پوځ ته د مرستې لاس ورکول راځي. د ښځينه زده کوونکو لپاره نرسنګ او د لويانو د زدکړو په منظمو پروګرامونو کې ګډون ته ډېر ارزښت ورکول شوی دی.

**د رغنيزو لاسي فعاليتونو ګټورتيا**

په دغه ډول ګټورو او رغنيزو چارو کې د ماشومانو د اشتراک ګټورتيا وضاحت ته اړتيا نه لري. د ماشومانو درسځايونه سوچه کتابي اداري نه دي، بلکې د هغو دنده د ژوند د ټولو ربړو له عهدې څخه د وتلو لپاره د ماشومانو تيارول دي. که تعليم يوازې تر درسي نصاب پورې محدود شي، نو په دې سره زده کوونکي د پيسو ګټلو جوګه ګرځېدلی شي، خو په شخصيت او چلند کې يې هغه لوړ صفات نه شي راتللی، چې د جامع او متوازن ژوند لپاره مهم دي. په دې سربېره، هغه زده کوونکي چې تعليم يوازې تر کتابونو پورې محدودوي، په اقتصادي ډګر کې هم تاوان کوي. دغه ډول لنډ ديده زده کوونکي يوازې د هغو دندو لپاره مناسب ګڼل کېږي، چې په هغو کې سوچه ليک و لوست پکار وي. ښکاره ده چې په دې صنعتي او اقتصادي دور کې دغه ډول «کتابي دندې» ورځ په ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library


د کمښت په لور رواني دي. په اوسني عصر کې ډېره تقاضا د هغو کسانو ده، چې کوم هنر یا فن یې زده وي. بلکې ګڼ داسې مسلکونه هم شته چې په ظاهره خو سوچه علمي بڼه لري، خو ځلېدونکې بیا هغه کسان چې د لاسي کارونو لپاره تربیه شوي وي. له دې اړخه که وګورو، نو د لاسي زیار تربیه تقریباً د هر ډول دندو لپاره اړینه ده.

زموږ د تېر تعلیمي نظام اساسي عیب همدا وو، چې په هغه کې یوازې په کتاب باندې ټینګار کېده. په دې اساس، د تعلیم یوازینۍ موخه د کتابونو لوست، په ازموینه کې بری او بیا د یوې داسې دندې موندل وو، چې په هغو کې د لاس و پښو په ځای د قلم په استفاده هر څه ترلاسه شي. د تعلیم د دې ناسالم تصور له امله به زموږ زده کوونکي د منشي توب او نورو دندو په لټه کې در بدره ګرځېدل. زموږ نوي تعلیمي نصاب پر دغه ناروغه تصور کلک ګوزار وکړ او د دې لپاره چې زده کوونکي د زیار، زحمت او بدني کار له ارزښت سره اشنا کړي، پریکټیکل پروګرامونه یې پیشنهاد کړي دي.

**د لوړو او منځنیو کورنیو عیبونه**

په اصل کې د دې لپاره چې ماشومان د زیار، زحمت او بدني کار له اهمیت سره اشنا کړای شي، یوازې د ښوونځي تعلیم بسنه نه کوي. د دې لپاره کورنۍ تربیه هم اړینه ده. زموږ په زیاترو کورنیو کې د ماشومانو د تربیې دغه اساسي ټکی له پامه غورځول کېږي.

د لوړې طبقې په کورنیو کې لوی شمېر مزدوران او نوکران وي. په دا ډول کورنیو کې د ماشوم هر کوچنی او لوی کار د مزدورانو په غاړه وي. بوټونه پاکول، چای جوشول، د خوب ځای برابرول، جامې اوتو کول او لنډه دا چې د ماشومانو ټول کارونه مزدوران کوي. په دې کورونو کې بالغ وګړي پخپله د خپلو کارونو کولو ته ډېر بې زړه وي. نو کوچني ماشومان هم د لویانو په تقلید کې مزدورانو ته تر دې بریده محتاج شي، چې په دوی کې په خپل لاس د خپلو کارونو وړتیا بیخي ختمه شي.

دغه ډول ماشومان چې کله د مزدورانو د دایمي پاملرنې له کورني ماحول نه وځي او ښوونځي ته رسېږي، نو د دې نوي چاپېریال له نویو تقاضاوو سره په جوړجاړي کې ډېر زیات له ستونزو سره مخ کېږي. په دې سربېره، د لوبو او مستیو په ډګر کې هم له ستونزو سره لاس و ګرېوان وي. د ژوند په ابتدایي پړاو کې د لاس و پښو وهلو او بدني زیار په کارونو کې د ګډون د تربیې د نشتون له امله دغه ډول ماشومان چې بلوغت ته ورسېږي، نو له ډول، ډول کړاوونو سره مخ وي. په دوی کې زیاتره ماشومان د خواهشاتو او حقیقت ترمنځ د وېروونکي تضاد په لیدو د ناهیلۍ او محرومیت ښکار

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېږي.

په شتمنو کورنیو سربېره، په ګڼو متوسطو کورنیو کې هم ماشومان د بـدني زیـار او لاسي کـار لـه تربیې نه بې برخې روزل کېږي. په ځینو کورنیو کې خو مور او پلار، په تېره بیا مور او نیا و نیکه خـو ماشومان لاس خوځولو ته هم نه پرېږدي. په دې ډول ناسمه فضا کې په روزل شویو ماشـومانو کـې د ژوند له کشمکش سره د مبارزې وړتیا پیدا کېدل ناشونی دی. په دې اساس، د ژوند په هر پړاو کې چې د لاس ښورولو او زحمت خبره راځي، نو په دغه ډول ناز و نخرو روزل شوی ماشـوم د ډول، ډول مصیبتونو او کړاوونو ښکار کېږي. آن په ګڼو حالاتو کـې خـو لـه ډېـرې بېـزارۍ ټـولنې ضـد کړنـو او جرایمو ته هم مایله کېږي.

## په بې وزله کورنیو کې د تقلید وړ مثال

په دغه برخه کې ممکن د بـې وزلـه کورنیـو رویـه تـر ټولـو سـالمه وي. پـه بـې وزلـه کورنیـو کـې ماشومان په کورنیو کارونو کې مور او پلار ته د مرستې لاس ور وړاندې کوي. د کور په ورځنیو چارو کې په مناسې ونډې اخیستو نه یوازې د هغوی معلومات زیاتېږي، بلکې شخصیت او اخلاق یـې هـم ورسره لوړېږي. په دې ډول ماشومانو کې د زیارکښۍ صـفتونه را ټـوکېږي. کـه دوی تـه د ژونـد پـه نورو برخو کې مناسبه لارښوونه وشي، نو دغه ډول وګړي په راتلونکي کې په هـره برخـه کـې د خپـل قوم لپاره با ارزښته سرمایه ګرځي.

د لوړو او منځنیو پوړونو کورنیو ته پکار ده، چې د خپلو ماشومانو د مثبتـې تربیـې پـه دغـه مهـم اړخ کې د ټیټ پوړ له والدینو څخه پند واخلي او خپل ماشومان د زیـار، زحمـت او لاسي کـارونو لـه نعمتونو محروم نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځپرکی: نولسم**



## د ماشومانو اخلاقي تعليم

د ماشومانو د نېکمرغۍ، ودې او پيشرفت لـه نـورو اړخونـو سره، سره د هغـوی اخلاقـي تعلـيم او تربيې ته هم بايد مناسب ارزښت ورکول شي. دا سمه ده چې د نېکـي او بـدي ابتـدايي تصـور او د کره او ناکره پېژندنه د عمر په تېرېدو سره پخپله په ماشوم کې پيدا کېږي. خو د تربيت دغه مهـم اړخ فطرت ته پرېښودل له خپل مسؤليت څخه د تېښتې په معنا ده. له اخلاقـي تربيـې پـه محرومـو ماشومانو کې د نېک او ګټور بالغ انسان د جوړېدو امکانات ډېر کم پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




يو شمېر کسان په دې نظر دي، چې د ماشومانو سمه اخلاقي تربيه يوازې په دې ډول شوني ده چې اخلاقي اصول په زوره په ماشومانو وتپل شي. دغه تګلاره د ماشومانو په طبيعت باندې په بوج سربېره، غيرعلمي هم ده. ماشوم د ورځني ژوند له لسګونو کړکېچونو او نوو، نوو پېښو سره لاس و ګرېوان کېږي. ستاسو مسؤليت يوازې دومره دی، چې د هغو پېښو په درک او له هغو سره د مبارزې لپاره څه نا څه لارښوونه ورته وکړئ، تر څو پخپله خپل هدف ته رسېدل ورته اسانه شي. د دې په ځای چې د ماشوم پر ذهن د وچو او سختو اخلاقي اصولو بوج بار کړئ، هغه ته له ورځنيو ازمايښتونو سره د مبارزې روش ور زده کړئ. د خپل چلند د ښو او بدو پايلو او ستاسو د مشفقانه لارښوونې له لارې ماشوم له يوه متمدن او با اخلاقه ژوند سره بلدېږي. په دې ډول به يوه ورځ د نېکۍ او بدۍ له نظري اصولو څخه برخمن وي او د اخلاقي قوانينو د پوهېدو وړتيا به هم ورکې پيدا شوې وي.

## د وچو نصيحتونو بې اغېزتوب

تاسو خپلو ماشومانو ته په ډېره درنه لهجه وايئ چې «وګوره زويه، له خپلو ملګرو سره جنګ مه کوه»، «د ورونو په شان له يو بل سره لوبې کوئ»، «رښتيا وايئ»، «د لويانو خبره منئ»، او داسې نور؛ خو د ماشوم په شخصيت دغه ډول اصولي نصيحتونه کوم مطلوب اغېز نه ښندي. د دې په ځای مو خپل ماشوم د خپلو ورځنيو پېښو، کيسو، حکايتونو او غوره مثالونو په رڼا کې د اخلاقي نصيحتونو په مفهوم پوه کړئ. په دې ډول به مو نصيحتونه د هغه پر ذهن جادويي او اوږدمهاله

(c) ketabton.com: The Digital Library


اثر پرېباسي.

فرض کړئ، ماشوم مو له خپلو همزولو سره جنګ کړی او له خپلو لوبتوکو سره یې د مور غېږې ته پناه وړې او په دروغو شکایت کوي چې «مورې! ما مې له خپلو لوبتوکو سره له لوبېدو منع کړل، نو خفه شوو او رانه لاړل. هغوی ډېر بېکاره ماشومان دي.» په دې وخت کې ماشوم پوه کړئ چې «له ملګرو سره باید د وروڼو په څېر چلند وکړو. که هغه درنه خفه شي، نو ته به یوازې پاتې شې او د لوبو لپاره به ښه ملګری نه در پیدا کېږي. که ته یې له خپلو لوبتوکو سره لوبېدو ته پرېږدې، نو هغوی به دې ښه ملګري شي. په دې کې ستا خپله ګټه ده.» او داسې نور.

که امکان یې وي، نو له حالت سره مناسبه یوه لنډه کیسه هم ورته وکړئ، چې پند یې دا وي، چې په لوبو کې د ماشومانو خپلمنځي جنګ او لانجې ښه کار نه وي. د ژوند د واقعي تجربو په تړاو ستاسو دغه پر وخت مشوره او په زړه پورې حکایت به ارومرو ستاسو له بې ځایه، بې تجربې او سوچه واعظانه نصیحت څخه ډېر بریالی وي. چې لږ نور یې وهڅوئ او پوه یې کړئ، نو ماشوم به سمدلاسه د مور له غېږې د لوبو میدان ته ورسېږي او د ژوند د ډول، دول موضوعاتو د عملي تربیې لپاره به له نوي سره اماده شوی وي.

د اخلاقو ودانۍ په بې شمېره بنسټونو ولاړه وي او د مختلفو عناصرو له مجموعي عمل نه د یوه با اخلاقه شخصیت ودانۍ رغېږي. په دې برخه کې وراثت هم لوی لاس لري. خو سالم ماحول دغه کار لا ډېر اسانه کوي. د ماشوم خپل ذهني او بدني رغښت هم د هغه پر اخلاقي ودې اثر پرېباسي. د تعلیم هدف له ماشوم نه با اخلاقه ښاري جوړول دي. د دې هدف په ترلاسي کې کورنۍ تربیه د ښوونځي تر تعلیم نه ډېر زیات اهمیت مومي. د مور او پلار په تربیې سربېره، په مختلفو ټولنیزو دریځونو کې د ماشوم خپل کړاوونه او تجربې، د بریا خوشالي او د ماتې تریخ احساس هم د ښو یا بدو اخلاقو په لور د ماشوم د هڅېدو سبب ګرځي.

## د کورني چاپېریال اخلاقي تربیه

د اخلاقو په وده کې د کور چاپېریال ډېره ونډه لري. له ماشومانو سره د والدینو رویه د هغه پر اخلاقو ډېر زیات اغېز پرېباسي. یو شمېر والدین له خپلو ماشومانو سره ډېر سوړ چلند کوي. داسې برېښي ګواکې له ماشومانو سره هېڅ مینه لري. دا ډول ماشومان په دې احساس اخته کېږي، چې هېڅ څوک دی نه غواړي. په یو شمېر ماشومانو کې د محرومیت دغه احساس د یوې ذهني ناروغۍ بڼه واخلي او چورت وهي چې که د خوند او ښکلا له خوندونو بې برخې یم، نو بیا د ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېدو هڅه ولې وکړم. همدارنګه، له اړتیا ډېره پاملرنه او بې ځایه مینه هم ماشومان له لارې باسي.

په ځینو کورنیو کې مالي ستونزې، یا د کورنیو شخړو له امله ماحول بې کیفه او فضا غم لړلې غوندې وي. په داسې چاپېریال کې په روزل شویو ماشومانو کې سالم شخصیت وده نه شي کولی. والدین که په بې باکه ډول دروغ وایي او نورې اخلاقي بدۍ د ټولو په مخکې سرته رسوي، نو د ډول، ډول بدو مسیرونو په لور د ماشومانو د ښویېدو امکان ډېر زیات قوي کېږي. تریخ مزاج، ګډه وډه طبع او په ژمنه نه درېدونکي والدین د دې سبب ګرځي چې د کور ماحول پاشلی او ګډوډ وي. دغه ډول ماشومان فطرتاً په لوچکۍ او بې لارۍ اوړي.

ماشوم د خپل کورني چاپېریال اصلي ترجمان وي. جنګېره ماشوم د دې ښکارندوی دی، چې والدین یې سوله ییز او خوش اخلاقه نه دي، له هر یوه سره جنګ کوي او ماشوم په نه خبره رټي او غندي. کله چې تاسو پخپل لاس په ورځني ژوند کې د خوش اخلاقۍ اساسي اصول تر پښو لاندې کوئ، نو بیا د خپل بچي په خرابېدو مه حیرانه کېږئ.

**زموږ ښوونځي او د ماشومانو اخلاقي تربیه**

د اخلاقي تربیې په لړ کې تر کورنۍ وروسته ښوونځی راځي، ځکه چې ماشوم د ورځې یوه لویه برخه په ښوونځي کې تېروي. د ښوونکو اخلاقي معیار، تعلیمي نصاب، د ښوونځي ملګري او تفریحي بوختیاوې د ماشوم په شخصیت او کرکټر ژور اغېز پرېباسي.

ځینې خلک په دې اند دي، چې په ښوونځي کې دې د اخلاقي تعلیم لپاره بېل درسي ساعت وټاکل شي، چې په هغه کې ماشومانو ته د مذهبي او اخلاقي اصولو تعلیم ورکول شي. دوی په دې اند دي چې د ماشومانو د اخلاقي تعلیم او تربیې لپاره همدا ډول ځانګړي درسي ساعتونه بسنه کوي. خو دا فکر ډېر نیمګړی دی. د مذهب او اخلاقو تعلیم یوازې تر څو خاصو درسي ساعتونو محدودول له مصلحت سره اړخ نه لګوي. د ښوونځي د ټول تعلیم اساسي هدف د اخلاقو رغول دي. نو ځکه په ښوونځي کې هر مهال او هر ځای باید د اخلاقو د عملي تربیې زمینه برابره شي. یعنې دې ټکي ته دې پام وشي، چې د زده کوونکو د ښه شخصیت اصول په هر مهال او هر ځای کې پلي کېږي. زده کوونکو ته په خپلمنځي راکړه ورکړه، کار و دندې او لوبو و مستیو په ټولو چارو کې د ایمانداری، رښتینولۍ او قانون پرستۍ عملي تربیه ورکړئ. دا خبره هله امکان مومي، چې د ماشومانو تربیه په ځای د دې چې تر یو شمېر ځانګړو درسي ساعتونو پورې محدوده شي، پکار ده چې د ښوونځي په هر درسي ساعت او د هر فعالیت په جریان کې د بهتره انسان کېدو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


مناسبه لارښوونه ورته شي.

## دين او اخلاقي تعليم

له دې حقيقت نه څوک مخ اړولی شي، چې دين زموږ د ژوند تر ټولو پخوانۍ ټولنيزه اداره ده؟ دين هم اخلاقي زدکړو ته مرکزي اهيمت ورکړی دی. د روغ ديني تعليم موخه هم د لوړو اخلاقو زرغونول دي. خو دا تعليم په ستومانوونکي طرز وړاندې کول د دې سبب ګرځي، چې د دين اصلي روح ورسره مړاوی شي او په نتيجه کې يې موږ د خپل هدف په ترلاسي کې ناکامه پاتې شو. زموږ په جوماتونو کې د ديني تعليم شړېدلی سيستم، د ملا صاحبانو زوړ پسنده طرز فکر او تګلاره د ماشومانو دومره بده اېسي چې د ماشوم په ذهن کې د دين ناسم تصور رامنځته شي.

د عمر د لومړيو شپو ورځو دغه ناسم تصورات د ځوانۍ په ورځو کې د دين پر ضد د غبرګون او عکس العمل په صورت کې څرګندېږي. ليکوال د مختلف ډوله زلميانو ذهنونه ور مطالعه کړي دي. په دې کې ګڼ شمېر نوي ځوانان هغه وي، چې د دين له اخلاقي اصولو څخه له دې امله سرکښه شوي وي، چې د دغو تعليماتو د وړاندې کوونکو طريقه غلطه وه. زموږ د غفلت له لاسه زموږ زياتره جوماتونه په کنډوالو بدل شوي دي. په کورونو کې د لويانو بې مفهومه لمونځ او بې معنا تلاوت هم ماشومان له دين نه لرې کوي او د ديني فرايضو له اخلاقي ګټو نه په بې برخې کېدو سربېره، ماشوم په دين هم بدګومانه کوي. ډېر امکان شته چې په دې ډول ماشومانو کې يوه ورځ د نېکو اخلاقو د خپلولو هيله له يوې مخې پای ته ورسېږي. دا هم امکان لري چې ماشوم له دې وچ چاپېريال نه د تېښتې لار غوره کړي او د جرمونو او بديو رنګينيو ته پناه يوسي.

## د اخلاقو عملي تربيه

د شلمې پېړۍ ښوونکی بايد تل دا خبره په ياد ولري، چې هغه تعليم چې د ژوند له عادي خوندونو بې برخې وي، د زده کوونکي د اصلاح په ځای پر هغه تخريبي اثر پرېباسي. د دې په ځای چې په ماشومانو اخلاقي اصول په يادو زده کړو، پکار ده چې پر ورځنيو پېښو تبصرې او بحثونه وشي، چې په دې پېښو کې د قتلونو، وژنو، درغليو، غلا، بدچلن او رشوت په څېر جرمونو په باره کې خپل نظرونه سره شريک شي او د خپل خواخوږي ښوونکي په مرسته د بد چلند په بديو د پوهېدو هڅه وشي او يوازې د همدې ډول اخلاقي تعليم له برکته په ماشوم کې د سالم، متوازن او با اخلاقه شخصيت د غوړېدو فرصت لاره کولی شي.

د دې لپاره چې په ماشوم کې د يو بل د درک اخلاقي شعور وپنځول شي، د هغوی لپاره د لوبو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


کلبونو مناسبه زمینه برابرول هم ضرور ده. د سکاؤټنګ، ګایډینګ او پولیسي ـ ټرینینګ ځانګړې تربیه د ماشومانو اخلاقي ودې ته ډېره ګټه رسوي. په دغو ټولنیزو ادارو کې د تربیه کېدو په مټ په ماشومانو کې معقول تمایلات منځته راځي او د یوه دروند ښاري کېدو اهلیت مومي. د لوبو په میدان کې ماشومان خپل انفرادي طبیعت تر ټولنیزوالي قربانوي، چې په دې ډول جمهوري ژوند طرز زده کوي او د ملګرتیا له اصولو سره اشنا کېږي.

**زموږ فلم ځپلي ماشومان**

د ماشومانو پر اخلاقو ګډ وډ فلمونه ډېر بد اثر پرېباسي. نن ورځ، پر سینما باندې په ټوله نړۍ کې ګڼ شمېر اروا پوهنیز تحقیقات ترسره کېږي. د زیاترو څېړنو خلاصه دا ده، چې د سینما په لیدو د ماشومانو جذبات، اخلاق، شخصیت او وینا اغېز اخلي. د ښه فلم په لیدو په ماشومانو کې د ښه کېدو جذبه پیدا کېږي. د جنسي بې لارۍ، جنګ و جګړو، بوکس و لغتو او له درغلیو ډکو فلمونو لیدل په ماشومانو کې دا فکر تقویه کوي، چې دا چې په جرم کې خوند هم شته او ګټه هم او اخلاقي ارزښتونه او دیني معیارونه یوازې افسانې دي، نو له دې امله له اخلاقي حدودو نه بې پروا ژوند تېرول د ژوند قانون او عادي خبره ورته ښکاري.

ماشومان سینما ته تر پرېښودو له مخه والدین باید یو فلم له هره اړخه وڅېړي او اخلاق خرابوونکو فلمونو ته هېڅ کله باید د تلو اجازه ور نه کړي. فلم جوړونکي دې د ماشومانو لپاره ځانګړو فلمونو ته خپله توجه زیاته کړي. د ماشومانو لپاره پر تاریخ، ساینس، عامه پوهاوي او اوسنیو حالاتو زړه راښکونکي او ساده فلمونه جوړولی شو او چې په ټلویزون، ښوونځیو او پارکونو کې عامه ننداري ته وړاندې شي، نو د ماشومانو په اخلاقو رغنده اغېز شیندلی شي او په هغوی کې د علم او ادب او عامه پوهاوي په هکله ذوق هم وده کولی شي. لیکوال په پاکستان سربېره، د اسیا، اروپا او امریکا په ګڼو هېوادونو کې د بدو اخلاقو او مجرمو ماشومانو د اصلاح او درملنې پورې مربوط د علمي کارونو فرصت ترلاسه کړی دی. لیکوال اکثریت لیدلي، چې د ماشومانو په مجرم کولو کې بېکاره، ناقص او فحش فلمونه ډېر زیات لاس لري. خو له دې سره یې دا خبره هم تر سترګو شوې، چې د اروا پوهانو او تکړه استاذانو تر لارښوونې لاندې د ماشومانو لپاره په ځانګړي احتیاط د چمتو شویو فلمونو په لیدو همدا بد اخلاقه ماشومان په ډېرې حیرانتیا سره بېرته لارې ته هم راځي.

زموږ ټولنه په دې برخه کې ډېره زیاته غفلت کوي. لیدلي به مو وي چې تقریباً هره ورځ زموږ ماشومان په کوڅو بازارونو کې د فحشو فلمونو سندرې په داسې ډول زمزمه کوي ته وا ملي سرود دی. همدارنګه، د لوی عمر زیاتره ماشومان زموږ د فحش ترینه فلمي «ستورو» له ژوند سره ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښه اشنا وي، خو د خپل تاریخ له اتلانو سره اکثریت نابلده وي. د فلمي صنعت مسؤلین له دې دردوونکي حالت نه قطعاً غافله برېښي، خو ډېری مسؤلیت یې د استاذانو او اروا پوهانو په غاړه دی. دغه صاحب بصیرت کسانو ته پکار ده، چې پر دغه موضوع څېړنې او تجربې وکړي. دا مسؤلیت د همدې صاحب نظر خلکو دی، چې حکومت، والدین، د فلمي صنعت مشران او ولس پوه کړي چې د ناسمو فلمونو جوړول یا د ماشومانو لپاره ځانګړي، دلچسپ او معلومات رسوونکي فلمونه نه جوړول یا ماشومانو ته د اخلاق خرابوونکو فلمونو د لیدو اجازه ورکول یو لوی اخلاقي، ملي او علمي جرم دی، چې خطرناکه نتیجه یې د «فلم ځپلو» او بې لارې شویو ماشومانو په بڼه راوځي.

**د ماشومانو د کتابونو اخلاقي اهمیت**

د ماشوم د ادبیاتو، کتابونو او داسې نورو موادو له اخلاقي ارزښت نه انکار ناشونی دی. د فلم په څېر په دې برخه کې هم ښه کتابونه ښه، او بد کتابونه بد اخلاقي اثر شیندي. په بریتانیا کې چې لیکوال ته د کومو مجرمو ماشومانو د اروایي شننې موقع ور کول شوه، له هغو نه زیاتره د بې معنا، عشقي ناولونو او د ماشومانو د هغو اخلاق خرابوونکو انځوریزو رسالو له امله تباه شوي وو، چې په انګلیسي کې ورته «کومیک» ویل کېږي. له بدو سترګو دې لرې وي، اوس خو زموږ په ګران وطن کې هم د سیمه ییز او بهرني فحش ادب بې شمېره ډولونه په لویه کچه د ترلاسي وړ دي او زموږ د خپل فحش ادب ځینې خاص ژانرونه خو د لویدیځ بدنام ترینه فحشیاتو ته هم ماتې ورکړې ده.

د بداخلاقۍ له یرغل نه د ماشومانو د حفاظت چاره تر څومره حده ستونزمنه شوې ده! والدینو او استاذانو ته پکار ده چې د ماشومانو لپاره د کتابونو او رسالو د خریدارۍ یا سپارښتنې په وخت دا خبره یقیني کړي، چې د کتاب محتویات په دلچسپۍ سربېره، د بد اخلاقۍ له میکروبونو هم پاک دي که نه.

د اصلاحي کتابونو او ښو کتابګوټو په لوستلو د ماشومانو تخیل، رغنده وده کوي. د هغوی شخصیت یو ځانګړی لوری اخلي. څه موده وړاندې لیکوال ته د ماشومانو د یوه کتابګوټي د اداري دندو د ترسراوي موقع ورکول شوه، دلته لیکوال ولیدل چې د دې رسالې لیکوالو یا د دې رسالې دایمي لوستونکو ماشومانو د ذوق، د وینا طرز او شخصیت له مخې له هغو ماشونو سره ډېر زیات توپیر درلوده، چې لیکوال ورسره په لرې سیمو، د ماشومانو په محکمو، د ماشومانو په زندانونو او داسې نورو ځایونو کې لیدلي وو یا هغه ماشومان چې عموماً د کوم غوره کتاب یا ښې رسالې له نوم سره هم اشنا نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## پر ماشومانو د راډیویي پروګرامونو اغېز

ماشومان له هر ډول دلچسپې خبرې نه ډېر ژر متاثره کېږي. کومه خبره یې چې زړه ته ولوېږي، ټول ژوند یې له یاده نه وځي. راډیویي خپرونې هم د ماشومانو د اخلاقو په اصلاح کې ډېره زیاته ګټه رسوي. د ماشومانو ځانګړي پروګرامونه د ټولې نړۍ ماشومان په زیاته علاقه اوري، کوم ماشومان چې په دې خپرونو کې برخه اخلي، هغوی ته یې لا ډېره ګټه رسېږي.

والدین او ښوونکي باید ډېره زیاته هڅه وکړي، چې د ماشومانو دغه شوق ژوندی وساتي. چېرته چې خپرونه د ماشومانو له ذهني معیار نه لوړېږي، په هغه برخه کې دې په پوهېدو کې مرسته ورسره وشي. د راډیو مسؤلینو ته هم پکار ده چې د ماشومانو په خپرونو کې د اروا پوهنې لویو، لویو اصولو ته پام وکړي.

## ټلویزون او د ماشومانو اخلاق

تر راډیو ډېره مؤثره او دلچسپه وسیله ټلویزون ده. ټلویزون دوه اړخیزه آله ده، یعنې د دغې آلې په مټ د نېکۍ او بدۍ دواړو ریښې په اسانه رېبلی شو. تر کومه چې د فکر پاروونکو او رغنیزو پروګرامونو خبره ده، زموږ ټلویزونونو د ماشومانو په اخلاقي سلامتیا ښه اثر لرلی دی. خو له بده مرغه، یو شمېر داسې ناقص پروګرامونه هم شته، چې پر هغو د ماشومانو له لید لوري د یوې بیاکتنې اړتیا لیدل کېږي.

ماشومان له ټلویزون څخه په څه ډول سمه استفاده کولی شي؟ په دې برخه کې لاندې عمومي مشورې له والدینو او ښوونکو سره مرسته کولی شي:

۱) د ماشومانو لپاره په ورځ کې له یو یا نیم ساعت نه ډېر ټلویزون لیدل ښه نه ده. ډېر وخت ټلویزون د ماشومانو په دید ناوړه اثر کوي، د زدکړو او لوبو لپاره پوره وخت نه ور پاتې کېږي، او داسې نور.

۲) ماشومانو ته دې یوازې ځانګړي پروګرامونه، علمي، معلوماتي او د همدې ډول اصلاحي خپرونو د لیدو اجازه ورکول شي.

۳) که امکان یې وي، نو د معلوماتي او ساینسي پروګرامونو د لیدو پر مهال لویان دې ماشومانو ته لارښوونه وکړي. او په څنګ کې دې د پېچلو خبرو وضاحت او تشریح هم ورته کوي.

۴) د ټلویزون د لیدو لپاره ماشومانو ته باید شکمنو ځایونو یا نامناسبو ګاونډیانو کره د ورتلو اجازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور نه کړل شي.

۵) هڅه دې وشي، چې د ماشومانو پر چلند او شخصيت د ټلويزوني برنامو اغېـزې وڅېـړل شي او د همدې څېړنو په رڼا کې دې د ماشومانو لارښوونې او اصلاح ته کار وشي.

**د اخلاقي تربيې اساسي ارزښت**

د يوې ټولنې بهترينه سرمايه د هغې ټولنې وګـړي وي. د وګـړو بهترينـه ځـواک د هغـوی اخـلاق وي. له اخلاقي ځواک پرته وګړي او قومونه د خاورو د يوې غونـډۍ پـه څېـر دي. لـه همـدې املـه، شخصي ودې او ملي عروج ته د رسېدو لپاره د اخلاقو تربيې ته بايد لومړيتوب ورکول شي.

د اخلاقي تربيې تر ټولو غوره مهال د ماشومتوب دوره ده. که ماشومان د عمر په لومړيو کې لا له اخلاقي اصـولو سره پـه ښـه ډول اشـنا شي، نـو پـه زلميتـوب کـې د هغـوی د بـد اخلاقـه کېـدو او د جنايتونو په دنيا کې د غرقېدو احتمال يې تقريباً له منځه ځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library


## شلم څپرکی

## د ماشومانو ديني تعليم

دين څه شی دی؟ د ماشومانو په وده کې د روحاني احساساتو او مـذهبي شـعور تکـاملي پړاوونـه څه دي؟ ټولنه د ماشوم په ديني شعور څه ډول اغېز پرېباسي؟ کوم ټولنيز عناصر د ماشومانو ديني روح ته وده ورکولی شي؟ د ماشومانو ديني ښوونه بايد د کومو اصولو له مخې وشي؟ له ديني ښوونې څخه د ماشومانو بې برخې ساتل، د هغوی په عمومي شخصيت او اخلاقـي ودې څـه اغېـز کـوي؟ د والدينو او ښوونکو لپاره د دې پوښتنو په مناسبو ځوابونو پوهېدل ډېر اړين دي.

### سم او ناسم مذهب

دين د ژوند بشپړ نظام دی. د سم مذهب موخه لـه انسـان نـه نېـک، متمـدن او کاميابـه ښـاري جوړول دي. خدای، روح، انسانيت، نړۍ، ګناه، ښه او بد، ژوند، مرګ او راتلونکی پـړاو د ديـن عـام مفاهيم دي. دين، پر لمانځه، روژې، حج، زکات، خيرات او نـورو ټـولنيزو چـارو لـه دې املـه تاکيـد کوي، چې انسان له انسان سره د مينې کولو په سليقه پوه شي.

غلط دين زموږ په نړۍ کې له لومړۍ ورځې د جنګ او جګړې بازار تود کړی دی. صحيح مذهب يوه داسې ګټوره ټولنيزه اداره ده، چې د انسان لپاره د رحمت باعث ګرځي. دين موږ ته له حيوانيت نه د لوړ ژوند توپير را ښيي. له خدای سره د خپل تعلق د جوړولو او په ورځني ژوند کـې لـه هـر يـوه سره په ښه اخلاقي رويه انساني شخصيت را ژوندی کېږي. ديني تعـليمات انسـان لـه اخلاقـي زوال، ځانغوښتنې، کينې، دښمنۍ، ناهيلۍ، مايوسۍ او د ناپوهۍ له تيارو ژغوري او د تمدن شاهراه ته يې برابروي.

### ساينس ، فلسفه او دين

ساينس موږ ته د مادي نړۍ په هکله د معلوماتو يوه پراخـه زېرمـه را کـوي. فلسـفه لـه ساينسي سطحې ور اخوا د حقايقو تل د رسېدو په خاطر يوه هر اړخيـزه او سـنجيده هڅـه ده. خـو د ژونـد او کايناتو په رموزو د پوهېدو لپاره ساينس او فلسفه د کامل رهبر رول نه شي ترسره کولی. د تاريخ پـه هر دور کې انسان يوه داسې هراړخيز بصيرت ته اړتيا احساس کړې، چې د ايمان او يقين پر بنسـټ په بشري علم او اطمينان کې زياتوالی راولي. دغه بصيرت او دغه رڼا يوازې له دين نه ترلاسه کـولی شو. د شاوخوا کايناتو په تړاو په بصيرت سربېره، دين زموږ مخې ته د فکر او عمـل يـو داسـې جـامع

(c) ketabton.com: The Digital Library


نظام هم بږدي، چې د ژوند په هره برخه کې زموږ بشپړه لارښوونه کولی شي. د تمدن تاریخ د دې حقیقت شاهد دی، چې د ژوند دغه نظام د فرد په ژوند کې رغنده انقلاب رامنځته کوي او د ټولنې یو ګټور او متمدن غړی ترې جوړوي.

دین زموږ له ټولنیزو اصولو، دودونو او موږ سره په پټو سترګو مخالفت نه کوي، بلکې د دین له امله زموږ د ټولنې ګټور اصول لا زیات تقویه کېږي. دروغ، غلامي، بدلمني، جنګ، احتکار، حق خوړل، غلا، عزیزان نازول، ځانغوښتنه او د مخدره توکو د استعمال په ضد مذهب د مبارزې بیرغ رپوي. دغه کړنې زموږ په ټولنیز ژوند کې هم ناوړه ګڼل کېږي. د دین موخه په انسانانو کې د خدای او د هغه د بندګانو مینه پیدا کول دي. همدا سوچه مینه له انسان نه انسان جوړوي او په هغه کې د لوړ ټولنیز شعور د پیدا کولو تر ټولو غوره تربیه ده.

## په ماشومانو کې د دیني شعور پیل

د زوکړې پر مهال ماشوم له دیني شعور سره په هماغه ډول نا آشنا وي، څنګه چې له ساینسي، اخلاقي او جمالیاتي ارزښتونو سره نا اشنا وي. ماشومانو ته دین په میراث نه رسېږي. ماشومان چې کله د خپلې ټولنې له وګړو، شیانو او پېښو سره مخ شي، نو د کره و ناکره توپیر ورته وشي. دی په نېکي او بدي پوه شي او د څیزونه او اعمالو په تراو د ارزښت له مخې تفکر ته وهڅېږي. بیا ورو په ورو د ماشوم فکر له مادي کچې لوړ شي او تر خپله وسه پورې ماورایي حقایقو ته توجه واړوي.

ټولنیز عناصر، چاپېریال، ښوونځی، د کورنۍ تعلیم او د خپل زیاتېدونکي عمر په سبب له ماشومانو سره دا احساس پیدا شي، چې په دې نړۍ کې ارومرو یو ساتونکی شته. نو زېری ماشوم له دیني اړخه، بې طرفه وي او څوک ورته نه دین پرسته ویلی شي او نه بې دینه. خو په دیني تصوراتو د لږ و زیات پوهېدو او له روحاني اصولو څخه د استفادې لپاره د ماشوم بدني او ذهني وړتیاوې له ماشومتوب څخه لا په ټوکېدو شي.

## له دین سره د بلدتیا عملي تګلاره

په ماشوم کې سم دیني تصور څنګه پیدا کړای شي؟ دا کار ډېر زیات ستونزمن دی. د تلپاتې ژوند، ښه او بد او خدای او روح تصورات ډېر په سخته زده کېږي. موږ په خپلو پنځه ګونو حواسو دغه مفاهیم نه شو درک کولی؛ دا چې د ماشوم پوهه په ټوله کې په پنځه ګونو حواسو ولاړه وي، نو ځکه په دیني مفاهیمو باندې په پوهېدو کې هم له ستونزو سره مخ کېږي. زموږ ملایان دیني مفاهیم په دومره سخته او ګونګه ژبه بیانوي، چې ماشومان خو ایسته کېږده، لویان یې هم په درک

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې مشکل احساسوي. زياتره اوربېدونکي د تاويلاتو په کرلېچونو کې له ښکېلېدو وروسته هغه شته پوهه او درک هم له لاسه ورکړي. د يو شمېر علماوو ډله ييز تعصبات او اخلاقي تنګ نظرۍ خو په ديني مفاهيمو باندې په پوهېدو کې لا ډېرې ستونزې را ولاړې کړې وي.

له دين سره د ماشومانو د بلدتيا لپاره نظري نه، بلکې عملي تګلاره بايد انتخاب شي. که تاسو ووايئ چې «خدای عالم الغيب دی. هغه نه په مکان کې شته نه په زمان کې»، نو ماشومان له هغه خدای څخه ورځ په ورځ واټن نيسي، چې پېژندنه يې دومره سخته ده. د دې په ځای بايد د کيسو او حکايتونو او ورځنيو تجربو په رڼا کې ماشوم په دې پوه کړای شي، چې دغه کاينات يو مهربانه ساتونکی لري، چې خدای بلل کېږي. هغه له خپلو بندګانو سره بې بريده مينه لري. د مثال په ډول، له لوړې څخه د مرګ حاله انسان کومه په زړه پورې کيسه ورته وکړئ، چې کوم لاروي د ډوډۍ په ورکولو ژغورلی وي. بيا ورته ووايئ چې خدای په مصيبتونو کې له اخته خلکو سره په همدې ډول مرسته کوي.

ماشومان د سهار له لوري په چکر درسره وباسئ. له طبيعي منظرو سره يې چې دلچسپي شي، نو ورته ووايئ چې بهېدونکي سيندونه، لوړ غرونه، شنې ونې او چغېدونکي مرغان او ډول ډول بې شمېره ځيزونه او ذي روحه شيان نو موږ څنګه جوړولی شو؟ ماشوم ته شنې کروندې ور ښکاره کړئ او ترې وپوښتئ چې دغه لوی جهان به چا پيدا کړی وي. کله چې ماشوم پخپله پوښتنه وکړي چې هغه څوک دی؟ نو خامخا يې پوه کړئ چې دا ټول شيان د خدای نښې دي او داسې نور. د دې ډول تعليم له برکته به په ماشوم کې له ساينس او دين دواړو سره دلچسپي پيدا شي. په کور کې چې کله هم معقول ديني دود ترسره کېږي، نو ماشوم ته پکې د ونډې اخيستو اجازه ورکړئ، تر څو نوموړی دين يوازې د لويانو مال ونه ګڼي.

ماشوم د ديني ژوند د جذباتي اړخونو زدکړه په څه ډول کوي؟ د کومو ديني جذباتو مناسب څرګنداوي ته بايد اهميت ورکول شي؟ د خدای مينه، ورورولي او خپلوۍ پالنه، پر ديني اصولو د ايمان جذبه، د انساني نېکمرغۍ پياوړې هيله، د دين ارزښتناک احساسات دي. د نېکي په خوا رغبت او له بدۍ نه د کرکې ښوونه ډېره مهمه ده. خو احتياط دې وشي، چې ماشوم له بدۍ نه د کرکې په سفر کې له بدو انسانانو سره د دښمنۍ، کينې او کرکې په جذباتو کې ښکېل نه شي. له همدې امله د عمر په لومړي پړاو کې ماشوم ته د ملګرتيا او همکارۍ ځانګړې تربيه ورکړئ. تر څو نورو ته د ګټې رسولو او ملګرتيا پاللو شعور پکې پيدا شي. د منظمو لوبو او د جمې په لمانځه کې د ګډون په تربيه دغه هدف په ښه ډول ترلاسه کېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ماشوم پر شخصیت د دیني زدکړو اغېز

په سم تعلیم انساني شخصیت را ژوندی کېږي. د ایمان په ځواک د ناهیلۍ ترخه احساسات له منځه ځي. ماشوم له بدو عادتونو او ناوړه فعالیتونو څخه خوندي کېږي. په دیني مسؤلیتونو او ټولنیزو فعالیتونو کې د ګډون له لارې ماشوم په خپل ځان کې د خوښۍ او هدفمند ژوند احساس کوي. د خوشالۍ دغه جذبه د ماشوم په شخصیت کې انډول رامنځته کوي. په خپل دین باندې د ایمان په مټ د ماشوم په خپل ځان هم باور لوړېږي. د خدای په وجود باندې ایمان ډول، ډول وېرې او وهمونه هم له منځه وړي. د دیني معیارونو په اساس د سمو اعمالو له سببه په ژوند کې تلپاتې ولولې په څپو کېږي. د دیني بصیرت له امله د ماشوم ژوند متوازن کېږي. سمه دیني لارښوونه له ماشوم سره د ماشومتوب له فکري سطحې څخه په لوړېدو کې مرسته کوي او د ژوند له لوړو ارزښتونو سره اشنا کېږي.

## کور او ابتدايي دیني تعلیم

کور د ماشوم بهترین روزنځای دی. د والدینو چلند او د هغوی د فکر طرز په ماشوم ژور اغېز پرېباسي. د والدینو مثبت ټولنیز فعالیتونه لکه رښتیا ویل، معقوله هیله مندي، د خواخوږۍ، قربانۍ او همکارۍ جذبه، یو ماشوم د هغوی تقلید ته هڅوي. په ماشوم کې د ملګرتیا، باور او له نورو سره د ښېګڼې احساس را ژوندی کوي. ماشوم چې مور او پلار په لمانځهویني، نو پخپله هم د لمانځه تمثیل کوي.

په پیل کې به مناسبه وي، چې ماشوم یوازې د دین له لویو، لویو اصولو او دلچسپه فعالیتونو سره اشنا شي. په مغلقو مسایلو او فقهي مباحثو پوهاوی د عمر او تعلیم په زیاتېدو سره سر نیسي. د مور او پلار نېک سیرت د ماشوم لپاره د تقلید وړ نمونه ګرځېدلی شي. د دې برعکس، د والدینو خپلمنځي نفاق، لفظي شخړې، شپه و ورځ جنګونه او نورو بد اخلاقیو نه چې ماشوم په تنګ شي، نو په هغه کې د بې لارۍ او تنګ خلقۍ رامنځته کېدو وېره زیاتېږي.

جنګېره مور او پلار د خپل ناوړه چلند د عملي نمونې له کبله په ماشومانو کې د جرم او بې دینۍ تخمونه کري. د کور توکي، د راډیو اخلاقي خپرونې، د ټلویزون اصلاحي پروګرامونه، د دیني ودانیو ښکلي انځورونه او کوچني او ساده دیني کتابونه د ماشومانو په دیني تمایلاتو مثبت اثر پرېباسي.

د ماشومانو لپاره اسانه دیني کتابونه ډېر کم لیکل شوي دي. یو شمېر ملا صاحبان او ګڼ شمېر مور او پلار له لومړۍ ورځې لا ماشومانو ته سخت دیني کتابونه شروع کړي. له دې سره په ماشوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې دا ناسم احساس پيدا کېږي، چې مذهب يو پېچلی نظام دی، چې په اسانۍ نه شي زده کېدی. ماشومان دې له دا ډول ديني کتابونو څخه تر خپله وسه لرې وساتل شي، چې دلچسپه خو وي، مگر بنسټ يې په بې سنده او هوايي خبرو ايښودل شوی وي. د غير مستندو ليکوالو کتابونه پر ماشومانو خورا ناوړه اثر اچوي. د هغو په لوستو امکان لري چې ماشوم دين او ديني پېښې هم د الف ليلا افسانوي کيسې وگڼي. په ابتدايي عمر کې چې ماشوم له خپل مور او پلار نه دا ډول غير ساينسي ديني تعليم ترلاسه کړي، نو په ځوانۍ کې هم د سمو مذهبي معلوماتو او بېکاره ليکوالو په «اجتهادي» لاپو کې په فرق کولو کې پاتې راځي.

## په ديني تعليم کې د ښوونځي رول

په مذهبي تعليم کې ښوونځی لوی رول لوبوي. زموږ په ښوونځيو کې د ديني زدکړو د تدريس لپاره معمولاً جلا درسي ساعتونه ټاکلي وي، چې په هغو کې د دين ابتدايي اصول ماشومانو ته ور ښوول کېږي. د ديني زده کړو ساعت دې ډېر اوږد نه وي. د تدريس طريقه يې بايد ډېره اسانه او په زړه پورې وي. له بده مرغه، زموږ ديني ښوونکي په عامه توگه دقت خوښوونکي او توند بيانه وي، چې پايله يې دا ده چې ماشوم د ديني زدکړو په ساعت کې ډېره زياته شوخي کوي او ان زياتره ماشومان خو له دين نه هم زړه توري شي. زموږ په زياترو جوماتونو او سوچه ديني مدرسو کې د تدريس په شته ميتودونو خو د پېړيو گردونه پراته دي. په دغو ادارو کې له معنا پرته په زده کوونکو د قرآن کريم د حفظ کولو او وچو منطقي اصولو په ميخانيکي ډول يادولو طريقه رواج ده، چې له امله يې ماشوم د دين له اصلي روح سره نا اشنا پاتې وي.

زموږ ټولنيز ارزښتونه هم ډېر بې توله دي. موږ د ساينسي او ټولنيزو علومو د تدريس لپاره خو لوستي او مستند ښوونکي غواړو. خو د ديني ښوونکو د انتخاب په وخت کې زموږ چلند ډېر زيات بې سنجشه وي. کله نا کله خو د ټولنې هغه نا اهله وگړي له غور او فکر پرته ماشومانو ته د ديني ښوونې لپاره گمارل کېږي. دغه ډول «ښوونکي» چې پخپله هم د دين سم شعور ورسره نه وي، نورو ته به څه ور زده کړي؟ زموږ په ټولنه کې د سطحي دين پالنې، له دين نه د بېزارۍ، بې دينۍ او داسې نورو لويه وجه زموږ د ديني ښوونې همدا عيبونه دي.

## د فلمونو، ټلويزون او راډيو له لارې ديني ښوونه

په کور او ښوونځي سربېره، فلم، هنر او لوبې هم په ماشومانو کې ديني تمايل پيدا کولی شي. جرم پسنده او تنبل ماشومان ډېری وختونه د بدو فلمونو له امله تباه کېږي. خو هغه عام فهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


فلمونه چې ښه کرکټر په زړه راښکونکي ډول وړاندې کوي، په ماشومانو کې د اخلاقي ودې سبب گرځي. ښکلاییز او اخلاقي معیارونه چې په زړه راښکونکي انداز وړاندې شي، نو فلم هم د دیني ښوونې لپاره یوه گټوره وسیله کېدلی شي.

په یوه معقول مذهبي فلم کې د دیني باورونو لانجه من مسایل باید ونه ښودل شي. د مذهبي فلم په لیدو باید د انسان په زړه کې له ټولنیز نظام سره مینه پیدا شي. که مذهبي فلم د مختلفو مذهبي ډلو ترمنځ د کینې او کرکې سبب گرځي، نو هغه ته په هېڅ صورت کې هم مذهبي فلم نه شو ویلی. د ماشومانو لپاره گټور مذهبي فلمونه په نشت حساب دي. زموږ فلمي صنعت په دې برخه کې ډېر زیات غفلت کوي. زموږ زیاتره فلمي ادارو لا هم جنسي- تنده د خپل صنعت محور گرځولی دی.

همدا رنگه، ټلویزن او راډیو هم د ماشومانو د دیني زدکړو په برخه کې ډېر با ارزښته خدمتونه کولی شي. زموږ په هېواد کې دغه دواړه ادارې تر کافي کچې اطمینان بښونکی کار کوي. خو د لا زیات اصلاح او سمون ځای لا هم پکې شته دی.

### د دین د جمالیاتي اړخونو تاثیر

هنر د انسان په تخیل کې انډول رامنځته کوي او د نوښت انگېزه ورکوي. مذهب، له هنر نه هم د خپلې وسیلې په ډول استفاده کړې ده. د دیني ودانیو ښکلي دېوالونه، نظر جلبوونکې رسامۍ او تابلوگانې، هسک او دنگ منارونه، د اوبو راټه ډنډونه او پاکه هوا په ماشومانو مثبت اثر پرېباسي. د شاوخوا له ښکلا نه په تاثیر اخیستو، په انسان کې د معقول او متوازن ژوند تمایل پیدا کېږي. د یوه معبد ودانۍ چې زړه را ښکونکې وي، نو په هغه کې د تعلیم تاثیر هم زیاتېږي.

د جومات له ښکلو ودانیو او د خوږ لحنه قاري له تلاوت نه ماشومان ډېر زیات خوند اخلي. د تمدن او فرهنگ له دغو بېساري مرکزونو نه چې هرکله دوی تښتي، نو یوازې زموږ د ملایانو له بې خونده وعظونو نه تښتي؛ چې په اورېدو یې ماشومان خو پرېږده، لویان هم اررمي نیسي. د دې مذهبي «بادارانو» له تشدده ډکې لهجې او په خبرو او کړنو کې د تضاد له کبله زیاتره ماشومان بیخي له جومات او مذهب نه کرکه واخلي. ماشومانو په تفریح او مستیو زړه ورکوي. دیني ودانۍ که د ماشومانو لپاره د تفریح او ساتېریو مناسبه زمینه برابره نه کړي، نو بیا له دغو ماشومانو هلته د ورتلو تمه کول ډېره لویه خوشبیني ده.

د دیني ودانیو په ښکلاییز اړخ سربېره، ښه کتابونه، ښې جامې، ښه خواړه، ښه ماحول او د ښو

(c) ketabton.com: The Digital Library


فعالیتونو ښکلاییز اړخونه هم ماشومان د اخلاقي بهترۍ په لور لېوالـه کـوي. ښـکلا او حسـن د سـم دیني ذوق په ویښتیا کې له ماشومانو سره لویه مرسته کوي. لوبې او مستۍ یوه حسـینه او تفریحـي بوختیا ده. ماشوم په لوبو کې د مبـارزې، خواخـوږۍ، همکـارۍ او انسـانیت د ښـکلو اصـولو روزنـه اخلي او د یوه ښه ښاري کېدو جوګه ګرځي. د دیني ښوونو هدف هم همدا دی، چې انسان له نېکي او ښاري توب سره اشنا کړي. د متوازن ذهـن او روغ بـدن لـه املـه پـه لوبېـدونکي ماشـوم کـې پـه صحیح مذهبي تعلیم باندې د پوهېدو وړتیا وده کوي. د لوبو او معقولـو مـذهبي زدکـړو پـه مـټ د ماشوم ټولنیز شخصیت جوړېږي. دغه دواړه د یو بل متضاد ګڼل هم زموږ ناپوهي ده.

## د مذهبي فطرت ناسم اند

ځیني علما په دې اند دي، چې انسان یو «مذهبي جبلت» لري. د دغه نظر له مخې، هر ماشـوم له پیل څخه لا په طبیعي ډول د مذهب په لـور مـیلان لـري او لـه اولـې ورځـې څخـه لا پـه مـذهبي عقایدو او تصوراتو باندې د پوهېدو له وړتیا څخه برخمن وي.

زموږ د ورځني ژوند تجربې له دغه نظر سره په ټکر کې دي. په پیل کې ماشومان له مذهبه هـېڅ خبر نه وي. همدا تعلیم او تجربه په دوی کې د مذهب شعور پیـدا کـوي. کـه پـه ماشـومتوب کـې مذهبي تعلیم له پامه وغورځول شي، نو په ځوانۍ کې د ماشوم په ذهن کې د نړۍ پـه هکلـه د فکـر کولو انګېزه خو پیدا کېدلی شي، خو د دې ډېر امکان شته چې نوموړی داسې پایلو ته ورسېږي، چې د مذهب له اصلي روح سره به په ټکر کې وي. په هر حال، ماشومان پخپله له مـذهبي تصـوراتو سره نه بلدېږي، بلکې په زړه پورې او اسـانه مـذهبي تعلـیم و تربیـه، د مـذهب پـه لـوري د ماشـومانو د لېوالتیا لپاره ډېره مهمه ده.

## د دیني زدکړو رسمي او تجربي میتودونه

زموږ په هېواد کې د دیني زدکړو دوه میتودونه دود دي:

۱) د مذهبي تبلیغ او تلقین سوچه رسمي میتود

۲) معقول تجربي میتود

د مذهبي تعلیم تبلیغي میتود، یو عام او رسمي میتود دی. په دې میتود کې ماشومان یو چېرتـه غوښتل کېږي او پر مختلفو مذهبي عقایدو عالمانه بحثونـه ورتـه کېـږي. د نـړۍ تخلیـق، د انسـان وجود او د خدای پر صفتونو ښه مفصله تبصره کېږي. خو دغو وچـو واعظـانو تـه هغـه مهـال سـخته

(c) ketabton.com: The Digital Library


ناهيلي دربېري، چې د دوی له وعظ نه ماشومان ستړي او ستومانه راوځي. دغه ډول مذهبي تعليم چې د دلچسپۍ اړخ پکې په پام کې نه وي نيول شوی او يوه موضوع په ډېر پېچلي ډول وړاندې شوې وي، ماشوم د مذهب له اصل روح نه بې برخې کوي. په دې سربېره، په ورځني ژوند کې هم د اصلاح او پرمختګ، بدلون او انقلاب تمه ترې نه شي کېدلی.

د مذهبي تعليم تر ټولو بهترين ميتود تجربي ميتود دی. د دغه ډلې ښوونکي روڼ اندي علما وي. دغه ډله علما په دې هڅه کې وي چې د اسانه، په زړه پورې او لنډو نصيحتونو او عملي مشاهدو په ډول ماشومانو ته د مذهب روح ور انتقال کړي. دغه خلک په ورځني ژوند کې د خوش اخلاقۍ د عملي تربيې په هنر ډېر ښه پوهېږي. د تجربي تعليم موخه يوازې دا وي، چې ماشومان پخپله د خپلو ورځنيو تجربو په رڼا کې د دې جوګه شي چې مناسبه اخلاقي وده و تکامل، له خدای سره مينه او د هغه له بندګانو سره د مثبتو اړيکو پالل، په خپل کاينات کې غور او تدبر او حقونه او فرايض وپېژني. له همدې امله، د دغه ميتود پلوي مذهبي ښوونکي له دې ډډه کوي چې سخت مذهبي مفاهيم په زوره په ماشومانو وتپي؛ بلکې په ځای يې عام اخلاقي اصول د ورځني ژوند په رڼا کې د هغوی مخې ته ږدي. دوی د خدايي قدرتونو او نعمتونو له ور پېژندلو وروسته، په خدای پېژندنه کې د ماشومانو لارښوونه کوي. هغوی ته يو بل ته د ګټې رسولو عملي تربيه ورکوي. په دوی کې د همکارۍ او خواخوږۍ جذبه را پاروي. او د خپلو اتلانو، ښوونکو او والدينو د ښو ټکو تقليد ته يې هڅوي.

دغه ډول عملي تربيه په ماشومانو کې د مذهبي عقايدو د سم پوهاوي امکان زياتوي. دغه ماشومان چې لوی شي، په ناپوهۍ او تيارو کې خپله لار نه ورکوي.

### د صحيح ديني زدکړو اړتيا

زموږ په هېواد کې، اخلاقي زوال او د جرايمو پرېماني د دې خبرې څرګند ثبوت دی چې موږ د خپل ژوند د متمدن او معقول اساس په ايښودو کې ډېر سخت پاتې راغلي يو. زموږ په ماشومانو کې د بې لارۍ او ټولنې ضد کړنو لېوالتيا د ناهيلۍ تر بريده خطرناکه بڼه خپله کړې.

ديني زدکړې تر ډېره حده د دغه حالت چاره کولی شي. يوازې مذهب، د ژوند يو داسې هر اړخيز نظام دی، چې انسان ته د بصيرت، انسانيت او وروروليۍ سمه تربيه ورکوي. صحيح مذهب د ژوند په ټولو څانګو کې د ودې او ارتقا سبب ګرځي. که زموږ ماشومان د بصيرت له دې چينې نه په همدې ډول نابلده پاتې وي او يا يې نيمګړې ښوونه وشي، نو زموږ د ټولنې او ټولنيزو ارزښتونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژغورل کېدو هغه پاتې تمه به هم په اوبو لاهو شي.



**پای**

**تبوک، سعودي؛ ۲۳ – ۱۰ – ۲۰۲۳ز**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**